


Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کتاب پېژندنه:

||||||||||||||||||||||||||||||||||||||||||||

دَ کتاب نوم افضل ... افضل شوق

دَ کتاب مصنفه سیده حسینه گل

دَ چاپ کال ٢٠٠٦

دَ کتاب کمپوزر رباب عائشه

دَ چاپېدو اهتمام وقار علي شاه کاکاخېل

دَچاپ ځای فېض الاسلام پرنټنګ پریس راولپنډۍ

دَ دي کتاب ټول حقوق

دَ مصنفه په حق کې محفوظ ساتلی شي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# انتساب

دا کتاب په جدا جدا حوالو زه دَ پښتو ژبي هاغه نومورو لیکوالانو ، شاعرانو ، ادیبانو او نقادانو ته اهداء کوم چا چې په پښتو ادب کې وخت په وخت دَ قدر وړ اضافې کړي دي ، بلکه دې سره یې دَ معیار دَ یو اعلی روایت بنیاد هم ایښې دی-

---

دَ خدائې بخښلي غني خان چې شاعرانه تخئیل یې زما فکر ته هر ځل یوه نوې رڼا بخښلې ده-

---

دَ پښتو دَ ناول دَ هغه ناویاته فکر لیکونکو محترم سعدالدین شپون ، ډاکټر شیر زمان طائزی او ښاغلي غازي سیال په نوم ... دَ چا ناولونو چې پښتو ناول شته کړی دی-

---

دَ پښتو ژبې هاغه سفرنامه لیکونکو په نوم چې دَ پښتو سفرنامې خائسته روایت یې په فکر او هنر پاللی دی .... ستر خوشحال خان خټک ، خدائې بخښلی حمزه شینواري او ښاغلی طاهر آفریدي-

---

دَ جدید طرز اُسلوب لرونکو ښاغلي بیر محمد کاروان ، ملګري عنایت الله ضیا ء، مېرمن نجیبه سارابیاباني او سعید ګوهر په شان دَ هاغه لیکونکو په نوم چې دَ علامت په خوږه پسته اشاره کې دَ زړه لو ژوند خبره کوي-

---

دَ ښاغلي سلیم راز او ګران محترم ایاز داؤدزئی په نوم .... چې دَ کره کتنې په فن او هنر قدرت لري

---

او په تېره دا هر څه....

دَ شلمې صدۍ دَ هاغه ستر نقاد په نوم چې په ادبي دُنیا کې دَ قلندر مومند په نوم خپله بېژندګلو لري او چا چې پښتو ژبې او ادب ته په ډېره راستۍ ... دَ خپل فکر او علم یوه نوې لاره ورکړې ده-

سیده حسینه ګل

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ مصنفه چاپ کتابونه

۱ " -شپون شپول شپېلۍ" ( شاعري ) کال 1990

۲ " -خو ته خبرې کوه " ( شاعري ) کال 1998

۳ " -دا هم هغسې موسم د " ( شاعري ) کال 2003

۴ " -افضل .. افضل شوق " ( تنقيدي جائزه) کال 2006

دَ مصنفه ناچاپه کتابونه

۱ " -تصوير " ( افسانې ) ناچاپ کتاب

۲ " -منگوټې " ( ناول ) ناچاپ کتاب

۳ " -ډرامې " ( ريډيو ډرامې) ناچاپ کتاب

۴ " -سفرنامه هند " ( سفرنامه) ناچاپ کتاب

دَ مصنفه مرام

دَ پښتون قام سر لوړي غوښتل ..... خو دَ پښتو په انساني ننگ

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دَ مصنفه پیغام

دَ پښتون قام سرلوړي غوښتل .. خو دَ پښتو په انساني ننګ - پښتانه قلمکاران که غواړي چې دَ مخته وتو قومونو دَ ادیبانو او شاعرانو سره سیالي اوکړي .. نو هغوئ دې هم داسې ادب تخلیق کول شروع کړي ، چې دَ عصر دَ روح رېښتوني ترجماني کوي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## حسینه ګل دَ پېغلتوب شاعره

)دَ ایاز داوُدزئي دَ هغې تاثراتي مضمون په تاثر کې چې هغه دَ حسینه ګل دَ کتاب " دا هم هغسې موسم دی" دَ مخ کتنې په دستوره کې په اوویشتم اپرېل 2004 په اکادمي ادبیات اسلام آباد کې اورولی وو او ما له ئې هم دَ دغه مضمون یو نقل رالېږلی وو (

دَ صدو نه چې وو انښتی په مرو کې آوازونه
په سینو کې چې خوندي وو دَ پېغلوکو پټ رازونه
تا راغونډ کړه په یو راز کې چې پخپله هم یو راز وې
تا دَ حس ژبه چې ورکړه لږ صفا شو آوازونه
ته دَ دې عصر بلائټس شوې ، ته دَ دې عصر سپفو شوې
تا دَ زړه خبرې اوکړې ، دَ وئیلو چل دې زده وو
تا سینه چې وه ډال کړی بلا غشې درخواره وو
یو یو غشی به په شا شو ستا فن څه وو یو جادو وو
ته دَ خپل فن چنغله شوې که نه فن وو ستا چنغول شو
چې ته فن ئې که فن ته ئې ، دواړه یو بل کې تحلیل شوئ
دَ رسمونو او قیدونو په زندان کې وې راګېره
دَ زندان تمبې دې واکړې تا دَ فن منتر پرې چُف کړو
ستا دَ وخت په نبض لاس وو .. وخت هم دغه مناسب وو
چې محسوسو احساساتو له دَ فن ژبه دې ورکړې
که تنها وې تنها نه ئې چې خپل فن سره منسوب ئې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس دَ پېغلو پېغلو ځونو پټ خوبونه دي همراه دي

دَ تنکو تنکو خوبونو يو نازك غوندې تعبير شوې

ته دَ پټو ادراكاتو هنداره شوې يو تفسير شوې

ته څه نره پښتنه ئې او پښتو دې وړومبۍ مينه

نورې ميني به دي هم وي دَ پښتو نه چې زار كړې

تا بخښلې چې خپل فن ته همه حسن او جمال دى

چې اياز ئې معترف دى ستا هنر خو باكمال دى

"ستا وجود دَ روان عصر يو جواز او هم اعجاز دى"

زه په خپل او پردي نه يم اعتراف وو ما هم كړې

١ - بلائټس او سېفو .. دَ نن نه څه دپاسه دوه نيم زره كاله مخكې دوه شاعرانې چې دَ زړه خبري ئيې دَ شاعرۍ موضوع وه او شايد په وړومبي ځل دَ پېغلتوب دَ ادراكاتو او احساساتو ذكر ئې په وضاحت او صداقت سره خپله شاعرۍ كې كړى وو � دَ هغوئ نومونه دَ جرات اظهار په حواله راغلي دي -

٢ - اياز .. اياز داوُدزئى

قمر راهي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دَ بُلبل گويائي ... دَ گل په ژبه

## سمدستي تاثرات ________ اياز داؤدزئی

دَ حسينه گل دَ ليك لوست شوق دَ كچه عمر نه دَ جنون حد ته رسېدلى وو � دَ كچه عمر شاعري ئې ، دَ ليك لوست او دَ پېښور ، كوئټې او كابل رېډيو سټېشنونو نه دَ نشركېدونكو ادبي، ثقافتي او تجزياتي پروگرامونو دَ اورېدو دَ عمل دَ كُومي نه اوزېږېده � او دَ عمومي قبوليت او تحسين مقام ته اورسېده � دَ "شپون .. شپول او شپېلۍ" اولنۍ مجموعه ئې زما له سترگو نه ده تېره شوى .. خو نوري دوه مجموعې " خو ته خبرې كوه" او " دا هم هغسې موسم دى" ما لوستلي دي � دَ دې آخري كتاب "دا هم هغسې موسم دى" مخ كتنه دَ اسلام آباد دَ اكادمي ادبيات پاكستان په هال كې په 27م اپرېل 2004 دَ اكادمي او دَ اسلام آباد پښتو سوسائټي په اشتراك شوى وه � په دغه كتاب ما په دغه موقعه ځو خبرې كړي وې � نو ځكه په دې ليك كې دَ هغې په شاعرۍ دَ نورو وئيلو حاجت نه گڼم � دغه ليك دَ پښتو اكېډمۍ پېښور په "پښتو" مجله كې چاپ شوي وو� دَ ادب مئينانو كه نه وي لوستلى نو اوس دي اولولي .. چې دَ هغې دَ شاعرانه وارداتو دَ وسعت ارزښت او معيار نه په ښه شان خبر شي � دَ دغې دستورې نه چې مونږ په ستنه راتلو ، نو جهان گرد افضل شوق زه په خپل موټر كې كورته دَ رسولو دپاره كښېنولم � شپه وه .. تېز باران وو او جړق شو چې شوق صاحب گاډې دَ ځان نه وړاندې گاډۍ سره اوجنگولو.. دواړه بچ شو� ما وئيل شوق صاحب!! دَ شاعر او بيا ستا په شان دَ آفاقي شاعر فكر هم لكه ستا سېلانى وي � نو ښه وه چې گاډې اوجنگېدو خو مونږ هم بچ شو دواړه � گاډۍ هم بچ شوه � شائيد سعيدگوهر هم راسره ناست وو � دَ افضل شوق خبرې ډېرې پستې وي .. ته به وائې لكه چې بُلبل چغېږي � نو هغه په ټوله لاره هم هغسې دَ مزې خبرې كولې -

بيا څه موده پس په كاكا صاحب كې دَ حسينه گل دَ ورور دَ واده وليمه وه � نو زه دَ خپل وراره عنايت الله ضياء سره دَ پېښور نه كاكا صاحب ته لاړم � په پښتو ادب ورك لېونى عبدالكريم بريالى دَ كوئټې نه دَ حسينه گل په دعوت ځان را رسولى وو � په دغه موقعه نور هم دَ پښتو ليكوال او شاعران موجود وو � ښه وخت تېر شو � خو كومې خبرې چې ما له ډېر خوند راكړو .. هغه دَ حسينه گل دَ والد صاحب ميان مظهر شاه كاكاصاحب ادبي او عالمانه خبرې وې � هغه ټول موسكا موسكا ټول مينه مينه وو � هغه دَ قلمكارۍ په واسطه زه پېژندلم او هم په دغه نسبت ما هغه پېژندلو� خو شائيد دغه زمونږ اولنى مخ په مخ ملاقات وو � دَ هغه شخصيت او دَ هغه دَ وينا نه ډېر متاثره شوم � الله پاك دې ډېر ژوند وركړي � دَ پښتو او اُردو ښه ليكوال دى-

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه ځای نه مونږ دَ قمر راهي صاحب دَ سلام دپاره په دريو ګاډو کې مردان ته لاړو � بريالي صاحب دَ مردان دَ ځينو نورو مُنورينو سره هم ليدل غوښتل � ځکه نو زه او شوق صاحب دَ مردان نه دَ هغه په ګاډۍ کې مازيګر تېر اسلام آباد ته راروان شو � په لاره مونږ دَ هغه دَ يو "خيال" ګوټونه کچ کول � دغه خيال هغه دَ ناول په قالب کې ځايول غوښتل � هغه دَ اهرام مصر دَ فرعونانو دَ زمانې په پس منظر کې ناول ليکل غوښتل چې هم په کې دَ هغه وخت کردار موجود وي او هم په کې دَ دې جديد خلائي دور کردار په منطقي انداز خپل رول ادا کوي � دَ دغه ناول پلاټ زېربحث وو .. ښه په شرق باران راورېدو � نو جرق شو .. شوق صاحب هم اولړزېدو، زه هم اوبهوګښېدم لکه چې دَ خوب نه راويښ شوي يُو � دَ ګاډۍ بونټ دَ ګاډي دَ چت سره اولګېدو � شوق صاحب زما نه زارېدو، قربانېدو � ما وئيل شوق صاحب ښه ده .. دواړه بچ شو � خو ګاډي ډېر سخت خراب شوی دی � هغه وئيل.. ګاډي به بيا جوړ شي � خو ښه ده چې ته خدائی بچ کړې� ما وئيل .. ځان نه يادوې � هغه وئيل ځان ... او په برق برق په خندا شو � او ماته يو شعر راپه ياد شو -

چې هم شته دي اوهم نشته،په دې ژوند کې دا هم ژوند دی

عُنقا ماته هوسېږي ............ ... .. زه پسخېږمه عُنقا ته

خبره په بله لاړه � ما دا ليکل غوښتل چې دَ افضل شوق په ټولو تصنيفاتو.. دوه (2) شعري مجموعې ، درې (3) سفرنامې او يو ناول، چې حسينه ګل په خپل رومبي نثري کتاب " افضل .. افضل شوق " کې ورباندې داسې ځانګړې تجزياتي مطالعه ليکلې ده چې افضل شوق که افضل دی ، نو حسينه ګل هم په دغه کتاب کې خپل خانداني " فضيلت" په ښه شان په کار راوستلی دی � دَ حضرت کاکا صاحب رحمته الله عليه په برکت په دغه کلي کې داسې وتلي قلمکاران زېږېدلي دي چې دَ پښتو ادب ئې پنګه ورکړې دی � په دغو شخصيتونو کې ارواښاد ميان تقويم الحق هم وو چې پروفېسر ډاکټر محمد همايون هما په خپل کتاب "ښکلي ښکلي خلق" کې وائي " نابغه" وو � خو خدائی بخښلي ميان بهادرشاه ظفر هم دَ تاريخ نه تر لُغاتو .. ډېر څه ورکړي دي � مرحومه س � س� بي بي ( سيده بشری بېګم) چې قام پرسته اولنۍ پښتنه شاعره وه � اوس دَ پښتو په ادب کې اساطيري حېثيت لري � نو دَ کاکا صاحب تاوْ راتاوْ غرونو کې لعلونه خو ډېر پيدا شوي دي � خو اوس په کې سدابهار " ګل " .. " ادبي ګل " هم غوړېدلی دی � دغه " ګل" دَ حسينه ګل په نوم داسې ادبي شهرت موندلی دی چې که الله پاك ته منظوره وي .. نو انشاالله چې دا به هم دَ مېرمنو اديبانو په ټولۍ کې دَ ليجنډ مقام ته اورسي � دَ دغسې مقام نښې نښانې ما دَ هغې په شاعرۍ کې خو ليدلي وې .. او دغه علامات دَ هغې په دې نثري کتاب کې واضحه ښکاره شول-

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما چې دَ دي ليك دَ عنوان فكر كولو ، نو دا خيال راغلو چې اوليكه چې.. حسينه گل فني ، ادبي او انتقادي شهزادگۍ � بيا مي وئيل .. نا .. حسينه گل .. دَ افضل شوق دَ فن او فكر مُغيره � په دې مي هم زړه اوبه اونه څښكلې � نو ما وئيل .. حسينه گل .. زړَه وره قلمكاره � ناگهانه دَ رحمان بابا دا شعر راوړاندې شو،

اې رحمانه ! دَ بُلبلو ژبه زده كړه

دغه پسته په صفت دَ "گل" اندام شه

او دې شعر دَ ځان سره دغه عنوان راوړو چې دَ دې ليك په تندي ليكلی شوی دی � دَ " بُلبل" گويائي .. دَ " گل " په ژبه � دا استعاراتي عنوان مې ځكه خوښ شو چې حسينه گل په دې كتاب كې وائي چې .. افضل شوق " عالمي او آفاقي مشاهدات او تخيلات په كليواله پښتو كې ځايوي او چې كله نه ځائېږي نو علاميت .. اشاريت او زمز و ايما" ته مخه كړي � نو دَ دغسې ابلاغ تفهيم دا اقتفاٌ لري چې دَ وراني سر په چُوف منتر بيا موندی شي � خو دا هم دَ دي عنوان كافي جواز نه دی � دَ دي عنوان جواز دَ رحمان بابا دَ شعر دَ بېن السطور نه راويستلی كېدی شي � هغه دا چې رحمان بابا دَ گل دَ صفت دپاره دَ بُلبل ژبه زده كول لازمي گڼي � خو دَ بُلبل په ژبه هم گل پوهېږي � او "گل" چې هر كله دَ دغې ژبې بل چاته دَ رسولو هڅه اوكړي .. نو ټوله فضا په خپله خوشبو معطر كړي � دَ "گل" ظاهري حسن كه هر څو دَ " گل" دَ څهرې نه څرگندېږي � خو حقيقي ښكلا دَ خوشبو په ژبه څرگندوي � نو مونږ دا وئيلی شو چې گل هم ژبه لري او دغه ژبه ئې خوشبو ده � خوشبو داسې ژبه ده چې هر څوك پرې پوهېږي .. تر دې چې ماشومان هم ترينه لطف اندوزه كېدی شي � نو كه دَ بُلبل گويائي .. پر اسراره وي � بيا ئې هم " گل " په خپله ژبه په ښه فصاحت بيانوي � دا تاثر ما دَ حسينه گل دَ كتاب دَ لوستلو نه پس اخستلی دی � دا زما تاثر دی � كېدلی شي چې دَ بل قاري تاثر زيات فصيح او بليغ وي -

حسينه گل دَ افضل شوق دَ منظوم او نثري ليكونو تجزيه ، تشريح او توضيح په داسې ډول كړېده چې كتاب ئې دَ افضل شوق دَ فنكارانه كُهربائي دَ جهان ، جام جم معلومېږي � نو چې دغه جام جم ته لوستونكی ځان سيلمه كړي نو دَ افضل شوق دَ فن دَ كائناتو ننداره به هم دَ حسينه گل په نظر كوي � نو چې يو خوا حسينه گل وي او بل خوا افضل شوق وي .. نو څه حېرت كه يو حساس لوستونكی دَ شوق دَ فنكارانه شوق دَ افضليت په گلبڼ دَ حسينه گل دَ پلونو په پُل ورتېر شي � او دغه گلستان كې داسې ورك شي لكه چې محبوبا په قلا كې گېر شوي وي او دَ وتلو لار بيا نه مومي � حسينه گل يو سحركاره فنكاره ده � نو نقد او نظر ئې هم مسحوركونكی دی � افضل شوق جهان نورد ، سېلانی تخليق كار دی � نو دَ يو وېر جهان ښكلاگانې ئې ځان كې ځاى كړېدي � او دغه ښكلاگانې كه آفاقي دي او كه مقامي ، قامي دي كه عالمي ، علامتي دي كه اشارتي ، معماتي دي كه ابهامي ، الهامي دي كه وجداني، حسينه گل داسې تنقيدي مطالعې ، داسې تشريح او تفسير، تجزئې او تبصرې ته مخامخ كړېدي لكه چې لوستونكي ته ئې جهان نما هنداره دَ وړاندې ايښودې وي او هغه په كې دَ افضل شوق شاعرانه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



واردات ، کېفیات، حسیات، ادراکات، مشاهدات، تخیلات او نفسیات ، دَ هغه ادبي گامونه ، چې يو په شرق وي بل په غرب داسې پراخ ويني لکه دَ هغه همزاد وي � دَ هغه دَ غزلونو او نظمونو فني ، تکنيکي او موضوعي وضاحت په ماهرانه اوستکارانه ډول شوی دی او دَ لوستونکي دَ ذهن نه ئې دَ اشتباه او ابهام وريځې دَ خپل تيري څرکېدونکي نظر په نمر مخ په شا زغلولی دی �-

افضل شوق که په " لټون ستا دَ څهرې" په ورکه کې ورك شوی وو ، نو گل دَ خپل فني مسمريزم په منتر بيا موندو او دَ پښتو دَ ادبي بوستان په سېل کې محوه سپلانيانو سره ئې داسې پېژندگلو اوکړه چې تر کومه پښتون او پښتودَ نړۍ په مخ باقي وي،نو افضل شوق به په شوق لولي اودَ خپل ذوق افقونوله به وسعتونه ورکوي -

حسينه گل وائي ،

"دَ ښاغلي په احتجاج کې بغاوت خو شته خو جبر او زور په کې نشي ليدی ...دَ هغه احتجاج يو فکري او سماجي انقلاب ته لاره را اوباسي ، نه چې دَ چا په لاس کې ټوپك ورکوي "

گل ، دا هم وائي چې،

"امن دَ ده منشور او مينه دَ ده مسلك دی "

دَ افضل شوق نثري او منظوم ليکونه په خوبولي قاري کې شعوري ويښتيا او وجداني بيداري پيدا کوي � دَ هغه تخيل او ادراك ته دَ وسعتونو دَ راغونډولو او په ځان کې دَ ځايولو بلنه ورکوي � حسينه گل دَ دغه جهان گشت دانشوري او دانائي په خپل فهم او ادراك کې ځايوي .. بيا ئې روانه، بهانده وينا کې قاري ته پيرزو کوي � نو که شوق دَ کلي کور پوري محدوده پښتو په عالمي ادراکاتو معموره کړه نو " گل" دَ ميني او خلوص دَ خوشبو په ژبه پښتون اولس ته ډالۍ کړه � هغې دَ افضل شوق دَ عالمي هنگ او آهنگ دَ نغمو ازانگې را اونيولې او دَ پښتون سماعت ته ئې بخښلي دي � "گل" دَ شوق سائينسي .. فلسفيانه .. متصوفانه ..نفسياتي .. عالمي او مقامي .. احتجاجي او تفهيمي اپروچ روڼ کړی دی او په دغه رڼا کې ئې وړاندي کړی دی � هغې دَ نظمونو پس منظر هم بيان کړی دی او چې په دغه ضمن کې اولوستلی شي نو بيا لوستونکی نوۀ معنواو نوي پوهی سره مخ کېږي -

حسينه گل دَ سفرنامې سردَ سترخوشحال خان خټك نه را نيسي او اُستاد امير حمزه خان شينواري اوافسانوي شخصيت طاهر آفريدي پورې رارسوي � خو افضل شوق جديد ترين او افضل ترين سفرنامه نگار بلي � هغه وائي چې که دَ ننې نړۍ سفرونه چا ليکوال په ويښه او شعوري طور کړي وي نو هغه به ضرور دَ افضل شوق زبان او بيان ، مشاهدې او ادراك سره اتفاق کوي � دَ ځني " له کوره تر بازاره" بنديوان دَ نوي نسل دَ نقادانو دَ نيوکو په حلقه وائي .. چې افضل شوق روم، پېرس او لندن ته لېږي او بيا دا هم غواړي چې هغه دي دَ لورالائي منظرنگاري اوکړي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



� نو دا دَ منلو خبره نه ده � "هغه" هغه څه ليکي چې ئې ليدلي، کتلي او اورېدلي دي � خو پښتون ئې دَ ځان سره لاس په لاس بوتلی دی � دَ مغربي دُنيا ترقي او دَ اولس مورېټ ژوند ئې ورته خودلی دی � او ورته وائې

فاعيرو يا أُولولابصار ( اې سترګورو.. عبرت حاصل کړئ)

"ګل" دَ شوق دفاع په ډېره زړهَ ورتيا او منطقي انداز کړيده � دَ نوي نسل داسې نقادانو ته دَ " کورکلي بند نقادان وائي .. څوك چې دَ شوق سفرنامې دَ پښتون ثقافت خلاف ګڼي � هغې په آفاقي او عالمي نظرئې سفرنامو ته کتلي دي � دَ هغې په ليك کې كه قاري شوق لولي او په شوق ئې لولي .. نو"ګل" به هم په کې لولي او دَ تحسين په احساس به ئې لولي � ځکه چې دَ دې کتاب نه پس به دَ نوي نسل لوستونکي او ليکوال دَ افضل شوق دَ شعر او نثر په اهميت او ارزښت په ښه شان پوی شي � دَ شوق په فکر و فن دَ پوهېدلو کار حسينه ګل اوکړو � اوس به څوك نه وائې چې زه دَ شوق په کلام نه پوهېږم � دا به هم نه وائې ګڼې چې سفرنامو کې ئې دَ پښتون ثقافت خيال نه دی ساتلی -

دَ افضل شوق په ناول هم حسينه ګل ډېر ښه ليك کړېدی � دَ ناول نوم دی " پروني مخونه" � دا هم هغه ناول دی چې دَ دې په ابتدائي برخه کې ئې ذکر راغلی دی .. چې دَ فرعونانو دَ زمانې په پس منظر کې به ليکلی کېږي � نو دغه ناول اوليکلی شو � او حسينه ګل په دې خپل کتاب کې ئې پرې دَ هر اړخ نه ښکلی ليك کړېدی � دا شائيد لا چاپ شوی نه ده او مسوده ئې مانه ده ليدلې � حسينه ګل دَ ناول په حقله وائې چې ،

"دې ناول کې افضل شوق دَ ناول دَ اهم کردار هيرو په شکل کې دَ مختلفو تاريخونو، تهذيبونو،تمدنونو دَ سفر دَ پړاوْ نه تېرېږي "

بل ځای وائي ،

"افضل شوق په دې ناول کې دَ واقعاتو سره تړلي قيصې او افسانې دومره په دلچسپۍ وړاندې کړيدي چې په بيانيه او مکالماتي انداز کې هيڅ قسم ابهام مخې ته نه راځي "

دَ ناول نګارۍ دَ فن په حقله ئې هم ښه معقولې خبرې کړيدي � دَ ناول په پلاټ، کردار نګارۍ، منظرنګارۍ او طرزبيان ئې مفصله وينا کړيده او څه چې ئې پکار وو هغه ئې ليکلي دي -

دَ دغه ناول نه علاوه ئې په کتاب کې افضل شوق سره خپله يو مرکه دَ "افضل شوق .. دَ پوښتنو( تپوسونو) په رڼا کې" په عنوان شامله کړيده � بل ئې چې ځيني نقادانو په شوق صاحب څه ليکونه کړيدي .. دَ هغې څه برخې ئې دَ " افضل شوق .. دَ نقادانو په نظر کې" هم په کتاب کې اخستلي ده � دغسې ئې دَ شوق فهمۍ حق ښه په نره ادا کړی دی -

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په خپله مرکه کې حسينه گل دَ شوق صاحب نه تپوس کوي � تپوس او دَ شوق جواب په دريمه پوښتنه صفحه .. کې راغلی دی -

سوال .. حسينه گل ،

دا ته کوم ليکل کوې .. دا کوم أسلوب چې تا خپل کړی دی � په دې خو پښتانه دَ سره هډو پوهېږي نه؟

جواب .. افضل شوق

په ادب کې چې ما کوم أسلوب خپل کړېدی .. دا دَ نن دَ وخت دَ حالاتو عېن مطابق دی او که زه دَ وخت په رفتار او دَ زمانې په حالاتو دَ پوهې شعور لرم نو زما دَ ليك دا موجوده معيار به دَ صبا نقاد ضرور مني -

خو حسينه گل دَ صبا نقاد ته هيڅ هم پرې نښود او دَ صباني نقاد کار ئې هم آسان کړو -

حسينه گل دَ افضل شوق شپږ واړه کتابونه لکه چې ښه هضم کړيدي او دَ هغې نه پسته ئې پرې ليك کړی وي � دَ کتاب دَ هضمولو په حقله يو انگرېز دانشور فرانسس بيکن ( ١٥٦١ � ١٦٢٦) مشهوره مقوله ده چې ،

Some books are to be tasted,others to be swallowed And some few to be chewed and digested

"ځنې کتابونه دَ څکلو وي .. ځينې په يو غړپ دَ مرۍ نه دَ تېرَولو وي خو څه لږ شان داسې هم وي چې شخوند پرې او وهلی شي او هضم کړی شي "

نو که دَ افضل شوق کتابونه دَ هضمولو جوگه دي خو هله چې ږومبۍ دَ حسينه گل کتاب باندې ښه شخوند او وهلی شي .. او هضم ئې کړی شي -

حسينه گل په ځائی وائي چې دَ افضل شوق په کتابونو دَ موناليزا پُراسراره ښکلا خوره ده .. او زه وايم چې دَ " گل" دَ دې کتاب په فضا دَ گل دَ روح او ذهن دَ خوشبو چپې خورې دي � هغه دَ گل په ژبه هم خبرې کولی شي � خو زړه ورتيا ئې هم ځان ته " څه" وائي � هغه دَ شاعرۍ او قلمکارۍ نه علاوه .. دَ پېښور دَ رېډيو سټېشن يوه تکړه براډکاسټره ، دَ نوښهره دَ تحصيل کونسلره او سرگرمه سوشل ورکره هم ده � او په ټولو ډگرونو دَ خپل سنگين عزم پله نيلي ( اس ) سوره دَ خپلو سترو مرامونو په لور په دگړ روانه ده � دَ عبدالله جان مغموم دَ يو غزل دَ يو مصرعې په ژبه دَ معمولي ترميم سره زه هغې ( حسينه گل ) ته داسې دُعا کوم چې ،

"برکت دې ئې خدائی واچوي په تلو کې "

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغسې يو بهادره فنکاره په پنجابۍ کې هم وه چې نوم ئې دی امريتاپريتم � دا په کال 1919 کې دَ پاکستان دَ پنجاب په گوجرانواله ښهر کې په يوه علمي کورنۍ کې زېږېدلې وه � دَ پاکستان او هندوستان دَ جوړېدو نه پس دهلي ته لاړه او هلته په اکتوبر 2005 کې ئې ساه ورکړه � دَ هغې ادبي فتوحات دَ ستائينې وړ دي � په خپل ژوند کې ئې 75 کتابونه شائع کړي وو � په دې کې 24 ناولونه، 15 دَ افسانو مجموعې .. دَ شاعرۍ 23 کتابونه .. دوه 2 سرگزشتونه او نور گڼ نثري ليکونه شامل دي � ما دَ دغې سکھنۍ دا بيان دَ هغې دَ قول په ضمن کې راواخستو چې صغير رام ناتهـ نومې مبصر دَ هغې حقله خپل ليك کې نقل کړی دی � امريتاپريتم وائي..

( What matters is not life , but the courage you bring to it )

"ژوند هله ارزښتناك شي چې ژورتيا ورسره مل شي "

نو که حسينه گل هم داسې په زړه ورتيا مخ په وړاندې زغل جاري اوساتلو نو لکه امريتاپريتم که دَ هندوستان دَ پارليمنټ دَ ايوان بالا دَ 1986 نه دَ 1992 پورې ممبره وه نو کېدی شي چې څه وخت دَ تحصيل دَ کونسلره نه دَ پاکستان دَ سېنټ ممبره شي او په ادبي فتوحاتو کې ترنه ترنه تېرې يوُسي � ماته حسينه گل وئيلي وو چې اوس به زه دَ افسانو مجموعه او يو ناول چاپ کوم � شائيد دې پسې دَ خپلو ډرامو مجموعه هم اوليکي � بيا امکان لري چې دَ افضل شوق سرگزشت هم اوليکي � بې ځايه به نه وي که دلته دَ نوي نسل په حقله دَ سعيدگوهر يوه پېشن گوئي راوړم .. هغه وائي ،

سعيدگوهره !! نوی نسل لري لوی امکانات

نه زه آّخر يم .. نه په ما به شاعري ختمه شي

دغسې امکانات افضل شوق هم لري ، امکانات نا لوی امکانات � بيا شوق صاحب سعيدگوهر خپل اُستاد هم مني � نو بايد دَ خپل اُستاد دا الهامي پېشن گوئي رښتونې ثابت کړي -

دَ کراچۍ په هفته واره روشن پاکستان دَ 22-29 کال 2005 په اشاعت کې دَ حسينه گل يوه مفصله مرکه چاپ شويده � هغه وائي ،

"دَ ادب او فکر و فن دُنيا ډېره ښکلې او لازواله ده � دَ فکروفن په برکت پښتنو ما له ډېر درناوی راکړی دی "

دا وينا دَ هغې په ځای ده .. چې دَ ښاغلي قمر راهي تمغه امتياز غوندي لوړ ليکوال او آّفاقي شاعر دَ هغې په حقله کوم تحسيني نظم ليکلی دی .. دَ هغې نه ثابتېږي چې پښتانه منورين دَ هغې ډېر قدر کوي-

ته څه نره پښتنه ئې او پښتو دي ږومبۍ مينه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



نورې مينې به دي هم وي، د پښتو نه چې دي زار کړي

دَ حسينه ګل او افضل شوق دواړو په حقله دَ يو انګرېز نقاد وينا رانقل کوم چې دَ فرانس دَ شهره آّفاق دانشور ، مفکر، شاعر او تاريخ دان فرينکائيز والټير Francois Voltaire په حقله ئې ليکلې ده ، دی وائي ،

Voltaire Managed both to be in the thick of things and to survey them from the sort of Olympian Distance that Generally posterity enjoys.

"والټير دَ دې جوګه وو چې دَ ژوند دَ مصروفياتو په منځ کې دَ اولمپيا دَ غره دَ هسکو څوکو نه دَ يوناني ديومالائي ديوتاګانو هسې، دَ دومره فاصلې نه جائزه واخلي چې عام طور دَ راتلونکو نسلونو برخه وي"

دغه کمال که دَ افضل شوق په ليکونو کې موجود دی نو حسينه ګل هم داسې کار کړی دی چې دَ راتلونکي نسلونو نقادانو ته ئې لاره آّسانه کړېده � دَ دې پاسه به نور څه نه وايم .. هسې نه خدائی مه کړه دواړه دَ نظره شي � بيا رحمان بابا هم وائي چې دَ ګل په خبرو،دَ خبرو حق دَ بُلبلانو دی نو زه نه خو" ګل" يم نه "بُلبل" � بُلبل خو افضل شوق دی چې بُلبل هزار داستان دی -

دغه ځای دَ بُلبلانو دی رحمانه

دَ دلبرو په کوڅو دلاور مه شه

اياز داؤدزئی

راولپنډی.. 29 _ 12 کال 2005

)دَ شپې دولس بجې(

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# يو څو خبري

دا کتاب ما اتفاقي بالکل نه دی لیکلی ... بلکه زما دَ دې کوشش په شا دَ ډېره وخته هاغه سوچ دی ، کوم چې ما تر څه حده خپل قلم ته او سپارلو � هسې خو په پښتو کې ښه ښه کتابونه چاپ کېږي ... خو ما دَ دې لیک دپاره صرف دَ ښاغلي افضل شوق کتابونه اوټاکلو - نو دَ دې خو یوه وجه شاید دا هم کېدلی شي چې ښاغلی شوق زه دَ ډېر وخت نه پېژنم او چې ... دَ هغه کتاب راځي نو هغه په دې مرحله کې مسلسل زما سره په رابطه کې وي � کله کله خو دا هم شوي دي چې دَ هغه دَ کتاب تهیم زما بالکل یاد شوی وي - دَ هغه دَ سفرنامو مقامات او کردارونه ، دغه رنګ په دې سفرونو کې دَ ژوند او زړه رنګ رنګ پېښې او واقعات .... دا هر څه ماته دومره خپل ښکاري لکه زما دَ ژوند دَ فکر دَ سفر هر څه وي - ځکه زه په دې نتیجه رسېدلي یم چې دَ دې واقعاتو تجسس او حقیقت زه په داسې رنګ کې خپلو هاغه لوستونکو ته اوښایم ، څوک چې دَ افضل شوق په علامتي انداز یا خو کم پوهېږي او یا دَ هغه دَ لیک طرز مشکل ګڼي - نو په دې هکله دَ ښاغلي شوق شاعري ده او که سفرنامې ... ناول دی او که دَ هغه دغه علامتي انداز ، ما دَ خپل لیک موضوع اوګرځوله�

خو یوه غټه خبره دا هم ده چې دغه هرڅه ته چې کوم معیار ده ورکړی دی نو هاغه معیار مقامي نه دی � بلکه ده دَ خپل لیک او دَ فن دپاره دَ بین الاقوامي معیار اُصول او ضابطې ټاکلي دي چې زمونږ روایت پسنده طبقه ورته ګوته نیسي - دَ ښاغلي شوق په ټولو چاپو کتابونو چې کوم اثر ما دَ یو قاري په حېثیت محسوس کړی دی ... دَ ده دغه انداز ما ته دَ موجوده لیک یو تحریک راکړو - خو زه خپل دغه کوشش خپلو لوستونکو ته مخامخ کېږدم ... هغوئ دي زما دَ دې کوشش جاج واخلي - زه خپل ځان نه خو دَ نقاد په توګه وړاندې کوم او نه باقاعده نقاده یم - خو دَ دُنیا په ژبو کې دغه رنګ ادب چې هغه دَ مقامي روایتونو په سمون نه وي او په دې حواله شاید چې دَ فن تله هم برابره نه وي ، نو دغه هرڅه ته په دې نظر کتل شاید چې تنقیدي کوشش ضرور وي ... که چرې لوستونکو زما دې کوشش ته په مینه اوکتل نو که ژوند وو ، زه به دَ نورو نومونړو لیکوالو دَ فن او فکر دغه رنګ تجزیې ضرور وړاندې کوم�

زه دا خبره ډېره په ډاډ کوم چې ما کله دَ خپل دې کوشش ذکر دَ ښاغلي شوق سره اوکړو نو هغه په ډېره پراخدلۍ دا هر څه اوستائیل او ما ته یې یه ډېره سنجیدګۍ وخت په وخت مطلوبه مواد او معلومات په ډېره مینه راکول شروع کړل - په دې لیکنه کار ما په کال ۲۰۰۳ کې شروع کړی وو خو دَ ځواني مرګ ورور دَ مرګ حادثې زما فکر ګډ وډ کړو .... خو رو رو کله چې ژوند خپل معمول ته راغلو ، نو ما ړومبی په خپل نیمګړي کار ګوتي پورې کړې - او نن دا دی زه دا مسوده چاپ ته سپارم - فېصله په تاسو پرېګدم خو یوه خبره به ضرور کوم چې یو فن یا یوه فن پاره دَ تنقید دَ مرحلو نه اووځي .... دَ کمو او خوبو جائزه واغستی شي - نو دغه رنګ دَ کمو او کمزوریانو اصلاح کېدی شي او خوبیانې نورې ښې کېدی شي. تنقید دَ فن ضرورت دی - باید چې هر نقاد آزادانه طور دَ یو فن پارې کمۍ او خوبۍ راوباځي چې داسې دَ اصلاح عمل جاري پاتې شي - او دَ یو اعلی معیار تعین هم اوشي �

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه دَ هغه ټولو ملگرو شکریه ادا کوم چې په دې هکله يې زما دَ نوي کوشش لاري سمې کړې - په دې کې دَ ملگري روښان يوسفزي او حنيف خليل ډېره مننه کوم چې کله مې ورسره دَ دې خبرې ذکر اوکړو نو زما حوصلې ئې اوچتې کړې - دَ محترم اياز داؤدزئي ډېره احسانمنده يم چې دَ دې کتاب دپاره ئې خپل خائسته ليک دَ ديباچې په شکل کې راپيرزۇ کړو ـــــ دَ خپل محترم پلار ميان مظهر شاه کاکاخېل ډېره مينه ده چې هغوئ يه سرپرستۍ کې دَ ادب دَ نوم نه اشنا شوی يم او نن دَ خپل فن او ليک دَ سفر دَ يو نوي پړاؤ نه تېرېږم ....... !! دَ ښاغلي هارون رشيد خټک، دَ ملگري عنايت الله ضياء هم ډېره شکريه ادا کوم چې په دې ليکنه ئې زما حوصلې لکه دَ غره مضبوطې کړې دي - په تېره دَ ملگري افضل شوق يو جهان مننه چې ما ته په کار معلومات ئې راته وخت په وخت په ډېره مينه راسپارلي دي - دَ ملگري افضل شوق دَ خوږې ملگري ډاکټر وهيبه سکاني هم شکريه ادا کوم چې دَ خپل مينه وال ليکونه په کتابي شکل کې په خپلو مالي وسائلو په ډېره مينه دَ چاپ دَ مرحلې نه اوباځي ... زه ئې دَ دې مسودې احسانمنده يم - دَ ميان وقار علي شاه او غورځې عائشه رباب هم شکريه ... چې دَ کتاب کمپوزنگ ئې اوکړو - په آخره کې ستاسو رائې او درنو مشورو ته به سترگې په لار يم ..... بقولِ شاعر اوگوره ته ماته .... ستا نظر کې څنکه ښکارم ّ

سيده حسينه گل

کاکا صاحب – نوښار

## شلېدلی امېل

)يادگيرنه :- دا کتاب په کال ۱۹۸۷ � ۸۸ کې چاپ شوی دی(

---

بې تا مانده دَ ژوند په تول يم ځکه

چې ستا له جوره يم لاهو په ځان کې

لکه تازه غوندې يو مړی دَ گور

چې ورته پورته وي لاسونه همېش

خو..اديرو کې نه وي نخښې دَ ژوند

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## (شوق)

غالباً دَ کال 1987ع یا 1988ع خبره ده .. ما نوی نوی ریډیو ته تګ راتګ شروع کړی وو � دَ ریډیو سره سره اخبار او یو څو رسالو سره مې هم ترون جوړ شوی وو � او بیا کوم کتاب چې به ادبي وو، دَ شاعرۍ وو.. هغه خو به مې دَ لېونتوب تر حده خوښولو � دَ مطالعې سره سره دَ لیك ذوق مې هم داسې دَ جنون په مقام وو چې شاعرۍ به مې په ځان راوربېدونکي محسوسوله .. خو دَ دغه وخت شاعرۍ نه خو دومره سنجیده رنګ لرلو.. او نه دَ فن په حواله داسې پخه وه چې ذکر ئې ضروري شي � البته دَ ربېډیو دَ مختلفو سټېشنونو نه ادبي او ثقافتي پروګرامونه اوربېده مې دَ ورځو شپو یو معمول ګرځېدلی وو .. او داسې به دَ ادب دَ وجود، دَ ادب دَ اهمیت په معنو دَ پوهې جوګه شوي وم � خو خپل تخلیقي ادب به راته دَ هاغه معیار ببخي نه ښکاربېدو، کوم چې ماپه ربېډیو دَ افسانې، غزل ، تکل په شکل کې اوربېدو.. یا مې دَ لوست او مطالعې په وسیله پېژندو -

دَ کابل ربېډیو دَ ادبي شکرو نه علاوه دَ کوئټې ربېډیو انګازې به کله کله دَ هوا په څپو داسې صفا او واضحه زما سماعت ته را رسولې چې دَ دې علاقې خپل مخصوص علاقائي لهجې، ژبې به زما دننه دَ پښتو ژبې او ادب سره دَ مینې او محبت فطري ترون لا دومره مضبوط کړو چې په هر ځل ما دغه خوږو انګازو نه دَ خپل انداز دَ پاره ډېره فائده پورته کوله � داسې نه یواځې .. دَ مختلفو نشریاتي ادارو له خوا دَ خوربېدونکو پښتو پروګرامونو نه به ما دَ خپل نشریاتي سفر دَ پاره دَ تربیت استفاده کوله .. بلکه زما ادبي ذوق ، شوق او تنقیدي نظر ته ئې ډېره بخښنه کوله -

ښاغلی افضل شوق به دَ کوئټې په پښتو پروګرامونو کې کله کله دَ یو کوربه په حېث او کله دَ یو شاعر مېلمه په توګه شامل وو .. خو دَ هر چا نه په ببخي ببل انداز .. په ببلو ببلو خبرو� او داسې دَ دې لېوني شاعر دَ ډېرو اوربېدونکو سره سره زما سره هم یوه غائبانه پېژندګلو وه � او زما ښه یاد شي ، چې ده په خپل پروګرام " امېل" کې په خپل ښائسته نظم، یا شعرونو او افسانوي یا داستاني خبرو دَ چا چا دَ ژوند څو لمحې په سکون کړې .. نو خدای خبر چې زما زړه به دا ګواهي ولې ورکوله چې .. دا شاعر به په خپل فکر او شاعرۍ ډېر مخکښې ځي � او کله کله به مې ګمان ته داسې هم راغله چې چرته دا شاعر یو خیالي کردار خو نه دی ؟ خو دا حقیقت دآ چې دې شاعر په خپل محنت ځان او وجود په هر چا او منلو � یعنې دَ ربېډیو کوئټې دَ سټېشن هاغه پښتو پروګرام چې افضل شوق به په خپل خوږ آواز کې خورولو .... "امېل" � دغه پروګرام که یو خواته دَ ده په شهرت او مقبولیت کې بې کچه اضافه کړې ده .. نو بلخوا دَ دې پروګرام په وسیلې به دَ ده غږ او دَ ده دغه فطري لېونی انداز به دَ بلوچستان سره سره دَ پښتونخوا په ګڼو علاقو .. لکه افغانستان ، پېښور، سوات او په نورو سیمو کې هم انګازې خورولې � ده به په دغه ذکر شوي پروګرام کې .. دَ خپلو لفظونو او جذبو په جادوګرۍ دَ اوربېدونکو پام خپل ځان ته را اړولو � دَ ده په لیکلي شوي مسوده کې به ژوند، دَ ورځو شپو دَ معمول خبرې نه وې .. کوم چې دَ ربېډیو پالیسي بللی شي ..

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



او هر پروډیوسر او کوربه ئې سرکاري تابع وي � بلکه ده به هر پروګرام کې دَ مینې او محبت خبرې کولې .. دَ ژوند او جذبو خبرې ... ده به اورېدونکو ته دَ خپل جهان، خپل فکر او خپل ارمان خبره کوله � داسې به ښکاره کېده.. لکه چې دا وخت دئ دَ رېډیو په مائیکروفون نه وي لګیا، بلکه دَ مینې او محبت .. دَ فن او هنر دَ جذیرو نه په ډېره مینه .. په رو رو دَ خپلو خیالاتو اظهار کوي ،، یا لکه چې اورېدونکی .. خوب وینې .. دَ هغه دَ جهان ..دَ محبت او امن یوې نوې دُنیا .. دَ جذبو دَ یو ښائسته کهکشان .. دغه خبرې هم څوکه هوائي خبرې وي � خو دَ زمیني حقائقو یو وېړ او پرانستی کتاب وو � شاید چې امېل ته په دومره مینه او اخلاص دَ خپل فکر او فن ، خپل آواز او انداز خوارِه ورکول ، ده دَ یو مقصد تر حده ضروري ګڼل � ده لکه چې دا هم غوښتل چې دَ رېډیو په دې خوبولو څپو دَ ده غږ ، دَ ده پیغام، دَ ده مینه او محبت تر لرې لرې خور شي � او دئی دي په هر وطن او هره سیمه کې ځانله پېژندګلو پیدا کړي � دغه وجه وه چې کله دَ ده وړومبی کتاب " شلېدلی امېل" چاپ شو ، نو دَ امېل نه تر شلېدلی امېل .. دَ ده دَ فن او فکر سفر په یو نوي دوام داره تسلسل کې داخل شو � دغه ورځو کې دَ کوئټې په یو پښتو مجلې " اولس" کې دَ شلېدلی امېل دَ چاپ کېدو خبر زما دَ پاره دَ یو لوی زېرې نه کم خو نه وو� په ذکر شوي مجله کې په دې کتاب دَ محترم رب نواز مائل یا کېدلی شي دَ ښاغلي محمود ایاز لیکلي تبصرې په وړمبي ځل دَ ما سره دَ دغه ښکلې شاعرۍ دَ مئین شاعر افضل شوق داسې شخصي پېژندګلو اوکړه، چې زه ئې دَ هغه دَ چاپ شوي کتاب په لټون داسې او دومره اوکړولم چې ما به له هر ملګري دَ دې کتاب تر لاسه کولو خبرې کولې .. ولې چې دَ شوق " شلېدلی امېل" لا خو دَ پښور په کتابخانو او دوکانونو کې نه موندل کېدو � خو بیا لږ موده پس چې کله دَ افضل شوق کتاب ماته دَ پښور رېډیو په دفتر کې ښاغلي سهېل خټک دَ ښاغلي سردار علي په لاس راکړو... نو ما لکه چې یوه لویه او قیمتي خزانه تر لاسه کړې وي -

ورك یم له ځانه زه په تا کې دوني

دَ انتها چې انتها ده څوني

خو بیا هم زه دَ ویده بخت له جوره

ښکارم بندي دَ خپل وجود هغوني

(شوق)

هغه ورځو کې دَ تګ راتګ وسیلې دومره تېزې نه وې لکه دا نن چې دي � زما دَ کلي نه به تر نوښاره بسونه چلېدل چې خپل خپل وختونه ئې مقرر وو � دغه رنګ تر پېښوره سفر هم دَ ډېرو لانجو وو.. خو په دغه ورځ ما دَ افضل شوق دَ شلېدلی امېل سره په سفر هیڅ ستوماني نه وه محسوسه کړې � دَ بس په یو سیټ ناسته وم .. او چې دَ بس کلینډر دا آواز کولو چې نوښار راورسېدو .. نو ما هم دغه کتاب دَ اختتام تر پړاوْه رارسولی وو � دَ شاعرۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



انداز، ژبه او لهجه ئې دومره دَ مزې وه چې تر ډېره وخته ئې زه په خپل کشش او کېفيت کې ساتلې وم � خو بيا هم دَ ده فکري علامتي انداز زما دَ پاره دَ ابلاغ مسلې هم راپورته کړي وې .. دَ ده په علامتونو به مې دَ خپل ذهني استعداد او پوهی مطابق سوچ کولو � چي دَ دې لفظ او اشارې دلته په دې نظم يا غزل کې څه معنې لري .. او بيا چې به مې ټول نظم يا شعر يو ځل بيا اولوستلو ، نو ما به دَ دغه اشارو او علامتونو نه خپلې معنې اغستې � يعنې دغه رنګ دَ افضل شوق په حېث دَ شاعر ما سره نه يواځې هر اړخيزه فني پېژندګلو اوشوه، بلکه دَ ده علامتي انداز .. ما په ورمبي ځل دَ خپلو ليکونو دَ پاره هم دَ خوښې ميدان اوټاکلو � ولې چې هغه بېخي په خپل سټائل کې راته جديد او دَ شېريني لهجې شاعر محسوس شو � موضوعات ئې ډېر نوي او په ساده اشارتي انداز کې زړه ته لاري پرانستلې � داسې شاعري په پښتو کې په ورمبي ځل مخې ته راغلې وه � يعنې يوه ښائسته خبره .. په معماتي انداز کې کول او لوستونکي ذهن ته دَ سوچ او پرله پسې سوچ يو داسې فکري لېونتوب ورکول چې، دَ لفظونو او دَ معنو يو لوی جهان به خپله راڅېرې ---

دا حقيقت دی ، چې هغه وخت په وطن کې ملکې حالات دَ مارشل لا وو � په داسې حالاتو کې دَ ادب او شاعرۍ شکل دغه رنګ ساتل دَ شاعر اديب نه يواځې مجبوري وه .. بلکه دَ حالاتو تقاضه هم وه � خو بيا هم په داسې حالاتو کې داسې شاعري کول ... دَ مزاهمتي تحريك پيدا کول .. دَ وخت ضرورت هم وو � او ښاغلي افضل شوق خپله هم دَ دې تحريك يو مزاهمتي کردار پاتې شوی دی � خو دَ ژوندد َ کوم سباوْن دَ پاره چې دَ وخت او حالاتو تورې سپينې داسې دَ شعور مئينانو شلولي دي نو هاغه سباوْن لا زمونږ دَ ژوند په سيمه ښکاره شوی نه دی � خو دَ هغې دَ پاره ژوندۍ هلې ځلې رواني دي � څو چې زمونږ نه ګېر چاپېر يو معقول سماجي او فکري نظام خپل وجود اونه ښائي ...!! دَ مثال په توګه دَ افضل شوق په دغه ورمبۍ شعري مجموعه کې " ماتې څانګې" نومې نظم دَ هاغه وخت او حالاتو داسې کوټلې عکاسي کوي ، په کوم کې چې دُنيا دَ يوې تبديلۍ نه تېرېده � چې په کې دُنيا دَ نوی نوی انقلابات رامخې ته کېدل ــــــ، انساني ژوند خپلې ټولې چارې داسې بدلولې .. چې دَ تهذيب يو نوی شکل رامخ ته کېدو � دَ يو داسې تهذيب چې دَ تهذيب نوم يا لفظ ورته اغيستل هم عجيبه غونډې ښکاري .. خو بحرحال حالات چې څنګه جوړېدل .. انساني ژوند ، نفسيات، انساني روئيې چې په کوم انداز کې ښکاره کولې نو يو تهذيبي عمل خو ضرور وو � لاکن دلته په دې سيمې کې انسان دَ آزادۍ ، خپلواکۍ ، شعور،او مخته وتلو په نومونو نور نور دَ خپل ذات په لور ستنېدلو او ځناوري روئيې يې داسې خپلولې � لکه افضل شوق چې يې اظهار په "دمامې" ، " څوك خپل ..څوك پرېدی " ، " سپينې مانۍ " ، " اشتهار" ، " ترانه دَ ياغي ژوند" ، " بې حسه دېوال" ، " يوه پوښتنه" ، " په خله يوه او په زړه بله" ، " تلکې" او دغه رنګه نورو نظمونو کې دَ هغه وخت حال او حالت په اشارتي اختصار او علامتي پېرائيه کې دَ تاريخ برخه جوړوي � خو دَ دې لانديني ورانديې شوي نظم علامتونو ته که تاسو ښه په غور اوګورئ نو دَ هاغه وخت دَ سياسي، سماجي او فکري حالاتو ښه انځورګري کوي..

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ماتې څانگې

که څه هم

لوند دی حلق دَ ترِو زړونو

دَ باراني سترگو په اوښکو باندې

که څه هم

رونې ايښېدلې خولې

دي گرځېدلې دَ ماڼيانو خښتې

خو بيا هم

گورئ ، تکه سره ده څمکه

دَ ژوندانه تر ونې لاندې دلته

او هر زيارکش دَ ماتې څانگې په چم

په پرې پرې غاړه راټالېږي مُدام

دَ قصابې دَ سره پُوسه په رنگه

چې گوټ گوټ وينې ځينې څاڅي کښته

)شلېدلی امېل .. مخ _ 74(

او څنگه چې دا کتاب راغلو .. نو دَ ادبي حلقو نه يې زبردست شاباشی اوگټلو او هرچا، هر فکر لرونکې ليکوال دَ دې وخت دَ دې ځوان ، ځلمي شاعر فکري محنت ته په ډېره درناوي اوکتل او دَ ده دغه هلې ځلې يې ډېرې اوستائيلې � په دې کتاب، دَ وطن دَ رېډيوگانو سره سره مختلفو بهرنو نشرياتي ادارو .. لکه بي بي سي ، وائس آف جرمني، وائس آف امريکا، کابل رېډيو، قاهره رېډيو .. او ماسکو هم پرې ډېرې کوټلې تبصرې او رپورټونه وړاندې کړل � داسې نه يواځې دې لوئيو عالمي ادارو .. دَ دې ځوان شاعر ډاډگيرنه اوکړه بلکه دَ ده پېژندگلو يې تر لرې لرې دَ فن مئينانو سره هم اوکړه � ماته ښه په ياد شي چې کابل رېډيو خو به په خپل معروف پروگرام " دَ شومه دم انگازې" کې وخت په وخت دَ سارا بياباني او فريده هوډ سېفي په خوږو آوازونو کې دَ دې کتاب " شلېدلی امېل"

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه کله نظم او کله غزل خورولو� او داسې چرته چرته چې پښتو وئیلی ، اوریدلی او لوستلی شوه.. هلته دَ ښاغلي افضل شوق نوم او شخصیت دَ یوې درنې پېژندګلو سره موجود وو � خو بیا .. دَ دې دومره عزت او شهرت تر لاسه کولو نه پس ډېره موده دَ دې لېوني شاعر کوم بل کتاب رانغلو .. او خپله دئی هم تر ډېره وخته دَ پښتو ادب او په تېره تېره دَ پښتو دَ شعر دَ میدان نه بهر پاتې شو � هیڅ چاته دا نه وه معلومه چې هاغه تحریك کوم چې په ډېر لېونتوب او مینه راپورته شوآ وو .. آخر څه شو؟؟ دَ هر چا دپاره یې دَ یو سوالیه توري شکل اختیار کړو � خو بیا دَ یوې ډېرې اوږدې غېرحاضرۍ نه پس دَ " شلېدلی امېل" تخلیق کار شاعر په ورمبي ځل دَ یو ښائسته سفرنامه نګار په حېث دَ یوې بلې لا زواله پېژندګلو سره یو بل نا اشنا میدان ته داسې دَ خوږو سره ملګری راغلو چې پښتانه یې په حېرت کې واچولو� دا میدان که هر څو دَ ده دپاره نوی وو.. خو ده ته دَ دُنیا دَ ګڼ ملکونو سفرونو یو نوی اعتماد ورکړی وو ..او دا میدان یې هم په خپلو صلاحتونو داسې اوګټلو لکه چې دا میدان دَ ډېر وخت نه هم دَ ده جاګیر وي � دلته پښتو ادب کې چې دَ ګوتو دَ شمېر څو سفرنامې مونږ سره موجودې وې نو په هغو کې یې ځانله خپل یو ځانګړی مقام حاصل کړو �

چې شاعري وه ..نو افضل شوق دَ شاعرۍ وو � چې سفرونه یې اوکړو نو دَ سفرنامو شو � خو دَ شاعرۍ هاغه ښاپېریاني کومې چې ده په ډېره مینه او ناز پاللې او ساتلې دي .. هغه یې اوس هم دَ خپلو زړو زړو وزرو سره په فکر سیورې سیورې کېدې � دغه وجه ده چې دَ ده دغه سفرنامې هم دَ شاعرۍ په ماحول کې راپیدا شوي دي � یا کېدلی شي .. شاعرۍ دَ سفرنامو رنګ اغستی وي � خو دَ شلېدلی امېل نه لرې به نه ځو � چې کومه َ افضل شوق دَ نظمونو او غزلونو ورمبۍ مجموعه ده

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دَ شلېدلی امېل

## دَ غزلونو نه دَ شعرونو انتخاب........

دي خبرې كي هيڅ شك نيشته چې په شلېدلی امېل کې دَ افضل شوق شهرت دَ غزلونو په مقابله کې دَ مختصرو نظمونو دَ وجې نه شوی دی .. خو دَ ده دَ غزل او په غزل کې دَ نوې رنگ او خوند نه انکار ادبي نا انصافي گڼلی شي � ولې چې دَ دې شاعر دا لاندېني څو درځنه اشعار ځان کې نوي نوي موضوعات او شعري خوند داسې رانغاړلی لري چې قاري ورنه خوند اغستلی شي �

فقط مې ته زړه ته بيا ځې او راځې

مقصد چې زه دَ ژوندانه غواړمه

لا خو مې بخت دی ستا په وار باندې تور سپي څټلی

لا خو بيا ته زما نصيبه يې ..، چې په لاس نه راځې

لا خو زه ړوند يم سترگې هسې ټپوم درپسې

لا خو بيا ته خيالي وړانگه يې چې په لاس نه راځې

که اوخېښمه سمندر په لپو

پاتې به ترې وي ارو دَ ژوند لا

دَ يار سترگې په ما سرې وي خدای خبر چې مُدام څله

دا يې خوی دَ ماشومتوب دی که هسکون دی نه پوهېږم

چې بې تا نه رښتيا کېږي په سهار لا

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



که دَ خوب هغه منظر یم نو هم ښه یم

مازې دَ یار دَ موسولو په نیت

ټوکه په ځان کول څه ټوکه نه ده

دلته ژوندون هم بې قراره دَ قرار په لټون

سم له انسان سره کوي په سرو اورونو مزل

غم دي اشنا که خوشحالیاني نه پرېږدي وَ څنګ ته

زه چې سوب ستا دَ خندا یمه .. لا نور څه غواړې ؟

څوك په اوښکو،څوك په مینه ،څوك دَ خپل وجود په وینه

بل کړي هرڅوك څراغونه، چې دَ شپې تیارې خورې شي

پلو غوندې به پاته شي سرِی سرِی تر شا په لار

ژوند دَ تمنا تر منزل نه شي رسولی څوك

مازې یو بل خطا باسو دَ دروغو په خبرو

ګني غله یُو مونږ له اصله دَ رښتیا په معامله کې

دوې لمحې مې هم بې غمه نه پرېږدي تنده او لوږه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما په ځان پسې پسې تل ځغلوي تنده او لوږه

پام دې غلط په شاعرۍ کړم ځنگه

قسم په خدای ډېره یادېږې راته

زه هم دَ ژوند دَ لاسه په وجو د لکه یو زخم

په خوږو کې راگېر یم لوبوم خُوږمنې ځړکې

په مورنۍ ژبه که شولې گونگۍ

شمله دې څوك مني پښتونه ! وایه

مینه خو پرېږده،اقرار پرېږده چې په ترخ کتو هم

خوله خوله شي دَ اشنا یخه واورینه څېره

که نصیب نه وي دَ ماڼیانو ملنگ

کیږدۍ به څیرې وي سل ځایه څله ؟

گوره!! چې زما په غم غمجنه نه شې

گنې ، په ځان به لگوې منگولې

ستا دَ نصیب کرښې له ما ژغېږي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



له چا او چا به پټوې منګولې

دَ ورځې شپې تر وصال، شوقه په لار کې دَ عشق
شېبه شېبه دَ بېلتون ، په کچ اوږده ده څونې ؟؟

زیاته خو ورك شومه له ځانه زه هم
لا به ستا سترګې څو ترڅو غوارمه؟

بیرته راغبرګه شي زما چیغه له هر لورې دَ غره
دا خپل احساس چې دَ ژوندون په تول مانده اوګڼم

دَ خپل ترږو حسرتونو دَ یو ګوټ تسکین دپاره
زړه په لاس کې ګرځومه کله چېرې کله چېرې

په پښو کې ستا بِردمه زړګی له خیاله
که دېوالو خواته ټولېږي سیورې

خدای دې را اوباسه په فال دَ مینې
چې په تندې دې کېږدم خال دَ مینې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



يو ځل مې لا نصيب کړه په ساړه ژوند کې خالقه

هغه رنګه سور اور، هغسې تاوْ ، هغه سکروټه

تږی سراب يمه دَ ژوند، ما کې اوسېږي تنده

څومره چې زړه اوبه کوم، دومره يادېږي تنده

اورسېدمه وَ معراج ته دَ عشق

که رسوائي په تندي خال شوه راته؟

په ښار کې دَ سپين پوستو هر يو موم غونډې سړی

کوګل کې ګرځوي تر کاڼي کلك دَ غوښې زړه

شپه که سهارلري ، سهار جوړ کړه باداره په ما

زه هم له ستورو سره ويښ سپينې سپېدې لټوم

خوله خوله شو وَ سره لمر ته انسان

لا به آسمان ګوره ژړېږي کله ؟؟

دَ ښاغلي افضل شوق دَ پورته ذکر شوْ شعرونو په حواله چې دَ هغه دَ شاعرۍ دَ غزل برخې ته ګورو .. نو په شلېدلی امېل کې چې هغه څومره هم غزلې ليکلې دي .. هغه په فني اعتبار دومره دَ خوند او مزې دي چې په هر ځل ترينه بنده يو نوی خوند اخلي � که اوکتلی شي نو ښاغلی شوق په بنيادي توګه خو چې څومره شهرت په نظم کې لري او دَ نظم شاعر ورته وئيلی شي ..خو هغه دَ "شلېدلی امېل" دَ غزلو نه دا خبره ثابته کړې ده چې هغه يو کامياب

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



غزل ليکونکی شاعر هم دی � لاکن څنګه؟؟ زما دَ دې خبرې په دليل کې به مونږ دَ هغه دَ پورته ذکر شوْ شعرونو يو مختصره شانتې تنقيدي جائزه وړاندې کړو او دا به اوګورو چې دَ آزاد او وړوکي نظم دغه معروف شاعر افضل شوق واقعي دَ غزل ښه شاعر هم دی ..که نه ؟؟ دَ پورتني منتخبو اشعارو په رڼا کې يو لوستونکی دَ لوستلو نه پس دا فېصله فوراً کولی شو ، چې دَ افضل شوق په غزليه شاعرۍ کې دَ هغه لب و لهجه چې څومره علاقائيت لري .. هومره پښتني رنګ او خوږلت هم په کې ليدلی شي � ژبه يې نه يواځې پسته ، خوږه او رواني لري .. بلکه په قندهاري تورو يې شېرينه کړې هم ده � يعني دَ هغه ټول شعرونه ، دَ هغه دَ مخصوص پښتني نظر هغه نښې نښانې دي ، چې ځان کې دننه پښتني ژوند په رواجي او ثقافتي حوالو قاري مخې ته داسې په هنر ږدي � چې لکه هر څه چې سترګو ته ښکاره وي � دَ افضل شوق په غزل کې فکر په ساده ټکو کې بيان شوی دی.. خو دغه سادګۍ بنده په سوچ کولو مجبوره کوي � ولې چې دَ هغه په شعرونو کې بيانيه انداز دَ نوْ موضوعاتو سره غاړه غړی کېږي � او هر شعر يې په تمثيلي انداز کې اشکال دَ لوستونکي په ذهن کې داسې زېږوي .. لکه هغه چې خپله هرڅه په خپلو سترګو ګوري � او دا هغه هنر دی ، چې نه يواځې يو انسان .. دَ يو عام انسان نه مخصوص کوي .. بلکه يو داسې فنکار ورنه جوړوي چې که هغه شاعري کوي نو هم دَ نورو عامو شاعرانو نه په نوي او بدل انداز کې يې کوي � او دا هنر ښاغلي شوق لاس ته کړی دی � هغه يو شاعر دی .. بلکه ډېر ښه شاعر دی � خو په شعر ليکلو کې دَ روايت پسندۍ او تنګ نظرۍ نه ډډه کوي ..هم ځکه خو دَ پښتنو شاعرانو نه يې لار بېله کړې ده � او هر څه ته په انساني نظر ګوري � شوق دَ اولې ورځې نه تر اوسه پورې په نامعلومو لارو روان شاعر دی � دَ هغه په فکري سفر کې که سترياګانې ليدلی شي نو هيلې هم لري � او دا په ادب کې هغه څيزونه دي چې افضل شوق نه ښه او ځانګړی ليکوال او شاعر جوړوي �

دَ شوق غزلو ته چې پام اوکړو ،نو دَ هغه په اشعارو کې په معاشرتي نا انصافيانو باندې په سواليه انداز کې ګوزارونه داسې په هنري طريقه شوي دي چې لوستونکي په خُواب لټولو مجبوره کوي � افضل شوق خبرې په اشارو کې کوي .. خو دغه اشارې په شعري علامتي پېرائيه کې اختتام ته رسوي � کله کله دا شاعر دَ انتها نه دَ ابتداً په لور لوستونکي بوتلل غواړي ..ولې چې دَ هغه دَ افکارو نه سبق آموزه قيصې مخې ته شايد په دې را وړي ، چې هغه دَ پرون په آئينو کې دَ نن جائزه اخلي � نو ځکه خو هغه دَ نن له مروجه انساني روئيو نه مايوس ښکاري � شکوه، شکايت او بدو ته په نره بد وئيل او رښتيا رابرسېره کول دَ شوق په شاعرانه روئيو کې هغه هنري او موضوعاتي بنې دي، چې هغه پرې پېژندلی خو شي � لاکن ستائيلی ځکه نه شي چې دَ هغه په شاعرۍ کې سندرې او ترانې نه .. بلکه په انساني حال او حالت باندې ليکلي معاشرتي مرثيې په ماتمي انداز کې موجودي دي �

دَ افضل شوق په غزليه شاعرۍ کې دا لا ندېنۍ محاورې دَ هغه شعري افکارو ته په اشارتي انداز بيانيه لب ولهجه داسې په هنر ورکوي چې دَ علاقائيت نه دَ آفاقيت په لور يُون په کې ليدلی شي � راشئ چې هغه پښتني نوي او زړې محاورې اوګورو چې شوق صاحب په خپلو پورته ذکر شوْ اشعارو کې رانغاړلې دي � دَ مثال په توګه لکه.. "

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



بخت تور سپي ځټل" ، " په لاس نه راتلل" ،" سمندر په لپو څيښل" ، " دَ اروا تنده ماتول" ، " سترګې سرې کېدل" ، " ټوکه په ځان کول" ، " دَ زړه ور ټکول" ،" ګونګی ګنډل" ، " په سرو اورونو مزل کول" ، " څنګ ته نه پرېښول" ، " دَ خندا سوب جوړېدل" ، " پلو غونډې شاته پاته کېدل" ، " ژوند دَ تمنا تر منزل رسول" ، " زړه په لاس کې ګرځول" ، " دوې لمحې بې غمه نه کېدل" ، " په ځان پسې ځغلول" ، " پام غلطلول" ، " په خوږو کې راګېرېدل" ، " څرکې لوبول" ،" په ژبې ګونګی کېدل" ، " په پښو کې زړه ږدل" ، " ترڅ کتل" ، " خوله خوله کېدل" ، " په غم غمجن کېدل"، " دَ لاس کرښې غړېدل" ، " منګولې پټول" ، " له ځانه ورکېدل"، " سترګې غوښتل"، "دَ چيغې راغبرګېدل" ، " په تول مانده کېدل" ، " په اُمېد پائېدل" ، " په فال را وتل" ، " په تندې خال ږدل" ، " دَ ژوند سراب کېدل" ، " زړه اوبول" ، " زړه له اوږې ورکول" ، " ظلم غندل" ، " دَ عشق معراج ته رسېدل" ، " رسوائې په تندې خال کېدل" ، " تر کاڼي کلك زړه کوګل کې ګرځول" ، " دَ دروغو حوصلې ورکول" ، " سپينې سپېدې لټول" ، " زړه په خلوص وينځل" ، " دَآسمان ژړېدل" او داسې نورې زړې او نوې محاورې شايد چې ديو بل پښتو شاعر په شاعرۍ کې راغلې وي � دَ شوق دَ غزلو لوستلو پس داسې ښکارې لکه هغه چې دَ هر فکر اظهار په محاوراتي انداز کې کولو هنر خپل شعري مسلك جوړ کړی وي � نو ځکه دا وئيلی شو، چې افضل شوق صاحب په دې حواله نه يواځې منفرد دی بلکه داسې انداز يې دَ خپل شعري اظهار ذريعه هم ګڼلی ده �

دَ افضل شوق شاعرۍ په ځان کې ثقافتي حوالې لري .. کوم چې دَ هغه فکر ته تقويت ورکوي � دَ هغه په شاعرۍ کې لفظي تراکيب عام فهمه دي .. خو دغه تراکيب په داسې علامتي هنري اشارو او دليلونو موضوعات څېړي چې علاقائي مسئلې ته آفاقي رنګ په کوټلې انداز ورکوي .. او دَ دُنيا دَ هر مظلوم قام مسئله ترينه جوړوي � که يو خواته داسې لفظي جوړښت او تراکيب لکه په دې لاندېنئيو ورکړل شوْ اشعارو کې چې ځای کړل شوي دي � تاسو يې خپله کتلی شئ ." دَ شپې له سترګو زلفې ټولول"،"دَ فراق په مېچن اړل" ، " په کچ اوږده کېدل" ، " دَ اُميد اسپې دَ ژوند په دښت ځغلول" ، " په سپين کاغذ دَ لفظونو ترون" ، " دَ جذبې مرئيې کېدل" ، " دَ شپې زلفې له سترګو ټولول" ، " دَ لمر وينښېدل" ، " دَ زړه ور ټکول" ،" سپرلی په وينښه هم خوب" ، " دَ ژوند دَ وسوسې وژنه" ، " کاغذي ښکلا" ، " دَ ټپې مارغه په شان ټپرېدل" ، " بې وزره تلوسې" ، " دَ رښتيا په معامله کې غل کېدل" ، " دَ اندېښنو امبار"، " دېوالو خواته دَ سيورو ټولېدل" ، " دَ شيشې نازك بنګړی"، " موسمي دوْل يارانې " ،" دَ دروغو حوصلې لټول"، "دَ زړه خيرن وجود وينځل" ، " زړه خو شيشه دی ، په شيشې څه باور" ، " تله دي په غمجنه لار" ، " دَ وجود په وران مزار کي دَ څراغ لوګېدل " ، " بې ثمره شينکۍ ونه دَ ژوند" ، " سفر يادېږي تنده" او داسې نور نور لفظي تراکيب چې افضل شوق په خپلو غزلو کې استعمال کړي دي .. دَ هغه افکار په شعرونو کې نه يواځې پښتنې انداز واضحه کوي بلکه دَ هغه وَ شعريت ته خوږه ژبه هم بخښي � بلې خواته په لاندې ذکر شوْ شعرونو کې دا لفظي جوړښت دومره په جديد پښتني محاوراتي انداز کې شوی دی چې دَ شعرونو خوند زياتوي � راشئ چې پورته ذکر شوي لفظي تراکيب په دې لاندېني اشعارو کې اوګورو چې څنګه شعري ژبه ورکړل شوې ده؟؟

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټولې کړه زُ لفې زما له سترګو دَ شپې

ځلنده لمره ...!! ویښېده غواړمه

زه یې دَ زړه ور ټکوم .. خو دا کڼه غوندې ده

نه اوري زما دَ مینې غږ او هم ګونګی ګڼي ما

شوقه زړه ښکونکی پسرلی په ویښه هم خوب

چېري ښکلا کاغذي . .چېري ګلونه دَ هار ؟

یو وسواس دَ ژوند دی شوقه چې ما وژني

بل مرګي ژوندی ساتلی یم په وار وار

چېري به ځغلي دا انسان له ژونده

پرتې دي لور په لور امبار اندېښنې

په لاس کوې ، که ماتوې یې

شوق دَ شیشې نازك بنګړی دی

کله به وي جار جار او کله نفرت

په موسمي ډوْل یاراني څه باور؟؟

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



لکه یو سترِی مسافر دَ اُمېدونو دَ دشت

زه هم وَ ځانته دَ دروغو حوصلې لټوم

دا ستا خیرن وجود به په خلوص که خدای کول زه

وینځم په مینه مینه دَ اشنا توره زړگیه

لالیه !! پام کوه چې مات یې نه کړې

زړه خو شیشه دی ، په شیشې څه باور

نه لري منزل دَ ژوندانه مزل

تش په وړاندې تله دي په غمجنه لار

زما دَ وجود په وران مزار کې همېش

غمجن زړگی لکه لوگېږي ځراغ

دومره مجبور یم چې غندلی نه شم ظلم دَ یار

دَ خپلې وینې دَ جذبې دَ مرئیتوب دلاسه

دَ وصال په طمه یاره! ورځې شپې زما

دَ فراق په مېچن دومره مه انه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه کړي ثمر دا بې ثمره شینکۍ ونه دَ ژوند

تش په اُمید پاي هرڅیز،هره غوښتنه دَ ژوند

همېش مې سترګو وړاندې دَ تپي مارغه په شان

بې وسه ټپَرېږي پرې وزرې تلوسې

تر څو به زړونو له اوږې راکوي ؟

په سپین کاغذ دَ شنو لفظونو تړون

مه ځغلوه دَ ژوند په دشت دَ اُمېدونو اسپې

سترې به ځان کړې په سفر،سفر یادېږي تنده

په فني توګه دَ افضل شوق غزل چې څومره ساده او بې ساخته دې .. هومره په کې دَ غزل دَ مروجه پابندیانو نه هم زیاتې پاپندیانې ساتلی شوې دي � دَ بېخي ډېرو غزلو په مصرعو کې دَ ځینو تورو دَ تکرار که دَ شوق دَ غزل خوند سېوا کوي ..نو دَ علاقائي لب و لهجې مستعملې محاورې او متلونه لکه " دَ ناز غاړې وئیل " ، " خاورې څټل " او " هوس اوچېدل " استعمال دَ هغه په شعرکې معنوي ابهام هم مخې ته راولي � په شلېدلی امېل کې افضل شوق .. غزل هم دَ خپل ځانګړې نظم په رنګه ځانته مخصوصولو په ښه نیت دَ ساخت په حواله مشکل کولو کوشش کړی دی � یعني هغه په خپلو غزلونو کې دَ فقرې هومره اوږده اوږده ردیفونه ډېر په هنر تړې � او دَ ځینو غزلونو په وړو وړو مصرعو کې یې دَ دوو نه تر څلورو څلورو پورې قافیې بې دَ ردیف نه داسې په اُستادۍ رانغاړلې دي چې دَ هغه دَ شعر هنري کمال ته اشاره کوي � که مونږ اوګورو .. نو نیم درځن ته نیزدې غزلونو کې ښاغلي شوق دَ یو ردیف په ځای څو څو قافیې استعمال کړي دي .. خو زه تش دَ دوو غزلونو دا یو دوه شعرونه دَ نمونې دپاره وړاندې کوم..

چېرې دَ چا غریبي ، چېرې رسمونه دَ ښار

چېرې سترِیا ستوماني، چېرې خندونه دَ لار

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې پورتني بې رديفه شعرکې دَ "چېرې" دَ باقاعده تکرار نه علاوه دَ څلورو رديفو اهتمام داسې شوې دی � لکه په ورمبۍ مصرعه کې "چا"،" غريبي"، رسمونه" او " ښار" هم دغه رنګه په دويمې مصرعې کې "سترګيا"،" ستوماني"، "خندېونه" او" لار" ترلې شوي دي او په ټول غزل کې دَ دې پابندیانو خيال ساتلی شوی دی � او يو بل غزل کې دَ ريف سره درې درې قافيې ترلې شوې دي لکه

کوڅه کوڅه دَ ژوندون ، سپېره پرته ده څونې

لمحه لمحه دَ سکون ، په وير اخته ده څونې

روان، ساده او انداز بيان يې ډېر خوږلت او بې ساختګي لري � دئی دلته دَ غزل دَ شاعر په رنګ کې دَ انساني ژوند وَ مسئلو ته په داسې سترګه ګوري چې مسئله دَ مسئلې په معنې کې نه اخلي بلکه په ډېر معصومانه انداز او ساده طرز کې دغو مسئلو ته اشاره کوي � کله نېغ په نېغه او کله دَ يوې مبهمې علامتي اشارې په رنګ کې .. که دا اووايو چې دَ ښاغلي افضل شوق په څېنو علامتي اشارو او استعارو په شکل کې دَ هغه فکر دَ ابهام ښکار دی .. خو دَ دې باوجود هغه خپل اظهار په ډاډه او رواني کړی دی � نو ځکه دا وئيلی شوچې افضل شوق نه يواځې دَ نظم منلی شاعر دی بلکه هغه يو ډېګر ښه او ببخي ډېر ښه غزل ګو شاعر هم دی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دَ شلېدلی امېل

## دَ ځینو نظمونه تنقیدي جائزه-----

وئیلی کېږي چې افضل شوق دَ پښتو په جدید او مختصر نظم کې مېدان گټلی دی � دا خبره تر کوم حده پورې صحیح ده ؟ دَ دې ځواب دَ شوق په ورمبۍ شعري کتاب " شلېدلی امېل" کې مونږ دَ دې لاندېنو نظمونو په جائزه اغیستلو کې ښه تر لاسه کولی شو �

### ۱-- نعت شریف

چې دَشپې له گڼ اوربله

دَ سهار څېره ښکاره شوه

نو دَ وازگو جوړ خدائیان هم

ټول په کوزو کوزو سترگو

په شیشه غوندې کورو کې

دَ غرور په دالان ناست ناست

په وړانگو دَ لمر شول ویلې

)شلېدلی امېل .. مخ _ 73(

په دې پورته " نعت " کې ټولو نه لویه او دَ خوند خبره دا ده، چې په آزاد نظم کې داسې په اختصار او په علامتي پېرائیه کې لیکلی شوی دی � چې هیچرته هم پکې دَ سرکار دو عالم نوم نه دی ذکر شوی .. خو دَ مزې خبره دا ده .. چې دَ لوستلو نه پس یو دم دَ بنده ذهن ته دَ هغه مبارك نوم راشي � او دا هغه تجربه ده چې شوق صاحب یې اکثره په خپله شاعرۍ کې په کاروي � دا دَ هغه شعري هنر او کمال دی � شاید چې داسې په ورمبي ځل افضل شوق کړي دي � یعني داسې خو آزاد نظم پښتو میدان ته ډېر وړاندې راغلی دی او دَ ایوب صابر نه تر هاشم بابر او هاشم بابر نه یې تر افضل شوق پورې سفر کې بلا ډېر نور شاعران پیدا کړي دي � خو زه دَ دې درو شاعرانو ذکر ځکه کوم .. چې دا درې واړه ځان ځانته په اسلوب مشهوره شوي دي � دَ اوږده او ساده نثري نظم

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه دَ افضل شوق تر علامتي او تمثيلي نظمونو داسې اختصاري بڼې اوزېږولې چې افضل ورنه دَ افضليت تر حده شوق مشهور شو �

په اووْ وړو او غټو مصرعو کې ليکلی شوی دی پورته نظم ځان کې دننه يو تاريخي داستان لري � يعني کله چې حضرت محمد صلعم دې دُنيا ته راغلو .. نو دَ هغه مثال دَ تود او روښانه لمر وو چې تيرې يې لرې کړې او دَ وازګو نه جوړ هغه ټول فرعونان او انساني خدائيان يې داسې تبس نبس کړو � چې په لاس جوړ کړل شوْ جنتونو کې اوسېدلو � نه يواځې دا .. بلکه په اشارو اشارو کې يې دَ اسلام دَ ظهور پورا قيصه هم بيان کړې ده � لکه " دَ سهار دَ څېرې راښکاره کېدل" ، " دَ وازګو جوړ خدائيان او دَ هغوئ کوز کوز کتل" ، " شيشه غوندې کورو کې اوسېدل" ، " دَ غرور په دالان ناستېدل" او " دَ لمر په وړانګو ويلېدل" هغه علامتي اشارې دي چې ښکارې نوي .. لاکن جوړې شوي په ساده پښتني ټکو کې دي � کوم چې پښتني رنګ او خوند لري � هم دغه رنګه شوق چې هر څومره مخې ته وتلي شاعر په بڼه کې رو رو ميدان ګټي، خو پښتو او پښتني ثقافت هم دَ لاسه نه ورکوي .. او ورسره رشتې ډېر په هنر مضبوطې ساتي �

دا پورتنی نعتيه نظم چې په اوو غټو او وړوکو مصرعو باندې اړه لري .. کې يو ترتيب ساتل شوی دی � يعني هره مصرعه په اتهو سپلابونو مشتمل ده او دَ آهنګ، لې ، وزن او موسيقيت دَ لحاظ نه يو بل سره داسې تړلې شوې دي .. چې که قافيې او رديفونه په کې ترلې شوي وی نو دا به پابند نظم بللی شو � البته اوس هم دَ پورته ذکر شوي ترتيب له لارې دا نعتيه نظم په آزاده بڼه کې پابند نظم دی�

## ۲ ـ۔ اور او اوبه

یاره ! مه پورې کوه اور

زما دَ زړه ورې نړۍ ته

ګنې زما دغه لوګی به

دَ اوبو ډکه اوريځ شي

ستا په سر باندې دَ وَسي

بيا به خپلې لمبې ژغورې

دَ باران له سرو څاڅکو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



)شلېدلی امېل .. مخ _ 76(

په دې پورته نظم کې ښاغلی افضل شوق که څو هم خپل فکر دَ نظم په چوکاټ کې ځای کړې دی ، خو دغه موضوع سائنسي حقيقت لري � ځکه خو شاعر چې په کومه رنګينه او روانه شعري پېرائيه کې په کوم هنر دا دَ يو تاثر او تاثير نه ډك کېفيت کې تر اختتامه رسولی .. نو دَ شاعر هنر دلته دَ شاباشۍ وړ دی � يعني هغه خپل محبوب ته دَ هغه دَ ظلمونو زړا کوي .. دَ هغه ظلمونه دَ " اور" په علامتي پېرائيه کې بيانوي .. او بيا دَ دغه اور دَ لمبو نه چې کوم لوګی دَ بړاس شکل اختياروي او دغه بړاس چې کله دَ وريځ شکل واخلي .. نو واپس به په هاغه راوربېږي کوم چې دَ هغه محبوب دَ هغه سره دَ ظلمونو او ستمونو په شکل کې روا کړي دي � او هغه بل اور به پرې مړ کېږي � يعني دَ اور نه لوګی او دَ لوګي نه وريځ جوړېدل او وريځ دَ ظالم او ستمګر ياره په بل اور راوربېدل داسې دَ خوند موضوع ده .. چې دَ شاعر دَ شعري حقيقت پسندۍ جواز جوړېږي او داسې ښکاره کوي لکه دا شاعر افضل شوق چې په اوتو بوتو يقين نه لري .. او په شعر کې هم حقايق وړاندي کولو په حق کې وي � محبوب ته شاعر په دې شعر کې دَ هغه دَ ظلم انجام ښئي او هغه دَ ظلم نه منع کوي � دلته په دې نظم کې دَ اظهار ژبه ساده ده .. خو فکرانګېزه او معني خېزه خيال نظم کړل شوی دی

په فني توګه دا دَ اوو وړو لوئيو مصرعو آزاد نظم دراصل په اوو اتهه سپلابيزه برابرو مصرعو باندې مشتمل معری نظم دی �

## ۳ -- ژوندی مړی

سړی مړ دی دَ دننه

تش وجود دی چې ښورېږي

دَ هوا په رُخ هر کله

لکه مړی په تابوت کې

په اوږو باندې خواځُوږي

راولي خپل اديرې ته

له پرېدي لري ولاته

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



)شلېدلی امېل .. مخ _ 76(

دا یو کیفیتي نظم دی او په دې نظم کې افضل شوق دَ یو داسې حالت انځورګري کوي چې هغه دَ نني انسان دَ بې حسۍ په لور اشاره کوي � شوق داسې محسوسوي چې دا ژوندي انسانان دراصل هغه لاشونه دي چې تابوتونه یې خپلوان ادیرو ته وړي � دَ شاعر اشاره دَ هغه عهد په لور ده چې امریت په کې په انساني جمهوري روئیو باندي په زور زیاتی داسې مسلط شوی وو� چې انسان په معاشرتي ژوند کې هم دَ معاشرې نه بېل شوی وو� هسې خلګو ساه اغیستلې او ژوند سره دَ بې زبانه ځناورو او ښارو په رنګه رشتې ساتلې � نو ځکه خو دَ شاعر لهجه دلته په دې نظم کې دَ عزت ساتلو تر حده علامتي ده � خو دَ نن قاري ورنه دَ خپل خوښې معنې اخذ کولې شي � "دَ هوا په رُخ تابوت وړلو" اشاره هغه انسانانو ته شوې ده چې ابن الوقت ورته په أردو کې وئیلی شي .. او دا هغه خلګ وو چې دَ خپل مفاد په خاطر یې دَ آمریت ملا نوره نوره ټینګوله � هم په دې خو دَ بې حسیت دور دوره وه �

دا پورتنی دَ اوو وړو لوئیو مصرعو نظم هم اتهه سپلابیزه معری نظم دی چې رواني په کې دَ موسیقیت تر حده خپل تاثیر پرېږدي او لوستونکی ترې نه په یوه ساه تېرېدلی شي � دا وړوکی نظم دَ لفظي تراکیبو له لحاظه افسانوي جوړښت لري � یعني ټولې مصرعې یې په ساده مجلسي انداز کې لیکلې دي خو بیا هم دا نظم په یوه لوئیه نثري فقره کې ځکه نشي راغونډېدلی .. چې دلته دَ شعریت ساتلو پورا او په ډېر هنر اهتمام شوی دی � او داسې ښکاري لکه دا چې یو بې قافیو پابند نظم وي

۴ -- شپبو کې دَ هجر

غوارم

چې ستا دَ ویده عکس په تندي

دَ خپل نامه او لګومه ټیکه

خو... ،

چې نرۍ څُوکه دررم دَ قلم

ستا غنم رنګ نقشونه تت شي دوني

چې دَ یو شنه وړوکي خال په ګمان

ستا په څېره باندې اشعار اولیکم

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



)شلېدلی امېل .. مخ ــ 79(

ښاغلی افضل شوق ، شاید چې په ارادي یا غېر شعوري توګه داسې موضوعات دَ نظم په وجود کې ځایوي چې تر اوسه دغه موضوعات لا پېژندلي شوي نه دي � دَ ده اکثره موضوعات ډېر نوي دي .. په دې لحاظ داسې موضوعات مخې ته راوړل دَ هغه کوشش په پښتو جدیده شاعرۍ کې دَ نووْ نووْ موضوعاتو راوړل دي � چې یقیناً دَ ستائینې وړ خبره ده � پورته نظم کې هم افضل شوق دَ یو تخیل پرست شاعر په شکل کې یو داسې تصور دَ قاري مخې ته کوي چې قاري هم ورته په داد ورکولو مجبور وي � دلته دا نظم شاعر ښخي دَ خپل خیالي محبوب په خیالي تصویر داسې دَ خوند او مزې په انداز کې لیکلی دی چې دَ لوستونکي ورسره همدردۍ هم شي .. او بې اختیاره دَ نظم په تاثر او کېفیت ورته شاباشی هم اووائي � هغه دَ خپلې شاعرۍ په هر پړاوْ داسې ښکاري لکه دَ یو خیالي جانان دَ یو خیالي تصویر سره راروان دی � دغه تصویر هغه په خپله نامه کول غواړي .. دَ هغه په تندي خپل خال لګول غواړي .. خو کله چې هغه دا هڅه کوي ..نو حالات دَ هغه دَ محبوب خیالي تصویر هم هغه ته پاتې نه کړي � او داسې په دغه خیالي تصویر دَ شعرونو دَ لیکلو یو نوی سفر په ډېر لیونتوب شروع کړي � دَ دې نظم تهیم هم دومره نوی او دَ خوند دی چې په دې کې دَ لفظونو تسلسل او دَ جذبې صداقت یو ډېر آفاقیت پیدا کړی دی�

په تکنیکي لحاظ دا اتهه مصریزه نظم چې په آزاده پېرائیه کې لیکلی شوی دی .. دراصل په شپږو یولس سپلابیزه برابرو مصرعو داسې اړه لري ــ ،

غواړم چې ستا دَ ویده عکس په تندي

دَ خپل نامه او لګومه ټیکه

خو چې نرۍ څُوکه در ورم دَ قلم

ستا غنم رنګ نقشونه تت شي دوني

چې دَ یو شنه وروکي خال په ګمان

ستا په څېره باندې اشعار اولیکم

۵ ــ سل څېرې

ستا په کاڼو به غمازه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما دَ زړه وړه اینداره

کړچې کړچې شي منمه

خو دا یاد لره ناپوهه

که مات شوی هر توکرې

وَ ایندرې ته مونېږي

نو کوربه مې دَ زړګي هم

سل څېرې شي زېږولی

)شلېدلی امېل .. مخ _ 79(

سل څېرې ... نومې نظم کې هم ښاغلي افضل شوق چې یوه ساده ، آسانه او معمولي خبره په غېر معمولي انداز کې کوي نو هغه دلته دَ کتو ده � هغه په دې نظم کې وَ یو رقیب یو غماز ته ګومره په خوند دا خبره کوي .. چې که دا ستا په کاڼو که ځما دَ زړه آئينه ماته شي .. نو ستا څه خیال دی .. ؟ په دې کې به زما دَ محبوب څېرې ته څه تاوان ورکړې؟ نا بالکل نه .. بلکه دَ دغه ماتې آئينې هره ماته زره به سل نوري څېرې پیدا کړي � شاعر په دې نظم کې دَ نازك خیالۍ ، دَ روانۍ او سادګۍ په انتها لیدلی شي � او په کوم اختصار چې دَ ښائسته لفظونو او مناسبو علامتي اشارو په وسیله یو خیال ، په کوم فکر او انداز کې تر اختتامه رسوي .. نو هغه قاري دَ ځان سره لاس نیولی بیائي .. او په کوم خوند او هنر چې دغه خیال دَ قاري ذهن ته رسوي .. نو هلته قاري په خپل خیال هم دَ هاغه " هنداري" زرې زرې وجود ته ځیر شي � چې په کې دَ شاعر دَ محبوب ځلېږي � په پښتو او اُردو شاعرۍ کې دَ آئينې او ماتې آئينې تراکیب پېژندل شوي او راوړل شوي دي .. خو ښاغلي افضل شوق په خپل انداز دغه ترکیب په کوم نوي او دَ کېفیت نه ډك انداز کې استعمال کړی دی نو هغه واقعي چې دَ محسوسېدو دی .. او دَ احساس او جذبې نه داسې ډکه شاعري ، نېغ په نېغه دَ انسان په زړه کې ځای جوړوي او ویدې جذبې یې را ویښوي � او که اوکتلی شي نو دَ شوق په شاعرۍ کې دَ سلو شمېره په وړمبي ځل په دې وړوکي نظم کې لیدلی شي � او دغه دَ آئينې سل ټوټې هغه مخ کې دَ سلو یار هم مشهوره کوي �

دا دَ اتهو آزادو مصرعو نظم که څه هم په اتهه سپلابیزو برابرو برابرو مصرعو باندې مشتمل دی .. خو مونږ یې په څلورو شپاړس سپلابیزه مصرعو کې داسې هم لیکلی شو�

ستا په کاڼو به غمازه زما دَ زړه وړه ایندار

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړچې کړچې شي منمه ، خو دا یاد لره ناپوهه

که مات شوی هر توکری وَ ایندرې ته مونېږي

نو کوربه مې دَ زړګي هم سل څېرې شي زېږولی

### ٦ ـ تسلیمې جذبې

اوس به لا ما بېرغ په لاس

په غال غال

دَ پښتنې میني په نوم اخیسته

ستا دَ زړه مځکه په خپل واك کې ګله

چې مړامو سترګو دې دَ ما له مخه

په خوبولو

او په مړو مړو کتو

زما دَ زړګي ټولې غښتلې جذبې

دَ بې همته عسکرانو غوندې

یوه یوه ځانته تسلیمه کړله

)شلېدلی امېل .. مخ _ 80(

دَ دې نظم لوستلو پس داسې دَ بنده په ذهن کې راځي چې دَ آمریت په دور کې دَ شاعر افضل شوق په قلم لیکلی شوی دا نظم هم دَ هغه دور تر اثر دلا ندې یو ښه روماني فکر لا هم په ښائسته رنګ کې سر ته رسوي � او قاري ته دَ خپلې میني قیصه دَ هغه آمرانه دور په حواله څېړي � دا دَ یو زمانه شناس او ژورنظره شاعر خاصه کېدلی شي او په دې اړه شوق ځان دَ خپل عهد عکاس ثرګندوي .. او په خپل دې نظم کې وائي ، چې هغه څنګه دَ خپلې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



فتح ببرغ دَ سترګو دَ جنګ پس دَ یار په زړه کې ښخولو هڅه اوکړه .. او دَ یار په زړه یې قبضه کولو کوشش اوکړو ، نو دَ هغه دَ محبوب مړامو سترګو په خوبولي انداز دَ هغه په عسکري جذبو داسې ګوزارونه اوکړو، چې دَ مات شوْ عسکرانو په رنګه یې دَ هغه دَ خلوص او جذبو ټول عسکري قوت خپل ځان ته تسلیم کړو � او هغه یې مرئیی کړو�

شاعر په دې نظم کې دَ یو داسې میدان جنګ نقشه په اختصار کې وړاندې کړې ده چې دَ مرګ ژوبلې او وسلې په ځای په کې جذبې، خلوص ، دَ سترګو څُماراو پښتنې مینه په کار راوړل شوې ده � او دَ خوند او مزې خبره لا دا هم ده .. چې دلته په دې میدان جنګ کې دَ دوو دُښمنې قوتونو په ځای په کې دوه زړونه یو بل ته سره مخامخ شوي دي � دا تمثیلي نظم هیڅ قسم ابهام نه لري او هره خبره او اشاره واضحه ده .. خو بیا هم ورته معمولي نظم ځکه نه شو وئیلی چې په دې نظم کې دَ ځان نفي کولو په وخت شاعر دَ خپل شکست ترانه چې په څنګه فخر وائي .. دغسې مثالونه په پښتو شاعرۍ کې بیا کله هم مخې ته نه دي راغلي � ځکه خو دا رنګ او خوند افضل شوق په شاعرۍ کې نه یواځې منفرد کوي .. بلکه میدان ګټلو ته یې جوګه کوي هم ـ

دا پورته نظم چې داسې خو په لسو وړو لوئیو آزادو مصرعو باندې مشتمل نظم ښکاري .. خو دا نظم آزاد نه بلکه دَ ډېرو پابندیانو سره لیکلی شوی دی او ورته معری نظم وئیلی شو � ولې چې دا نظم دراصل په اتهو برابرو یولس سېلابېزو مصرعو باندې داسې اړه لري�

اوس به لا ما ببرغ په لاس، په غال غال

دَ پښتنې مینې په نوم اخیسته

ستا دَ زړه مځکه په خپل واك کې ګله

چې مړامو سترګو دې دَ ما له مخه

په خوبولو او په مړو مړو کتو

زما دَ زړګي ټولې غښتلې جذبې

دَ بې همته عسکرانو غوندې

یوه یوه ځانته تسلیمه کړله

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۷ -- کور کور یو مزار

لا تر څو چې

دَ نکریزو په ارمان کې

دَ پښتو ناوې

په اور سېځي لاسونه

نو تر هغه به

کور کور دَ پښتانه هم

لا په سیورو کې

دَ سرو شنو بېرغونو

ښکاره کېږي یو مزار

وَ نور عالم ته

)شلېدلی امېل .. مخ _ 81(

په دې پورته نقل شوي نظم کې .. یو ځل بیا دَ هاغه المیې ژړا ده.. چې پښتون قام دَ خپلې صحیح پېژندګلو او شناخت نه محرومه دی � په پښتنو کې دَ ازلي بې اتفاقۍ یو داسې تصویر یې مونږ ته راکړی دی .. چې دَ فکر وړ دی � پښتانه چې چرته هم .. په یو دور کې هم دَ یو بېرغ لاندې رانغلل .. په پارټو ، پرو او جمبو کې داسې تقسیم دي چې دَ هغوئ ملي وحدت ته یې سخت تاوان رسولی دی � دلته په هر کور .. یو نوی بېرغ ته ښاغلی افضل شوق په څومره طنز کې دغه کور ته دَ یو مزار .. یا دَ قبر نوم ورکوي .. او دا صحیح هم ده چې جهنډې او بېرغونه خو په مزارونو لګولی شي � او کور خو دَ ژوند علامت وي .. دَ اجتماعي ژوند او دَ انسانانو تر مینځه دَ جذبو او دَ رشتو په بنیاد جوړه شوی یوه مشترکه او مقدسه اداره وي � چرته چې دَ انسان تربیت کېږي � خو دَ پښتنو په کورونو دَ بېلو بېلو سیاسي ډلو دَ بېرغونو لګېدل یې دَ پښتنو دَ کمزورۍ او بې اتفاقۍ یوه حواله ګڼلې ده � او په څومره غم او تکلیف یې هر کور یو مزار ګڼلی دی�

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په فني لحاظ دا یولس مصرعیزه نظم دراصل په پنځو یولس سپلابیزه برابرو برابرو مصرعو باندې مشتمل داسې معری نظم دی�

لا تر څو چې دَ نکریزو په ارمان کې

دَ پښتو ناوې په اور سپځې لاسونه

نو تر هغه به کور کور دَ پښتانه هم

لا په سیورو کې دَ سرو شنو بېرغونو

ښکاره کېږي یو مزار وَ نور عالم ته

## ۸ ـــ بې حسه دېوال

لارې لنډېږي

ورځ په ورځ لګیا دي

دَ شنه آسمان

او سپېرې مځکې تر منځ

خو فاصلې

پرتې هغسې دي لا

دَ زړو تر میانه

دَ غوښینو خلګو

چې ښکاري هر یو

په خپل ځاى باندې ښخ

لکه

دَ ختو جوړ بې حسه دېوال

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



)شلېدلی امېل .. مخ ـ 82(

لکه څه رنګه چې دَ نظم دَ عنوان ظاهرېږي .. هم دغه رنګه دَ بې حسۍ انځورګري په کې شوي ده � نن سبا داسې خبري عامې کېږي � چې فاصلې دَ انسانانو تر منځه کمېږي او انسان انسان ته نیزدې کېږي � خو افضل شوق دا خبري نن نه هم څه شل یا پنځویښت کاله اّګاهو په یو داسې طنزیه انداز کې نظم کړي دي .. چې هغه اوس هم نوي خبري ښکاري � یعني هغه وخت په نړۍ کې داسې توره شپه هم نه وه او نه انسان دومره دَ یو بل نه بېزاره وو لکه نن چې دی � خو بیا دا دَ شوق دَ زمانه شناسۍ یو لوی ثبوت دی چې ده هغه وخت هم دَ خپل سوچ او فکر له لاري دغه انسان په سباوْن کې په ځناوري روئیو داسې بوخت محسوس کړی وو � یعني هغه دَ زمیني لارو دَ لنډېدلو خبري په دې رد کولې چې انسان څومره څومره یو بل ته نیږدې کېږي .. هومره یې دَ زړونو تر مینځه فاصلې سېوا کېږي � هم دغه رنګه خو اوشو.. او مونږ ګورو چې دَ نن انسان ته انسان وئیل هم دَ انسانیت توعین دی -

په دې نظم کې نه یواځې دَ زمیني فاصلو خبره شوي ده بلکه په داسې اشاره دَ اّسمان په لور هم شوي ده چې مونږ ترې نه دَ مذهبې جنون او تش دَ ظاهري مذهب پسندۍ اشارې هم داسې تر لاسه کولی شو .. چې انسان څومره په منافقانه او شېطاني مخفي ارادو په نیت په ښکاره دَ خدای په لور او لار روان بربېښي .. هومره شیطاني او ځناوري کارونه زیات شوي دي � یعني هر څه بل ته دَ ښکاره کولو په اراده کېږي او ځانونه فرښتې ګڼي � خو داسې خبره نه ده او نه دغه انسان فرښته شو .. بلکه لا نور هم ځناور شو� نو ځکه دَ شوق اشاره دَ اّسمان په لوري دَ لنډېدلو نه دَ سپوږمۍ او ستورو په لور تلل نه .. بلکه هسې ځان ته دَ فرښتې په رنګه وزرونه لګول دي � خو فرښتې ورنه کله جوړې نه شوي

په فني توګه دا دَ دولسو وړو مصرعو اّزاد نظم دراصل په شپږو یولس سېلابیزو برابرو مصرعو باندي دَ خپل اّهنګ او موسیقیت سره داسې دَ معرى په رنګه پابند نظم دی�

لاري لنډېږي ورځ په ورځ لګیا دي

دَ شنه اّسمان او سپېرې مځکې تر منځ

خو فاصلې پرتې هغسې دي لا

دَ زړو تر میانه دَ غوښینو خلګو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې ښکارې هر يو په خپل ځای باندې ښخ

لکه دَ ختو جوړ بې حسه دېوال

## ۹ -- رسوائي

يو نوم دی چې يې وينم

ځای په ځای په دېوالونو

دَ خپل نوم سره ليکلی

لکه زه او زما سيورې

چې په يو بل پورې اړ يُو

خو تر شا چې لار ته ګورم

ښکارې زما پلونه يوازې

)شلېدلی امېل .. مخ _ 85(

دې پورتني نظم کې ښاغلی افضل شوق لکه دَ يو صوفي شاعر په تصوف کې ليدی شي � يعني دَ خدای پاك دَ وحدانيت، دَ هغه دَ پېژندنې او هغه سره دَ مينې يو نيم فلسفيانه تمثيلي نظم دی .. چې په کې وئيل شوي دي چې دَ خدای دَ خداي او ذات نه منکر خو نه يم .. خو خدای راته ښکاري نه � لاکن دَ خپل ذات په موجودګۍ کې هغه له خدای سره داسې تعلق جوړوي � چې چونکه هغه دَ خدای په لاس جوړ انسان دی نو ځکه له خدائيه انکار نه شي کېدلی � يعني هغه دلته له خدای سره مينه دَ جنون تر حده کولو ته جوګه ښکاري � لاکن که دغه نظم مونږ دَ هاغه آئيډيل په توګه اوګورو .. چې افضل شوق ورپسې وطن په وطن ګرځېدو هڅه کونکی ښکاري چې دئی يې شاعر کړی هم دی .. نو خبره به نوره هم په فکري توګه ژورتيا ته اورسېږي � او دَ رسوائۍ تر حده دَ يو داسې محبوب په مينه کې دَ هر چا په خله کې راتلل به هغه مجنون څرګند کړي .. خو شوق مجنون نه دی او نه دَ هغه دَ جنون محور يواځې هغه څېره ده � چا ته چې هغه دَ خپلې رسوائۍ اصل بنياد وائي � هغه په هست او نيست کې ورګېر محبوب ته څېره په تمثيلي انداز ورکول غواړي خو چونکه محبوب يې بې وجوده دی ،، نو ځکه ورته وجود ورکولو کې بلا مشکلات مخې ته راځي او په بېګا او سبا کې ورته ځان دَ سوال تر حده يواځې ښکاري!!..

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دي نظم کې چې ښومره خبري په ساده طريقه شوي دي .. هومره يې په فکر کې فلسفه رانغاړلې ده� يعني هغه يواځې نه هم دی او يواځې ښکاري هم � دا هغسې معمه ده چې دَ افضل شوق په شاعرۍ کې اکثره ليدلی شي � نو ځکه خو ځيني نقادان هغه ته دَ لري سباوْن شاعر وائي � او خپله هم کله کله دا ليونی شاعر داسې خبري اوکړي چې دَ بنده وربانديې دَ پورا ليوني گمان اوشي ،، خو هغه لېونی نه بلکه فلسفي شاعر دی .. او په خپلې دُنيا کې اوسېږي � ځانته جهان او په ځان کي جهان لټوي .. او دا نظم دَ دې خبري دَ تصديق دپاره کافي دی�

په تکنيکي توگه دا نظم په اوو داسې مصرعو مشتمل نظم دی چې دَ اولي اووه سپلابيزي مصرعې په څپه نوري ټولې مصرعې په اتهه اتهه سپلابيزه مصرعو باندي داسې مشتمل نظم دی .. چې دَ موسيقيت دَ لحاظه په کې دَ وړمبی مصرعې يو کم سپلاب هم دَ هغه نورو پاته مصرعو سره برابر شي .. چې اتهه سپلابيزه دي � او مونږ ورته معری نظم هم وئيلی شو�

## ۱۰ ـ دمامې

سترگه سترگه

گنډل شوې په بڼو ده

ژبه ژبه

چيچل شوې په غاښو ده

لاس او پښې هم

ماتې ځانگې دي چې ځانگې

لنډې دا چې

ور دَ کور کور دی تړلی

خو په ښار کې

دمامې دَ خپل واکې دي

)شلېدلی امېل .. مخ _ 87(

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا پورتنی نظم هم په ملك كې دَ هاغه بدترينه آمرانه دور عكاسي كوي چې دَ اظهار لارې په كې بندې وې � ژبې كلكې ترلې وې ..په سترگو دَ حالاتو داسې پټۍ پرتې وې � چې دَ يوې رندې كنې نرۍ گمان پرې كېدو � په داسې حالاتو كله چې دَ يو حساس شاعر جذبات راولړزېدل .. نو دَ هغه دَ شعور او احساس ډك نظر په دې حالاتو داسې خپل قلم راپورته كړو � ځكه چې شاعر په داسې حالاتو غلى نه شي پاتې كېدى � او كوم حالات چې په هغه په زوره مسلط شوي وي .. دَ هغې خلاف ټول عمر په احتجاج ليدلى شي � دَ ښاغلي افضل شوق اكثره نظمونه داسې احتجاجي رنگ په شلېدلي امېل كې لري � او دا ځكه چې هغه دَ رڼاگانو رهبري كوي � دَ تيرو په ملگرتيا هاغه قوتونه شديد غندي كوم چې دَ رڼاگانو قاتلان دي � هغه په خپل وطن، خپله خاوره بې شانه ډېر مئين دى � نو دَ خپلې خاورې دپاره ، دَ يو داسې خپلواكه سباوُن آرزومند به ولې نه وي .. چې دَ هغه دَ اولس تقديرونه بدل كړي � دَنظم په آخرې مصرعه كې دَ هاغه دور دَ حالاتو په وجود يو دَ طنز تازيانه موجوده ده چې دَ ښار دَ خپلواكۍ په دمامو پورې يې خندا كړې ده � نو دغه تضاد چې حالات وي يو رنگ او نغاره يې وهلى شي بل رنگ .. يو باشعوره او سترگه ور شاعر چې پرې طنز اونه كړي .. نو آخر څه به كوي ؟؟

دا دَ لس مصرعو آزاد نظم په فني او تكنيكي توگه دراصل په پنځو دولس سپلابيزه برابرو برابرو مصرعو باندې مشتمل يو باقاعده معرى نظم دى چې آهنگ، خوند او موسيقيت لري�

سترگه سترگه گنډل شوې په بنو ده

ژبه ژبه چيچل شوې په غاښو ده

لاس او پښې هم ماتې ښانگې دي چې ځانگې

لنډه دا، چې ور دَ كور كور دى ترلى

خو په ښار كې دمامې دَ خپل واكۍ دي

## ۱۱ -- شلې پښې

لارې دَ احساس دي

كه رگونه دي دَ وينو

چې دَ زړه له كوره اوځي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ رنځونو وَ نړۍ ته

هم په ويښه

هم له خوبه

خو چې وخت دَ مزل راشي

نو دا غبرګې پښې شي شلې

)شلېدلى امېل .. مخ _ 88(

ګوره چې افضل شوق انسان څه ګڼي ؟ او څومره دَ ښو توقعات ورنه لري؟ چې ورنه زړه ماتى دى � چرته هغه خو انسان ته په هم هغه نظر نه ګوري چې ورته اشرف المخلوقات وئيلى شوى دى ؟ شايد چې هغه انسان دَ عظمت په معراج ليدلو خوب ويني .. نو هم ځکه خو په دې نظم کې افضل شوق هم هغسې دَ نن دَ انسان نه زړه ماتى ښکاري او دَ خپلو ليدلو خوبونو نه برعکس انساني څېرې هغه ته دَ زړه رنځ ورکوي � شوق صاحب په درست نظم کې يو تپوس کوي چې دَ زړه نه دَ احساس لارې ولې دَ رنځونو وَ نړۍ ته درومي؟ او بيا بيرته تپوس کوي چې دا خواخُوږي دَ خبرو نه دَ عمل په لور ولې نه � يعنې هغه دَ نن وَ انساني همدرديانو ته تش دَ خبرو تر حده دَ همدردۍ نوم ورکوي او دا ګڼي چې انسان دومره خودغرض دى چې هر ښه يې ځانته پيرزوْ شي او دَ بل په وار هسې خبرو ته جوګه ښکاري � کوم چې انساني کار نه بلکه ځناوري غرض بللى شي .. او دا غرض يو انسان دَ بل انسان نه يواځې لري ساتي بلکه تر مينځه يې بې اعتمادۍ هم راولي�

په دې پورته نقل شوي آزاد نظم کې دَ شوق لب و لهجه چې څومره ساده او آسانه پېرائيه کې سر ته رسېدلې ده .. هومره په کې دَ خبرې نه خبرې زېږي او يو لوى موضوع يې دَ نقادانو دَ څېړنې دپاره په کې ځاى کړى دى � دَ وخت دَ تقاضو له لارې دَ اختصار نه علاوه افضل شوق په خپله شاعرۍ کې کله کله بلکه هرکله تش سوالونه راپورته کوي او ځواب په لوستونکو پرېږدي � دا يو هنر ديى چې دَ يو مئسلې په حقله داسې سوالونه راوړاندې کړلى شي چې خلګ ورباندې غور او فکر اوکړي او په اجتماعي هلو ځلو يې حل پيدا کړي � خو دلته په دې نظم کې دَ شوق له خوا راپورته شوى سوال شايد چې ځواب اونه لري .. ولې چې دَ نن انسان خودغرضه دى او دا غرض کېدى شي چې کله هم ختم نه شي�

په فني توګه دا نظم په آزراده پېرائيه کې ليکلى شوى دى او مصرعې يې له څلورو نه تر اتهو سېلابونو لري .. خو بيا هم چې دَ دې نظم وَ آهنګ لى او موسيقيت ته پام اوکړو نو داسې محسوسه شي لکه دا نظم چې پابند نظم وي � دَ ډېر سوچ او فکر نه پس زه په دې نتيجه اورسېدم چې دا نظم آزاد بالکل نه .. بلکه پابند نظم دى � يعنې په

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي اتهه مصرعيزه نظم کې دَ اول شپږ سپلابيزه مصرعې نه علاوه نوري اووه مصرې که مونږ په شپږو اتهو اتهو سپلابيزو مصرعو داسې را واړوْ .. نو رواني، ردهم او آهنګ به يې معری نظم ته داسې اوبرېښئي �

## لاري دَ احساس دي..........

که رګونه دي دَ وينو

چې دَ زړه له کوره اوځي

دَ رنځونو وَ نړۍ ته

هم په ويښه ..... هم له خوبه

خو چې وخت دَ مزل راشي

نو دا غبرګې پښې شي شلې

## ۱۲ــ اوږد مزل

زما او ستا تر مابين

هغه دَ درو لويښتو وږه فاصله

دَ کمکۍ مينې ځوانېدو په هيله

څوني اُوږده شوه ګوره!!

چې تر يو بله رسېدو له مخه

ما او تا دواړه ګرانې

دَ لېونۍ ځوانۍ تر ټاك واويښتو

)شلېدلی امېل .. مخ ـ 94(

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا پورتنی نظم دَ خپل بې ساخته رومانیت سره .. دَ شاعر یو داسې آرزو ښکاري .. لکه چې حالاتو دَ هغه دغه ارمان ته په مرۍ ګوتې ایښې وي .. دَ هغه او دَ هغه دَ محبوب تر میانځ یوه وړه فاصله چې هغه ورته دَ اختصار یو بې مثاله حد مقرر کړی دی.. یعني دَریو لوېښتو فاصله...!! خو هر کله چې دَ روایاتو دنګ دېوالونه .. دَ حالاتو غرونه غرونه دَ دواړو په میانځ کې دا ورکوټې فاصله دومره اوږده کړي .. چې یو بل ته رسېدل نا ممکن شي � نو په داسې ستم ظریفۍ ، دَ خپل ماشوم ارمان په ورکېدو .. داسې جذبات ښکاره کول دَ شاعر مجبوري شي �

دَ دې نظم موضوع اګرچې ده خو روائتي رومانوي .. خو چې دا موضوع او خیال په کوم خوندور انداز په دې نظم کې رانغښتې شوی دی نو دَ خیال فکري قدر و قیمت یې یو په دوه کړی دی � یعني کومه خبره چې لوستونکی په حېرت کې اچوي .. هغه دا ، چې یو طرف ته مینه په اوږدې مودې کې چې ځنګه په تکلیف لا خو ځوانۍ نه رسېدلې نه وي .. چې بل طرف ته دَ دریو لویښتو هومره وړه فاصله شاعر او دَ هغه محبوب زاړه هم کړې � دې خبرې نه زما مطلب دا دی چې دَ یو ښه شاعر باریك بیني ده چې دَ وړې خبرې نه لویه خبره جوړوي �

دې سره سره په دې نظم کې یو ځل بیا شوق صاحب خپل ښائسته علاقائي.. پښتني قندهاري توري داسې په هنر ځای کړي دي .. چې نظم یې دَ خپل علاقائي رنګ او لهجې یو ښائسته مثال ګڼلی شو � خو بل ښائست یې دا هم مخې ته راځي چې دَ یوسفزۍ لهجې لوستونکي هم ښه په آسانه پرې پوهېدلی شي�

دَ افضل شوق دا آزاد او مختصر نظم دَ یوې پابندۍ دَ مخه په اوو او یولس سېلابېزه مصرعو باندې دَ ردهم برقرار ساتلو غرض داسې لیکلی شوی دی چې که معری نه دی .. خو دَ ځینو پابندیانو جوګه ضرور دی�

## ۱۳ــ یوه پوښتنه

که هر انسان په ژوندانه کې ځانته

لري په ژوند باندې حق

نو دا پوښتنه کوم

چې څوك دی هغه ماشوم

دَ سرې زُوی دی که یَه ؟

چې په تپولنه کې نن

په تشه خېټه او په وچو شُونډو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوار او ناهیله غوندې

دَ ساتېري او کورکیانو په ځای

له بودګانو سره

دَ یو بوده په رنګه

په امبارونو باندې

ګرځي، خواړه لټوي

)شلېدلی امېل .. مخ _ 95(

په ټولنه کې داسې ډېري ناروا پېښې کېږي چې دَ یو حساس شاعر احساسات او جذبات پرې راولړزېږي � هم دا پورته نقل شوي نظم کې چې افضل شوق دیو خوار یتیم او غریب بې کوره ماشوم چې څنګه په جذباتي انداز تصویرکشي کړي ده .. هغه لوستونکی په دې خبره ضرور مجبوره کوي چې په دې نظم کې رانغښتي سوال ځواب ورکړي � لاکن څنګه ځواب ؟؟ داسې ماشومان خو په پښتني ټولنه کې هر چرته لیدلی شي � یعني دَ سکول په عمر کې شمېر واړه ماشومان زمونږ دَ کوڅو او بازارونو په امبارونو باندې ارومرو داسې دَ رزق په لټون کې لیدلی شي .. لکه غواګانې او مېښې یا څاروي چې لیدلی شي � ماته دَ شوق صاحب دا نظم هر هغه وخت په زړه شي چې زه کله داسې یو منظر او وینم�

دا نظم که یو طرف ته دَ نن حال او صورت حال په اړه انځورګري کوي .. نو بل طرف ته دَ ماشومانو په حقله دَ پښتنو من حېث القوم لا أبالي او بې غمه شانتې روئیو باندې سخت ګوزار هم شوی دی � او بل واسطه یا بلا واسطه یې دَ تعلیم په ضرورت زور داسې په هنرکړی دی � چې که څه هم هیڅ یوه اشاره یې په دې اړه نه ده کړې ..خو دَ دې مسئلې حل یې یواځې او یواځې تعلیم ګڼلی دی � کوم چې دَ یو منظم نظام لاندې هغو ماشومانو ته هم ورکولی شي چې مور او پلار نه لري او یا بې کوره شوي دي � ولې چې پښتانه ټول مسلمانان دي او په اسلام کې دَ غریبانو دَ روزنې دَ ادارو دپاره دَ ماجت حجره ، مدرسه او دارالامان هغه ځایونه دي چې په دَ پورته ذکر شوْ کفالت هم کېږي � نو بیا ولې نه .. ؟؟ دا هغه اِن ډائریکټ سوال دی چې افضل شوق یې په دین اسلام مشرف پښتنو نه په دې پورته نقل شوي نظم کې په طنزیه انداز کې کوي�

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په فني توګه دا نظم دَ افضل شوق په یو څو هغو آزادو نظمونو کي یو نظم دی چې په آزاده پېرائیه کي لیکلی شوی دی � مصرعې یې وړوکي او لوې دي .. خو په کې دَ خوند او مزې دا خبره ده .. چې په لوستلو کې پابند نظم ښکاري او په رواني کې بلا موسقیت هم لري �

## ۱۴ــ خالي ځانګو

امېلونه دي دَ کرکو

که هغئ هم

یو په یو راته پئیل

په تار دَ مینې

نوم دي څله دَ نامه لاکټ

په جار جار

راپه غاړه کړئ په خپل لاس

دَ زړه سره!!

چې اوس هم ګوره لا ځانګي

په سینې زما

دَ خالي ځانګو په رنګه

دَ یو کونډې

)شلېدلی امېل .. مخ ــ 102(

دَ خپل عنوان په رنګه په دې پورته نقل شوی نظم کې افضل شوق له خپل محبوب نه یوه ګیله ډېره په خوند په شاعرانه انداز کې داسې کړې ده .. چې دَ هغه دَ محبوبه دَ ستمونو او ظلمونو په لور یې دَ هغې پام دَ هغې وَ نفرتونو ته اړولې دی � او وائي .. چې ګنې که دې هسې هم مانه دَ کرکې کولو اراده کړې وه .. نو دې ولې بیا دَ خپلې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



میني تحفه دَ لاکټ په صورت کې په جار جار راکوله؟ دلته په دې نظم کې هم شوق دَ ګیلې په شکل کې یوه پوښتنه په داسې هنري انداز کوي چې محبوبه ته دَ هغې دَ غلطۍ احساس ورکوي

نظم ښځي ساده او هیڅ قسم ابهام نه لري .. خو دَ اهمیت وړ په دې خبره دی چې په دې نظم کې لفظي تراکیب لکه "امېل دَ کرکو پئیل" ،" تار دَ مینې" ، "دَ نامه لاکټ"، " په سینې ځنګېدل" او "دَ کونډې خالي ځانګو" په معنوي اعتبار داسې نیم علامتي اشارې دي چې تهیم دَ رومانویت په ښائست لا نور خوندور کوي � دَ اشنا نه دَ هغه دَ بې وفائي او ستم قیصې هر شاعر کوي .. خو دلته دَ افضل شوق ګیله یو تمثیلي او علامتي پېرائیه لري چې په کې شاعرانه عشق دَ ورایه ځلېږي او دا دَ دې شاعر هغه کمال دی چې هغه په کې ځانته نوی اُسلوب او شعري خونداو هنرمخصوص کوي �

که فکر اوکړو .. نو دا خبره به مخې ته راشي چې په فني توګه دَ دې دولس مصرعو نظم جوړښت که څه هم په آزاده بڼه کې شوې دی .. خو دا دراصل آزاد نظم نه بلکه پابند اومعری نظم دی � یعني په شپږو دولس سپلابیزو مصرعو داسې مشتمل نظم دی�

امېلونه دي دَ کرکو که هغۀ هم

یو په یو راته پئیل په تار دَ مینې

نوم دي څله دَ نامه لاکټ په جار جار

راپه غاړه کړې په خپل لاس دَ زړه سره!!

چې اوس هم ګوره لا ځانګي په سینې زما

دَ خالي ځانګو په رنګه دَ یو کونډې

## ۱۵ـــ وام

راغزېږي زما په لوري

یو تك سور او ترکېدونکی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ سکروټې په شان بل لاس

هم په ويښه

هم دَ خوبه

خو چې زما تر مرۍ رسي

نو بانه پرې اونښتېږم

په وړو وړو سلګيانو

)شلېدلی اميل .. مخ ــ 103(

دا پورتنی نظم دَ شاعر دَ يو داسې نفسياتي او ذهني کشمکش ژوندی مثال دی .. چې دَ هغه خپل ماحول دَ حالاتو، دَ خوفونو ويره ، ترهو ، او وهمونو نه اغيستی يو داسې نفسياتي کرب دی چې په اوده او ويښه يو شان دَ هغه په اعصابو خور ليدلی شي � داسې ښکاري لکه دَ شوق صاحب دا پورته نقل شوی علامتي نظم چې دَ يو ديومالائي تخليقي اثر لاندې ليکل شوی دی .. خو قيصه يې مکمله دَ مافوق الفطرت دَ نړۍ نه بېله ده .. او کردارونه په کې هم دَ الف ليلائي دَ ديبانو او عجيبه مخلوقاتو نه راغلي پېريان نه دي � بلکه دلته دَ افضل شوق په دې نظم کې تش دَ يوه لاس خبره شوې ده .. دَ هغه لاس سره تړلی جسم په کې نه دی ذکر شوی � ځکه خو دغه بل لاس دَ لمبې په شان چې څنګه دَ شاعر تر مرۍ رسي .. نو هغه پرې خپل بانه له ويرې اوځځوي � او مخته ځه اوشول .. هغه اور مړ شو او که يې دا شاعر تر مرۍ اونيولو ؟ دا هغه سوال دی .. چې په دې نظميه قيصې کې يې نه يواځې سسپنس سپوا کړی دی بلکه دا نظم يې په يو وړوکي او عام تهيم داسې آفاقيت ته نيزدې کړی دی .. چې بنده په بيا بيا لوستلو او په سوچ کولو مجبوره کوي �

دا نظم يوه داسې معمه ده چې دَ لوستونکي په ذهن کې بېل بېل حل دَ ځواب په توګه راپيدا کوي � خبره يې دَ يو وهم کړې ده .. خو دا وهم .. کوم وهم دی ؟ دَ دې سوال دلته په دې نظم کې مطلوب دی � او دَ خوند او دَ مزې خبره دا هم په کې شوې ده .. چې هغه بل او سور لاس هر ځل دَ شاعر په لور راغزېږي .. هم په ويښه .. هم دَ خوبه � يعني دا هغه ويره ده چې شاعر يې محسوسوي .. خو بيانولی يې نه شي .. ولې چې هغه دَ لاس تر شا پټه څېره نه ده ليدلی � نو ځکه ورته نوم هم نه شي ورکولی � په دې نظم کې لفظي تراکيب ډېر نوي او دَ خوند دي � او بل دا چې يو لفظ هم په دې نظم کې اضافي نه ښکاري او په اختصار کې ډېر معنوي اشکال لري �

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا دَ اتهو مصرعو وړوکی نظم چې ښکاري خو آزاد .. لاکن دراصل آزاد نه بلکه بېخي پابند او دَ اوو مصرعو اتهه سپلابیزه داسې ښکلی معری نظم دی�

راغزېږي زما په لورې

یو تك سور اوترکېدونکی

دَ سکروټې په شان بل لاس

هم په ویښه هم دَ خوبه

خو چې زما تر مرۍ رسي

نو بانه پرې اونښتېږم

په وړو وړو سلګیانو

### ۱٦ ـ ـ دَ خپله لاسه

بخت په ما پورې ګرم نه دی

نه وختونو یم ترټلی

ما خو خپله دَ خپل لاسه

دَ ماشوم زړګي په خوښه

په صله دَ خوږې مینې

په اثر دَ مړامو سترګو

دَ سکون ډك ډك جامونه

چپه کړي دي دَ کسته

)شلېدلی امیل .. مخ ـ 104(

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ افضل شوق دَ حقيقت پسندۍ نه مونږ په دې پورته رقم شوي نظم کې ډېره ښه اندازه لګولی شو .. يعني هغه خپلې غلطۍ ته هم غلطي وائي او مني يې � ځنګه چې دَ هغه په شخصيت کې دا يو پهلو ډېر ستائيلی شي .. نو هم دغه رنګه هغه په دې نظم کې په ښکاره او وازه خله دا خبره کوي چې دَ ميني سزاوار هغه خپله دی .. ولې چې هم هغه خو دَ خپل ماشوم زړه په خوښه دې اور ته ور دانګلې وو � که څه هم خبره معمولي او وړوکې ده .. خو افضل شوق دَ دې وړوکې خبرې نه لويه خبره دَ يو نه ختم کېدونکې دړدمنې قيصې په رنګه ډېر په رومانوي شعريت کې کوي�

يو طرف ته که په دې نظم کې افضل شوق دَ نورو شاعرانو برعکس داسې تراکيب لکه " دَ بخت نه ګرمېدل" او " وختونو ترټل" په دې نظم کې راولې .. نو بل طرف ته داسې علامتې لفظي اشارې هم دَ پښتنې محاورو سره اوږه په اوږه دَ شعري ضرورت دَ مخې په کار راولي .. لکه " دَ ماشوم زړګي په خوښه کول " ، " دَ يو چا په خواخُوږۍ کې" ، " په صله دَ خوږې مينې" ، " په اثر دَ مړامو سترګو" او " دَ سکون ډك ډك جامونه چپه کول" .. چې په خپل خپل ځای دَ دې نظم ضرورت ګڼلی شي � دا هغه هنر دی چې افضل شوق يې په آزاده شاعرۍ کې لا هم داسې په کمال استعمالوي .. چې اکثره پښتو شاعران يې په غزلو او پابندو نظمونو کې هم نه شي کولی � او دلته شايد چې زه دا خبره اوکړم .. چې شاعري دومره ګران کار دی .. څومره چې يې شوق په خپله شاعرۍ کې ثابتوي �

دا نظم چې ښکاري خو آزاد نظم .. لاکن چې ورته په غور اوکتلی شي نو دا نظم په فني جوړښت کې پابندياني لري او په نهو مصرعو کې نوښته شوی نظم دراصل دَ څلور لوئيو شپاړس سپلابيزه برابرو برابرو مصرعو معرى او پابند نظم دی � تاسو يې خپله هم کتلی شي�

بخت په ما پورې ګرم نه دی نه وختونو يم ترټلی

ما خو خپله دَ خپل لاسه دَ ماشوم زړګي په خوښه

په صله دَ خوږې مينې په اثر دَ مړامو سترګو

دَ سکون ډك ډك جامونه چپه کړي دي دَ کسته

## ۱۷ـــ بېلېدل ګران دي

چې دَ اشنا دَ هېرولو په نيت

په واښ دَ صبر ځان ترمه څوني

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



او لا يې عکس عکس پرېمنځل غواړمه

دَ خپلو سترګو له ایندارو څخه

دوني مي زړه شکوي تړیانې ورته

او راښخېږي له اوله هم زیات

لکه په ځوزو پېچل شوي ورېښم

چې خلاسوې يې څنګه څنګه په پام

هغوني دوئ په کې اړکېږي نور نور

)شلېدلی امېل .. مخ _ 105(

څنګه چې مینه په ګرانه کېږي .. هم دغه رنګه دَ میني پالنه او دَ میني نه توبه اوباسل هم ګران کار دی � دَ افضل شوق په دې پورته نقل شوي نظم کې هغه چې په کوم دلیل دَ میني په دام نور نور ورګېرېږي .. هغه داسې دی لکه څوك چې په اغزو پېچل شوي ورېښم دَ رابېلولو کوشش کوي � کوم چې اول خو په ممکناتو کې نه وي .. اوکه وي هم نو خلاس شوي ورېښم دَ هیڅ کار نه وي � داسې مثال دَ یو مضبوطې میني په حق کې ډېر لوی او ښه دلیل دی � او دلته شوق صاحب دا هم څرګندول غواړي چې هغه په هوائي خبرو یقین نه کوي او حقائق دَ حقائقو په رنګ کې ښودل او چېړل غواړي � نو ځکه خو دَ شوق دَ شاعرۍ په حقله وئیلی شي چې هغه په سائنس باندي ثابته شاعرۍ کوي .. او هغه خپله هم په اوتو بوتو یقین کم لري � خبره سوچه او نېغ په نېغه کوي�

دا نظم چې څومره په اختصار په مغربي پېرائیه کې لیکلی شوی دی .. هومره زیاتې په دې نظم کې پښتني محاورې ځای کړل شوي دي � کومې چې دَ نظم ښائسته زیاتوي او تهیم ته یې اوږې ورکوي � لکه " دَ صبر په واښ ځان تړل" ، دَ سترګو له ایندارو عکس پرېمنځل" ، " دَ زړه تړیانې شکول" ، " له اوله زیات راښخېدل" ، " په ځوزانوکې پېچل شوي ورېښم خلاسول" او " په ځوزانو کې ورېښم اړکېدل" هغه لفظي ترکیبونه دي چې شوق صاحب په ډېر هنر دَ پښتو دَ بېلابېلو محاورو نه رابېل کړي دي � او په دې نظم کې یې ورله داسې ځای پیدا کړی دی چې هره خبره هم دَ دې مختصر نظم خبره ښکاري �

دا دَ نهو مصرعو وړوکی نظم چې ښکاري یو آزاد او نثري نظم .. لاکن دَ شوق دَ نورو نظمونو په شان دا نظم هم پابند نظم دی او هره مصرعه یې په اتهو داسې سپلابونو باندي مشتمله ده چې تر خپلو یې آهنګ، رواني او موسیقیت داسې په خوند برقرار ساتلی دی چې یوه ساه کې هم لوستلی شي �

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱۸ ــ ژوندۍ اديره

دا خوګڼه اديره ده

چا وئيل چې ښاريه ده؟

دلته دي ټوله قبرونه

نه بازار شته ، نه کورونه

مړ احساس دی .. مړې مړې سترګې

مړې جذبې ، مړه ضميرونه

هر سړی دی کفن کښونکی

ځکه ژوند په کې ساه اخلي

هم په هر ګام دي ولاړې

فرښتې دَ مرګ خارمړي

)شلېدلی امېل .. مخ ــ 117(

په پورتني نظم کې خو ښکاره په ملك کې دَ مارشل لا دَ آمرانه دور واضحه تصوير ليدی شي � خو يو ځل بيا په علامتي انداز کې .. خپل ماحول يوه ژوندۍ اديره ګڼي � باوجود دَ دې چې دَ ملك باداران په ډېر فخر سره دَ وطن نظام .. يو آزاده ښاريه ګڼي � خو دَ شاعر په خيال چې په دې آزاده ښاريه کې انسان څومره دَ ساتنګۍ ښکار دی نو دغه هرڅه هغه مرګ ګڼي � او داسې دا ښاريه دَ ژوندو خلقواديره هم..!! په دې ښاريه کې ورته هر ضمير مړ، هر احساس قتل .. او هره سترګه ړنده ښکاري � دې سره .. شوق دَ ځانه ګېرچاپېره دَ نفسانفسۍ يو داسې دوران هم ګوري چې دَ انسان لاسونه دَ انسان په وينو سره دي .. هم هر سړی دَ بل دَ وينو تږی ...!! دغه خودغرضۍ ته يې " دَ کفن کښونکی" سره تشبهه ورکړې � او دَ دې نه دَ اولس دَ حالاتو .. دَ هغوئ دَ بدترۍ.. خودغرضۍ يو احساس دَ ورايه ليدی شي � خو دَ نظم په تسلسل کې يوه خبره په دې اشاره ختموي چې دلته دا حال ځکه دی چې دَ هر چا لاس خپې تړلي شوي دي .. ژبې او خلې ګنډلي شوي دي � که په دې حالاتو څوك اظهار کوي نو دَ فوځ سپاهيانو ته دَ مرګ دَ فرښتې نوم ورکوي � په مجموعي توګه دا نظم هم لکه دَ دې قسمه ، دَ نورو ډېرو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



نظمونو خپل یو تاثیر لري � دَ تشبهاتو یو پرله پسې لړۍ او علامتي محاوراتي اشارو امېل دی چې دَ هغې نه دَ افضل شوق دَ یو رښتوني او لېوني شاعرکېدو او دَ هغه دَ لړزېدلو احساس څرګندونه کېږي �

دا مزاهمتي نظم چې داسې خو په لسو وړوکو او لوئیو مصرعو باندي مشتمل آزاد نظم ښکاري .. خو چې ورته غور اوکړلی شي نو دا آزاد نظم به تش دَ پنځو شپاړس سېلابیزه لوئیو مصرعو یو داسې پابند نظم ثابت شي .. چې په کې موسیقیت برقرار ساتلی شوی دی � خپله یې اوګورئ �

دا خو ګڼه ادیره ده ......... چا وئیل چې ښاریه ده ؟

دلته دي ټوله قبرونه نه بازار شته ، نه کورونه

مړاحساس دی مړې مړې سترګې مړې جذبې،مړه ضمیرونه

هر سړی دی کفن کښونکی ځکه ژوند په کې ساه اخلي

هم په هر ګام دي ولاړې فرښتې دَ مرګ خارمړې

## ۱۹ -- دي آئرن ایج

دَ پرون ټوله خوبونه

ټول سوچونه

ټول خیالونه

نن رښتیا دَ ژوندانه شول

اربې له حرکته

دَ ایټم له برکته

خو مرګی .. هغه مرګی دی

چې دَ "جین بم" په وسواس یې

دَ روبوټ غونډې انسان هم

په خپل غم دی لا نیولی

)شلېدلی امېل .. مخ _ 124(

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ شلمي صدۍ په آخري دهائیانو کې چې سائنس په کوم رفتار ترقي کړي ده او انساني ژوند چې یې څومره له آسائشونو سره مخامخ کړی دی ..هومره دَ افضل شوق په قول په دې پورتني رقم شوي نظم کې دې سائنسي ترقۍ دَ انساني اقدارو او اخلاقیاتو ته تاوان رسولی دی او انسان دَ انسان دَ وینو تږی شوی دی � ځکه خو یې ویرې سپوا شوي دي � هر انسان خپل ژوند په ویرو کې تېروي � سکون دَ ژوند نه داسې کوچ کړی دی چې هیچا ته دَ خپل ځان او ساه ساتلو نه علاوه بل فکر نیشته � مرګونه دومره آسان او عام شوي دي چې هر سړی دَ مرګ دَ فرښتو نه ځان ساتلو هڅې کوي � او بل طرف ته دا دعوې کېږي چې انسان آسمانونو ته اوختلو او هر څه یې په ممکناتو کې راویستلو .. خو دې هر څه نه علاوه یې هم دغه انسان دَ مرګ دَ ویرې نه بچ نه کړو او ویره دَ " جین بم" په سائنسي اصطلاح دَ انسان دَ مرګ فرښته ثابتېږي ورځ په ورځ � په کار خو دا وو .. چې دې سائنسي انسان " روبوټ" ته دَ مرګ ویره نه وی .. خو شوق صاحب دَ دې سائنسي انسان مرګ " ایټم بم" او دَ هغه نه هم خطرناك " جین بم" ګڼي او دا سوال په ذهنونو کې راپورته کوي چې په دې دومره سائنسي انقلابي ترقۍ کې په کار خو نه وه دا دَ مرګ ویره .. خو حقائق دَ شوق صاحب خبره رښتیا کوي � یعني کله چې انسان آسمانونو ته ختلی دی او هر څه یې ممکن کړي دي .. دَ هغه وخت نه انساني روئیې ځناوري شوي دي او انسان دَ انسانیت نه بېزاره شوی دی � دغه نظم دَ لوستونکي په ذهن کې بلا ډېر سوالونه راپورته کوي او دَ داسې شاعرۍ ضرورت هم شته �

دا نظم چې په خپل اصل حالت کې په لسو وړو او لوئیو مصرعو مشتمل نظم ښکاري .. دراصل په اووْ اتهه سپلابیزه پابندو مصرعو باندې اړه لري � چې ورته معری نظم هم وئیلی شو �

دَ پرون ټوله خوبونه

ټول سوچونه ټول خیالونه

نن رښتیا دَ ژوندانه شول

اربې له حرکته دَ اېټم له برکته

خو مرګی .. هغه مرګی دی

چې دَ "جین بم" په وسواس یې

دَ روبوټ غوندې انسان هم

**۲۰ ـــ یوه خطا**

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



کشکې زه ړومبی خبر وی

فقط دومره

هوکه دومره

چې یو ورځ به زه او زړه هم

سم سره له آرزوګانو

دَ دې خپلو سرو سرو اوښکو

په سېلاب کې اوبهېږو

لکه ختې

لکه شګې

او لا خړ کچه کورونه

نو به نه وی ور ګډ شوی

کله هم داسې په مینه

زه دَ مینې وَ دریاب ته

لا دَ هغو ښکلو سترګو

دَ خُمار ډکو چینو ته

چې تر ننه یې نشو کې

لامبوزن لامبوزن ښکارم

)شلېدلی امېل .. مخ _ 128(

دَ افضل شوق په دې پورتني نظم کې دَ هغه دَ مینې په باب یو شاعرانه ښېېماني ذکر شوي ده .. چې هغه په ډېره سادګۍ او بې ساختګۍ نظم کړي ده � ځما په خیال په دَ شوق صاحب په وړمبي " شلېدلی امېل" نومي کتاب کې دا نظم په هغو یو څو نظمونو کې یو دی چې ښېېماني په کې په داسې شاعرانه رومانوي انداز کې شوي ده چې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ هنري كمال نه يې انكار ادبي نا انصافي ده � څومره په اختصار او رواني چې شاعر خپله شپېماني په دې نظم كې ځايوي .. هغه دَ ستائينې وړ ده � داسې ښكاري لكه افضل شوق چې خپله دَ ميني قيصه يو ډېر نيږدې ملګري ته كوي � او دا سې ورته واي .. چې ګني هغه نه وو خبر چې يوه ورځ به هغه دَ خپلو ارمانونو، حسرتونو او خوبونو نه برعكس دَ محبوب په ستمونو او ظلمونو داسې په ژړا سركېږي .. چې هر څه به يې دَ اوښكو په سېند كې اوبهېږي او هغه به يواځې پاتې شي

دَ محبوب دَ ستمګرې ميني نه دَ افضل شوق په دې نظم كې دَ قيصې نه علاوه چې كوم څيز لوستونكى متاثره كوي .. هغه دي لفظي تراكيب ، علامتي استعارې او اشارې لكه " دَ ښكلو سترګو دَ خُمار په ډكو چينو كې لامبوزن كېدل" او " دَ سرو اوښكو په سېلاب كې بهېدل " � نه يواځې دا .. بلكه په دې نظم كې تكراري انداز دَ قيصګۍ دَ تهيم اهميت څكه زياتوي ..چې په كې دَ احتجاج په ځاى دَ ډېري عاجزى نه كار اخيستل شوى دى � كوم نه چې دَ شاعر عدم تشددانه روئيه دَ ورايه نه څرګندېږي � يعني شوق صاحب دَ زور زياتى خلاف او دَ خبرو دَ لارې دَ مسئلو حل كولو په حق كې مشهور انسان او دَ پستې او خوږې ژبې شاعر دى � هغه خبرې سوچه كوي .. خو په مهذبه او ادبي لب و لهجه كې �

دا پورتنى نظم چې په " شلېدلى امېل" كې په اولس وړو او لوئيو مصرعو كې ترلى چاپ شوى دى .. خو دراصل دا نظم ځما دَ فكري استعداد دَ مخې تش په اتهو داسې مصرعو .. چې په كې اووه مصرعې شپاړس سېلابيزه دي .. خو ورستۍ يوه وړوكې مصرعه اتهه سېلابونه لري � تاسو يې هم كتلى شئ �

كشكې زه ړومبى خبر وى فقط دومره، هوكه دومره

چې يو ورځ به زه او زړه هم سم سره له آرزوګانو

دَ دې خپلو سرو سرو اوښكو په سېلاب كې اوبهېږو

لكه ختې .. لكه شګې او لا خړ كچه كورونه

نو به نه وى ور ګډ شوى كله هم داسې په مينه

زه دَ مينې وَ درياب ته ........ لا دَ هغو ښكلو سترګو

دَ خُمار ډكو چينو ته چې تر ننه يې نشو كې

لامبوزن لامبوزن ښكارم..................................

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۲۱ ـ ـ عقيده زما دَ مينې

چې له خدائيه كه بل چاته

اجازه دَ سجدې وى

نو به ما وى لګولى

خپل تندى وَ هغه يار ته

چې هم خپله تل ولاړ وي

وَ بُتانو ته دَ خاورو

لاس تړلى لاس تړلى

دَ اغراضو په مندر كې

)شلېدلى امېل .. مخ _ 129(

په دې پورته نقل شوي نظم كې شاعر ډېر په بيباقۍ دا خبره كوي .. كه دَ خدائيه بغېر بل چاته سر ټيټول روا وى نو هغه (شاعر) به خپل محبوب سر ته ټيټ كړى وو � خو هغه محبوب چې دَ مادي ژوند دَ آسائشونو طلب ګار او لالچي ښكاري .. دَ خودغرضۍ تر حده.. لكه هندو په ښكاره دَ خاورې جوړو بُتونو يعنې آسائشو ته سجده رېز وي �

په دې نظم كې " دَ اغراضو مندر" لفظي تركيبي اصطلاح په ځان كې بلا معنې لري ، كوم چې دَ شاعر دَ ژوند او فكر او نازك خيالۍ دليل دى � دا او هم دغسې فكري ژورتياګانې دَ افضل شوق په ساده پښتني شاعرانه او نظميه اظهار كې ځاى په ځاى ليدلى شي � په دې نظم كې هم شاعر دَ خپل صداقت ثبوت په ډېره بې ساختګۍ وړاندې كوي .. كوم چې دَ ده مينه نه يواځې بې غرضه بلكه دَ عبادت يعنې ( پوجا) كولو تر حده مخلصه ښكاري � خو اشنا يې په روئيو او خويونو هندو دى .. چې په جذبو او رشتو كم او په مادي څيزونو كې لكه سوداګر ورګېر وي �

كه مونږ دَ دې نظم فني او تكنيكي اړخ ته په ځير شو نو دا اتهه مصرعيزه نظم به په اتهو برابرو برابرو سېلابونو مشتمل يو معرى نظم اوګڼو .. خو زما په اندازه كه دغه نظم په څلورو شپاړس سېلابيزو مصرعو باندي داسې وړاندې كړى شي ..نو به نور هم واضحه شي�

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې له خدائیه که بل چاته اجازه دَ سجدې وی

نو به ما وی لګولی خپل تندی وَ هغه یار ته

چې هم خپله تل ولاړ وي وَ بُتانو ته دَ خاورو

لاس تړلی لاس تړلی دَ اغراضو په مندرکې

## ۲۲ -- پښتو

هغه څوک ده؟

دَ چا لُور ده؟

دَ چا وینه ، دَ چا خور ده؟

چې په سرو سرو اوښکو ژاړي

سرببره ، درپدره

دَ ژوندون لارو کوڅو کې

په مخ لُوڅه

په پښو لُوڅه

په زړو خیرو جامو کې

سرګردانه .. پرېشانه

په وجود ستړي ستومانه

له خپل ځانه بې خبره

له جهانه بې خبره

دَ بې رحمه وخت په لاس کې

لیونۍ سپېځلې غوندې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



پېغلتوب بائيلي ، زړېږي

په فرياد فرياد ژغېږي

چې اې خلګو

ړندو خلګو!!

ماته اوګورئ ..زه څوك يم؟

دَ چا لُور او دَ چا خور يم؟

زما په سر پړونی نشته

زما لاسونه بې بنګړئيو

زما غوږونه بې والئيو

آخر ولې.. داسې ولې؟

يَه دَ وخت زامنو ولې؟

زه بې وسه بې آسرې نن

زه بې کوره بې پړدې نن

دَ خپلوانو په لټون تل

دَ مراد کچکول په لاس کې

دَ سوالګيرې په شان ګرځم

زه سوالګيره

زه سوالګيره؟

سترګې رونې کړئ اې خلګو

دَ غفلت دَ تيارو خلګو!!

ما هم اوپېژنی خلګو!

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه دَ دنگو غرونو لُور یم

زه پښتو یم .. پښتنه یم

)شلېدلی امېل .. مخ _ 136(

دا پورته نقل شوی نظم دَ افضل شوق واحد اوږد نظم دی چې دَ ده په آزاده شاعرۍ کې په ریکارډ باندې راغلی دی � او دا هغه نظم هم دی چې افضل شوق دَ غزل دَ شاعر سره سره دَ نظم شاعر مشهوره شو � دا نظم به دَ کابل رېډیو نه اکثره نشر کېدو او دې نظم دومره عوامي شهرت پیدا کړی وو ، چې اوس هم په ډېر کېسټونو کې موجود دی � خو یو ځل ما چې دَ افضل شوق دَ دې نظم دَ عوامي شهرت په اړه دَ هغه نه تپوس اوکړو .. نو هغه تش اوموسېدو او مخته یې شاید چې په دې هیڅ نه اووئیلو .. چې هغه هرکله خوعوامي ټېسټ ته دَ شاعر او شاعرۍ قتل وئیلو� نو ځکه دَ هغه خاموشي او بیا په داسې جذباتي انداز نور اوږدو نظمونو نه لاس اخیستل .. دَ هغه داسې خاموش اعلان دی چې هغه به بیا کله هم ترانې نه لیکي او نه به دَ خلقو دَ جذباتو سره داسې په غېر معیاري توګه لوبې کوي �

دَ افضل شوق دَ معیار جنون په خپل ځای صحیح دی .. خو په دې پورتني نظم کې هغه یو داسې المیې په لور اشاره کړې ده .. چې ورنه په پښتني معاشره کې انکار نه شي کېدی � هغه دلته " پښتو" تش دَژبې په حواله نه ده زېر بحث راوړې .. بلکه پښتو یې دَ پښتنې په توګه په تشبهاتي انداز او درست پښتني کلتور یې په کې رانغښتی دی او بلا ډېر سوالونه یې دَ ځواب په هیله رابرسېره کړي دي � په دې نظم کې شوق صاحب چې څومره په ساده تورو او خبرو کې غږېدلی دی .. هم هغسې یې پښتو ، پښتون ، پښتنه او پښتني کلتور باندې ګوزارزنه په داسې جذباتي انداز کړي دي چې دَ لوستونکي اودې جذبې را اولړزوي � هغه دلته ښېځې زیات ډائریکټ شوی دی او پښتنو ته یې آئینې ښودلې دي �.. په کوم کې چې دَ هغو څېرې انساني نه .. بلکې دَ بې حسۍ تر حده خودغرضه او ځناورې څېرې ورته داسې ښودلې شوې دي � چې هغوئ محسوسې کړې دي .. هم ځکه خو یې دا نظم په زړونو لیکلی دی � په دې نظم کې هم افضل شوق یو نوی انداز مخې ته راوړی دی .. او پښتو یې .. هم دَ هغې په خپلې ژبې کې غږولې ده .. او داسې محسوسېږي .. لکه دا چې شوق صاحب نه .. بلکه پښتو په خپله دَ فریاد خبرې کوي � او شوق په دې نظم کې هسې دَ یو راوي په توګه لیدلی شي � داسې راوي .. چې هغه هر څه په خپلو سترګوویني هم.. او محسوسوي یې هم � دا دَ هغه شاعرانه کمال دی � او دا زما یقین دی ، چې که هغه ترانې او مرثیې لیکلې نو ده نه به هیچا میدان نه وو ګټلی � خو هغه ګوره ولې دَ دې عوامي شهرت نه کناره کشي ته ترجیح ورکوي � شاید چې په دې هغه لویې شاعر جوړېدل غواړي؟

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا اوږد نظم .. چې په یو کم څلوېښت وړو او لوئیو مصرعو آزاد نظم دراصل په اولس مصرعو .. چې هره مصرعه شپاړس سېلابیزه ده .. باندې مشتمل یو پابند معری نظم دی � چې افضل شوق په ډېر هنر دَ نظم آهنګ او موسیقیت ساتلو په غرض په وړوکو لوئیو مصرعو دومره اوږد کړی دی .. چې دَ طویل نظم ګمان پرې کېږي .. خو طویل نه دی � تاسو یې خپله هم اوګورئ �

هغه څوك ده؟ دَ چا لُور ده؟ دَ چا وینه ، دَ چا خور ده؟

چې په سرو سرو اوښکو ژاړي سرببره ، درپدره

دَ ژوندون لارو کوڅو کې په مخ لُوڅه ، په پښو لُوڅه

په زړو څېرو جامو کې سرګردانه پرېشانه

په وجود سترې ستومانه له خپل ځانه بې خبره

جهانه بې خبره دَ بې رحمه وخت په لاس کې

لېونۍ سپېڅلې غوندې پېغلتوب بائیلې ، زړېږي

په فریاد فریاد ژغېږي چې اې خلکو ......... ړندو خلکو!!

ما ته اوګورئ زه څوك یم؟ دَ چا لُور او دَ چا خور یم؟

زما په سر پړونی نشته ..... زما لاسونه بې بنګړئیو

زما غوږونه بې والئیو ، آخر ولې ......... داسې ولې؟

یَه دَ وخت زامنو ولې ؟ زه بې وسه بې آسرې نن

زه بې کوره بې پردې نن دَ خپلوانو په لټون تل

دَ مراد کچکول په لاس کې دَ سوالګیرې په شان ګرځم

زه سوالګیره زه سوالګیره؟ سترګې رونې کړئ اې خلکو

دَ غفلت دَ تیارو خلکو!! ما هم اوپېژنئ خلکو!!

زه دَ دنګو غرونو لُور یم ، زه پښتو یم .... پښتنه یم

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۲۳ ـ دَ رڼا ملګري

ته دَ رڼا سره سم ځغلې

دَ ماښام په لورې

او زه دې سيورې دَ وجود يم

تا سره سره ځم

خو دَ بېل بېل فطرت له جوره

ما او تا هم مدام

چې څوني دواړه ليدل کېږو

څنګ په څنګ دَ ورځې

دغوني ورك شو دَ يو بله

په کوڅو کې دَ شپې

)شلېدلی امېل .. مخ _ 140(

پورتنی نظم دَ افضل شوق دَ خپل مخصوصې فکري روئيې يو جذباتي مثال دی ..خو ليکلی شوی په داسې علامتې پيرائيه کې دی .. چې شعريت او معنويت ترې نه دَ ورايه دَ شاعر هنري کمال ته اشاره کوي � په دې نظم کې هغه دَ خپل محبوب تصور خپل سيوری ګڼي .. چې دَ ده سره سره ځي .. خو بيا په ډېره عجيبه انداز کې دَ خپل وجود سيوری دَ خپل طبعې او فطرت تر مخه دَ ځانه بېل ګڼي � او دا ځکه چې سيوری خو دَ رڼا ملګری وي .. او چې کله هم رڼا دَ خپل اختتام تر سفره اورسي نودَ وجود سره دغه سيوری خپله ملګرتيا پرېږدي � دلته شاعر دَ خپل محبوب وجود يو داسې سيوری ګڼي .. چې کُل وقتي نه وي .. وختي وي �

دَ دې نظم سادګي او بې ساختګي ، په ډېر هنر دَ شاعر دغه ګيله او غم ډېر په فکري پيرائيه کې ښکاره کوي � دَ دې نظم په معنې او مفهوم که مونږ لږ سوچ اوکړو .. نو په انساني ژوند، رشتو او جذبو کې چې دَ خودغرضۍ کوم رنګ ليدلی شي ، نو هغې ته شاعر په ډېر هنر اشاره کوي � چې ملګري دَ ښو لحظو وي .. خو دَ غم دَ لحظو مئينان ببخي په نېشت حساب دي � دغه رنګه دوران او دَ خلقو دغسې روئيې هاغه وخت هم وي چې کله شاعر دا نظم ليکلو .. او نن هم دغسې ماحول مونږ وينو ګورو � نو دَ نن دور دَ کومو حالاتو خبره چې شاعر نن نه اولس اتهلس

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



كاله آګاهو کړي ده .. په هاغه وخت کې دَ مستقبل حالاتو ته اشاره وه � او ښه شاعر اديب په راتلونکو تبديليانو هر وخت نظر لري �

په تکنيکي او فني لحاظ دغه دَ لس ورو او لوئيو مصرعو آزاد نظم په اصل کې په پنځو داسې مصرعو باندې مشتمل دی .. چې هره مصرعه يې پنځلس سپلابونه لري او په خپلو کې دا ټولې مصرعې دَ يو داسې خواږه آهنګ او موسيقيت نه ډکې دي .. چې دا نظم آزاد نه .. بلکه پابند او معرى ښکاره کوي � کتلی يې شئ �

ته دَ رڼا سره سم ځغلې دَ ماښام په لورې

او زه دې سيورې دَ وجود يم تا سره سره ځم

خو دَ بېل بېل فطرت له جوره ما او تا هم مدام

چې څوني دواړه ليدل کېږو څنګ په څنګ دَ ورځې

دغوني ورك شو دَ يو بله په کوڅو کې دَ شپې

## ۲۴ ـ دَ طلب تنده

چې دَ سوچ هر يو نيلی مې

دَ اُميد له هر ګودره

دَ جانان په طلب ستړی

او ناهيله غوندې بيرته

دَ ماښام خواته راغبرګ شي

نو په اوښکو يې دَ سترګو

اوبومه تنده داسې

لکه زه چې يې له ورکو

ټوله ټوله ورځ غوښتمه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



)شلېدلی امېل .. مخ _ 141(

دا پورتنی نظم په داسې افسانوي او رومانوي انداز کې ليکل شوی دی .. چې شاعر په کې يواځې شاعر نه .. بلکې يو افسانه نگار هم ښکاري � او دا رنگ او خوند دَ شوق په شاعرۍ کې اکثره ليدلی شي � دَ عنوان په رنگه په دې نظم کې شاعر دَ خپل آئيډيل محبوب دَ لټون يو داسې انتهائي شکل وړاندي کړی دی .. چې ناکامي او مايوسي کې هم دَ ميني طلب .. هم هغسې په زړه کې ژوندی لري � لکه مجنون چې به ليلا پسې گرځېدو .. او چې به يې ليلا نه کړه مونده نو به يې په خپل ځان او هر چرته کې ليلا ليدله � دا جنوني کېفيت دلته شوق په ډېرو ساده تورو کې نظم کړی دی � خو په معنوي اعتبار دَ دې نظم دَ تهيم نه انکار ځکه نشي کېدی .. چې په تصوف کې هم دغسې خو کېږي .. يعني دَ خدای پاك په مينه کې صوفي چې کله انتها ته اورسېږي نو دَ منصور غوندي په ځان کې خدای لټوي � لاکن دلته خبره څه بېل شانتې ده .. ولې چې کله شوق صاحب ستړی او نا اُمېده دَ لټون له شوي سفر نه را واپس شي ..نو دَ خپلو " اُمېدونوو آس" په خپلو اوښکو اوبه کوي .. او داسې تسکين محسوس کړي لکه دَ دې آس .. چې شاعر ورته په علاقائي لهجه کې " نيلی" وائي .. تنده هم په ده ماته شوي وي �

په دې نظم کې لفظي جوړښت او خبرې دومره نوي او خوږې دي .. چې اجنبيت په کې نه محسوسېږي � ولې چې دَ شاعر طرزبيان خالص پښتني دی � نو ځکه معنوي ابهام مخې ته نه راځي او درست نظم ښه په آسانه دَ لوستونکي په ذهن کې قيصه سرته اورسوي � بل دا خبره هم اهمه ده .. چې که يو طرف ته " دَ سوچ نيلی " ، " دَ اُميد گودر" رنگه اصطلاحات په خپل دې نظم کې شامل کړي دي .. نو بل طرف ته " په طلب ستړی" ، " تنده په اوښکو اوبول" او " له ورکو غوښتل" هغه نوي پښتني محاورې دي .. چې نن سبا عامې استعمالېږي � دَ افضل شوق په رنگه يو ښه شاعر په خپل تخليقي عمل کې ژبې ته نوي نوي توري او محاورې هم ورکوي .. او داسې ژبه مخې ته وده کوي �

دا نظم چې په ظاهره په نهو اتهه سپلابيزه مصرعو کې ليکلی شوی يو پابند نظم دی .. خو دَ خوند او مزې خبره دا ده .. چې دَ دې نظم ټولي مصرعې که مونږ يو بل سره .. هم په دغه ترتيب اوټرو نو دا به يوه مختصره افسانه ښکاره شي � او تاسو دَ شوق په نظمونو کې داسې اړخ هم ليدلی شئ .. يعني دَ هغه په نظمونو نه يواځې دَ شعر تنده ماتېږي بلکه دَ افسانې ، ډرامې او نثري ادبي ټوټو خوند هم په کې ليدلی او محسوسېدلی شي � پورتنی نظم دَ دې خبرې دَ مثال په اړه په يوه فقره کې دلته وړاندي کوم �

"چې دَ سوچ هر يو نيلی مې دَ اُميد له هر گودره دَ جانان په طلب ستړی او ناهيله غوندې بيرته دَ ماښام خواته راغبرگ شي نو په اوښکو يې دَ سترگو اوبومه تنده داسې لکه زه چې يې له ورکو ټوله ټوله ورځ غوښتمه "

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۲۵ ــ تلکې

که تښتېده غواړي څوك

له خپله ژونده چېري

نو به په کومه تښتي؟

چېري به مخه کوي؟

ځکه چې ښکاري هر لور

دېوال دېوال رسمونه

غونډۍ غونډۍ خندونه

دریاب دریاب غمونه

او لا قدم په قدم

ولاړې دي تلکې

)شلېدلی امېل .. مخ ــ 143(

افضل شوق په شلېدلی امېل نومي وړمبۍ شعري مجموعې کې دَ هغه دور نه ساتنګی ښکاري او حالات دَ انساني ژوند کولو جوګه نه ګڼي .. هم په دې خو هغه دَ یو زخم په شان دَ دړدونو سره مخامخ دی .. او ژوند دَ مسئلو کور ګڼي � په دې پورته نقل شوي نظم کې هم شوق صاحب دَ آمرانه نظام او ژوند په لور داسي اشاره کوي .. چې دَ دې ساتنګي ژوند نه به انسان چرته تښتي .. لاري خو نشته دَ فرار.. ولې چې ناروا رسمونه دېوال په شان ولاړ دي .. دَ سړي لاره نیسي او خپلي مرضي ته یې نه پرېږدي � نه یواځې دا .. بلکه خندېونه لکه غرونه او غمونه له سېندونه لاري دَ انسانانو تر مینځه ترې او دَ بنده خله خندا او خوشحالۍ ته نه جوړېږي � او دې ټولو نه علاوه انسانانو هم یو بل ته تلکې جوړې کړي دي او په دې کوشش کې ښکاري چې بل انسان په کې ګرفتار کړي � په دې نظم کې دَ هغه دور.. چې ژوند په کې ساه په آسانه نه شو اغیستلی .. خو دَ شوق صاحب دَ جرات دا علامتي او هنري مظاهره به هغه ته دَ مزاهمتي شاعرانو په قطار کې دَ اورېدلو ځای ضرور ورکوي � او هغه چې دَ رښتیا لیکلو او وئیلو کومې خبري په دعوې سره کوي .. هغه یې په " شلېدلی امېل" کې په لفظي عمل په ډېره نره ښکاره کړي هم

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي � يعني هغه دَ ځينو شاعرانو په رنګه دَ مصلحت نه کار کله هم نه دی اغيستی او هر څه يې په نېغه تر لوستونکو پورې رسولي دي �

"دېوال دېوال رسمونه" ، " غونډې غونډې خنډونه" او " دریاب دریاب غمونه" هغه علامتي اشارې دي چې نوې اصطلاحات ورته وئيلی شي او دې نه علاوه په دغو تکراري لفظي تراکيبو کې دَ نوې پښتنې محاورو خوند او مزه هم پټه محسوسېدلی شي�

دا پورتنی دَ لسو مصرعو آزاد نظم .. چې هره مصرعه يې اووه سېلابونه لري .. دراصل دَ پنځو څورلس سېلابيزه مصرعو يو داسې پابنده نظم دی چې صوتي اثرات او شعري آهنګ په کې دَ پابندې شاعرۍ ليدلی او محسوسېدلی شي � تاسو يې هم لوستلی شئ�

که تښتېده غواړې څوك له خپله ژونده چېرې

نو به په کومه تښتې؟ چېرې به مخه کوې؟

ځکه چې ښکارې هر لور دېوال دېوال رسمونه

غونډې غونډې خنډونه ، دریاب دریاب غمونه

او لا قدم په قدم ولاړې دي تلکې

"دَ شلېدلی امېل" دَ ځينو نظمونو فني او فکري جائزه مې تاسو ته وړاندې کړه .. دَ دې ټولو نظمونو شکل که څه هم دَ نثري، آزادې شاعرۍ په حواله مونږ ته دغسې ښکاري ..خو دَ دې په فني او تکنيکي اړخونو چې نظر اچوو .. نو دَ ښاغلي افضل شوق نظمونه معرى دي .. چې دَ ردهم ، موسيقۍ، روانۍ، آهنګ او صوتي اثر دَ مخه په وړو او غټو مصرعو کې داسې په خواږه انداز او ښائست ګنډلي شوي وي چې دَ آزاد نظم شکل يې اغيستی دی � که څه هم دَ سېلابونو او بحرونو دَ مخه دَ افضل شوق نظمونه غزليه خوند او رنګ لري .. خو غزل ورته ځکه نه شو وئيلی چې رديف او قافيې نه لري � په نظمونو کې دَ بحرونو، سېلابونو اوآهنګ ، ردهم او موسيقۍ خيال ساتل نه يواځې افضل شوق په خپل رنګ او أسلوب کې ځانګړی کوي .. خو بل طرف ته دَ هغه شاعرانه، تمثيلي او افسانوي رومانوي مزاج هم ښکاره کوي � دَ هغه هر نظم په وړوکي داستان باندې مشتمل دی � لاکن دغه داستانونه دَ هغه دَ مشاهدې او ليدلو زميني حقائقو عکاسي کوي او دَ هغه دغه تمثيلي انداز په ساده علاقائي .. او ادبي لهجې کې دَ ډېر اوچت او ژور فکر ادراك هم لري � په دې خو دَ هغه په فکر کې ابهام لوستونکی دَ څه وخت دپاره تېر و بېر

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړي � خو په بل نظر دغه ابهام دَ لوستونکي په ذهن کې قسم قسم سوالونه راپورته کړي � زما په خيال چې يو ډېر ښه شاعر دپاره هم دغسې انداز خپلول پکار دی � دَ افضل شوق دا نظمونه چې په " شلېدلی امېل" کې په کال 19987 او 88 ع کې چاپ شوي دي نه هم کېدلی شي چې مخکې ليکلی شوي دي � يعنې دَ اندازې مطابق دا دَ ده دَ کچه ځوانۍ دَ دور چې قريباً پنځويښت يا دېرش کاله پخوا ليکلی شوي دي � نو په هاغه وخت کې دغه انداز ساتل .. دې څيز دئ منفرد کړی دی او دَ يو نوي جديد نظم گو شاعر په توگه يې په دُنيا پېژندلی دی �

په آخره کې که دا خبره اونه کړم نودا به ادبي خيانت وي .. چې دَ افضل شوق درسته شاعري دَ خپلې بې ساختگۍ ، روانۍ، سادگۍ دَ مخه دَ هغه دَ ريښتونو جذبو پوره پوره عکاسي کوي � او که چا افضل شوق دَ خپل ذات او وجود په حواله په خپلو دغسې جذبو پېژندلی وي .. نو دَ هغه دَ شاعرۍ نه به انساني افضل شوق خامخا پېژني � يعنې که دَ سلو شاعرانو په فهرست کې دَ افضل شوق شاعري بغېر دَ هغه دَ نوم نه شامله کړی شي .. نو دَ هغه دَ شاعري رنگ به بېخي دَ ټولو نه بدل او منفرد وي .. او دا شاعري به دَ ورايه دَ افضل شوق دَ نوم پېژندگلو کوي�

خاورې

حسينه گل

نوښار پښتونخوا _ 18فروري 2002ع

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اووه گامه مزل

)یادگیرنه :- دا کتاب په کال ۱۹۹٦ کې چاپ نه وتی دی(

یوه سفرنامه .. دَ سبا دپاره دَ یو تاریخي دستاوېز حېثیت لري � ځکه نو سفرنامې په دغه حواله دَ خصوصي اهمیت وړ دي � پښتو ادب کې هم دَ سفرنامو روایت ډېر دَ پخوا نه را روان دی � دَ خوشحال بابا نه را په دې خوا چې چا هم دغه صنف ته توجه کړې ده .. نو دا خو صحیح ده چې دَ خپلو سفرونو رودادونه او رپورټونه یې لیکلي دي .. خو دَ یو صنف په توگه په دې مد کې هاغه کار په صحیح معنو کې ډېر کم مونږ ته شوی ښکاري .. چې دَ پښتو دَ نثري ادب څه سنړه سترگه پرې اوشي � بیا دَ گوتو دَ شمېر څو پښتو لیکوالو چې دَ خپل وس او استعداد مطابق دې میدان کې څومره کار اوکړو .. نو هم دغه یو څو سفرنامې دي چې مونږ یې دَ حوالې په توگه په داسې موقع یادوو� دَ میان اکبر شاه " دَ آزادۍ تلاش".. یوه داسې نه هېرېونکي سفرنامه ده چې .. دَ سفرنامو په تاریخ کې یې خپل یو نوم او مقام گټلی دی � دغه رنگ دَ خدائې بخښلي سیده قانته بېگم " زما سفر" ، دَ حمزه بابا " دَ حجاز په لور" داسې سفرنامې دي چې مونږ یې خصوصي ذکر کولی شو � ولې په پښتو نثري ادب کې ښاغلی طاهر آفریدي دی چې دَ خپلو سفرونو حال یې دَ مختلفو سفرنامو په شکل کې دَ پښتو ادب جولۍ ته پېرزوْ کړی دی � طاهر آفریدي هم دَ خپل ساده باده انداز تحریر تر مخه دغه صنف ته دَ خپل هنر ، سفري مشاهدو .. او دَ ملکونو دَ اولس او ژوند ژواك ، تاریخ، کلتور په حقله دَ کوټلو معلوماتو وړاندې کولو کې یې دَ قاري دلچسپي هم په نظر کې ساتلې ده � او دَ لوستونکو نه یې شاباشی هم اغیستی دی � خو په دې دور کې یوه سفرنامه داسې هم راغله چې دَ دغه ټولو چاپو سفرنامو نه یې خپل ځان په دې قطار کې په وړمبي نمبر اودرولو .. او هغه سفرنامه وه .. دَ ښاغلي افضل شوق " اووه گامه مزل" � په یوه سفرنامه کې دَ اوو ملکونو دَ مختلفو سفرونو حال احوال په وړمبي ځل یو داسې جداگانه انداز کې مخې ته راوړل .. چې دَ عوامي طبقې او طبعیت نه یو خواته .. دَ یوې تعلیم یافته ، روشن فکره، ترقي پسنده او ځواني طبقې ورته ډېر په روڼ تندي هرکلي اووی �

په دې سفرنامه کې په وړمبي ځل داسې حقائق او داسې جدید اُسلوب رامخې ته شو چې دَ سفرنامو هاغه زوړ او مخلی اُسلوب یې په ورستو پرېښودو .. او داسې ښاغلي افضل شوق دَ یو منفرد سفرنامه نگار په حېثیت هم خپله یوه پېژندگلو اوکړه � شوق صاحب بنیادي طور یو شاعر دی .. او شاعر چې دغه رنگ جهان گرد شي، نو دَ هغه دَ گرځېدو .. ورکېدو .. راښکاره کېدو اداگانې به هم ډېرې شاعرانه وي � دغه وجه ده چې په دې سفرنامه کې لیکوال خپل ځان دَ دُنیا په هېوادونو کله دَ یو ملنگ شاعر، کله دَ یو باچا ښاپېرې په شکل کې دَ خپلو مشاهدو کچکول او خزانې هېواد په هېواد گرځوي .. او بیا یې دَ اوو گامه مزل په شکل کې په خپلو پښتنو پېرزوْ کوي �

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په یوه سفرنامه کې دَ اوو ملکونو دَ اولسونو په حقله معلومات .. او مشاهدې راغونډول یوه دَ حېرانتیا خبره ده � خو ډېره دَ حېرانتیا ورته په دې اړه نه شو وئیلی چې نن سبا خو په یو وړوکې ملك دَ څو څو رپورتاژونو لیکلو رواج هم عام شوی دی .. سره دَ دې چې دَ هاغه ملك یا وطن نه څه دومره ښه تاریخ مونږ ته ښکاري ، نو تش دَ ډوډۍ خوړل یا دَ چائیو څښکل هم دَ سفرنامې دپاره ضروري ګڼې .. !! یو تاریخي جبر دا هم دی چې پښتانه لیکوال په یو داسې وړوکې ملك کې چې مونږ ورته دَ پاکستان یو وړکوټې کلی وئیلی شو ، دلته رابللی هم څکه شي چې دَ پاکستان دَ ورځې په مناسبت په کې مشاعره یا کلتوري تقریبات اوشي .. او ورستو دَ دغه مشاعرو او تقریباتو دَ سترګو لیدلی حال او دَ غوږونو اورېدلی حال په کې بیا په کتابي شکل کې خوندي کړلی شي � او بیا دغه داستاني رپورټونه هر څو که څوك دَ خپلې بې سوادۍ په وجه دَ سفرنامې په نوم یادوي ، خو دراصل دا دَ سفرنامو په شمېره کې نه راځي � ولې چې په سفرنامه کې دَ مشاهدو، معلوماتو سره سره دَ خپلو اندروني احساساتو، جذباتو او دَ زمیني حقائقو په شکل کې څېړنې هم شاملې وي � کومې چې مونږ ته دَ افضل شوق په سفرنامو کې په نظر راځي � څکه خو یو لیکوال او کالم نګار ښاغلي مصور فرېشي دَ افضل شوق دَ سفرنامو په حقله په مختصرو ټکو کې ډېره ښه خبره کړې ده چې ګڼې " پښتانه سفرنامه نګاران دي .. دَ افضل شوق نه دَ سفرنامې لیکلو چل ایزده کړي " او زه هم دَ یو بل ستر لیکوال او شاعر سعید ګوهر دغه په ریکارډ باندې رقم کړې خبره منم چې ګڼې" اووه ګامه مزل .. دَ پښتو وړمبۍ مکمله او داسې بهترینه سفرنامه ده چې دَ اُردو دَ شاهکارو سفرنامو سره څنګ وهي" � او بلکه زه داسې هم وایم چې دَ مستنصرحسېن تارړ اُردو سفرنامې چې په یو معیار هم دَ ښاغلي افضل شوق دَ سفرنامو نه اوچتې په دې نه دي چې دَ مستنصر حسېن تارړ په سفرنامو کې مصنوعیت دَ ابلاغ مسئله او لفاظي دَ نه منلو تر حده شوي ده � هم څکه خو دَ هغه دَ سفرنامو په حقله اُردو نقادان وائي .. چې هغه سفرنامې په ائیرپورټ یا دَ هوټلونو په کمرو او لابیانو کې لیکلې دي � او په دې خبرې کې منطقي جواز دا مخې ته راوړل کېږي .. چې مستنصر حسېن تارړ هر ملك ته دَ پاکستاني راهنماګانو سره دَ یو سرکاري رپوټر ، یو کالم نګار یا دَ ملك په بېلابېلو سرکاري وفودو کې شامل دَ یو غړي په حېثیت دَ یو څو ورځو دپاره تللی دی � نو لازمي خبره ده .. چې په داسې حال کې به هغه ډېر محدود سېلونه کړي وي � خو بلې خواته دَ افضل شوق په سفرنامو کې بې ساختګي دَ ورایه داسې څرګندوي چې هغه په خپلو سفرونو کې ورك شوی دی � دئی چې کوم ځای ته هم رسېدلی دی .. نو هاغه ځای کې یې دَ خپلې موجودګۍ ثبوت پوره پوره ورکړی دی � او بله خبره دا هم چې دَ افضل شوق دَ سفرنامو ګواهي دَ هغه درسته شاعري هم کوي � او دا خبره حقیقت ده چې شعر کله هم دَ خارج نه دَ متاثره کېدو نه بغېر نشي لیکلی- خو المیه دا ده چې مستنصر حسېن تارړ څکه لوی سفرنامه نګار شو .. چې هغه دَ حکومتي ژبې لیکوال دی او شوق دَ خوارې پښتو � اوس غواړم چې دَ افضل شوق دَ وړمبۍ سفرنامې " اووه ګامه مزل" .. دَ هر ګام تنقیدي جاج واخلم �

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دَ شوق وړمبی ګام

دا وړمبی ګام چې افضل شوق په ځوانه ځوانۍ کې په وړمبي ځل دَ جنوري کال 1992 کې دَ ملا ئشیا په هېواد کې چې هغه ورته " دَ سهېلي لمر ختیځې اېشیا زړه " هم وائي کې کېښودو � دَ یو سرکاري دورې په لړ کې دا وړمبی سفر دَ افضل شوق دَ سفرنامو یو آغاز اوګرځېدو .. او دَ ده ستورى هم په ګردش کې راغلو � دَ دې وړمبي قدم نه واخلې .. دَ نن تر ورستيو قدمونو پورې افضل شوق په سفرونو سر يادېږي � که دا اووايم چې دَ سفرنامه نګار په حېث دَ هغه دَ پېژندګلو وړمبی حواله دَ دې سفرنامې يعنې " اووه ګامه مزل" دا وړمبی باب چې مونږ ورته دَ دې مضمون په حواله وړمبی ګام وائيو .. نو بې ځايه به نه وي � په دې ګام کې دَ سرکاري مصروفياتو علاوه دَ کوالا لمپور دَ ورځې او شپې ژوند په باب دَ افضل شوق ډرامائي .. حېرانونکي او شاعرانه خبرې که قاري په لوستلو مجبوره کوي .. نو بلې خواته په دې باب کې دَ ّ " مهېش ورې" نومې انډين پېغلې سره جذباتي او شاعرانه تړون ډېر په افسانوي او رومانوي پېرائيه کې داسې په خوند او طريقه شوى دى چې دَ قاري ګمان په سفرنامه نګار باندې که څه هم دَ يو عياش شخص کېږي .. خو.. په دې درست باب کې داسې يوه خبره هم نيشته چې هغه دې په غېراخلاقي يا غېرانساني لب و لهجه کې بيان شوې وي � يا دې ترېنه حېوانيت څرګندېږي � خو دَ دې باوجود هم پښتنو قدامت پسندو او نا لوستو ځينو نقادانو دَ لوستلو په ځاى دَ بل نه دَ اورېدلو خبرو په رڼا کې لکه دَ ډنډورې ، بلا فتوې هم لګولې دي � دلته زه دَ يوې ښځې نقادې په حېث دې خبرې ته حېرانه شم چې په دې باب کې دي څه ؟ .. او خلقو ترېنه جوړ کړې څه دي ؟ شايد چې په وړمبي ځل يو داسې ليکنه په ډېره جديده او آفاقي پېرائيه کې دَ پښتنو لوستونکو مخې ته راغلې وه .. چې هغې ليکنې هضم کېدو کې ډېر وخت اغيستلو سره سره دَ ځينو روايت پسندو هاضمې خرابي هم کړې � او يا شايد چې دَ دې باب په ورستۍ پېره کې په ډرامائي انداز " شټ دي ډور پليز" دَ ځينو لوستونکو په ذهن کې مغالطې پيدا کړې دي �

په دې باب کې دَ افضل شوق دَ انډين استقبالي پېغلې سره دَ تعلق جوړولو معصومانه طلب چې هغه څومره کړاوْنو سره مخامخ کوي .. نو هم دغسې دَ دې هوټل يوه آپرېټره په خپل خواږه آواز کې هغه ځانته دَ متوجه کولو کوشش کوي � خو ورسره ليدل کتل نه کوي � او دَ وخت سره سره چې افضل شوق دَ هوټل خوږ آوازې اّ ّپرېټرې او دَ دې هوټل دَ استقبالي پېغلې مهېش ورې تر ميانځه څومره په افسانوي انداز کې قيصه مخې ته وړي .. هغه لوستونکې په بيا بيا په لوستلو څکه مجبوره کوي .. چې په دې حقيقي پېښې کې رومانيت انتهائي په خوږې پېرائيه کې تر سره شوى دى � او دا هغه وړکوټې افسانه ده چې افضل شوق يې په پښتني دُنيا کې دَ يو ډېر لوئى او حقيقت پسند سفرنامه نګار په حېثيت مشهوره کړو � ولې چې دَ دې افساني اصل خوند هاغه ډرامائي نتيجه ده چې دا پورتنۍ دواړه پېغلې چې په ظاهره دوې بېلې بېلې پېغلې ښکارې ..خو دوې نه دي .. بلکه يوه پېغله ده .. چې کله دَ آواز په ذريعه هغه ځانته متوجه کوي او کله دَ څهرې په تقش و نګار � او دا انکشاف هغه وخت کېږي .. چې په ورستۍ ورځ افضل شوق له دې هوټل نه کوچ کوي �

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې وړمبي ګام کې دَ ملا ئشيا دَ دارالحکومت نه علاوه ترينګانو سټېټ، کاوْنټن سټېټ ، پيهانګ، بېنټانګ او کرك رياستونو نه علاوه چې دَ رېږ سي دَ سمندر صفا او ښائسته ساحلونو ، دَ آّسيان پارك وړمبي سېل ، دَ هندو ټېمپل نه متاثره کېدو سره سره دَ هغه تاريخي حېثيت په باب دلا ئل ... او دَ مسلمانانو له خوا دَ خپلو زړو آّثارو دَ نه ساتلو روئيو او خاصکر دَ پښتنو په حواله دَ خپلو تاريخي آّثارو کې دَ دلچسپۍ نه اخيستلو په اړه دَ مايوسۍ يو تريخ احساس هغه څېزونه او خبري دي .. چې افضل شوق په ډېر هنر او کمال داسې په خوند او په مزه مزه قلمبند کړي دي .. چې دَ هغه دغه أسلوب ډېر خوښ کړلی شو � ولې چې دَ هغه په تحرير کې داسې محسوس کړلی شو لکه هغه چې يواځې په سفر نه وو تللی .. بلکه پښتون قام يې هم ځان سره په دې غرض اوړی وو چې دوئ لږ پوهـ شي .. او په دې اورسي چې دُنيا چرته روانه ده ، او دوئ چرته روان دي ؟؟

په دې باب کې دا ورستۍ پېره ( چې په صفحه نمبر 30 باندې موجوده ده ) په دې وړاندې کوم چې زما دَ پورتنئيو خبرو تصديق اوشي�

"چې څنګه مې دروازه خلاسه کړه ، نو څه ګورم چې دَ آّپرېټري په ځای دَ هوټل دَ لابي انډين جينۍ مخامخ راته ولاړه ده .. نه هېلو ، نه هائی .. يو دم مې دَ خلې نه ورته اووتو...

-ته .... ؟؟

دې دَ ځواب په ځای په کاريډور کې يوې بلې خواته اوکتو او په ځړپې خونې ته رادننه شوه .. بيا ساه کېدلې دَ کرسۍ په خوا وره غله � بس چې کېنسته ، نو يې فقط دومره اووئيل..

- Shut the door please

او په ما خوله ځکه را ايله شوه چې دا هغه غږ وو چې هره شپه ما په ټېليفون باندې اورېدو "

په دې وړمبي باب کې دَ سفرنامه نګار دَ ملا ئشيا دَ ملك په اړه دا لاندېنۍ خبري که مخې ته کښېږدو ، نو دَ دې ملك دَ خلقو اجتماعي روئيو نه به خبر شو  هغه روئيې څه دي .. راشئ چې دَ افضل شوق په دې رقم شوۀ خبرو کې يې مطالعه کړو.

"دَ خبرو تر حده اسلام خو په هر اسلامي هېواد کې شته ، ګوا په مسلمانان او يا دَ شپې او ورځې دَ پرله پسې لمونځونو دپاره جوګه په موسلو ولاړ مسلمانان .... چې په عملي ژوند کې دَ انسانيت په اړه تول مانده لري � نو او به وايم چې که دَ سوچه مسلماني کردار او بې ساري اخلاق خبره منځ ته راځي ، نو دَ ملا ئشيا دَ سپېڅلو خلقو مثال نه ورکول دَ حقيقت نه سترګې اړول دي � مګر دا بېله خبره ده چې دَ دې ځای دَ خلقو زړې رواجي جامې ځوکه ځوکه خپل مشرقي طرز بائيلي او مغربي انداز خپلوي .. لګيا دی "

)شوق - اووه ګامه مزل " مخ - 9(

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دَ شوق دوم گام

دَ افضل شوق دا گام دَ ملائشيا نه دَ سنګاپور په لور چې هغه ورته " دَ مونکي ګاډ جنت " هم وائي اوچت شوى دى � په دې سفر کې دَ افضل شوق سره ملګرى ډاکټر کنول چې په ډېرو حوالو يې په دې باب کې يو خوش اخلاقه او سپين زړى ځوان ښودلى دى .. دَ سنګاپور په لور دَ هغه سره موسکاګانې اوړې دي � دا سفر دَ سنګاپور په جهاز کې تر سنګاپور ښار .. چې ځانته ملك هم دى ... چې څنګه اورسي نو په سنګاپور ائيرپورټ باندې دَ هغه دَ سپين پوست لرلو دَ سوبه په هغه باندې دَ پاکستاني دَ نه کېدو شك په لړ کې مکالمې ډېرې خوندورې او دَ سسپنس نه ډکې دي � په سنګاپور کې سرنګون روډ چې ورته لټل انډيا هم وئيل کېږي په يو ګيسټ هاوْس او خواوشا ته هندي، چائينيز او سنګاپوري کلتور په خپل امتزاج کې دَ هغه په ذهن کې سوالونه نه يواځې راپورته کوي بلکه ځوابونو ته يې دَ رسېدو کوشش هم کوي�

دَ دې ښار سينټوزا نومې غټ پارك او هلته دَ وړوکې ريل سروس، انډر واټر ورلډ او ځينو نورو ځايونو سېل دَ هندو يار ډاکټر کنول سره په شريکه په مکالماتي انداز کې ډېر په خوند بيانوي � دلته هم افضل شوق نه يواځې شاعر بلکه افسانه نګار هم ليدلى شي � چې يوې وړې واقعې ته په دومره سنجيدګي او ادراکي انداز کتنه کوي � لکه دَ مثال په توګه دَ لېډي بوائى په ليدو او دَ هاغه موقعې په مناسبت دَ افضل شوق په ذهن کې راپارېدونکې سوالونه او دَ ډاکټر کنول سره مکالمه چې په " اووه ګامه مزل" کې په صفحه نمبر 36 باندې ليکلى ده .. دَ هېرولو وړ نه ده � نو ځکه زه غواړم چې هغه مکالمه تاسو ته دلته نقل کړم �

-"چرته دَ دې جينۍ کور ته خو مې نه وړې ، چې دَ سرنګون روډ نه دا دَ مخه او مونږ ورپسې يُو؟

ډاکټر اوخندل او اوس به يې لا څه وئيلو، چې جينۍ بيا شاته اوکتلو او اوموسېده � دَ ډاکټر ځواب په خله کې پاتې شو او وائي..

-خان .. خيال رکهنا . يه لړکې مجهې اچهي نهين لګتي

ما وئيل..

-فکر مه کوه ، دومره لا هم کمزوره نه يم ، چې هر چاته به زړه په لاس کې ږدم

ما چې څنګه دا خبره کوله ، نو جينۍ دَ يو دوکان په تړه پرتې کرسۍ کې ناست ځوان ته لاس پورته کړو، وئيل يې ..

-هائى...

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ دي هائی څه وو، چې دَ پښو دلاندې مې ځمکه اوخته � ما او ډاکټر یو بل ته داسې اوکتو، لکه دواړه چې ښه ډېر مزېداره بې وقوفان جوړ کړل شوي وو� او په دې خبره کې څه شك هم نه وو پاتې شوی .. ولې چې هغه جینی، جینۍ نه بلکه Lady Boy وو "

سنګاپور ته افضل شوق په دویم ځل په کال 1994 کې دَ تهائي لېنډ نه دَ رېل ګاډی په اوږد سفر بیا راځي � دې ځل هغه یواځې وي � نو ځکه یې په سېل کې ډېرې تېروتنې په اخلاقي دائره کې دننه دننه په ډېر هنر کړي دي � بلکه دَ نوي کال دَ لمانځلو په وخت دَ شپې دولس بجې خواته دَ هغه یو کلب ته ورتګ، په هغه کلب کې دۀ یوې بدرنګې سنګاپورې پېغلې سره دَ نه غوښتلو باوجود هم مجبوري شریکول دَ افضل شوق کردار داغداره کوي نه � ولې چې دَ هغې جینۍ ناسته دَ خبرو تر حده په ترقي یافته ټولنه کې دَ حېرانتیا یا غېر اخلاقي خبره نه ده ..!! خو دَ دې باوجود هم په دې باب کې ځیني داسې علامتي اشارې موجودې دي چې هغه دَ پښتون قاري په ذهن کې که کاږه واږه سوچونه نه راولي.. نو هم ګوتې پرې اوچتېدی شي � خو دلته به افضل شوق معاف کړو � ځکه چې " دَ ښائسته جینۍ یو عېب .. نه عېب " ګڼلی شي �

دا پورتنۍ خبرې چې ما دَ خپل فکري ادراك مطابق وړاندې کړې دي � په دې باب دَ یو لوستونکې تنده ماتېږي نه � نو ځکه زه په دې اړه دَ افضل شوق په قلم دا لیکلې شوې خبرې دَ مثال په توګه وړاندې کولی شو .. کومې چې یو قاري په سوچ کولو باندې یوې فېصلې ته رسولی شي �

"دا منم .. چې دَ نړۍ دَ ځیني هېوادونو خلقو له مونږ نه دَ ژوند لوبه په هره معنا او هر ډګر کې ګټلې ده � خو ناشوده دا، چې سمندرونه یې هم زمونږ تر یوازیني سمندر، صفا، شنه او مست دي .. او بدبُوي هم نه ورنه ولاړېږي � چرته زمونږ او دَ دوئ دَ سمندري مخلوقاتو ترمیانځه خو هم ..؟"

)شوق -" اووه ګامه مزل" مخ - 159(

دَ سنګاپور په باب دَ نورو معلوماتو په حقله مونږ دَ افضل شوق دغه حتمي سېلاني تاثر لوستلی شو .. چې ده دَ سنګاپور په سېل کې په خپلې دې سفرنامې کې رقم کړی دی � راشئ چې یې اولولو �

"دَ انسان عظمت دَ قانون احترام او دَ ژوند په اړه دَ پرمختګ څومره اخلاصمنه جذبه چې دَ سنګاپور په خلقو کې شته داسې مثال ما بل هیچرته نه خو اولیدواو نه مې دَ چا نه واورېدو� نو ځکه دَ دې فائن ستېي په باره کې په باور سره وایم چې دَ ځمکې په سر دَ داسې جنت جوړونه یا خو دَ مونکې ګاډ کرشمه کېدلی شي او یا دلته مېښته دَ مونکې وزمه انسانانو دَ پرله پسې زیار نتیجه..ګنې انسانانو خو مونږ هم یُو،چې دَ لاسو خیرې نشو صفا کولی"

)شوق - " اووه ګامه مزل " مخ - 31(

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دَ شوق دريم ګام

دَ افضل شوق دا دريم ګام دَ تهائي لېنډ په ښار بنکاك ، چې هغه ورته " دَ تهائيانو کرانګ تهيپ " هم وائي کې کېښودلی شوی دی � دې ښار ته په رسېدو او دَ ښار په لور په جهاز کې سفري وسوسې ، وهمونه ، فکرونه او اندېښنې چې افضل شوق دَ پرېشانيانو او ذهني کوفت سره مخامخ کوي .. نو هغه داسې ګڼي لکه هغه چې دَ يو أوږي آدم خوره اژدها په خلې کې ور کوزېږي � خو چې ځنګه هغه بنکاك ته رسي � نو دَ تهائي کلتور، ژوند او دَ شپې په رڼاګانو کې دَ خپل سيوري نه هم داسې محرومه شي چې بيا ځان ورته هم په لاسو نه ورځي � هم په دې خو اکثرو نقادانو دَ افضل شوق دَ تهائي لېنډ په دې ورمبي سېل ، بلکه بيا بيا ورتګ په سبب ګوتې اوچتې کړې دي � او داسې تبصرې يې هم په محفلونو کې شوي دي .. چې دَ افضل شوق تګ تهائي لېنډ ته دَ ذاتي اغراضو دَ تسکين نه سېوا بل هيڅ نه وي � خو چې کله ما دَ افضل شوق تهائي لېنډ ته درې واړه سېلونه چې هغه " دَ تهائيانو په کرانګ تهيپ کې " نه علاوه " هلته .. چرته چې لمر دَ شپې راخېږي" او " خوب مې ليدو .. خو ويده نه وم" بابونو کې يې نه يواځې په شاعرانه او افسانوي انداز دَ سېل حال او واقعات رقم شوي دي .. بلکه په قدم قدم افضل شوق دَ يوې نوي ډرامې دَ يو اهم کردار په توګه "رول" داسې په بې ساختګۍ لوبولی دی چې ځای په ځای دَ خپل ذات ، شخصيت او نوم يې نفي هم کړې ده � يعني هغه دَ تهائيانو دَ کلچر پوره پوره احاطه په دې پورتنو درو واړو بابونو کې داسې آزادانه او منصفانه انداز کې کړې ده چې که څه هم ځان دَ هرې موقعې ګواه يا راوي ثابتوي .. خو دَ هاغه موقعې برخه هم ګرځېدلی دی � نو ځکه دَ تهائي لېنډ دَ تفصيلي مشاهدې کولو ورسته ليکي ، چې..

"منم .. چې چرته ښځې خپل مخته آزادي پرېښول شوي دي ، هلته په نريناوْ باندې دَ ژوند بار ( په معاشي توګه) کم شوی دی � خو دغې آزادۍ دَ کور تقدس او دَ خوشحالي کورنۍ تصور دَ

ميانځه اوړی دی � ګوا نرو نر دَ دی پاتې شوی او ښځه ، ښځه نه .. ولې چې دواړه په خپلو کې اول خو رشتې ساتلو ته تيار نه دي او که دي هم، نو ترون يې په داسې نازك سپنسي شوی وي � چې شلېده يې ګرسره وخت نه غواړي � او بل دا چې چرته دَ ښځې دَ ژوند اختيار دَ سړيانو په لاس کې دی � هلته نه يوازې ښځې ته په درنه سترګه کتل شوي دي بلکه سړيانو هم قدر موندلی دی"

)شوق - " اووه ګامه مزل " مخ � 139(

دَ پورته ذکر شوو خبرو نه دَ افضل شوق مطلب دا نه دی چې .. هغه دَ ښځو دَ آزادۍ خلاف دی � بلکه هغه ښځه .. ښځه هم ليدل غواړي � داسې نه لکه تهائي ښځه ، چې دَ هغه په قول هغه .. تش دَ پيسو مشين هومره حېقيت

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



لري � دا هغه نقطه ده، چې افضل شوق حقيقت پسند څرګندوي � ولې چې هغه هر ې معاملې ته په دې سفرنامې کې ګوتي نيولي دي .

په وړمبي ځل دَ افضل شوق غلطياني فطري ځکه دي چې هغه په وړمبي ځل يو داسې ماحول سره اشنا شوی وو � نو هم په دې هغه دَ خپل پښتني صداقت نه کار اغيستی دی او مصلحت يې شاته غورځولی دی � دغه خو زما په خيال دَ يو ريښتونی اديب ادبي انصاف کېدلی شي � چې هغه څه ويني يا څه اوري يا پرې څه تېرېږي .. هغه ټول هم هاغسې په اخلاقي پيرائيه کې اوليکي .. لکه څنګه چې افضل شوق په هنر دا کار سر ته رسولی دی ..!! هغه دَ يو چا خبره.. چې " کلب کې دَ جمات خبرې او په ډسکو کې دَ ادب خبرې غېر فطري دي " ځکه خو افضل شوق دَ ستائينې وړ دی � او دَ هغه هم دغه صداقت او ريښتوني انداز ته داد ورکول په کار دی � دا هم هاغه بابونه دي چې افضل شوق په وړمبي ځل مصلحت ته دَ منافقت نوم ځکه ورکوي � چې هغه پوهی وو، چې دَ هغه وَ دې رښتياوْ ته به نالوستي نقادان ضرور ګوتي نيسي � او داسې او هم شو � يعنې څوك چې هم په پښتو كې څومره نالوستی اديب يا نقاد وو .. هغه په هغسې شدت دَ افضل شوق دې انداز غندنه اوکړه � خو چونکه دلائل دَ هيچا سره نه وو .. نو ځکه دَ دې باوجود هم دَ افضل شوق دې سفرنامې ميدان اوګټلو � او اوس داسې محسوسېږي .. چې لکه دا سفرنامه ورځ په ورځ نوره نوره مشهوره کېږي � وجه يې تش دا ده ، چې څمونږ نقادان هم اوس رو رو دَ آفاقي ادب او دَ هغې دَ تقاضو سره بلدېږي � نو ځکه هغوئ دَ افضل شوق دې کاوش ته سلامي کېږي � ولې چې يو خو افضل شوق دَ علاقايت او مقاميت نه بالاتر ليدی شي او بل هغه دَ خوشحال بابا په لاره روان يو رښتونی شاعر او ليکوال دی � داسې ځکه وايم .. ولې چې څوك به داسې وي ، چې هغه به خپله کردار کشي کوي .. بغېر دَ افضل شوق ، چې خپلو ادبي فن پارو ته يې حقيقي رنګ ورکولو په نيت خپل ځان او ذات په وار وار لوګی کړی دی � ولي يوازي هغه؟ دَ دې ځواب کېدلی شي چې افضل شوق خپله هم ورنه کړي چې هغه ځان ته دَ قام سترګې ، دَ قام ضمير، دَ قام زړه .. غوږونه، لاسونه او لاسونه وائي .. چې شاعر دی او ورسره ليکوال هم!!..

دَ "يوپا" نومې تهائي جينۍ سره دَ هغه جذباتي تړون چې دَ افضل شوق په بنې کې هغه دَ خپل مړه مېړه څېره ګوري .. يو داسې افسانوي قيصه ميانځ ته راولي ، چې لوستونکي يې په لوستلو حېران پاتې شي � ولې چې دا قيصه چې څنګه دَ پښتني او انساني جذبې په تول تللی شوي ده .. هغه شايد چې دَ افضل شوق دَ نوم نه بېله شي � ولې چې افضل شوق دَ " يوپا" سره مينه فقط دَ انساني همدردۍ په بنياد کوي .. نه چې دَ هوس دپاره � په پورتنو درې واړه بابونو کې بلا ډېرې خبرې شته � خو زه دا يو څو خبرې دَ تهائي لېنډ په حواله قارئينو ته دَ راپيدا شوو سوالونو په ځواب کې اوليکم �

"چرته چې لمر دَ شپې راځېږي .. نو حقه خبر ده چې هلته به خلق دَ ورځې دَ رڼاګانو نه نه يوازې بې خبره وي بلکه دَ کار او زيار نه به هم تنګ وي � هو.. دا دَ هغې پټايا بيچ خبرې دي چې ځانته دَ شپې دَ ژوند په اړه په درستي نړۍ کې ساری نه لري � دلته دَ ښځو راج دی .. نران شته په کې ، مګر دَ ښځو تر واك دلاندې � دا بېله خبره

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ده چې ظلم بیرته هم نران وربانديږ کوي او هغه هم دَ ښځو په خپله خوښه � هم ځکه خو دَ نړۍ دَ هر هېواد نه ډک ډک جهازونه، که څه هم خالي کېږي په بنکاك کې .. خو مخه یې دَ خلقو دَ پتایا بیچ په لور وي"

)شوق - " اووه ګامه مزل " مخ - 125(

اوس که مونږ اوګورو ، نو په پورته لیکلی شوؤ تجزیاتي خبرو کې کومه داسې خبره میانځ ته راغلې ده .. چې هغه اخلاقي حدونه کراس کوي � زما په خیال چې په دې کې افضل شوق چې څه لیکلي دي .. هم دغه رنګ شهرت تهائي لېنډ لري هم � په دې خو دَ مشر ادیب سعدالدین شپون په حواله یوه خبره مشهوره ده � چې هغه نه یو چا په بلوچستان پشین کې یا پېښور کې دَ پشین یو ادیب پوښتنه کړې وه ، چې شپون صاحب !! دا افضل شوق څه لیکي په سفرنامو کې ؟ نو هغه ورته په ځواب کې وئیلي وو .. چې دغه رنګ به یې لیکلو او بیا یې ورته وئیلو، چې تاسو افضل شوق تهائي لېنډ ، سنګاپور یا یورپ ته لېږئ .. او حال ورنه دَ پشین او لورالائي اخلئ � او واقعي هم دغسې روئیې ځمونږ په تنقید کې هر چرته لیدلی شي � یعنې خبري به دَ اسمانونو کوي ، خو خبر به دَ خپل کلي دَ حال نه هم نه وي � دَ افضل شوق دَ دې دریم متنازعه ګام دَ مزید وضاحت دپاره دَ هغه دَ طرف نه لیکلې شوي دا لاندېنۍ پېره وړاندې کوم �

"که څوك انسان تر ځناوره هم په بد او لړلي حال کې لیدل غواړي ، نو هغه دې په خپل ژوند کې یو ځل خامخا تهائي لېنډ ته په چکر شي � خپله به یې په سترګو اووینې ، چې دَ عظمت په جامه کې پټ انسان چې کله خپلې مخې ته ابله کړلی شي، نو دئی څومره په اخلاقي توګه اولوېږي � خبره دا نه ده، چې ګوندي دَ دې هېواد خلق په ښو او بدو نه پوهېږي.. بلکه زه فکر کوم چې دا هر څه دلته دَ کسته کېږي � څوك یې کوي ؟ څله یې کوي؟ او دَ چا په ضد یې کوي؟ دَ دې خبرو ځوابونه به هغه وخت مخې ته راشي ، چې کله دغه تهائي هېواد دَ نیمې نړۍ دَ خلقو دپاره دَ مرګ دَ فرښتې پرته دَ اول یا دویم نمبر بادار حېثیت اومومي "

)شوق - " اووه ګامه مزل " مخ _ 49(

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دَ شوق څلورم گام

په دې باب کې سفرنامه نگار خپل څلورم گام په ایران کې ایښودی دی � چې ورته افضل شوق ښکلی هېواد وائي او په دې یقین یې دَ خپل درست سفر سر ته رسولی دی چې گني " هلته سترگې غړېږي"� په ایران کې دَ افضل شوق دَ زمیني سفر دَ سترپاوْ حال او دَ جمعه خان کاکړ سره دَ ملگرتیا کولو او هغه سره بېلو شوخو لهجو کې مکالمه نگاري وړاندې کول په ډېرادبي هنر کې شوي دي � په ایران کې دَ افضل شوق دلچسپي او دَ هغه ځای دَ خلقو دَ روئیو، خوئیونو، عادتونو نه دا اخذ کوي چې که څه هم په ایران کې اسلامي انقلاب دی .. دَ ښځې په تصویر وړلو او ځان سره ساتلو باندې هم بندېز دی ، خو بیا هم خلق دَ شاه په حق کې زیات ښکاري � نو ځکه خو شوق اُمید څرگندوي چې کېدلی شي .. ډېر ژر دَ نوي دور مسته او شوخه هوا راوالوځي او ایران بیرته دَ شاه په ځولی کې واچوي � کله ؟؟ او څنگه ؟؟ دا سوالونه ځواب طلب ضرور دي � خو که مونږ لږ غور او فکر اوکړو.. نو ځوابونه به دَ افضل شوق په علامتي خبرو کې هم په دغه باب کې موجود پیدا کړو � خو زه چې دَ هغه په دې خبري پوهه شوي یم .. هغه دا ، چې هغه دَ ایران مستقبل هم دَ افغانستان په رنگ دَ امریکې په ځولی کې ویني گوري � ولې چې افضل شوق دَ نورو خلقو دَ رائیو اغیستلو علاوه یو ځای کې دَ یو داسې ایراني عسکر سره هم خبري کوي.. کوم چې دَ خپل هېواد او نظام نه تنگ ښکاري � اوس چې دَ وطن محافظ هم دَ وطن ښه نه غواړي .. نو انجام دَ هغه وطن به یقیناً چې دَ افضل شوق په دې پورتني سپلاني بصارت کې لیدی شي � ولې چې هم دغه رنگه خبره هغه دَ افغانستان دَ مستقبل او خاصکر دَ آثارو چې په کې دَ بامیان دَ بُت ورانولو توقع هم شامله وه .. په باب هم څه اووه یا اتهه کاله اَگاهو په دې سفرنامې کې کړې وه .. کومه چې ثابته هم شوه � او پښتون وطن دَ تاریخ هغه یوازیناَ بُت هم دَ منځه لاړو � دې نه انکار نه شي کېدلی چې .. دَ یو مطالعاتي تجزیه نگار نه دَ یوه سپلاني تجزیه ډېره کارآمده ده � ولې چې یو سیاح چې کومه خبره کوي .. هغه دَ حقائقو او مشاهدو په رڼا کې کوي � هم ځکه خو هغه تجزیه دَ سبا دپاره تاریخي حېثیت لري � لکه نن چې دَ کوبلا ئي خان یا کولمبس یا ابن بتوطه په لارو باندې دَ قومونو دَ تاریخ تصدیق رابرسېره کېږي �

دَ ایران په سفر کې که افضل شوق دَ اوسني ایراني رواجي کلتور په باب څه تنقید کړی دی او په دې ملك کې " دَ لنډې مودې دَ شرعي واده " یې نه یواځې غندنه کړې ده بلکه دا عمل یې دَ تهائي لېنډ دَ " لېډې هوم " سره هم مقائصه کړی دی � کوم چې ایران پرستو نقادانو دَ خپل عزت مسئله اوگڼله او هغه یې ښه اوغندلو � خو هغه له خپلې خبري نه تر شا نه شو � او وائي ... چې ما څه محسوس کړي دي ،، هغه مې وړاندې کړي دي � اوس که یې ستائیئ او که یې غندئ � نه تش دا .. بلکه بل خوا ته دَ لیدلي خوب عبرتناکه مناظر چې څنگه په علامتي پېرائیه کې قلمبند کوي � هغه دئی یو ښه لیکوال ثابتوي � ولې چې دَ اسلام موضوع ډېره حساسه ده او تنقید وربادنې هیڅ یو مسلمان او پښتون نه شي برداشت کولی � او افضل شوق هاغه لیکوال دی چې دَ خوب په بې تعبیره اشارو کې یې دَ ایران اوسنی اسلامي انقلاب په ډېر ښائسته انداز غندلی دی � خو بیا هم یو نقاد افضل

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوق ته گوته په دي نشي نيولی .. چي هغه خو يو خوب بيان کړی دی � او په خوب کي خو هر څه ليدلی شي � راشئ چي دا يو څو خبري دَ هاغه خوب په تنقيدي نظر اوگورو چي په صفحه نمبر 81 کي رقم شوي دي

-"نو لاس تړلی يي يو ميدان ته راويستم � په ميدان کي بېخي زيات خلق په تورو جامو کي ناست وو ، او ټولو ماته کتلو � زړه ته يو دم دا خبره راغله، چي بس اوس مي په پهانسۍ ته مي خېژوي-

خبره چي تر دي ځايه اورسېده ، نو کاکړ لکه ديغ شوی چي وي .. راته وائي ،

-او بيا يي پهانسۍ ته او خېژولې .. هان .. دغسي وو ، که نه ؟؟

ما وئيل..

-نه .. هلته په ميدان باندي نه خو دَ پهانسۍ انتظام وو او نه دَ سر قلم کولو دپاره تخته او ساتول � بلکه په سټېج باندي دَ درولو سم دستي يي زما لاسونه خلاس کړو � دومره خوشحاله وم ،چي پوښتنه مه کوه � مگر دا خوشحالي مي سر ته نه اورسېده ، ولي چي....

ما به خبره مخته کوله، چي جمعه خان راباندي غږ اوکړو..

-ښه ښه .. وايه

ما په خوب کي ورته وئيل..

-مخته به څه نا څه خامخا وو.. بس که تا نه وی را غږولی "

اوس دي پورتنۍ مکالمي ته که لږ په ځير شو .. نو دا به منو، چي افضل شوق په علامتي پېرائيه کي دَ واقعاتو اظهار ډېر په هنر کولو فن لري � دلته په خوب کي چي هغه کومي خبري کړي دي .. هغه خبري که په ويښه اوشي ، نو نقادان به ورپسي داسي اولگېږي، چي هغه به ورنه ځان خلاس نه کړي � نور په ايران کي څه دي ؟ دَ افضل شوق په دي لاندېنۍ خبرو کي يي ليدلی شئ�

"په ايران کي اسلام هم شته او اسلامي قانون هم � لاکن گوره چي خلق ورنه دَ فرار لاري ځله غواړي؟ چرته دَ تاريخي سېکولر ايران دَ ميانځه تگ خو بي وخت نه وو شوی � او يا کېدلی شي ، چي خلق يي تر اوسه په ذهني توگه دي نظام منلو او قبلولو ته تيار نه وي � هرڅه هرڅه، خو دَ سپلاني دپاره دَ سترگو وړاندي ښکاره ايران په هره اړه ساری نه لري � په ښکاره دَ ژوند کولو طرز دلته په هره معنا کي مغربي وزمه دی ، خو رښتيا خبره ده ، چي دی نه � ولي چي مغربي تقاضي لا سمي نه پوره کوي "

)شوق - " اووه گامه مزل " مخ � 69(

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دَ شوق پنځم گام

افضل شوق خپل پنځم گام په کال 1993کې دَ " جمال په درشل کې" ایښی دی � او دغه دَ ښائستونواو دَ جمال درشل .. هغه وَ ترکي ته وائي � دَ ایران نه دَ ترکي په لور دَ سېل کولو په وخت هغه یواځې نه دی � بلکه جمعه خان کاکړ او یو بل نوید پنجابی هم دَ خپلې پېغلې (منگېتره) سره دَ شوق ملگري یاد شوي دي � کله چې هغوئ ټول په بس کې دَ ایران دَ بارډر بازرگان نه دَ ترکي دَ باډري ښار ارض روم په لور پېښه اوکړي .. نو په بس کې دَ ناستو ایرانیانو دَ طرف نه دَ خوشحالۍ دَ بېخي زیات اظهار نه افضل شوق داسې تاثر واخلي .. لکه هغوئ چې واقعي آزاد شوي دي .. لکه دَ قفس دروازه چې خلاصه شي او ټول مارغان ترېنه والوځي � هم ځکه خو دَ خوشحالۍ داسې بې ساخته اظهار شوق صاحب دَ ایرانیانو په خپل هېواد کې دَ ساه تنگۍ سره منسوب کړو او ایران ته یې " دَ سرو زرو دَ قفس " نوم ورکړی دی � او دا هیله یې څرگنده کړې ده .. چې یو بل انقلاب په ایران کې راتلونکی دی � ولې چې په دې بس کې یو هم داسې ایرانی دې وخت خاموشه نه وینې .. بلکه دَ هر یوه په لاس کې بوتل وینې او هر یو گډېدېږي � او په گډا کې دَ خپل هېواد دَ اخوندانو په باب په خپلې ژبې کې څه نا څه هم داسې دَ کورس په انداز کې وائي لکه کنځلې چې ورته کوي �

په دې باب کې افضل شوق دَ ترکي خلقو او ژوند ته آزاد وائي .. په اگره نومې ښار کې یخه شپه ، دَ ترک عسکرانو او کردانو تر مېانځه دَ جنگ دَ وجې دَ لارې بندېدل ، انقره سره تړلې خبرې ، باسفورس بریج او ځینې تاریخي حقائقو ، لکه Anatolian Civilization او دَ Perge City سره منسوب زاړه آثارو په باب ډېرې خوندورې خبرې موجودې دي � خو دَ استنبول ښار چې ورته دَ یورپ دروازه هم وائي .. کې دَ افضل شوق چکرونه په لالېلې نومې ښائسته بازار کې .. او له دې بازار سره تړلې یوه قیصه په علامتي پېرائیه کې دَ لو ستونکي په ذهن کې ډېر سوالونه راپورته کولی شي � دلته دَ شهزادگیانو دَ جذیرې سېل، سرکې جې،کراکوي،گرېنډ بازار، میوزیم، ترك حمام، شین جمات نه علاوه نیم درځن نور جماتونو سېل سره سره افضل شوق دَ خپلو ملگرو سره په "پولې ټورز" کې مصروف او خندنی لیدلی شي � یعنې په دې باب کې چې څومره زیات معلومات موجود دي .. هم دومره زیاتې خنداگانې او ټېروتنې او قیصې هم په علامتي انداز کې موجودې دي ، چې دَ لوستونکي دَ ادبي ذوق او شوق پوره کولو سره سره دَ هغه تفریحي خوند هم سېوا کولی شي � ماته په دې باب کې دَ سفرنامه نگار دَ بیان ژبه ډېره زیاته ادبي ښکاري � یعنې خبرې یې ډېرې کړې دي .. خو په داسې مبهم اشارتي انداز کې چې یو عام یا نا لوستی قاري پرې نه شي پوهېدلی � دا دَ افضل شوق ادبي هنر دی .. چې هغه نوي نوي تجربې هم کوي او دا کوشش هم ، چې مونږ دې دَ هغه انداز خپل هم کړو � داسې اداگانې دَ شوق په شعر او نثر دواړو کې موجودې دي �

افضل شوق که یو طرف ته ترکیان لالچیان او په پیسو ډېر زیات مئین یادوي .. نو بلې خواته هغوئ له پښتنو سره مقائصه کوي هم او وائي .. چې دا خلق دَ پښتنو په رنگ دنگ دي او په روئیو کې هم پښتنې خوږلت او

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



کرختګي لري � ځکه افضل شوق دَ دي خلقو په باب خپله مينه په وار وار رقم کړې ده � دَ ساسيلا سره تړلی خوب او خيال او بيا دَ جمعه خان مداخلت داسې قيصه ده چې ډرامائۍ انداز لري او دغه رنګه قيصې په دې سفرنامې کې دَ کړکېچنو موقعو او واقعاتو دَ وضاحت کولو په نيت ډېري زياتې ليدلی شي � او داسې په ورمبي ځل په پښتو نثر کې مخې ته راغلي دي � لکه دا لاندېنۍ مکالمه .. چې په کې دَ ترکي دَ بې ګامه آزادۍ يو تاثر ليدی شي�

-"نوم دي څه دی ؟

-ساسيلا .. دې وئيل

-ښه نوم دی .. مسلمانه يې ؟

دې وئيل..

-هو ماشاالله

-واده دي کړی دی ، که نه ؟

په ډېره عاجزۍ مي ورنه پوښتنه اوکړه � دا يو وار چپ شوه او بيا وائي..

-يَه .. مګر زه فرېنډ لرم

دا خبره يې داسې اوکړه لکه دلته چې په مېړه او بوائی فرېنډ کې جينکياني توپير نه کوي"

)شوق - " اووه ګامه مزل " مخ � 95(

هسې خو په دې پورته ليکلې شوي مکالمې کې هيڅ داسې خبره نشته چې ابهام پيدا کوي .. او بلکه ډېره واضحه ده .. خو په کې دَ ترکي دَ پېغلو دَ ننني روئيې نه لوستونکي په ډېر هنر خبروي � او داسې ښکاره کوي لکه ترک کلچرچې بېخي زيات مغربي انداز لري � نور په دې باب کې څه دي � مونږ دَ افضل شوق دَ دې لاندېنۍ رائی نه اندازه کولی شو �

"چې تاريخ او غوره تاريخي آثّارو ته اوکتلی شي نو ترک دَ يو مارشل قوم په حېثيت په نړۍ باندې ځان منلی وو� مګر دَ دې قام دَ نن معاشي بدحالي او دَ پيسو سره بې کچه مينه دَ دوئ تاريخي حېثيت ګوره چې څله شکمن غونډې کړې ؟ ولې چې دَ ترکيانو دولت پرستي سړی په دې وئيلو مجبوره کوي چې ( دَ دې هېواد خلق دَ اتا ترک سره مينه په دې وجه کوي، چې په کرنسي نوټ " ليرا" باندې يې تصوير دی ) دَ پاکستان او مسلمانانو سره مينه په

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپل ځای لاکن دلته دَ اتا ترك دَ غوره شوي قانون پابندي کولو سره بل داسې مثالي اسلامي خاصيتونه مې تر سترګو نه شو ، چې دَ نوشته کولو وړ مې ګڼلي وی � هو، که څه هم دَ دُنيا په سر دلته ماجتان بېخي زيات دي"

)شوق - " اووه ګامه مزل " مخ - 85(

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دَ شوق شپېږم ګام

دا باب په جنت الثاني سري لنکا کې اغستلی شوی هاغه شپږم ګام دی چې افضل شوق دَ " جنت څخه لرې جنت تر عنوان دلاندې رقم کړی سفري حال دی � دَ دې باب په شروع کې" دَ پرونۍ ښهرې په لټون " نظم کې هغه دوباره " په لټون ستا دَ ښهرې" کې چاپ کړی دی لیکل دَ قاري په ذهن کې بلا سوالونه رابرسېره کوي � بلکه افضل شوق چې واقعي په دې زمیني جنت کې هاغه څه لټولو کوشش کوي چې هغه په ټول عمر کې په خوبونو، خیالونو، فکرونو، سوچونو کې دَ ځان سره لکه دَ همځولي ساتلې او لوئی کړی دی � خو بیا چې څومره افضل شوق په دې باب کې دَ علاقائي ښائست نه متاثره ښکاري .. نو هومره دَ دې ځای دَ خلقو په حواله زړه ماتی دی � یعنې هغه په ذهن کې دا سوالونه پورته کوي چې که دا جنت ثاني دی او حضرت آدم علیه اسلام هم په دغه هېواد کې په " آدمز پیك" نامې دَ غره دَ څوکې په سر راکوز کړی دی .. نو بیا خو مونږ دَ دې تورو تورو.. نرو نرو او سخا سري لنکنو نه زېږېدلې مخلوقات یوُ .. کوم چې هغه لاجوابه کوي � لاکن بلې خواته دَ حضرت آدم علیه السلام دَ ښپې پل په لیدلو هغه په دې یقین باندې ټینګ هم ښکاري چې واقعي دا پل دَ حضرت آدم علیه السلام کېدلی شي � او ثبوت کې دا وائي چې چونکه په تاریخ کې حضرت آدم علیه السلام شپېته (60) فټه اوږد یاد شوی دی � او دا انساني پل چې دَ غره په سر جوړ دی .. هم پوره پنځه فُټه ، څلور انچه اوږد او دوه نیم فُټه پلن دی � او په دې کې منطقي دلیل دَ افضل شوق صداقت په دې هم رامخې ته کوي چې هر انسان دَ خپل پل په حساب لس، یولس یا دولس پلونو قدرې وي � دَ افضل شوق دا دلیل دَ هغه دا سفرنامه دَ سري لنکا په لور صحیح محقق څرګندوي � په سري لنکا کې دَ خلقو دَ رنګ، خوند او ژوند نه بېزاره افضل شوق دَ سري لنکنو دَ ټولو نه لوئی ښار کولمبو په باب داسې هم لیکي�

"لکه دا چې دَ بل ملك نه دَ پاکستان یو ښار وي � هغه رنګه دوکانونه او مات مات روډونه .. خو توپیر که تر میانځه وو، نو تش دا چې خلق یې تك تور وو او بل دَ جامو په اړه یې ښځې او نران واړه انګریز وزمه هم وو � تر څه وخته پورې یو روډ بل روډ پیاده اوګرځېدو ... دلته بله عجبه که سترګو وړاندې کتو ته نه راغله، خو دَ حېرت وړ خبره دا وه.. چې دَ بس اډې خوا و شا دَ لاټرۍ دَ ټکټانو دَ خرڅلاوْ کاروبار دومره تود وو� چې په کتو ور څخه دَ دې ځای دَ خلقو دَ معاشي بدحالۍ او لالچ اندازه ښه لګېدلی شوه ، چې زما په خیال .. څوك په لاټریانو یا جوارۍ خپل قسمت ګوري .. نو پوهـ شه ، چې لا خو یې کار دلاسه نه کېږي او یا بیا صلاحتونه نه لري"

)شوق " اووه ګامه مزل " مخ � 115(

نه یواځې دا .. بلکه دَ نیګامبو بیچ چرته چې افضل شوق په یو وړکوټي ریسټ هاوْس کې له خپلو پاکستاني ملګرو جمعه خان کاکړ، نصیب ترین او محمدرضا ترین علاوه انګلش دوست جان هوګر او دَ هغه ښځو ملګرو سره استوګن

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



وو .. په اړه هم ډېري دلچسپي قيصې او لطيفې په دې سفرنامې کې دَ لوستونکي زړه او روح خوشحاله کوي � لاکن دلته زه دَ افضل شوق دَ سري لنکا او سري لنکنو په اړه حتمي رائی وړاندي کول ضروري ګڼم �

"دا خو به او منم ، چې سري لنکا دَ سيمې دَ ښائست په توګه په نړۍ کې ساری نه لري � هم ځکه خو خدائی پاك حضرت آدم عليه السلام دَ جنت نه په دې جنت وزمه ځمکه کښته کړو � دَ دې ثبوت دَ ده جوړ پنځه فُټه ځلور انچه اوږد او دوه نيم فُټه پلن پل دی .. چې تر اوسه دلته دَ آدمزپيك نامې غره په څوکې باندې وجود لري � مګر دَ سري لنکنو وَ بُت پرستۍ او تر ټاك اوښتې غرضي ژوند ته چې پام اوکړم .. نو دا سوال په مزغو کې راشي ، چې دَ نړۍ دَ نورو هېوادونو خلق دَ دوئ په رنګ او خوئيو څله نه دي؟ که څه هم په دې خاوري باندې زمونږ جدابجد او لمړنئيو انسانانو ژوند کړی دی "

)شوق - " اووه ګامه مزل " مخ - 109(

## دَ شوق اووم ګام

دا باب " له ښکلا څخه تر ښکلا پوري " دَ انډونيشيا په باب د .. چرته چې افضل شوق خپل اووم ګام ايښی دی � اوکوم چې دَ مسلمانانو ورمبی لوئی هېواد دی � دَ دې هېواد په حقله ليکلي شوۀ خبرو کې دَ توري بيچ خبري ځکه ډېري او خوندوري دي � چې دلته هم افضل شوق دَ ځينو داسې دلچسپو واقعاتو او حالاتو سره تېرېږي چې يو لوستونکی ترېنه خوند اغيستی شي � يعنې افضل شوق دَ انډونيشيا دَ توري بيچ په لور سفر له سنګاپور نه په کشتۍ کې کړی دی � دَ دې بحري سفرچې څومره خوندور دی � هغسې دَ توري بيچ دَ علاقو په حقله هم ډېري موثري خبري په دې باب کې لو ستلو ته موجودي دي � په دې سفر کې دَ انګلش لېډي سارا سره دَ هغه هېلو هائی او لږ ډېر رومانوي او معنوي تعلق نه علاوه څو مکالمې ډېري بامعنې او خوندوري دي �

سارا چې ځانته دَ يو چېريټي هوم انچارج يا نمائنده وائي .. په دې بحري سفر کې دَ افضل شوق دَ يواځيني حېثيت نه فائده اغستلو په حقله چې څومره کوششونه کوي .. هغه دَ افضل شوق په ذهن کې دَ هغې او دَ هغې دَ قام په اړه ځيني منفي سوچونه رابرسېره کوي � او ځواب ته په کوشش کې ښکاري � خو هغه سارا دَ خپلو مکرجنو او فرېبي اداګانو په دام کې دَ هغه دَ راګېرولو پوره پوره کوشش کوي � کوم چې تاسو په توري ساحل سمندر باندې دَ هغه او سارا تر ميانځه په دې لانديني مکالمه کې لوستلی او سوچ کولی شئ�

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



"ځکه خو مې جوړه جوړه خلقو ته دَ حسرت په نظر کتلو او دَ ايکړۍ احساس راباندې غمېدلو � لاکن آ څه وائي ، چې ( بنده حېرانه .. خدائی مهربانه) ګوا، کله چې دَ اوبو څخه دَ يو سايه وان په خوا روان شوم، نو زما دَ څنګه تېرېدونکې فرنګۍ غږ راباندې اوکړو..

-هېلو مسټر

او ما چې ځواب ورېيا کړو، نو دې ځان رانيږدې کړو..

-بخښنه غواړم .. هغسې هم دواړه دَ يوه سايه وان په لور روان يُو.. نو غواړم چې ستا سره څه خبرې اوکړم

-هو .. ولې نه . . ولې نه

او بيا مې سر تر پايه ورته اوکتلو � دا سره سپينه ښځه ، چې دَ سر په ژېړو وېښتو کې يې څه څه سپين وېښته هم شنه شوي وو.. په عمر تر ما غټه ښکاره کېده .. خو بيا هم په ښکاره کړه وړه ډېره زړه خوشحاله ونکې او درنه مونېدله � ګوره چې څه يې په زړه کې ورغلو.. چې په اوږه راځال دَ کڅوړې غوندې خړبخون پرس څخه يې يو کتاب راويستو او وائي ..

-دا البم اوګوره

په تګ تګ کې چې مې څنګه پرانستلو ، نو بيا وائي..

-په دې کې دَ هغو ماشومانو تصويرونه دي چې خپل مخ او شاته هيڅوك نه لري

-ښه ښه لاکن ....

ما به اوس خبره مخته کشوله ، چې دې بيا وار لاس ته کړو..

-دا ماشومان ځمونږ په فلاحي ځانګه کې روزل کېږي

-چرته او څنګه؟

ما پوښتنه اوکړه�

خو، دې په مخ را ايله وېښتان په لاس شاته واړولو او سترګې يې په سترګو کې داسې راته واچولې .. لکه ما چې په خپل اصل مطلب پوهـ کوي"

)شوق - " اووه ګامه مزل " مخ - 162(

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



او مخته داسې ښکاري لکه افضل شوق چې دَ هغې په " اصل مطلب" پوهې شوی هم وي .. خو دَ هغه په ذهن کې دَ انګلېنډ او چېرېتې هوم .. دوه متضاد څېزونه دَ داسې سوالونو په توګه راپورته شو.. چې دَ ځواب په لټولو کې يې دَ هغې سارا سره ملګرې هم کړې ده � اوس که څه هم افضل شوق دَ يو ريښتوني محقق په حېثيت دَ سارا سره ملګرى شوی دی .. خو نقادانو په دې ملګرتيا باندې هغه ته ګوتې نيولې دي � څه هم که په دې درست تعلق کې ماته هيڅ هم داسې غېر اخلاقي يوه فقره هم مخې ته نه راغله .. خو ځيني علامتې اشارې لوستونکی په سوچ کولو ضرور مجبوره کوي � لاکن دا هيڅوك نه شي ثابتولی چې ګني شوق صاحب په دې درست سېل کې يوه هم غلطه خبره کړې وي � نو ځکه زما په ذهن کې دَ خپل نقاد په حقله دا خبره ضرور سر اوچتوي .. چې هغوئ دَ دې سېلاني شاعر په اړه اعتراضات له کومه را غونډ کړي دي .. او که هسې چا څه ورته وئيلي دي .. او هغوئ منلي دي �

افضل شوق چې دَ توري بيچ په دې سېل کې کله په " بيمو" يعنې ټانګه کې له ملګرو سره سېل کوي، نو دَ " ګرې لائن" ټورزم والا ګائيډ په قول دَ انډونيشيا په اړه ډېر زيات معلومات او سنسني خېزې خبرې هم ډېر په هنر په دې باب کې ځاى کړې دي � لکه دَ انډونيشيا په دېرشو زرو ټاپوګانو ( جزيرو) کې دَ اسلام خپرېدل او دَ هندوانو په کلچر کې دَ بې راروى قيصو نه علاوه دَ " اېريان جايا" ټاپو په اړه ځناورې انساني روئيې چې تر اوسه هم دَ رسم او رواج مهمې روئيې يادېږي � نه يواځې دا بلکه دغه خلق دَ دُښمن سرونه دَ هغوئ له وجودونو نه ځکه بېلوي او ځان سره يې محفوظ ساتي .. چې دَ هغوئ په قول بيا کله دَ هغه دُښمن روح هم نه شي دَ هغوئ دُښمن جوړېدلی � او هغه دښمنان به دَ هغوئ تابع وي ټول عمر � دا او دا سې نورې خبرې چې بيا چرته او کله هم ما په نورو کتابونو کې اونه ليدلې .. دلته دَ افضل شوق په سفرنامې کې موجودې دي � هم دغه ادبي هلې ځلې دَ هغه اهميت دَ يو لوئی سفرنامه نګار په حېثيت زياتوي � په دې خو زه ورته په سېل کې غرك ترك سېلاني وايم �

دَ توري بيچ او انډونيشيا په اړه دَ نورو خبرو نه علاوه افضل شوق چې کله بيرته دَ توري بيچ نه په کشتۍ کې سنګاپور ته ځي .. نو په ورستئيو لحظو کې دَ انډونيشيا په توګه داسې رائی قلمبند کوي�

"اسلام او کفر .. دَ ښکاره تضاداتو په اړه تر اوسه لا په انډونېشيا کې دَ يوه بل په ضد .. که ښکاره نه .. پټ په پټه خپل خپل منونکي روزي � ګوا دَ زرګونو ټاپوګانو په دې هېواد کې چې چرته مسلمانان په شمېر زيات مېښته دي .. هلته دَ ژوند کاروبار نه يوازې سوړ، بلکه پټ هم تر سره کېږي � بيا چې چرته دَ هندوانو او سيکولر خلګو اکثريت دی .. هلته ژوند نه يواځې دَ ژوند په رنګه دی بلکه دَ سېلانيانو دَ تفريح دياره زړه خوښونې هم لري � مخته به ګورو چې کوم مذهب او نظريه دَ انډونېشيا ټاپوګان په خپل اثر کې اخلي ؟ هو، که څه هم ښکاري داسې لکه اسلام چې خومره په تېزۍ دا ټاپوګان په خپل اثر کې اغيستي وو � هم هغسې په تېزۍ ورڅخه خدائی په اماني وائي .. لګيا دی "

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



)شوق - " اووه گامه مزل " مخ - 150(

سیده حسینه گل

نوښار _ 25 مارچ کال 2004

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# په لټون ستا دَ څېرې

په لټون ستا دَ څېرې ـــ يوتنقيدي جائزه

) يادګيرنه :- دا کتاب په کال ۲۰۰۳ کې مارکيټ ته راغلی دی او دا شعري مجموعه په کال 2003ع کې دَ حکومت بلوچستان دَ طرف نه په صوبائي ادبي ايوارډ ستائيلی شوي ده(

---

شلمه صدۍ دَ پښتو ادب په حواله دَ رڼاګانو صدۍ بللی شي � ځکه چې هم دغه صدۍ دَ پښتو ادب هاغه روائيتي چوکاټ ته يو غېر روائيتي شکل ورکړو.. خو دَ دې بدلون مقصد دَ پښتو ادب او دَ شاعرۍ هاغه روائيتي اډانې ته څه کلاسيکي يا فني لحاظ سره دَ تبديلۍ خطرې منځ ته راوړل نه وو .. بلکه پښتو ادب او شاعرۍ دَ جديديت په لور خپل منزل پئيل کړو� او په دغه يُون کې پښتو ادب په يو ښېخي نوي بڼه کې دَ فن او هنر په اسمان اوځلېدو � دا هاغه دور وو چې پښتنو شاعرانو اديبانو دَ دغه جديديت دَ يو نوي او تابناکه سباوْن آغاز هم اوکړو � دلته اګرچې دَ خدای بخښلي امېر حمزه شنواري دَ غزل رنګ دَ پښتني کلاسيك سره سره دَ جديديت يو رنګ په غورځنګ خو وو .. چې بيا ورو ورو دَ پښتنو دَ ټولو سيمو شاعرانو دغه رنګ خپل هم کړو او داسې دَ حمزه بابا فکر په يو نوي انداز دَ هر پښتون اديب په هنرې، فکري او تخليقي وجود سيوری سيوری شو � دې سره پښتو ادب کې دَ مقصديت او معنويت يو سماجي تحريك هم راپورته شو چې دَ پښتو ادب او شاعرۍ شکل يې ښېخي بدل کړو.. او داسې دَ انساني سماج ډېرې مسئلې پښتو ژبې او ادب په خپل وجود کې ډېرې په هنر را ونغاړلې ..!! خو دا هم حقيقت دی چې ځمونږ دَ سيمو او وطن سياسي او سماجي حالات هر وخت دَ غېر يقينۍ ښکار وي او دغه حالات چې دَ يو پښتون شاعر اديب او فنکار په فن او هنر چکونه لګول شروع کړي نو دغه ادب او آرټ به يقيناً چې دَ يو نوي سماجي شعور عکاسي کوي �

دلته دَ دغه غېر يقيني حالاتو دَ کبله دَ پښتو ادب او شاعرۍ په جديده قافله چې دَ " تجريديت" کوم يلغار راښکاره شو نو دغه رنګ دَ يو متنازعه بحث او موضوع دپاره يو نوی ميدان تيار کړو � په دې حواله چې کوم نوی او تجريدي بدلون مونږ وينو .. نو دا صحيح ده چې دلته دَ ابلاغ يې شمېره مسئلې هم راپورته شوې .. خو لوستونکی چې دَ کوم خوند او کېفيت سره هم مخ شوی دی .. نو دا هر څه خو په خپل ځای ، خو دَ لوستونکي دَ سوچ او پرله پسې سوچ کولو صلاحيت دَ يو نوي تخليقي، فکري شعور ته دوام هم بخښلی دی � دا هاغه رنګ دی چې دَ هر" قاري" دَ خپل فکري صلاحيت يو امتحان دی � شايد چې دغه نوی تجريدي رنګ اوس دَ مقبوليت په داسې يو مقام دی چې اوس دَ پښتو ژبې، ادب او په تېره تېره دَ شاعرۍ يو مجبوري او ضرورت ګرځېدلی دی � او بې شکه چې دغه رنګ دَ نوۍ نوۍ استعارو ، نوۍ نوۍ اشارو يو داسې هنري وجود پيدا کړو چې هر څوك به يې خپله مني

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



..!! دغه رنګ که ځمونږ دَ پښتو په جدیده افسانه ليدلی شي او که په آزاد تجريدي نظم .. خو دَ دغه رنګ خپل يو کېفيت او خپل خوند دی �

دَ پښتو ادب دَ دې نوي رنګ نه ځمونږ ځوان کهول نېغ په نېغه متاثره ليدی شي � او هسې هم که اومنلی شي نو اوس لکه چې دَ ژوند په نورو چارو کې دَ بدلون ضرورت محسوسولی شي .. نو ادب به څنګه دَ دې بدلون لار نه څاري � ځکه چې دَ ادب او دَ شاعرۍ دَ کومې روائيتي بڼې سره چې مونږ اشنا يُو .. نو دغه انداز او روائيتي موضوعات اوس دَ ژوند دَ دې نوي تهذيبي عمل په څنګ ډېر وراسته او زاړه ليدی شي � ادب اوس دَ ژوند دَ نوؤ غوښتنو سره څنګ په څنګ تخليق کول دَ معنويت او مقصديت يوه لاره ده � په دغه هڅو او کوششونو کې چې مونږ دَ نوي ادب او شاعرۍ جاج اخلو .. نو په دې مد کې ځمونږ دَ ځوان کهول هڅې دَ قدر وړ دي � دَ ښاغلي افضل شوق نوم او کار دَ چا نه پټ نه دی � دې ښاغلي دَ خپل فني او تخليقي اظهار دپاره دَ يو داسې أسلوب ملاتړ کړی دی چې چا ورته څه اووې او چا څه .. خو دَ ده په دغه فکري او هنري رنګونو نه خو څوك سم پوهـ شوي دي .. او نه يې ترېنه انکار کړی دی � او دا ځکه چې دَ ده دغه نوی انداز دَ عام اولس دَ ذهني سطحې مطابق نه دی .. خو دَ يوې تعليم يافته او پوهې طبقې دَ يو داسې معياراو ضمانت يې ګڼلی شو، چې دَ بېن الاقوامي معيار سره اوړه وهي �

افضل شوق که خپله شاعرۍ او سفرنامو کې دَ ذهني، نفسياتي ، روحاني او نفساني مسئلو ذکر کړی دی نو دا يې هم په خپل تخليقي ايجاداتو کې دَ يو نوي روايت بنياد ايښی دی � او دايې ثابت کړي دي چې هغه په مثال دَ آئينې دی او په آئينې کې هر څه په خپل اصل رنګ او بڼه ښکاري � او دا دَ يو رښتوني شاعر او اديب اخلاقي فرض هم ګرځي چې هغه دَ وخت صحيح عکاس ثابت شي � ځکه چې په انساني ټولني کې څه نه کېږي ؟.. هر څه خو کېږي � هم دغه فرض په پښتو کې دې ښاغلي شوق سرته رسولی دی � څه چې يې ليدلي کتلي .. هغه يې ليکلي دي .. خو په اخلاقي او افسانوي يا شعري شېرينه لب و لهجه کې په ډېر هنر او فن په علامتي پېرائيه کې � هغه داسې ځکه کوي چې دغه رنګه موضوعات دَ انسان او انساني ژوند او ټولنې دَ فطري روئيو ، فطري جبلتونو خاصه ګڼلی شي � دَ ده دغه موضوعات په ادب کې راځائيول دَ خپل لوستونکې ذهني او جنسي عياشۍ ته را نيږدې کول نه دي .. بلکه انساني فطرت په يو ډېر سرورناکه کېفيتونو کې په لوستونکو پېژني �

دې سپلاني شاعر چې دَ دُنيا کوم ګوټ ته ځان رسولی دی .. دَ هاغه دُنيا دَ انساني سماج .. او ټولنې په رګ رګ کې ځان ننويستی دی � او بيا چې کله هم خپلې خاورې ته راغلی دی .. نو دَ هاغه دُنيا ښه اثرات يې په ډېر مثبت انداز کې دَ خپل وطن په خاوره او اولس پيرزوْ کړي دي � دَ انصاف او ايمانداری، دَ انسانيت او بشر دوستۍ دَ جذبو په دانه دانه سندرو يې دَ خپل وطن دَ بدامنۍ، بد ديانتۍ، بې انصافۍ او کرکې ماحول که يو طرف ته غندلی هم � نو بل طرف ته يې دَ دې خلقو اندرون په ډېرو معاملو کې په مثبتې انداز ډك هم ښودلی او ستائيلی دی � يعنې هغه غېر جانبداره پاتې شوی دی او ښه ته يې ډېر ښه او بدو ته ډېر بد وئيلي دي � دَ

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښاغلي افضل شوق په دغه کوششونو کې حيقيت دا دی چې په داسې بې حسه انساني ماحول کې دَ مقصديت او معنويت تحريك خو نه شي راپورته کېدلی .. خو دغه يو قدم دَ مقصديت دَ يوې نوي دُنياپه لور ړومبی گام ضرور دی � دَ دې ايکي يواځې رښتوني شاعرافضل شوق ادبي مرام دَ پښتنو دَ اوده فکري شعور نه دَ رواياتو هاغه خپسه پاځول دي .. چې دَ ده تهذيبي پېژندگلو يې دَ خپلو پنجو دلاندي کړي ده � خو دَ ده دغه ټولې هڅې او کوششونه نوي انساني ژوند او نوۆ انساني مسئلو ته په نوي انداز او يو نوي نفسياتي زاويه کتل دي � او دئی دَ خپل دغه انداز واحد يو داسې محرك دی چې دَ خپل اولس په ذهني، فکري او نفسياتي مدونو خور دی � دَ ده هر سفر دَ خپل ذات نه دَ يو داسې سفر آغاز دی چې دَ فن او هنر پراۆنه لري .. دَ مينې او محبت ستومانۍ لري .. دَ همت او استقامت لارې لري .. دَ فکر او نظر آسمانونه لري .. دَ جذبو او احساساتو ښائستونه لري .. دَ يو نوي سوچ ، يو نوي انداز داسې فکري پېرهن دی چې دَ لفظونو ښائسته تن بدن ته دَ نوۆ نوۆ منظرونو شوخې اشارې کوي .. او انساني نظر او فطرت دَ نوۆ نوۆ کېفيتونو سره اشنا کوي .. په داسې ښائسته سفرونو کې چې دَ ده فکري او جسماني وجود دَ کومو کومو پراۆنو نه تېر شوی دی .. ده په خپلو سفرونو کې دَ نړۍ اولس سره دَ خپل ذهني او زميني رشتو يوې يوې تهذيبي رشتې ته دوام ورکول وو � په دغه حواله دَ ده ذات او شخصيت دَ مينې او محبت استعاره گڼل پکار دي �

ماته خو داسې ښکاري لکه چې دَ خپل پښتني سماج ډېر تضاداتو دئی په دغه سفرونو کولو مجبور کړی دی .. چې کله ده دَ خپل وجود او ذات نه دَ سفر کولو اراده کړې ده .. نو دَ دغه درد په په شا ځمونږ دَ وطن دَ سياسي او فکري نظام وجود هم په نظر راځي � او دغه سياسي او فکري نظام خلاف دَ ده ذات او وجود په احتجاج ليدی شي � خو دَ ده دا احتجاج دَ خوند او مزې په دې دی چې دَ دې نه دئی .. يو فکري او سماجي انقلاب ته لار راوباځي .. نه چې ده ته په لاس کې ټوپك ورکوي ..!! ځکه مونږ په ډاډ وئيلی شو .. چې دَ ښاغلي شوق په احتجاج کې بغاوت خو شته .. خو جبر او زور په کې نه شي ليدلی � دغه رنگه دَ ښاغلي شوق شاعری هم دَ هغه دَ مخصوص تخليقي مزاج تر مخه خپل رنگ او خوند لري �

اې دَ لالي دَ مجسم تصور

خيالي پرۍ

بادر جمالي ! وايه

ما به په ځان پسې په غرو رغو کې

لکه سيف الملوك

تر څو ځغلوې؟؟

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



)په لتېون ستا دَ ښېرې .." آخر تر څو؟ " مخ � 57(

"په لتېون ستا دَ ښېرې" دَ ښاغلي افضل شوق دَ هاغه فکري پړاوْنو يو مسلسل سفر دی چې نه يواځې دَ هغه دَ وجود يو فکري اظهار دی بلکه دَ هغه دَ ژوند دَ ژوري مطالعې ، دَ محبت دَ يو ناوياته وجود دَ لتېون يو داسې تخليقي کوشش دی چې په هر قدم يې دَ شاعر رومانوي فطرت دَ مختلفو څېرو سره اشنا کړی دی� دغه ټولې څېرې که هر څو انساني څېرې دي خو دَ هغه فکري او تخليقي رنګ ورته دَ ښاپېرو شکلونه ورکړي دي � او که مونږ په دې حواله دَ دغه انساني څېرو په شا دَ ښاغلي افضل شوق علامتي اپروچ ته اوګورو .. نو دَ انساني څېرو دغه لتېون او څېړنه دَ هغه دَ دې فکري عمل نه مختلف علامتونه جوړوي � دغه علامتونه او شاعرانه استعارې هر لوستونکي ته دَ بې شمېره معنو يو جهان پرانستي � هغه په انساني ټولنه کې دَ مينې وجود او معنې دَ يو ثابت انساني وجود په شکل کې ګوري .. نه چې په يو انساني وجود کې صرف او صرف يوې وقتي جذبې په رنګ کې .. او دا ځکه چې هغه " مينه" دَ امن يوه داسې لار ګڼې چې دَ نړۍ اولس يو بل ته رانيږدې کوي � او دَ دوئ تر ميانځه مادي، لساني او نفسياتي کړلېچونه لرې کوي � افضل شوق که نورو انساني تهذيبونو ته کتنه کوي .. نوهم يې خپل پښتني تهذيب مخې ته وي � دَ دُنيا دَ ترقي يافته هېوادونو اولس او دَ هغوئ دَ سائنسي ، علمي او فکري انقلاباتو په جهان کې ورته دَ خپل پښتني قوم وجود او فکر دَ يوې داسې تتې وړې نقطې په شکل کې برېښي چې دَ هغه دَ شعور او فکر نه ډک نظر يې دَ خپلو رڼاګانو په زور دَ فراخه کولو په هڅه کې ښکاري �

څوك چې ګوري راته

وايم دا به ته يې

څوك چې خاندي راته

وايم دا به ته يې

دا به ته يې

دا به ته يې

دا به ته يې

بس په دغه رنګه

زه په " دا" او " دا" کې

په لتېون ستا دَ ښېرې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ سلو يار شوم

)په لېون ستا دَ څېرې .. " دَ سلو يار" مخ � 145(

اوس که مونږ دَ دې نظم په معنو سوچ اوکړو نو دا به څمونږ دَ فکر او سوچ امتحان شي که ښاغلی شاعر په دې قدم مونږ ستائيو او که غندو يې � دَ يو په مينه بل ته نږدې کېدل که هرجائي توب دی .. خو يو شاعر او اديب دَ دې تهمت نه مبرا دی .. ځکه چې دَ هغه بل ته نږدېکت دَ يوې وقتي جسماني عياشۍ مقصد نه وي .. بلکه په مينه او محبت يو بل ته نزدېکت دَ يوې ښې انسان دوستۍ حذبه په دوام کې ساتل وي �

دَ ښاغلي افضل شوق په شاعرۍ کې دَ څېرې يا دَ څېرو يو مسلسل تکرار په نظر راځي � لکه څنګه چې مخکې هم اووئيل شو چې دَ هغه دغه هڅه په بېلو بېلو موقعو يا ځايونو دَ يوې ښځې دَ وجود راوړنه نه ده .. بلکه دَ ده دغه لېون هاغه انساني څېره ده چې په هر لحاظ مکمله وي � اوس که هغه دَ ښځې وجود وي او که دَ نر .. يا بيا دغه څېرې هغه که دَ نورو علامتونو .. نورو اشارو په شکل کې مخې ته راوړي .. نو دغه اپروچ ته مونږ يو علامتي کوشش وئيلی شو � چې په دغه څېرو کې يې دَ مختلفو علامتي استعارو او اشارو نه کار اغيستی دی � څمونږ دا ډېره بدقسمتي ده چې هر څو که په پښتو ادب کې دَ تخليق په حواله زيات کار شوی دی .. ( دَ معيار خبره نه کوم) خو پښتو ادب لا دَ صحيح تنقيد نه خالي دی � که دَ ګوتو په شمېر څو نقادان شته هم خو دومره سطحي دي چې په اشارو، کنائعو.. نه پوهېږي � دلته به زه هاغه ليکوال يا شاعر اديب ته هم بدقسمته اووايم چې په داسې حالاتو کې دئی په ښکلو ښکلو علامتونو کې دَ انساني ژوند .. دَ انسان دوستۍ او بلا ډېرو انساني او سماجي الميو خبره کوي � خو ادراك نه لري او نه پرې ځان پوهه وي � او بيا بل طرف ته ښاغلی افضل شوق هم په دغسې ليکوالو کې مونږ وينو چې دَ علامت نګارۍ يو نوی انقلابي تحريك يې رامخې ته کړی دی � که چرته دا ښاغلی په بله ژبه کې وی نو ده ته به ذهني عياش نه شو وئيلی .. بلکه انسان دوست او انساني بشر مئين وئيلی شو �

خپله زه دَ خپل ځان دپاره په دې ليکنو يا دَ ښاغلي شوق دَ شاعرۍ او سفرنامو په تنقيدي جائزه اغيستلو هم دَ هاغه خطرو امکانات دَ وړاندې نه وينم چې زه ورسره دَ دې ليکنو نه پس مخ کېدی شم � مقصد مې بيا هاغه ذاتي مخالفتونه دي .. هاغه ذهني روئيې دي چې په داسې حالاتو کې دَ يو نر دپاره هم وي .. نو زه خو لا بيا په تورسرو کې راځم � خو خدای ګواه دی چې دا به دَ هر اديب او شاعر يوه ادبي او اخلاقي بې انصافي او بد ديانتي وي که هغه دَ دغسې ښو تخليقاتو دَ معيار ستائينه او ډاډګيرنه اونه کړي ..!! بل ځما په خيال په دغسې کوششونو دَ پښتو ادب دپاره دَ هاغه بازاري او قصه خواني رنګ ادب مخه هم نيولی شو � چې دَ خپلو ذاتي مفاداتو دپاره دَ پښتو ژبې او ادب شملې ته په سپك نظر ګوري � زما په خيال ضرورت دَ دې خبرې دی چې پښتو ادب په بازاري ادب خپل وجود نه شي شته کولی � که چرې مونږ دَ خپلې ژبې او ادب دَ ژوندي پاتې کېدو دپاره سوچ کوو نو داسې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ادب به وړاندې راولو .. چې وخت او زمانه په خپله دَ هغې دَ معيار تړاکنه اوکړي .. او تاريخ ورته په خپلو پاڼو کې ځاى ورکړي � افضل شوق هم دَ دې سوچ لاندې ادب ته اوږې ورکوي .

افضل شوق، دَ نن دَ انساني روئيو نه مطمئين نه ښکاري او انسانان په ځناوري خويونو کې لړلي بولي .. انسانان ، که هغه دَ پښتني بڼه لري او که دغه انسانان دَ مغربي نړۍ نه تعلق لري .. چې ځانونو ته مثالي انسانان وائي � ځکه په دې کتاب " په لټون ستا دَ خبرې" کې دَ شلمي او يويشتمي صدۍ انسان ته غرضي او غرئيز ځناور هم په بلا ډېرو نظمونو کې وئيلي شوي دي .. خو په ډېر شعري هنر په علامتي اشارو او کنائعو کې .. لاکن په دې لاندېني نظم " دَ نن انسان او..؟" هغه ډير زيات ډائرېکټ شوى دى او په صفا تورو کې واې ..

"څومره چې بد غواړي

دَ بل دپاره

هغومره ښه کوي

دَ ځان په حق کې"

دغه خاصې لري نن

هغه انسان،

دَ چا په سر باندې پرون

چې ابليس،

له فرښتې څخه شېطان اوختو

)په لټون ستا دَ خبرې .. مخ _168(

افضل شوق ، چې خپله هم دَ نن انسان دى .. دَ انسان په اړه داسې رائيې دَ انسان دښمنۍ دَ مخې نه کوي .. بلکه ځان هم دَ دې انساني جهان وګړى ګڼي او په داسې غېر انساني حرکتونو او روئيو شرمندګي کوي � هغه ، انسان دَ انسان په بڼه کې ليدلو خوب دومره سترګى کړى او چيچلى دى .. چې په خبرو کې يې تراخه دَ رښتيا وئيلو تر حده ځاى شوي دي � خو بد بيا هم په هيچا ځکه نه لګي چې هغه صحيح واي .. او دَ زړه خبرې راوباسي .. ځکه خو په زړونو ښې او خوږې لګي � داسې محسوسېږي چې هغه دَ يو ښه رښتوني شاعر سره سره يو غېر جانبداره

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



مورخ په حېثيت په ډېر هنر او په ډېر اختصار واقعات او مشاهدات نظم کړي دي � کوم چې دَ سبا تاريخي حوالې جوړېدلی شي �

په " لټون ستا دَ څېرې" کې دَ زمانې او انساني ښو او بدو روئيو دَ څېړلو علاوه شاعر دَ لفظونو ښکلي شيش محل کې هم هر وخت دَ دَ هغه نالېدلي محبوب سره دَ مينې او محبت په خوږو، پستو خبرو دَ خپل خيالي او فکري لټونتوب اظهار کوي � او دا ځکه چې دَ څه وخت دپاره هر شاعر اديب دَ فن دَ بناوټي ژوند نه دَ خلاصون لاره ګوري ، نو په داسې حالت کې دَ خپل فکر او تصور په ښکلي نشه کې دَ څه وخت دپاره لاهو شي � خو دَ يو محبوب لټون دَ لټونتوب دَ يو پرله پسې حالت او کېفيت په کړاوْنو کې شوق صاحب دَ شروع نه تر آخره ګېر ښکاري � او هغه هم يو داسې محبوب .. چې خيالي محبوب محبوب دی او په حقيقي ژوند کې يې هيڅ تصور موجود نه وي � دغه خيالي پيکر دغه شاعر او فنکار دَ خپل فن او هنر په ګوتو جوړ کړی وي �.. هغه يو داسې مثالي جانان وي چې دَ ده دَ خوښې او مرضۍ وي � او بيا دغه کېفيت دغه شاعر اديب په حقيقي ژوند کې هم په دغه رنګ څېره پسې سرګردانه ګرځي � په دې تکل کله چرته ځي .. او کله چرته � ځکه چاته ګوري او کله چاته � دَ خيال او فکر او بيا په صحيح معنو کې دَ ژوند دپاره دَ يو داسې " نا ليدلي اشنا" لټون دَ ښاغلي افضل شوق جذبه هم ده .. لکه خپله چې په دې نظم "اشنا زما څه نا اشنا غونډې دی" کې له ځان نه دَ دې لټون په اړه داسې دَ لټونو په شان تپوس کوي .. چې دَ لوستونکي په ذهن کې بلا سوالونه پورته کوي .. خو دَغه سوالونه په ځواب کې نورو سوالونو ته لارې پرانستي�

تر څو به لار

څارم دَ هغه اشنا

چې زه يې

خپله لا هم نه پېژنم

ځکه چې ما کله

ليدلې نه ده

دَ سر په سترګو

خو ساتم يې زړه کې

په مينه مينه همېشه

لکه خدای

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



)لېون ستا دَ ښېرې.. مخ _46(

## دَ عالمي ادبي معيار په رڼا کې

ـــــ افضل شوق

دَ کور نه چې يو بنده دَ خپل محلت کوڅې ته اوځي .. نو هم دَ هغه په ذهن کې دَ ګاونډيانو سره دَ وخت تېرولو دپاره هغه بنده په دې مجبوره کي چې دَ هغوئ طريقې خپلې کړي � نو چرته افضل شوق ، چې دَ پېرې په رنګه يې نيمه نړۍ کې خپل وزرونه ټپولي دي � لازمي ده چې هغه به هم ډېر څه دَ نړيوالو نه زده کړي وي .. هم څکه خو دَ هغه اکثره افکار او موضوعات مونږ په ډېر سوچ او فکر کې اچوي � او مونږ ته يې هر څه عجيبه هم ښکاري .. خو چې لږ ورته په ځير شو .. نو دا هر څه يې عجيب نه .. بلکه هغسې زاړه دي.. هغسې توري دي ، چې هر شاعر يې استعمال کې راولي .. خو دَ افضل شوق دَ وړاندي کولو طريقه نوي او نابلده په دې وجه ده � چې هغه جهان ګشته او ورك سپلانې دی� ځومره چې هغه په روايت پسندو شاعرانو، ليکوالانو او فنکارانو کې دَ اجنبيت ښکار دی.. هغسې دئ دَ پښتو دَ شمله اوچته ساتلو په غرض دَ اغيارو سره په مقابلې کې ليدلې شي � يعنې هغه دَ نورو ژبو سره اوږه په اوږه دا خواره او شاړه پښتو ليدل غواړي �

غرض دا چې ښاغلي افضل شوق دغه فکري او تخليقي شواخون ځمونږ دَ نن انساني چاپېريال انساني روئيو ، انساني الميو په لور داسې دَ شعور نه ډکه کتنه ده .. چې دَ نن دَ انسان ژوند دَ غمونو ، فکرونو، وسوسو او سوداګانو تسلسل دَ وختونو او زمانو سره تړلې ساتي �

دَ افضل شوق په شاعرۍ کې دَ جمالياتي شعور داسې نخښې نخښانې او نقوش لېدلې شي چې په کې دَ علاقايت نه عالمګيريت زيات دی � هغه که پښتون نه هم وی ..نو هم دَ هرې ژبې شاعر به ښکاره کېدو� هغه دَ قبائليت ، مقاميت او دَ جهنډو په سيورې کې دَ غرضي سياست نه بالا تر سوچ مالك دی .. هغه مينه خپل مسلك او امن خپل مشن ګڼي .. هغه انسان دَ انسانيت په تله تلل غواړي .. نه چې دَ نفرتونو دَ لاري لاروی جوړېږي � دا چې په پښتو کې ليکي .. هم پښتون دی � هغه پښتون په خلاګانو کې ليدل غواړي .. هغه پښتون دَ مخته وتو قامونو سره قدمونو سمولو په حېثيت کې ګوري �

دَ هغه ګيله هم دَ ناز ګيله ده .. دَ هغه خفګان هم دَ ناز خفګان دی � يعنې کله کله په مينه کې تراخه او کله بېلتون کې خواږه لټوي � هغه په غېر شعوري توګه دَ کائنات سره نږديکت غواړي � نو هم ځکه خو هغه په سفرونو کې ورك سپلانې دی او شاعرۍ ته يې دَ خپلو مشاهدو رنګ په ډېر هنر او خوند ورکړی دی � ولې چې هغه په دې خبره يقين لري چې دَ خواري پښتو دَ ادبي ښېرې نه دَ مودو مودو هغه پرتې خاورې لرې کول په کار دي � چې دا ښېره دَ دُنيا دَ سترګو وړاندې سپېره سپېره ښائي � نو ځکه هغه هڅې کوي چې دَ نوي نظام او

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



نوي زماني سره دَ پښتو دَ ادبي روئيو مطابقت پيدا کړي � او افضل شوق په زړه کې دا ويره هم لري چې .. چرته دَ پښتو دا ننني‌ تته څېره دَ رواياتو په ګرذونو کې ورکه نه شي

دا هرڅه چې ما پورته رقم کړو .. هغه ټول څه دَ جهان ګشته انسان خاصه کېدلی شي .. نه چې دَ هغو خلقو، چې دَ شوق صاحب په قول " دَ ځان او دَ مکان قيديان دي" � نو ځکه دا دَ درست جهان په لا محدود سرحدونو کې بې وزرو مارغه افضل شوق هر شاعرانه انداز دومره دَ نورو پښتو شاعرانو نه بدل او منفرد دی .. چې ښکاري لکه هغه چې په پښتو ژبه کې جرمني ، انګرېزي ، عربي يا فرانسيسي ليکي � خو دَ خوند او دَ مزې خبره دا ده .. چې دَ هغه په ليکنو کې داسې پښتني محاورې ، استعارې او کلتوري متلونه په نوو نوو پيرائيو کې نغښتې رانغښتې ليدی شي چې .. لکه هغه چې يو ساده اوکليوال پښتون دی � او زما يقين دی .. چې هم دَ هغه دَ شاعرۍ دغه روح به دَ راتلونکې هر دور او هرې زمانې نه شاباشی اخلي ..!! ولې چې دَ هغه .. هم دغه جديديت او انفراديت به دَ پښتو سباوْن روښانه ساتلو جوګه کېږي �

دا خو شوې دَ ښاغلي افضل شوق دَ شاعرۍ په حواله يو سرسري نظر چې دَ دې مونږ دَ هغه دَ لوړ انساني فکر او شعور احاطه نه شو کولی .. بلکه دَ هغه دَ يو څو منتخب غزليه اشعارو او څو نظمونو په ثبوت به دَ هغه دَ فن يوه تفصيلي جائزه وړاندې کړو � چې داسې دَ فکر او نظر مئينان دَ هغه دَ فن دپاره دَ يو ښه ادبي او آفاقي معيار ټاکنه اوکړي �

لکه څنګه چې دَ دې ليك په تمهيدي بيان کې هم دَ ښاغلي افضل شوق دَ شاعرۍ ځينو آفاقي موضوعاتو ته اشاره شوې ده � او دَ هغه دَ شاعرۍ دغه موضوع .. يعنې آفاقيت، هغه دَ خپل دور دَ ډېرو ښو ښو شاعرانو نه افضل کوي � هغه په دې چې دَ ده دَ شاعرۍ بنيادي موضوع ی" انسان" او " مينه" ده ... هغه انسان چې دَ انساني مينې ، محبت ، رواداری ، شرافت ، عزت او خلوص دَ لارې اشرف المخلوقات بلل کېږي � او دغه انساني قدرونو انسان دَ ځناورو نه بېل کړی دی � کوم انسان ؟ .. دَ کومې سيمې انسان؟ .. او په رنګ تور، سپين او که سور انسان ؟ مونږ په ډاډ دا وئيلاَ شو، چې يو ادب او شاعري چې کله هم دَ رنګ ، نسل ، مذهب ، علاقې او نظريې کې ورګېر شي نو آفاقيت ورنه اوتښتي � ولې چې ادب دَ " انساني ژوند عکاس" بللی شي .. داسې انساني ژوند ، چې په کې انسان په هر لحاظ انسان ښکاري �

داسې خو افضل شوق .. چې خپله هم يو ښه پښتون دی .. په پښتو کې ليکل کوي او دَ پښتنو په نوم مينه ليکي � خو دَ هغه په شاعرۍ کې دَ لامحدود مکانيت او مقاميت فکري رجحان علاوه دَ انسان دَ افضليت تنده هم محسوسېږي � هغه ځکه .. چې پښتون که هر څو پښتون شي .. نو انسان خو به وي کنه � او هم دغه خو دَ سېلاني افضل شوق اصل خوب او مرام دی � چې هغه پښتون هم دَ داسې انسانانو په قطار کې ولاړ اوګوري .. چې دَ انسانيت په معراج باندې ليدی شي � او دَ افضل شوق دا لا ندې ليکلی شوی دَ اوو وړکوټو مصرعو مختصر نظم

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



" سجده" دَ هغه دَ انسان سره مينه په آفاقي علامتي پيرائيه کې ځومره په خوند اواختصار څرګندوي؟ راشئ چې لږ ورته په ځير شو�

خپل مې ګڼې

که نه ګڼې

خو ياره!!

ما دې دَ خيال

په هر مندر کې بُت ته

لکه هندو

تل سجده کړي ده

)په لمون ستا دَ ښېرې .. مخ _191(

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## په لټون ستا دَ څېرې

ــــ دَ منتخب غزليه اشعارو کره کتنه

دَ افضل شوق په دې شعري مجموعه کې هسې خو څه پاوْکم دوه سوه وړوکي آزاد نظمونو دي .. خو شپاړس غزلې چې هره غزل يې په څلورو اشعارو مشتمل ده .. هم موجودي دي � نو راشئ چې وړمبی دَ ځو غزليه شعرونو تنقيدي جائزه واخلو � او اوګورو چې دې شاعر دَ " شلېدلي امېل " تر دې بلې شعري مجموعې " په لټون ستا دَ څېرې" څومره غزل مخته بوتلی ده ..؟ او دا هم اوګورو چې دَ هغه په شعريت او فکري روئيو کې څومره بدلون راغلی دي ؟

ګمان مې نه کېږي چې موږ به مې کړي
ته په فطرت ژونده ..!! سارا يادېږې

پېلامه چې دَ امن دَ سيوري نه وي
نو دي هغه سپين مارغه په اور پسې شي

دلته اروا په ما کې ستا چې ما په ژوند پاروي
هلته له ځانه اووځم ... چې راورېږې په زړه

ګوره چې څه به کوې ته ، چې زه په نره لا هم
غم په سګرېټ غلطوم ، چې راورېږې په زړه

ستا دَ بدو په ځواب کې درته جار جار وايم ځکه
دَ دروغو تر لباسه ..... ، دَ جفا مينه لا ډېره

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټول وجودونه محسوسېږي کاڼي

که وخت آخر شو چې غرېږي کاڼي

ځوك په غوښين وجود بې حسه دېوال

دَ چا په آه باندې ويلېږي کاڼي

که په ما دي نيمګړتياوي پوره کېږي ؟

زما وجود دې ستا وَ سترګو ته رانجه شي

شوق به تنده په خپل ژوند درماتولی

جوړ دَ خاورو کنډولی وی خو چې ستا وی

تا له به تاج محل له کومه راوړم ؟

زه چې دَ تن جامې په پور جوړوم

لکه ماشوم ، زه هم دَ رېګ کورکيان

مازيګر وران کړم ، سهار نور جوړوم

دلته ځانونه له تيرو هم پېچو

هلته ملګري دَ رڼا هم نه يُو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



سوال که زما او ستا تر میانه راغلی دَ یوه خوائش

دا امکان لري ، چې زه دَ ځان په ځای تا اوغواړم

گوره.. چې په خله کې يې دا ژبه څله گونگه شي؟

ستا دَ کور درك چې زه په ښار کې له چا وَغواړم

موسکا په مینه سنجول، خطا ایستل دي دَ زړه

حقیقت دا ... ، چې دَ سرونو فیصله ده گرانه

ځان کې په سوب دَ مسلسل سفر

تلی نشم په بله ، دومره ستړی یم

زه هم دَ پښتون په حېث پښتو لره

خپل ضمیر ته شوقه پورَوړی یم

ټوله شپه وه راته ناسته نصیبه دَ کټ وَ سر ته

خو چې څنگه بیا سهار شو زه راویښ شوم دا اوده شوه

هر سړی وچ شو په ذات کې ، دَ ساړه خلوص له جوره

دَ ژوندئیو انسانانو دُنیا نه شوه ، بُت خانه شوه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



کېدی شي شوق هم خوشحال خان شي درته

مغل خویونه که دې نه پرېښول

خبره دا نه ده ، چې کړې به ورو چرته دَ ژوند

خبره دا ده ، چې دَ پلار ادیره چا ته پرېږدو؟

مونږ دَ خپل اور برخې لا هم شوقه په زړ دَ رڼا

دَ مشالونو په سرو باندې هوا ته پرېږدو

بیا به ځان غواړې ، ځان به نه کړې پیدا

بس که یو ځل دَ چا په خوا اوختې

مونږ که دَ افضل شوق دَ دې پورته رقم شوْ غزلیه شعرونو ته په ښه غور او فکر اوګورو .. نو دا به اومنو چې دَ " شلېدلی امېل" دَ غزلو په مقابله کې که یو طرف ته یې فلسفیانه ادراك سپوا شوی دی .. خو بل طرف ته دَ هغه په غزل کې هم دَ رومانیت سوالیه او علامتي اشارې دَ شکوې او ګیلې تر حده رانغښتل شوي دي � په دې نه شوم پوهه چې شوق صاحب غزل ته ولې شا کړه او په دې شعري مجموعه کې یې دَ غزلو برخه ډېره کمه ده .. که څه هم هغه غزل هم دَ نظم په شان ښائسته لیکي � او په کې تخلیقي افکار دَ ژورتیا تر آخري حدونو دَ یو لیوني فلسفي په رنګه رسوي �

لکه ما چې مخکې داسې وئیلي وو .. چې افضل شوق چې .. نړیوال فکر لري او ځان دَ نړۍ باشنده ګڼي .. خو دا دَ نړۍ جهان ګشته شاعر چې لیك کوي نو هغه دومره په پښتني انداز کې لکه هغه چې هم ځمونږ په رنګه په یو واړه کلي کې استوګنه کوي او چرته تلی نه دی � یعنې په پورتنئیو اشعارو کې دا محاورې چې خاصې پښتني دي .. داسې استعمالوي .. لکه " په ژوند پارول" ، " په زړه راوربېدل" ، " جار جار وئیل" ، " دَ دروغو لباس کول " ، " نیمګړتیاوي پوره کول" ، " دَ سترګو رانجه کېدل" ، " تنده دَ ژوند ماتول" ، " په خله کې ژبه ګونګۍ کېدل " ، " خطا ایستل دَ زړه" ، " دَ سرونو فېصله کول" او داسې نورې نورې محاورې چې ځمونږ په کلي وال پښتني ژوند کې عامې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



استعمالېږي .. افضل شوق ډېر په خوند او هنر په خپلو شعرونو کې ځایوي � کوم چې دَ هغه پښتونیت او پښتون دوستي ښکاره کوي �

نه یواځې دا .. بلکه دَ شاعر په خپلو شعرونو او شاعرۍ کې نوي محاورې هم دَ پښتو په ادب داسې پیرزوْ کوي .. لکه " دَ ژوند فطرت سارا ګڼل " ، " دَ امن دَ سیوري پېلامه کېدل" ، " سپین مارغه په اور پسې کول" ، " کاڼي غرېدل" ، " بې حسه دېوال کېدل" ، " کاڼي ویلېدل" ، " دَ خاورې کنډولی کېدل" ، " جامې په پور جوړول" ، " دَ رېګ کورکیان جوړول" ، " ځان له تیارو پېچل " ، " دَ ځان په ځای بل غوښتل" ، " په ځان کې سفر کول " ، " ضمیر ته پوروړی کېدل" ، " په ذات کې دَ سرې اوچېدل " ، " کټ سرته کېنستل" ، " خوشحال خان کېدل" ، " مغل خویونه نه پرېښول" ، " دَ پلار ادیره پرېښول" او " دَ بل په خوا وتل" ، " دَ اور برخې دَ مشالونو په سرونو هوا ته پرېښودل" .. هغه نوي محاورې دي چې په علامتي پېرائیه کې افضل شوق دَ خپلو غزلیه شعرونو زینت ګرځولي دي �

دَ دې مطلب دا شو.. چې افضل شوق نه خو زړَه پښتو خواره پرېږدي او نه پښتو دَ نووْ محاورو، استعارو او دَ نړئیز سماجي او معاشرتي بدلون دَ رنګونو او نقشونو نه محرومه ساتي � داسې شاید چې هغه څکه کوي چې .. هغه پښتون دَ سیالو قومونو سیال ګڼي .. دَ هیچا نه یې کم نه ګڼي � هم څکه خو هغه په پښتو کې وَ پښتنو ته داسې لیکنې کوي .. چې په کې پښتون هم انسان ګڼي او چې کله هم چرته یا په یو مقام یې پښتون په تله پوره نه دی محسوس کړی .. نو یې دَ یو خبرخوا په رنګه په خوږې ژبې باندې ګیله او شکوه راغلې ده � او دا شعري ادا دَ افضل شوق په شاعرۍ کې زیاته لیدلی شي � کومه چې هغه په خپلوانو .. یعنې پښتنو نور نور قدرمن کوي � ولې چې پښتانه خپله چې څومره حقیقت پسنده او رښتیا خوښوي .. هغسې رښتوني خلق او خبري هم په زړه اخلي �

دَ شوق په غزل کې نور څه دي ..؟ دا هغه سوال دی چې شاید یو کتاب خبري یې هم ځواب نه شي � څکه زه دومره وئیل غواړم .. چې افضل شوق دې غزل لیکي او ډېره ډېره دې لیکي �

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# په لټون ستا دَ ښېرې

ـــــ دَ ځینو نظمونو تنقیدي جائزه

لکه څنگه چې مونږ دَ " شلېدلي امېل" او " په لټون ستا دَ ښېرې " دَ غزلونو تر میانځه یو تقابلي او تنقیدي جائزه وړاندې کړې وه .. هم دغه رنگه زه غواړم چې دَ خپل استعداد دَ مخې دَ دې دواړو شعري مجموعو دَ نظمونو تر میانځه نه یواځې واضحه فرق رامخې ته کړم بلکه یوه کوټلې شانتې تنقیدي تجزیه یې هم تاسو ته وړاندې کړم �

## ۱ ـــ اتهم رنگ

ما گڼل

چې وینم خوب

جوړه ویده یم

دا چې زه

چرته په یو منظر کې نه یم

بیا چې ښه مې ورته پام شو

نو څه گورم؟

چې ښکلاوي وې

اووه رنگیځه تړولي

خو، دا زما

دَ وجود رنگ په کې اتهم وو

)په لټون ستا دَ ښېرې.. مخ - 44(

دَ دې نظم تهیم چې ښاغلي شوق دَ جرمني په درو کې دَ سوئټزرلېنډ په لور سفر کولو په وخت ذهن کې پوخ کړې دی ..او بیا یې ډائرۍ ته دَ نظم په شکل کې سپارلی دی � دواړه ذکر شوي ځایونه دَ خپل فطري او قدرتي ښائست په وجه په ټوله نړۍ کې شهرت لري �.. او شاید هم دغه وجه وي چې دَ دې ځایونو په غرقو غرقو جولو جولو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښائستونو کې چې کله دَ يو شاعر فکر ورك شي ، دَ يو شاعر نظر په دغه ښکلا ګانو کې اونښلي نو دَ هغه تخليق به هم دَ دغه ښائست ترجمان ارومرو ليدلی شي � او بيا ښاغلی افضل شوق چې دَ خپل رومانوي او شاعرانه طبعې او فطرت تر مخه دغه ننداړو ته په کوم رنګ او نظر ګوري نو دَ اتهم رنګ تخليق ، نه يواځې دَ دغه ځايونو ښائستونو ته کتل دي .. بلکه دَ دغه خواره واره رنګونه په داسې شاعرانه هنر په خپل فن کې ځايول دَ يو نوي فکري او تخليقي صلاحيت دَ ټولونه لوی ثبوت دی�

په دغه نظم کې چې ښاغلي شاعر دَ ماحول دَ منظرونو کومه نقشه په دغه ماحول کې دَ خپل ذات ، وجود او فکر په ورکېدو راښکلي ده .. نو دغه هنر ته يې شاباشی ورکول دي او بيا کومې سائنسي تجزيې چې رڼا دَ کومو رنګونو مجموعه ثابته کړي ده .. نو دَ هاغه تجزيه دَ يو حقيقت په شکل کې ځايول .. يو داسې حېرانونکی کېفيت پيدا کوي.. چې دَ نظم ټول تاثر په دغه يوه مصرعه کې دوام لري ..!! په مجموعي توګه دغه نظم دَ پښتو په جديده شاعرۍ کې يو داسې نوی کوشش دی .. چې موضوع يې سائنس ته هم نږدې ده او هم يې سائنس دَ ذات دَ موجودګۍ په فکري دليل نه يواځې رد کړی هم دی .. بلکه دَ دې نظم شاعر افضل شوق دَ خپل وجود يو ناښکاره حقيقت هم په ګوته کوي �

لنډه دا ده چې په پښتو جديده شاعرۍ کې دَ دغسې موضوعاتو راوړل.. دَ لوئيو ژبو په رنګ دَ خپلې ژبې ادب ته يو نوی لاره ورکول دي او که دغسې نظمونه په انګرېزۍ يا نورو لوئيو ژبو کې ترجمه شي نو داسې به دغه موضوعات په دغه لوئيو ژبو کې خپل يو مقام پيدا کړي � دې سره سره زما دا هم خيال دی چې چونکه دغه رنګ موضوعات لا په پښتو ادب کې پېژندلي شوي نه دي � نو که دَ افضل شوق دغه موضوعات يا دَ دې موضوعاتو ترجمان دغه ټول نظمونه به په انګرېزۍ او فرانسيسۍ کې داسې ښکاري لکه دَ هغوئ خپل موضوعات � ځکه چې کوم دغه رنګ نظمونه ښاغلي شوق دَ خپلو سفرونو په مختلفو پړاوْنو کې ليکي دي .. نو هغه پښتانه نه شي کېدی ..!! بلکه دا دَ ده عالمګيريت دی چې دئی په دغسې موضوعاتو ليکل کوي .. او پښتو ژبه او ادب دَ نوۍ نوۍ موضعاتو سره اشنا کوي � اوس دَ دې نظم فنې اړخونو ته راځم � که څه هم دا نظم په وړو او لوئيو يولسو مصرعو کې ليك دی .. خو دغه نظم دراصل په پنځو دولس سېلابيزه برابرو مصرعو باندې داسې مشتمل دی .. لکه

ما ګڼل چې وينم خوب .. جوړه ويده يم

دا چې زه چرته په يو منظر کې نه يم

بيا چې ښه مې ورته پام شو،نو څه ګورم؟

چې ښکلاوي وې اووه رنګيځه ټولي

خو ، دا زما دَ وجود رنګ په کې اتهم وو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ ښاغلي افضل شوق دې نظم ته مونږ نثري یا آزاد نظم نه شو وئیلی � بلکه دغه نظم دَ خپلو عروضو، بحرونو او ردهم دَ یو روان تسلسل اَهنگ په حواله مونږ ورته آزاد غزل وئیلی شو � په بنیادي توګه دا دَ جدیدي شاعرۍ دَ معری نظم صنف دی .. او دَ شوق ټولو نظمونو ته که په دې نظر اوګورو، نو دَ فن په دغه پېرائیه کې ښکاري �

## ۲ ـ دغه زما .. هغه دَ دوئ مجبوري

په هلو ځلو

دَ لمړي نمبر مې

په درځنو یاران په دې اوبائیلل

چې نه خو

دوئ رابېلېدل له ډلو

او نه زه

خپله درېدلی شومه

دَ اشنایانو په قطار کې ورته

)په لټون ستا دَ ځبرې.. مخ - 153(

دَ انسان یو فطري کمزوري دا هم ده چې .. "په اول نمبر دې زه یم"..!! او دَ دې " اول نمبر" دَ حاصلولو دپاره انسان عجیبه عجیبه هلې ځلې کوي � ښاغلی افضل شوق چې دَ پښتو ادب او شاعرۍ په حواله خپله یوه درنه پېژندګلو لري .. خو په قطار کې شاید په دې وجه هم نه درېږي چې ځان یې اول نمبر یا بې نمبره خوش دی � دا خبره هغه دَ مینې په معامله کې کوي .. او یار ته یې دَ اشنایانو قطار نه .. بلکه یواځې ځان خوش دی � او که دا خبره دَ نن دَ ادبي روئیو او دَ ړومبي نمبر کېدو په هلو ځلو کې اوګورو.. نو به دا دَ هغه دا خبره درسته ثابته کړي .. چې انسان که ادیب یا شاعر هم شي .. خو دا فطري کمزوري به یې تله سپکه ساتي او هغه ادیب یا شاعر به وړوکی ځرګندوي � هم ځکه خو ښاغلی شوق داسې فهرستونو او قطارونو نه ځان یو سائېډ ته کول غواړي � ځکه چې هغه ته هم داسې دَ ځان حېثیت معلوم دی لکه هرچاته چې خپله صحیح اندازه شته چې څوك چرته دی؟ او یا دا چې دغه څوك چرته پکار دی؟.. نو بیا په داسې حال کې دَ جنګ جهګړې څه ضرورت ؟

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلته دَ دي نظم په تهيم کې هغه دَ " مقدار" نه .. بلکه دَ ښه " معيار" په حق کې واضحه خبره کوي او په دې پښتني اوسني ادب علامتي گوزار هم کوي.. چرته چې ليکنې دَ وئيلو نه .. بلکه دَ تللو دي � او معيار نه لوېدلي ..بس هر څوك دا غواړي چې دَ کتابونو شمېره زياته کړي � ولې چې په هم دغسې مقدار خو دَ دې ژبې نقادان اديب او شاعر ته ښې نامې يا انعامونه ورکوي � او ښاغلی شوق داسې سطحي ادبي روئيو ته دَ تاريخي جبر نوم ورکوي او په داسې بازاري ادب سخت تنقيد کوي �

که څه هم قطارونه جوړول او په قطارونو کې اودرېدل دَ يو ډسيپلن عکاسي کوي .. خو افضل شوق بيا هم دَ داسې قطارونو نه ځان ځکه ژغورې چې هغه په انساني مثالي انسانيت او صلاحيتونو، فکري او تخليقي استعداد ځان دَ يوې باشعوره او لوستلي طبقې زړونو ته رسوي .. دَ فن په لاره او دَ فکر په بنياد� او دا هغه لارې دي چې شوق صاحب به دَ خپل دغه فکري جدوجهد دَ کبله دَ يو اعلی قسم معيارېه فهرست کې په ړومبي نمبر اودروي � دا به دَ وخت فېصله وي .. دا به دَ راتلونکي زمانې پرېکړه وي .. او دا به دَ معيار فتح وي�

اوس پاتې شوه .. دَ دې نظم فني، ترکيبي جوړښت .. که څه هم دلته شوق صاحب په خپل هاغه انداز کې ښکارې .. کوم چې دَ ده فن او شخصيت ته يې يوخ پېژندگلو ورکړې � خو په فکري ډول په دې نظم کې شوق ، ډېره لوئيه الميه کومه چې دَ وخت او دَ نن دَ انسان الميه ده په اتهه لنډو مصرعو کې وړاندې کوي .. چې دَ دريو درځنو نه زيات توري په کې نشته ، خو په دې اختصار کې دومره لويه خبره په ساده ژبه او وړکوټې مضمون کې بيانول، يو فني کمال دی � دَ دې نظم دغه اتهه مصرعې هم دَ يو معری نظم پنځه برابرې مصرعې دي ، چې دَ نظم دَ آهنگ برقرار ساتلو دپاره شاعر په نوې ساخت کې ماتې کړې دي � خو بيا هم دَ فکر او خيال تسلسل يې برقرار ساتلی دی � دا پورتنی اتهه مصرعيزه نظم په لاندېنو پنځو لاکن يولس سېلابيزه پابندو مصرعو مشتمل دی .. لکه

په هلو ځلو دَ لمړې نمبر مې

په درځنو ياران په دې اوبائيلل

چې نه خو دوئ رابېلېدل له ډلو

او نه زه خپله درېدلی شومه

دَ اشنايانو په قطار کې ورته

## ۳ ـ اشنا به اوس له ورکو چرته غواړم؟

دا چې يې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



پلونه دَ پښو ګار شولو

په نيمه لار کې

ګمان مې دا دی

چې لالی مې اوس کوي

لګيا دی

دَ سمندر سره سره

په پستو شګو مزل

)په لټون ستا دَ څېرې .. مخ - 45(

په کارډيف وېلز برطانيه کې په کال 1996 کې ليکلی شوي په دې نظم کې هم ښاغلی افضل شوق دَ خپل لټون .. او دَ سفرونو په يو داسې نه ستړي کېدونکي کېفيت کې ښکاري چې دَ ده دَ شخصيت، نوم او وجود يوه حواله ګرځېدلې ده � يو تلاش .. يو لټون .. او بيا دَ خپل دغه مسلسل لټون يو ستومان ، خو رومانوي احساس .. کوم چې دَ جمالياتي احساساتو ترجمان ليدی شي .. دَ يو سېلاني شاعر دَ مشاهدو دُنيا ..!! دَ هغه دَ سفرونو، مزلونو جهان .. کوم چې هغه ته دَ يو تلاش تجسس ورکړی دی .. او دغه شاعرچې دَ څه په لټون کې ښکاري نو کله کله خو دغه دَ ورکې دَ بيا بيا موندلو احساس دَ هغه په سفري شاعرۍ يا بيا شاعرانه سفرونو کې يو نوی خوند او دَ نوي لذت اضافه کوي � په دې نظم کې ده دَ خپلې علاقائي لهجې او ځينو علاقائي توري لکه .." ګار شو" ، " ګمان" ، " پلونه" دا څه هم که دَ ده دَ مقاميت او علاقې نمائندګي کوي .. خو دَ دې نظم فکر علاقائي نه دی ، بلکه دَ يو عالمي حقيقت په دې ورته وئيلی شو چې رېګ هم يواځې هغه څيز دی چې نخښې دَ خپو په کې جوړېږي .. او بيا دَ هوا يا دَ اوبو په څپو بيرته دغه جوړې نخښې ګډې وډې شي � نو دلته دَ افضل شوق دَ محبوب ورکېده او بيا دَ خپل ورك محبوب لټون دا نظم ښېخي بې ساخته کوي � خيال ډېر نوی دی � يعنې دَ ډېر لټون او ستړيا پس دَ شاعر په ذهن کې دا خبره راتلل چې .. دَ هغه ورك شوی محبوب خو چرته دَ سمندر دَ ساحل په شګو کې مزل ته نه دی جوګه شوی .. ؟ چې پلونه يې دَ خپو نه ښکاري �

دَ شوق په قلم په الجزائر سيدي فرج نومي ځای کې يا ساحل باندې ليکل شوی دا نظم دومره ساده او واضحه معنې لري چې هيڅ قسم ابهام په کې نشته � دَ دې نظم دَ لوستلو نه پس قاري داسې محسوسوي لکه چې په شاعر دغه نظم او دَ دې نظم فکر لکه دَ " وحي" راوربدلی وي � نو ځکه مونږ دا وئيلی شو چې په دې نظم کې دَ شاعر دَ

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



مينې او جنون کېفيت دَ انتها تر حده رسېدلی ښکاري او داسې ښکاري لکه چې دئی په ډېر صداقت خپل احساس او جذبې په نظم کې ځايوي � او که اووايو چې افضل شوق چې کومه دعوېکوي چې هغه په فن کې دَ صداقت څومره قائل دی .. نو دغه جذبه دَ هغه دَ دې نظم او دَ ټولې شاعری نه مونږ ته ظاهره ليدی شي � لکه څنګه چې پورته اووئيلی شو چې دا نظم بې پناه بې ساختګي لري .. نو په دې بنياد دا خبره دلته ځکه تکراروم چې په دې نظم کې هم ښاغلي افضل شوق په ډېره سادګۍ دَ خپلو احساساتو څرګندونه کړې ده � لفظي تراکيب يې علاقائي دی .. خو استعاري او اشارې يې آّفاقي معيار لري � دلته هم دَ لوستونکو توجه دَ دې نظم فني جوړښت ته راګرځوم � يعني دا اتهه مصرعيز نظم چې په کې يو دېرش توري دي .. هم دراصل په دريو پنځلس سپلابيزه پابندو او برابرو مصرعو باندې داسې مشتمل دی .. لکه

دا چې يې پلونه دَ پښو ګار شولو په نيمه لار کې

ګمان مې دا دی چې لالی مې اوس کوي لګيا دی

دَ سمندر سره سره په پستو شګو مزل

## ۴ ـ ـ انصاف او عصري تقاضې

دَ چا چې

خلې لړلي دي په وينو

هغوئ

سُرنا دَ سوکالۍ ژغوي

خو څوك چې

شو لوګی لوګی په امن

باداران واي

ترهه ګر هغوئ ته

)په لټون ستا دَ څېرې .. مخ - 49(

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



شاعر اديب دَ ژوند او دَ دُنيا په حالا تو هر وخت نظر ساتي .. او انسان چې دَ كومو حالاتو نه په خپل ژوند او ټولنه كې تېرېږي نو په دغه حالا تو سترګې نه شي پټولی � دَ پورتني نظم نه دا اندازه هر چاته په آسانه لګېدی شي چې دَ رواني صدۍ آغاز چې په دُنيا كې په كوم رنګ شوی دی .. په هغه كې اشرف المخلوقات دغه انسان .. دَ انسانيت په نوم چې څنګه ځناوري روئيو سره ژوند ميدان ته رادانګلي دي.. هغه انساني تاريخ شرموي � يعني انسان چې كومو نووْ نووْ چېلنجونو ته مخامخ شوی دی .. نو په دې كې دَ دغه حالاتو او دَ نن دَ دور يو روښانه تصوير مونږ ته په نظر راځي � په افغانستان كې چې څه اوشو او څه په كې روان دي .. په عراق كې چې څه اوشو او نن سبا دَ كومو حالا تو نه تېرېږي او حاكمو قوتونو كوم استحصال په كوم رنګ كې روان دی .. نو په دغه حالا تو يو حساس ليكوال به ژاړي نه .. نو نور به څه كوي � كوم خلق چې دَ خپلې ژبې ، دَ خپل ثقافت ، دَ خپل تاريخ او دَ خپل مذهب ساتنه كوي .. نو په دُنيا كې اوتې قوتونه دغه امن پسنده خلقو ته ترهه ګر واي � او څوك چې لاسونه دَ انسانانو په وينو كې ككړ لري .. هغوئ امن پسند او دَ امن ټهېكه داران جوړ شوي دي � او كه دَ دغه حالاتو په تناظر كې نن اوګورو .. نو په ټوله نړۍ كې دَ امن وجود مشكوك شوی دی او انسانان .. انسانان نه دي پاتې شوي � هم ځكه خو نن دلته هر ماحول او ټولنه دَ جنګ دَ خطرو نه ډكه ده � ښاغلی افضل شوق هم په دې نظم كې په ډېر اختصار دا پورتنۍ موضوع په ډېره ساده او واضحه انداز كوي � خو په يو څو لفظي تراكيبو كې يې يو شدت دَ مظلوم دَ ورستې چيغې په رنګه محسوسېږي � كوم نه چې دَ شاعر دَ زړه دَ درد احساس كېدی شي � دلته يې روئيه احتجاجي هم ده .. خو بيا هم دا شدت او جنون بد په دې نه ښكاري چې دا دَ يو شاعر دَ جذبو ژړا ده � او كله هم يو شاعر يا اديب په داسې حال چپ نه شي پاتې كېدی � ځكه چې هغه دَ وخت او حالاتو ترجمان يا انځورګر بللی شي � دَ شوق دَ دغه صداقت درد او خوږكې خوږكې احساسات هغه په دغسې احتجاج مجبوره كوي �

په فني توګه دَ افضل شوق دا نظم چې په اتهو ورو مصرعو او شپږويشت توري لري .. باندې مشتمل دی � دَ دې نظم مختصر وجود ته چې ګورو ، نو يوه لويه خبره په كې شوې ده � نو دغه لنډې ورې مصرعې خپلو كې داسې ربط او ترون لري چې دَ نظم فني اړانه نه خرابوي � او كه په دې حواله دَ دې نظم نوره فني تجزيه كووْ .. نو داسې ښكاري لكه چې دغه نظم يواځې په يوه اوږده فقره يا خبره خور دی .. خو نه ..!! دا نظم زما دَ تجزيې مطابق په څلورو يولس سپلابيزو مصرعو باندې مشتمل دی � دَ ردهم او آهنګ له سوبه په كې موسيقيت موجود دی � مطلب دا دی چې دَ افضل شوق دا نظم آزاد نه بلكه معرى نظم دی .. لكه

دَ چا چې خلې لړلي دي په وينو

هغوئ سُرنا دَ سوكالۍ ژغوي

خو څوك چې شو لوګی لوګی په امن

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



باداران واي ترهه ګر هغوئ ته

**۵ ـ ـ آئيډيل**

ما چې کله هم دَ ژوند په ګودر باندې

کومه پېغله

ژغولې ستا په باب ده

هغې ماته سر تر پایه دې کتلي

بیا یې دومره دې فقط راته وئیلي

چې دَ خیال په نیلي سپور

اې لېونیه!!

دا جنۍ زمونږ په کلي کې نه اوسو

ښاپیرۍ زمونږ په کلي کې نه اوسي

)په لېون ستا دَ ښېرې .. مخ - 60 (

په کوئټې کې لیکل شوي دې نظم کې هم دَ ښاغلي افضل شوق هاغه دَ لېون احساس مونږ ته په ډېر شدت سره په نظر راځي � خو دا لېون او تالاش په علامتي شکل کې دلته ښکاري � ځکه چې که دغه دَ يوې ښېرې يا دَ يو مخ لېون وی ..نو شاید چې .. دا لېون دَ انسانانو په دې جهان کې ختم شوی وی � خو دَ ښاغلي شوق لېون دَ يوې ښاپیرۍ او جینۍ په شکل کې مونږ دَ یو علامت په توګه ګڼلی شو � ولې .. هغه چې کومه ښېره لټوي او یا دَ خلقو نه دَ هغه ښېرې تپوس کوي نو هغه ښېره کم از کم ښکاره ښېره نه ده � بلکه دَ شاعر مطلب دلته دَ دې ښېرې نه دَ مختلفو انساني اوصافو ، روئیو، خویونو، تقاضو او انساني قدرونو سره تړلې داسې یو مثالي ښېره ده � چې هغه دَ انسانیت ښېره کېدلی شي او یا دَ داسې یو مثالي انسان ښېره .. چې دَ وخت دَ قید نه آزاده څګېره وي � ولې چې دَ انساني ښېرې نقشونه پائیدار نه وي او نه ښاغلی افضل شوق دَ دغسې ښېرې خبره کوي �

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



شاعر په دې نظم کې چې کومه څېره کور په کور، کلي په کلي، ګودر په ګودر لټوي .. نو هغه دَ پورتنو غوښتنو په معيار موجوده نه ده � نو ځکه هغه ته خلګ لېونی واي � خو دغه لېونی دَ خپل نظم دَ فکر و خيال په ژورو کې مجنون دَ هاغه ليلا ليدلی شي چې تېرو کې ورکه ده .. اودئی يې په لټون دی�

دَ دې نظم په فني او تکنيکي اړخونو په باب به اووائيو چې په نهو ورو او لوئيو مصرعو باندې ليکلی شوی دغه نظم که څه هم دَ يوې قيصې داستاني شکل لري .. خو په دې داستان کې شاعرانه افسانوي انداز دَ ورايه ښکاري � په دې نظم کې که له پېغلو نه دَ خپلې مطلوبې جينۍ تپوس ډېر په خوند او نوی والی پيدا کوي � په دې چې داسې کله هم نه شي کېدلی چې څوك دې يوې ښکلي جينۍ نه دَ بلې جينۍ تپوس اوکړي ..!! خو دا دَ افضل شوق کمال دی چې په اکثرو نظمونو کې دئی ډېر په مکالماتي انداز کې دَ نه منونکو خبرو سره کوي � دا آزاد نظم دراصل په اوو داسې برابرو مصرعو مشتمل يو پابند نظم دی چې هره يوه مصرعه يې دولس سېلابونه لري .. لکه

ما چې کله هم دَ ژوند په ګودر باندې

کومه پېغله ژغولې ستا په باب ده

هغې ماته سر تر پايه دې کتلې

بيا يې دومره دې فقط راته وئيلې

چې دَ خيال په نيلي سپور اې لېونيه!

دا جنۍ زمونږ په کلي کې نه اوسو

ښاپېرۍ زمونږ په کلي کې نه اوسي

### ٦ -- بائيللې واك

تا دَ ډوډۍ دَ رانيولو په نيت

دَ پلار نيکه

په ميراث پاته تُوره

چې دَ خپلواکه ژوند

ورستۍ نخښه وه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



فقط په څو نوټونو څه خرڅه کړه؟

چې لوهارانو

دَ بادار په حکم

وَ تاته بيرته ترې بيړۍ جوړې کړې

)په لټون ستا دَ څېرې .. مخ � 61(

دا نظم ښاغلي افضل شوق دَ لندن نه دَ دوبۍ په لور په سفر کې په کال1996 کې ليکلی دی � په دې نظم کې چې افضل شوق دَ پښتون قوم کومې تاريخي بدنصيبۍ ته اشاره کوي .. نو په ظاهري شکل خو هغه ډېره واضحه ده � يعنې هاغه آثار چې پښتون پرې يو مارشل يادېدو لکه دَ مثال په توګه " تُوره" او دَ تُورې سره تړلي نورې وسلې � خو دَ بده مرغه په هم هاغه خپلو وختونو او اوسنو زمانو کې تربګنو، دښمنو دغه آثار دَ منځه يُوړو � او چې څه پاتې شوي وو .. نو هغه مو هم بل ته په " تحفو" کې ورکړل � زما اشاره افغانستان ته ده � کوم چې دَ وخت او زمانې دَ دغه انقلاب نه راتېر شوی دی � او په دغه انقلاب کې که يو خواته دَ لکهونوپښتو وينې بهېدلي ده � نو بل خوا ژوندو پاتو پښتنو خپل دغه پاتې تاريخي او لرغوني آثار په څو پيسو داؤ کړل � او داسې چې دَ افغان او پښتون تاريخي حېثيت دَ خپله لاسه ( دَ افضل شوق دَ يو بل نظم " مارشل پښتون" چې " په لټون ستا دَ څېرې" نامي کتاب کې په صفحه نمبر 22 باندې چاپ دآ ) اوبائيلو�

که مونږ دا پورته ليکلی شوی نظم په علامتي شکل کې ګورو .. نوتشريح يې ډېره واضحه علامتي اشارې � لکه پرونی پښتني غېرت، چې نن په نيشت حساب دی .. يا پښتني ننګ، دَ کوم نه چې ننی پښتون خالي ليدلی شي.. دغه رنګ پت او مړانه هم دَ نن په پښتون کې تر لرې لرې په دوربين کې هم نه ښکاري � يعنې نه يواځې دا بلکه پښتني وجود، پښتو، پښتني کلتور او ژبه ، تهذيب او تمدن .. هر څه يې دَ لاسه ورکړي دي ..!! کوم چې نن دَ هغو اقوامو په قبضه کې ښکاري چې پرون پرې پښتنو باداري کوله، خو نن يې پښتون مرئيی دی�

دَ افضل شوق دا نظم په فني اعتبار دَ لوستلو په وخت که څه آزاد نظم ښکاري خو په دې نظم کې موجود تسلسل، رواني او ردهم لوستونکی په دې مجبور کوي چې ورته پابند يا معرى نظم اووئيلی شي � او حقيقت هم دا دی چې دا په نهو مصرعو باندې اړه لرونکی نظم دراصل په اوو مصرعو مشتمل نظم دی چې هره مصرعه يې يولس سېلابيزه ده .. لکه

تا دَ ډوډۍ دَ رانيولو په نيت

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ پلار نیکه په میراث پاته ټُوره

چې دَ خپلواکه ژوند ورستۍ نخښه وه

فقط په څو نوټونو څه خرڅه کړه؟

چې لوهارانو دَ بادار په حکم

وَ تاته بیرته ترې بیړۍ جوړې کړې

## ۷ -- پټې څېرې

دا چې

کومه څېره زه تل لټومه

هغه سپینه تر شودو ده

او په سپین کې

دَ نقشونو دَ فطري شکلاوْ پرته

دَ ژوندون

هغه یو څو پټې څېرې دي

چې دَ روح او دَ زړه تنده

پرې ماتېږي

خو، دَ سر سترګې یې بیا هم

لیدی نه شي

)په لټون ستا دَ څېرې .. مخ � 73(

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا نظم کوم چې افضل شوق په فرانس کې په کال 1996ع کې ليکلی دی کې خپل مافي الضمير په ښکاره او واضحه تورو کې په ورمبي ځل ډېر په هنر بیانوي .. او دَ شوق دَ لوستونکو په ذهنونو کې دَ هغه دَ لټون دَ څېرې په حقله راپورته شوي ټولو سوالونو ته ځوابونه وړاندي کوي � يعنې خبره ښکاره شوه چې افضل شوق کومه څېره لټوي هغه انساني څېره هرګز نه ده .. هغه څېره هاغه څېره ده چې دَ ده په قول دَ شودو(پيو) نه سپينه ده � او ټول نقشونه يې ځان ځانته دَ ژوند ښکلاګانې لري او دا ښکلاګانې هاغه پټې څېرې دي چې په کې انساني اقدار، انسان دَ انسان په بڼه .. لاکن په يوه پُرامنه ماحول کې ليدلی شي�

ځنګه چې دَ افضل شوق په حقله وئيلی شي چې امن دَ ده منشور او مينه دَ ده مسلك دی هم په دې نظم کې په صفا ټکو کې خپل اندرون لوستونکو ته په شعري انداز کې وړاندي کوي � زما دَ تجزيې مطابق دا نظم دَ هغه په يو څو ساده او واضحه نظمونو کې يو ډېر ښه نظم دی ، چې ډېر ډائرېکټ او په داسې سادګۍ فکري او معنويې ژورتيا لري � چې دَ ابهام په اړه معنوي تجريدي اشکال په کې نشته�

دَ افضل شوق مطلوبې څېرې .. بلکه يواځينۍ څېره چې دَ هغه په شاعرۍ او په خاص توګه په نظمونو کې دَ يو تسلسل تکرار په شکل کې يې مونږ وينو .. په دې نظم کې ليدلی شي � ولې چې .. ده چې ځنګه دَ هغې ورکې څېرې نقشونه ، رنګ او دَ خپل خواهش مطابق بڼې په درځنو نظمونو کې دَ خپل تهيم تر ژورتيا رسولي دي .. په دې نظم کې ښکاري .. خو تته تته او لا يې پېژندلی نه شو � دا دَ افضل شوق دَ شاعرۍ هغه سسپنس دی چې لوستونکي په ځان پسې پسې ګرځوي او دا دَ هغه شعري او هنري فن دی .. چې کله هم په داسې انداز په پښتو شاعرۍ کې دَ مثال په توګه دَ ده نه علاوه چرته هم نشي ليدلی � دا دَ ده شعري ځانګړتيا ده � بل طرف ته چې ګورو .. نو دَ افضل شوق دَ لټون څېره په نني انسان کې دَ هغه دَ خواهش مطابق نشي ليدلی � او دا ځکه چې دَ نن انسان خپل زړه او ځيګر دَ مينې او محبت دَ جذبو نه خالي کړی دی .. او دَ خودغرضۍ او نفسانفسۍ په يو داسې ماحول کې رابند دی چې هغه ته دَ انساني اقدارو مطابق انسان جوړېدلو موقعه هم نشته � هم دا سوب دی چې افضل شوق لا خو په لټون کې ښکاري او ماتی نه مني � شايد چې دَ ده توقع لا اوس هم دَ مينې او محبت دَ وجود حصول وي � دا ډېره ښه خبره ده .. چې دَ يو اُميد شمع يې روښانه کړې ده او دَ مايوسۍ نه خپل وجود لري ساتي � اوس به دَ دې نظم فني تجزيه اوکړو � دا نظم چې په يولس وړو او لويو مصرعو باندي مشتمل ښکاري دراصل په شپږو ، دولس سېلابيزه برابرو برابرو مصرعو باندې اړه لري .... لکه

دا چې کومه څېره زه تل لټومه

هغه سپينه تر شودو ده او په سپين کې

دَ نقشونو دَ فطري ښکلاوْ پرته

دَ ژوندون هغه يو څو پټې څېرې دي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې دَ روح او دَ زړه تنده پرې ماتېږي

خو، دَ سر سترګې يې بيا هم ليدی نشي

## ۸ ــ ته يې منې که نه منې..خو ياره!

ستا دَ ګمان بنده پيشو

کېدی شي

چې په تيرو کې دَ زندان

يوه ورځ

له ساه تنګۍ په تا غُوټه شي داسې

لکه زمری

چې په خپل ښکار ور دانګي

)په لټون ستا دَ څېرې .. مخ � 92(

"تنګ آمد به جنګ آمد" ..... دا نظم دَ افضل شوق دَ دې فارسۍ محاورې ډېره ښه پښتني انداز کې تشريح کوي او هغه هم په ډېر اختصار � يعنې دا حقيقت دی چې پيشو که څه هم .. بې ضرره ځناور دی خو که په يو کوټه کې بنده اوساتلی شي او ډانګ ورپسې راواخستلی شي نو هغه به هم دَ خپل ژوند دَ تحفظ دپاره مزاهمتي روئيه خپله کړي � او په سرِي به لکه دَ يو زمري په شان ور وَدانګي...!! دا نظم چونکه افضل شوق په کال 2002ع کې ليکلی دی .. نو زما دَ تجزيې مطابق دا هاغه دور وو چې امريکې او نورو باداري قوتونو دَ مظلومو انساني قوتونو او خاصکر اسلامي او پښتني هېوادونو چې افغانستان دَ ټولو نه ښکاره وو باندې غېر انساني ظلمونه روا کولو ، مياندې يې بوري کولې ، پېغلې يې سرتورې کولې او دَ آسمانه يې اورونه پرې ورولو .. !! نه يواځې دا بلکه دغه مظلوم انسان يې په خپلو غېرو انساني ظلمونو دَ تشدد ښکاري کولو� هغه هم په داسې ځناوري انداز.. چې شايد په تاريخ کې داسې ظلمونه نه وي شوي � افضل شوق دغه الميه دَ بل سبا راتلونکې مزاهمت په لور اشاره په داسې علامتي پېرائيه کې کړې ده چې دَ امکان نه زيات حقيقت ښکاري � ولې چې هغه په دې يقين لري چې په زور او زياتۍ

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



باندې زړونه ، ذهنونه او روحونه دَ انسانانو تر تسلط لاندې نه شي راتلی او دا امریکه چې څه کوي هغه .. دَ خپل سباوْن سره بد کوي او دَ روس تاریخي جبر او دَ هغه انجام ته اوړېورکوي�

په فني او تکنیکي توګه دا نظم ښځي مختصر دی خو دَ دې اختصار باوجود هم افضل شوق په کې دَ داسې شعوري ادراك نه کار اغیستی دی چې دَ یو وسیع علاقې پس منظر او دَ تور تاریخ نه هېرېدونکی جبر یې مونږ ته په نظر راځي � لفظي تراکیب جوړولو کې یې دَ پښتني محاورې انداز په جدیده توګه خپل کړی دی اوساده لفظونه په کې دَ مقامیت سره سره دَ ټولې پښتونخوا نمائندګي هم کوي � او دا دَ شاعر فني کمال او شعري جمال بللی شي �

دا دَ اوږْ مصرعو وړوکی نظم دراصل دَ څلورو.. دَ داسې یولس سېلابیزه مصرعو پابند نظم دی .. چې مصرعې یې تر خپلو یو اهنګ او ربط لري � خو دَ نظمیه شعري ضرورت په توګه په وړو مصرعو کې وېشل شوی دی .. هغه څلور پابنده مصرعې مونږ دلته داسې وړاندې کولی شو �

ستا دَ ګمان بنده پیشو کېدی شي

چې په تیرو کې دَ زندان یوه ورځ

له ساه تنګۍ په تا غُوټه شي داسې

لکه زمری چې په خپل ښکار ور دانګي

## ۹ -- جنګ

زه چې یو تر مری نیسم

دَ بل سر وي راشین شوی

چې دا بل له سره نیسم

ګورم بل وي زېږېدلی..

زما دَ ژوند په کرونده کې

غمو کر دی دومره کړی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې نه زه شوم ترې بې غمه

او نه بُوټې دَ دوئ وتلی

)په لټون ستا دَ څېرې .. مخ � 94(

خلق واړه دَ اندوه په درياب ډوب دي

کله کله له دريابه سر بلند که

دَ افضل شوق نظم هم دَ خوشحال بابا دَ پورتني شعر په رڼا کې دَ نن دَ انساني ژوند او انساني حالاتو ترجمان ليدی شي � خو په دې نظم کې ذکر شوې خبرې ، دَ فرد واحد دَ ژوند داستان هم بيانوي � يعنې په دې ژوند کې راګېر يو انسان کله هم نه شي کولی چې هغه دې په يو حال وي يا دې هر وخت خوشحال وي � ولې چې په هر قدم دغه په ځان کې يواځنی انسان دَ مختلفو الميو ، حادثو ، ناکړدو ،پېښو ، غمونو ، وسوسو . وهمونو ، ويرو ، خوفونو او دردونو سره مخ وي � افضل شوق هم دغه خبرې په دې نظم کې په ډېر هنر کوي � انداز يې ښځي زيات علامتي دی .. او په فني جوړښت کې يې هره مصرعه دَ بلې مصرعې سره په وزن او بحرونو کې برابره ده � يعنې دا نظم په ځان کې که يوې خواته اتهه مصرعې دَ اتهو اتهو سپلابونه لري .. ، بل خواته دغه اتهه مصرعې دَ شعري آهنگ ، ردهم او تکنيکي ساخت دَ لاري په څلورو داسې شپاړس سپلابيزه مصرعو باندې مشتمل يو هم رديف نظم دی چې دَ دې نظم په هرې دويمې مصرعې کې رديف يو رنگ راغلی دی .. لکه " شوی" ، " زېرېدلی" ، " کړ" او " وتلی�

په دې پورتني نظم کې ځينې لفظي تراکيب لکه " غمونه تر مری نيول" ، سر را شين کېدل" ، " له سره نيول" ، " دَ ژوند په کرونده کې دَ غمونو کر کول" ، "ترېنه بې غمه کېدل " او " بُوټې وتل" هاغه علامتي اشارې دي .. چې دي خو نوي جوړې شوي خو په کې پښتني کلتوري ذائقه او خوند دَ ورايه ليدی شي �

دَ افضل شوق هرکله دا کوشش وي ، چې هغه په هر نظم ، غزل يا نثري ليکنې کې داسې نوي خبرې يو بل سره اوترې .. چې معنوي ابهام نه وي په کې .. خو هغه خبرې دي دَ دې ژبې لمن له نوؤ محاورو نه ډکه هم کړې � نو ځکه دَ هغه دې شعوري زيار او هلو ځلو ته شاباشې وئيلی شم .. چې دَ فکر خورولو سره سره دَ ژبې په لمن کې دَ لُغاتو سوغات هم ور اچوي�

په فني توګه دا يو ساده او روان نثري نظم ښکاري خو نثري نه دی � ولې نه دی او پابند ولې دی ؟ نو راشئ چې اوګورو.. چې زما دَ تنقيدي نظر او تجزيې مطابق دا پورته ليکلی شوی آزاد نظم څنګه په داسې څلورو برابرو هم قافيه مصرعو کې تقسيمېدلی شي ؟ چې ورته بنده آزاد نظم نه .. بلکه باقاعده يو پابند نظم اووئيلی شي �

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه چې يو تر مرى نيسم دَ بل سر وي راشين شوى

چې دا بل له سره نيسم ، گورم بل وي زېړ ږېدلى

زما دَ ژوند په كرونده كې غمو كر دى دومره كړى

چې نه زه شوم ترې بې غمه او نه بُوټ دَ دوئ وتلى

## ۱۰ ـ ـ څوك په حق او څوك ناحقه؟

چا چې

په حقه پورته كړى وو غږ

او په مرمۍ مرمۍ يې ليك وو الله

هغه عسكر

نن دَ غزا په جنون

ځيگر دَ چا ..چا چې پڅي

لگيا دى

هغه هم پور

په نوم دَ خداى پرېكوي

)په لمون ستا دَ څپرې .. مخ - 113(

دا نظم ښاغلي افضل شوق دَ افغانستان دَ نام نهاد جهادي انقلاب په پس منظر كې ليكلى دى � كه څه هم دا نظم ببخي مختصر دى خو په دې نظم كې استعمال شوي علامتي اشاره دَ افغانستان دَ تېرو څلورويشت .. پنځه ويشت كلن جنگ چې دَ ورور او ورور تر ميانځه دَ اسلامي جهاد په نوم كېدو .. پوره پوره داستان دَ لوستونكي په ذهن كې تازه كوي ..!! او حقيقت هم دا دى چې په دغه وطن كې دَ اسلام ، خداى ، رسول ، كتاب او انصاف په نامه كومې كومې ځناوري او غير انساني لوبې دَ پښتنو تر ميانځه او نه شوې ..؟

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوق هم دغه واي .. چې کومه گولۍ دَ الله په نامه دَ ټوپك نه دَ يو پښتون مسلمان دَ لاسه راوتلې ده .. هغه گولۍ دَ هاغه بل پښتون مسلمان په سينه کې ورننوتې ده ، چې هم خدای، رسول ، کتاب او پښتو منونکی دی � يعنې دا نام نهاد جهاد دَ افضل شوق دَ دې نظم په پس منظر کې جهاد نه .. دَ دووْ ناپوهه وروڼو او تربورانو تر ميانځه دَ اختيار، واك او دَ اقتدار دَ حصول جنگ وو .. يا دَ يو بل باداري قوت په اشارو دَ پيسو په أجرت يې دغه جنگ دَ خدای په پاك نوم روا کولو کوشش کړی دی � خو په نتيجه کې يې نه يواځې مخ توري شوي دي په کې .. بلکه دَ بل په لاسونو کې يې دَ شادوگانو په رنگه ښې ډېري بازۍ هم کړي دي � يعنې که يوې خواته پښتون دَ طالب په بڼه غازي يادېدو .. نو بلې خواته مړ مُلا شهيد بللی شوی دی � که څه هم حقيقت دا دی چې دواړه په غلطه لار وو او دواړو ايمان او پښتو بائيلله �

افضل شوق په دې نظم کې دَ دې تور تاريخ.. په نهو وړوکو مصرعو کې داسې په هنر خوندي ساتلی دی چې سبا که لوستونکي دَ افغانستان دَ تفصيلي تاريخ په ځای دغه نظم .. او په دې نظم کې جوړ شوي لفظي تراکيب او علامتي اشارې مخې ته کېدي نو دَ هاغه خونړي دور نه به خبر شي او دَ پښتنو تر ميانځ جنوني ، نام نهاد او غېر انساني جهاد ته به حېران پاتې شي �

دَ افضل شوق دا نهه مصرعيزه وړوکی نظم چې ښکاري آزاد .. خو دَ لوستلو ورستو لوستونکي ته دا خبره په گوته کوي چې او واي .. دا نظم دَ نهو مصرعو آزاد نظم نه .. بلکه دَ پنځو ، يولس سېلابيزه مصرعو داسې پابندي نظم دی .. لکه

چا چې په حقه پورته کړی وو غږ

او په مرمۍ مرمۍ يې ليك وو الله

هغه عسکر نن دَ غزا په جنون

ځيگر دَ چا .. چا چې پژي لگيا دی

هغه هم پور په نوم دَ خدای پرېکوي

## ۱۱ ـ جهاد في سبيل الله

په وينو زما

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



که تنده ته دَ جهاد

وَ سرِولو ته چمتو ښکارې ، نو

دَ خپل ساتُول را اخیستلو ړومبی

بس فقط دغه

یو ورستی خواهش مې

ته راپوره کړه .. مجاهده وروه!!

چې کله ما

په سره کفن کې گور ته

دَ میراث خور په حېثیت ورسپارې

نو گوره گوره

چې په لمسه دَ بل

دَ خپلې کُونډې او تورسرې روېندار

لاسونه بیا سره په نکریزو نه کړې

گنې ،

دا زما او ستا شریکه وینه

شریك مذهب

او هم شریکه پښتو

به تا غازي او ما شهید نه مني

)په لټون ستا دَ ځېرې .. مخ � 97(

یو ځل بیا افضل شوق دَ افغاني جهاد په لور دَ لوستونکو توجه په یو بل تهیم او نظر وړاندې کوي او دَ خپل ضمیر په وړاندې دَ دې غېر انساني دور او پښتنې ځناورې روئیو ته گوته داسې په شاعراه او افسانوي توگه نیسي .. چې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



لوستونکي سترګي په ژړا باندي مجبوره کوي � کله چي هم زه دا نظم لولم .. نو زما حالت غبر شي او دَ شوق صاحب دَ دي مختصر المیاتي نظم هره مصرعه په زړه نشتر څکه محسوس کړم .. چي په دي نظم کي یوي داسي څناوري رښتیا ته اشاره شوي ده .. چي انساني تاریخ به یي کله هم هېره نه کړي � هغه رښتیا ، دَ پښتنو تر میانځ دَ ویني دَ هغي لوبي سره اړه لري چي په کي هغوئ په قسم قسم نومونو خپلي تندي ماتي کړي دي � نو څکه خو شوق دَ حساس شاعر په رنګه په دي دور کي لیکلي شوو بېخي زیاتو نظمونو کي پښتون غندلی دی�

دي پورته لیکلی شوی نظم ته مونږ په ډرامائي انداز کي په یو داسي افساني باندي مشتمل ادبي شاهکار وئیلی شو .. چي دَ افضل شوق نه دَ شاعر نه علاوه ډرامه نګار او افسانه نګار هم جوړوي � ولي چي .. دَ غازیتوب او شهادت وَ افغاني مروجه جهادي اصطلاحاتو ته چي هغه په ډرامائي انداز کوم رنګ ورکوي .. هغه ادبي رنګ .. په څان کي المیاتي افسانه او تمثیلي شعریت لري � قیصه دَ دوه نیمو عشرو .. په یو څو ورو مصرعو کي سرته داسي په هنر او خوند رسول شاید چي دَ افضل شوق داسي کمال دی چي ورنه انکار ادبي منافقت ګڼلی شي � افضل شوق ښنګه خپل وصیحت دَ ساه ورکولو په وخت خپل ورو ته کوي ..؟ دغه سوال شاید چي څواب اونه لري .. خو دا خبره په یقین سره وئیلی شم چي یو داسي انسان، چي دَ غوښي نه نه .. بلکه دَ کاڼو نه جوړ وي.. هم موم کېدی شي که لږ دي خبري ته څیر شي �

دا نظم چي هیڅ قسم معنوي ابهام نه لري .. ساده دی ، خو دَ خپل تکراري او جذباتي لب و لهجي دَ وجي دَ شاعر دَ انساني احساس او پښتونیت حدونه دومره پراخوي چي په هغه باندي دَ کېدلی شي چي یو مخصوص فکر لرونکي نقادان دَ هغه دغه شعري زیار ته داسي درانه ټکي ورکولو کي ناکام شي .. چي دا نظم یي په صحیح معنو کي حقدار دی � خو زه ورته دومره لوی او بامعني نظم وایم .. چي شاید په داسي ټکو کي هیڅا هم تر اوسه دَ افغانستان دَ نام نهاد جهادي دور عکاسي داسي نه وي کړي .. لکه په دي پورتني نظم کي چي افضل شوق ډېره په اختصار او مدلل انداز کي کړي ده�

دا نظم چي .. په خپل اصل حالت کي په نولس ورو او لوئیو مصرعو کي .. په آزاده پیرائیه کي لیکلی ښکاري .. ته لږ په غور که اوګورو ، نو دا نظم به مونږ دَ نولس نه .. بلکه دَ دیارلس داسي برابرو برابرو مصرعو پابند نظم اوګڼو چي هره مصرعه یي یولس سپلابیزه ده .. راشئ چي یي اولولو �

په وینو زما که تنده ته دَ جهاد

وَ سرِولو ته چمتو ښکاري ، نو

دَ خپل ساتُول را اخیستلو ږومبی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



بس فقط دغه یو ورستی خواهش مې

ته راپوره کړه ... مجاهده وروه!!

چې کله ما په سره کفن کې ګور ته

دَ میراث خور په حېثیت ورسپارې

نو ګوره ګوره چې په لمسه دَ بل

دَ خپلې کُونډې او تورسرې ورېندار

لاسونه بیا سره په نکریزو نه کړې

ګنې ، دا زما او ستا شریکه وینه

شریك مذهب او هم شریکه پښتو

به تا غازي او ما شهید نه منې

## ۱۲ ـ دَ امن دَ ناوې په واده کې

دغه خوب وو

که په سمه دَ ارمان زما

تصور وو

زما په ذهن راغونډ شوی ؟

چې سندرې ناشناس په انګرېزۍ کې

که وئیلې دَ موزارټ په موسیقۍ کې

نو ، ګوګوش په پښتو ژبه

او هلتېن هم

له کلثوم سره په ګډه په روسۍ کې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



وَ سندرو ته وو داسې جوړېدلي ،

چې عربۍ پېغلو کولو اتڼونه

تُرکو والز

او جاپانيو بوليرو رقص

که چينۍ جوني په تال دَ هند وې مستي

پښتنې هم ګډېدلې په بېلي ډانس

هن ، تر دې چې

دَ نړۍ درست شاعرانو

هم دَ خپل خپل خوب او خيال په سمه غېږې

ډکولې په راڼيانو په ټېنګو څه ؟

چا په فاکس

چا ، چا پولکا او فلېمنکو کې ،

حقه دا ، دَ عالم په دې محفل کې

جارېدلو انسانان له يوه بله

هيڅ توپير نه وو تر منځه

ټول خپلوان وو

که څه هم حقيقت دا ،

چې دُښمنان وو

خو ، بس هسې مې اَرزو دَ سوکالۍ نن

په دې زړه کې په شدت احساسوله

څکه ما دَ امن ناوې ودوله

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



)په لټون ستا دَ خبرې .. مخ - 123(

دا دَ افضل شوق په ځينو هغو شاهکارو نظمونو کې يو نظم دی چې ډېر زيات شهرت يې حاصل کړی دی او دَ هغه کتاب " په لټون ستا دَ خبرې" دَ چاپېدو پس دَ شاعر او کتاب په باب چې چا هم څه ليکلي دي .. هغه دَ دې نظم حواله ضرور ورکړې ده � يعنې دَ دې نظم دَ لوستلو ورستو افضل شوق دَ يو امن پرسته شاعر په توګه يو نوم او حواله ګرځېدلی دی � ځکه چې هغه چې کومې خبرې يا کوم خوبونه او يا څومره ارمانونه دَ انساني امن ، سوکالۍ او خوشحالۍ ، يا مينه محبت او شفقت دَ حصول په حقله ليدلي دي.. هغه ټول څه دَ شلمې صدۍ په آخري عشره او دَ يويشتمې صدۍ دَ آغاز په کلونو کې دَ دغه انسانانو دَ لاسه داسې دړې وړې شولو.. چې دغه امن پرست او مينه ناك شاعر يې په ژړا او فرياد سر کړو� دَ ده شاعري لا څه .. چې دا نظم يې دَ نرئيز بړاس او دَ خوبونو دَ تعبير جوړولو دَ خواهش په حواله مخې ته راغلو -

په دې نظم کې افضل شوق يو محفل دَ خياله راغونډ کړی دی او په دې محفل کې يې دَ دې نړۍ ټول مشهوره شاعران، مشهوره موسيقاران، نامتو سندرغاړي داسې راغونډ کړي او تر خپلو يې په بېلو بېلو ځينو عالمي مشهوره رقصونو کې په ګډاګانو کې داسې مست دَ خپل تصور دَ مخې ښکاره کوي � چې هغه دَ يو خوب نه علاوه حقيقت نشي کېدلی � ولې چې شوق په دې نظم کې دَ فکري الوت دَ وجې په ناشناس باندې دَ انګرېزۍ سندرې واي .. چې ممکن نه ده او هغه هم دَ موزارټ په موسيقۍ کې ، چې دَ يورپ يو کلاسيکي موسيقار دی � هم دغه رنګه شوق دَ خپل خوائش دَ لارې په ايرانۍ فارسي باني سندرغاړې مادام ګوګوش باندې دَ پښتو سندره ، په امريکائي انګلسي سندرغاړې هېلټن او عربۍ اُم کلثوم باندې په ګډه دَ روسۍ سندره وئيل يوه خارج الامکان خبره ده � خو دا ليدلی خوب چې شاعر يې نظم کوي .. انسانانو نه په صحيح توګه او صحيح بڼه کې هغه انسانان جوړول مطلوب دي چې اشرف المخلوقات ياد شوي دي �

په دې نظم کې دَ خوند او مزې خبره خو لا دا هم ده .. چې دَ افضل شوق په دې نظم کې که عربۍ پېغلې پښتنې اتڼونه کوي يا چينۍ جينکۍ دَ هند په تال رقصېږي .. نو بل طرف ته پښتنې په بېلې ډانس کولو کې .. چې دراصل عربي کلتوري رقص دی ..يادوي � او دَ خپل پراخ نظر او انساني سوچ ښودنه کوي � نه تش دا.. بلکه په دې نظم کې شوق صاحب دَ بېلو بېلو ژبو شاعران هم دَ هغوئ دَ خوښو محبوباګانو سره په بېلو نرئيزو رقصونو کې رقصولي دي � چې يو پښتون او مشرقي انسان که يې په خوب کې لا هم تصور ګناه ګڼي .. نو مغرب يې خپل توعين ګڼي او کله هم نه غواړي چې هغوئ دي دَ مشرق سره په ګډه داسې خوشحالياني اوکړي �

زما دَ پورتنو خبرو نه مطلب دا ده دی چې ګڼې افضل شوق غېر فطري يا غېر حقيقي خبري کړي دي .. بلکه دا دَ ده فني هنر او شعوري کمال دی چې دومره اوچت آفاقي سوچ يې په پښتو کې نظم کړو � يعنې شوق په انسانانو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې توپیر نه مني او هغه دا یقین لري چې انسانان که اوغواړي نو تر خپلو انساني رشتو په سوب خپلوان کېدی شي � خو دَ شوق دَ قوله انسانان دَ یو بل دُښمنان دي � او دا کله هم ممکن نه دي � خو طمه یې بیا بیا کوي � دا نظم که په پښتو کې نه .. په انګلش یا بلې مغربي ژبې کې وړاندي شوی وی .. نو نن به یې دَ شاعر نوم دَ آسمان په ستورو کې لیك وی � خو داسې ناممکن ځکه ده .. چې دَ دې نظم شاعر پښتون دی او پښتانه کله هم فکري هنر ته په درانه نظر نه ګوري�

دَ فني جوړښت په حواله دا نظم تمثیلي انداز لري چې قیصه ورسره په افسانوي انداز کې قلمبنده شوي ده � په دې نظم کې دَ ژور فکر سره سره دَ بېلو بېلو ژبو ، ثقافتي اړخونه رابرسېره شوي دي � دا نظم په علامتي شکل کې مونږ یو مختصر منظوم داستان ګڼلی شو � دا نظم چې په دېرشو مصرعو مشتمل آزاد نظم لیکلی شکاري .. په اصل کې دَ دوویشت (22) مصرعو دولس سپلابیزه پابند .. لاکن آزاد قافیه او بې ردیفه معری نظم دی � مونږ یې په پابند شکل کې داسې لوستلی شو

دغه خوب وو ، که په سمه دَ ارمان زما

تصور وو زما په ذهن راغونډ شوی ؟

چې سندرې ناشناس په انګرېزۍ کې

که وئیلې دَ موزارټ په موسیقۍ کې

نو ، ګوګوش په پښتو ژبه او هلټېن هم

له کلثوم سره په ګډه په روسۍ کې

وَ سندرو ته وو داسې جوړېدلې،

چې عربۍ پېغلو کولو اتڼونه

تُرکو والز او جاپانیو بولیرو رقص

که چینۍ جونې په تال دَ هند وې مستې

پښتنې هم ګډېدلې په ببلې ډانس

هن ، تر دې چې دَ نړۍ درست شاعرانو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم دَخپل خپل خوب اوخيال په سمه غېږې

ډکولې په راښيانو په ټېنګو څه ؟

چا په فاکس،چا چا پولکا اوفلېمنکوکې،

حقه دا ، چې دَ عالم په دې محفل کې

جارېدلو انسانان له يوه بله

هيڅ توپير نه وو تر منځه،ټول خپلوان وو

که څه هم حقيقت دا ، چې دُښمنان وو

خو ، بس هسې مې اّرزو دَ سوکالۍ نن

په دې زړه کې په شدت احساسوله

څکه ما دَ امن ناوې ودوله

## ۱۳ ـ دَ انساني فطرت په سمه

چې له دې ځمکې څخه

پاس تر شنه آسمانه پورې

بيا له سپوږمۍ څخه هم

رك تر هرهر ستورې بېلې

دَ سرې او شنې په شان

که پرانستل شوې لارې لاهم،

خو دا نړۍ

او په نړۍ باندې مېښنه خلق به

دَ رنګ او نسل

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



یا مذهب او دَ وطن په نامه

دغسې ښکارې

وېښل شوي غرضي کرکو کې ،

هم به یې وې ولاړ

تر مېانځه دېوالونه .. ځکه

چې چرته اونه داړې دغه ځناور

خپلو کې

)په لټون ستا دَ څېرې .. مخ - 126(

په دې نظم کې داسې ښکاري لکه شاعر افضل شوق دَ خپلو معروضي حالاتو، واقعاتو او پېښو نه نه یواځې خبر دی .. بلکه دغه انسان چې په انسانانو کې افضل دی هم دَ دغو ترقیاتو په مېچن کې دلولی شوی وي � شاعر دا یقین لري چې که انسان دَ نن دَ ترقۍ نه هم زیاته ترقي اوکړي او دَ ستوري نه بل ستوري ته لاري دَ بوډۍ ټال کړي .. خو بیا به هم دَ دې ځمکې دَ خاورین ضمیر نه نه اوځي � یعنې دَ خپل غرض دَ لاسه به انساني اقدارو ته تاوان رسوي � او تر خپلو به یې دَ زړونو تر مېانځه فاصلې جوړې وي � او څنګه چې په مخ دَ ځمکې نن سبا دَ انسانانو تر مېانځه دَ رنګ، نسل ، ژبې ، مذهب کرښې موجودې دي .. او ورسره ورسره دَ نفرت او کرکې ځناوري روئیې او خویونه دَ مینې او محبت وجود او جذبو ته تاوان رسوي � نو دَ دې نه بدتر حال به یې په نوره ترقۍ کې هم وي �

افضل شوق په خپل دې پورتني نظم کې دَ ترقۍ مخالفت نه کوي .. بلکه هغه دا خبره کوي چې سائنسي ترقي چې انسان څومره دَ آسائشونو سره مخامخ کړی دی .. دومره انسان دَ انسانیت په ضد کارونو ته ملا تړلې ده � ولې چې دا ترقي انسان هضم کړې نه ده او نه یې شکر وربانديې اوباسلې دی � نو ځکه شاعر دغه ترقۍ دَ انساني اقدارو قتل ګڼي او په فکري اشاره کې دَ پرون پسماندګي دَ نن دَ ترقۍ په مقابله کې غوره ګڼي � یعنې انسان په انساني او فطري خول کې انسان او په نورو جامو کې ځناور برېښي � داسې ځکه چې انسان په فطرت خودغرضه دی او آسائش موندلو ورسته خپل اصلیت هېروي �

که څه هم په دې نظم کې شاعر دَ خپل عالمګیر کېدل دعوه په ښکاره نه ده کړې خو داسې څرګندېږي لکه هغه چې انسان په کرښو کې وېښلی شوی ځناور ګڼي او وای چې ، انسان که واقعي انسان وی نو هغه به دَ یوبل سره دَ

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



يوبل دَ غم او خوشحالۍ ملګرى وو� خو افسوس دا چې داسې هيچرته په دې انساني معاشره کې نه شي ليدلى � او که مونږ اوګورو ، نو واقعي هم دغسې قيصه ده او دَ دُنيا حالات ورځ په ورځ خرابېږي او انسان دَ انسان نه بېزاره کېږي � دا انساني نه .. بلکه ځناوري خصوصيت دى � چې ځان ځانته ژوند کوي �

دَ فکر دَ لحاظه دا نظم هم په خپله معنا کې علاقائي ، قبائلي ،او مذهبي او نسلي رنګ نه لري .. بلکه يو آفاقي انساني مثبت سوچ او تعميري تصور مخې ته کوي ، کوم چې خپل صداقت په يو وخت کې هم نشي پاتېدلى � او لازمي خبره ده چې دغې بدو انساني روئيو نه ته په داسې صداقت ګوته نيول او په هغې تنقيد کول او دَ هغې غندنه کول .. دا په اصل کې دَ شاعر او اديب يوه سماجي ذمه واري هم وي او مونږ وئيلى شو چې افضل شوق خپلې دغه ذمه واريانې نه يواځې پېژني .. بلکه دَ هغو دَ ادا کولو وس او چاره هم کوي �

په فني توګه په اسلام آباد کې په کال 2002 کې ليکلى شوى دا نظم هم .. چې په کې شپاړس لنډې او اوږدې مصرعې ترلي شوي دي .. خو په اصل کې دا اتهه مصرعيز نظم دى چې په شپاړس سېلابيزه مصرعو باندې مشتمل آزاد نه .. بلکه داسې پابند او معرى نظم دى .. لکه

چې له دې ځمکې څخه پاس تر شنه آسمانه پورې

بيا له سپوږمۍ څخه هم رك تر هرهر ستورى بېلي

دَ سرې او شنې په شان که پرانستل شوې لارې لاهم

خو دا نرۍ او په نرۍ باندې مېښنه خلق به

دَ رنګ او نسل يا مذهب او دَ وطن په نامه

دغسې ښکارې وېښل شوي غرضې کرکو کې

هم به يې وې ولاړ تر ميانځه ديوالونه .. ځکه

چې چرته او نه دارې دغه ځناور خپلو کې

## ۱۴ ـ دَ پرونۍ ښېرې په لټون

هغه هنداره

زما دَ سوچ هنداره

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه هنداره

زما دَ خوب هنداره

چې يو ځېره يې په ما تل ليدله

داسې ځېره

داسې ژوند وزمه ځېره

چې هم مې خپله وه

هم خپله نه وه

ځکه خو ما به په هنداره باندې

دَ تجسس او دَ حسرت منګولې

په مينه مينه لګولې مدام

په دغه نيت

چې زه يې اوپېژنم

لا يې دَ ځان په باب څه اوغږوم،

خو، دَ نصيب لکه چې نه وه خوښه

چې يوه ورځ

هغه وړه هنداره

زما له لاسو ناڅاپه اولوېدله

او دَ طلب هغه ماشومه ځېره

په سل ټوکرو ځله اووېښل شوه،

بس له هغې ورځې تر ننه پورې

زه په لټون دَ هغه ښکلې ځېرې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



هرې جينۍ ته زړه په لاس کې ږدمه

او لا ، دَ سترګو په کچکول کې ځينې

په ماته خله خېرات دَ مينې غواړم

ځکه چې ښوک په رنګ مونږې ورته

دَ چا په سترګو کې هغه سترګې دي

ښوک په تندي

او ښوک په زنه هغه

ښوک په شونډانو

ښوک په پوزه هغه

)په لېون ستا دَ ښېرې .. مخ � 129(

دا نظم ښاغلي افضل شوق چې په کال 1988 کې ليکلی دی او دا هاغه دور وو زما دَ مطالعې تر مخه .. کوم کې چې تر دې نظم لږه موده مخ کې دَ شوق صاحب ړومبۍ شعري مجموعه " شلېدلی امېل" منظرعام ته راغلي وه � خو که دغه ذکر شوي شعري مجموعه مونږ په غور اوګورو، نو په دې کې دَ " سل ښېرې" نومې نظم چې په کال1979ع کې په ريکارډ راغلی دی .. کې دَ سل ښېرو دَ زېږېدلو دَ امکان نه علاوه داسې يو بل نظم مخې ته نه راځي .. چې دَ " ښېرو لېون" رنګه خبرې دي په کې شوي وي � لاکن دَ دې نظم " دَ پرونۍ ښېرې په لېون " دَ ليکلو پس دَ ښېرو يو مسلسل تکرار او هغه هم دَ سلو ښېرو .. په وار وار په ډېرو نظمونو کې مونږ ته په نظر راځي � لکه " په لېون ستا دَ ښېرې" ( په ټائټل چاپ ) دَ سلو يار نظم نومې نظم کې هم دَ سلو ښېرو ذکر شته خو شته .. بلکه په ټائټل باندې دَ دې نظم ورکول هم دا ځرګندوي چې هغه دَ سلو ښېرو په لېون دی او يا دا سل ښېرې هغه ليدلي او بيا يې شاته پرېښې دي � يا بيا شوق صاحب دَ دغو سلو ښېر يار دی لکه په دې کتاب کې چاپ يو پېش لفظ کې ورته ښاغي اکرام الله ګران ده ته " دَ سلو يار" وئيلی دی � خو خبره دا نه ده .. که مونږ دَ پورته ذکر شوي نظم په غور مطالعه کړو نو دَ افضل شوق دَ ژوند او دَ ښېرو دَ لېون داستان به دَ يوې ښېرې سره تعلق اولري � ولې چې دئ په دې داستاني نظم کې کوم ته چې زه دَ افضل شوق دَ ژوند اصل او حقيقي داستان وايم .. کې دئ په ښکاره ټکو کې ليکي چې دَ ده دَ طلب ماشومه ښېره چې ده به په هنداره ( آئينه ) کې هر وخت ليدله � خو هغې ښېرې به خبرې نه کولې او افضل شوق غوښتل چې دغه ښېره خبرې اوکړي .. او يا دئ ورسره خبرې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوکړي � ولې چې دئ او هغه ښېره يو بل ته اجنبيان وو او ده دغه اجنبيت ختمول غوښتل � هم په دغه تجسس او کشمکش کې هاغه آئينه چې دغه ښېره .. ګونګۍ ښېره په نقش وه په ځمکه باندې را اولوېده او درې ورې او زرې زرې شوه .. او هرې زرې کې دَ هغې ښېرې يو نيم نقش ښکاره پاتې شو .. او شوق هغه زرې راټولې کړې او بېرته يې هغه ښېره ترېنه جوړول شروع کړو. خو ښېره داسې ګډه وډه شوه چې بيادَ شاعر په قول له هغې ورځې تر ننه پورې دَ هغې ماتې ګونګۍ ښېرې په لټون دئ هرې پېغلې ته ځکه ګوري چې دَ ده دَ فکري ښېرې دَ يو نا يو نقش سره سمون هم لري او دئ يې دغه رنګه دَ ورکې ښېرې يو يو نقش راغونډوي او دَ طلب هغه ورکه ښېره ترېنه جوړوي .. چې په سلو نورو اجنبي ښېرو وېشل شوې ده.

دا نظم دَ افضل شوق په ژوند کې سټرياګاني او مزلونه هم ليکي. که مونږ اوګورو ، نو دَ دې نظم دَ چاپېدو پس شوق سپلاني شاعر هم مشهوره شوی دی. په دې درست کتاب " په لټون ستا دَ ښېرې" کې تر ټولو چې کوم څيز زيات زېربحث راغلی دی .. هغه ښېره يا ښېرې دي او دَ دغو ښېرو لټون په کې په نووْ حوالو بېخي زيات ليدلی شي. خو دا دَ شاعر شعري کمال دی چې په هر ځل يې دې ښېرې او لټون ته نوی داستان او فکري تکل غوره کړی .. او دَ نوي موضوعاتو سره يې خپل دغه جنوني لټون مخې ته بوتلی دی � خو بيا چې مونږ دَ شاعر وَ همت ته په ځير شو .. نو په هغه کې پښتنه وينه او مينه دئ شکست ته نه پرېږدي او آخر هم په کال 2002 ع کې په دې کتاب کې په صفحه نمبر 142 او 143 باندې چاپ شوي نظم " دَ ژوندون ښېره " کې افضل شوق دا اقرار کوي چې هغه دَ ليدلو سلو ښېرو په رهنمائي کې دَ يوې ښېرې په تکميلولو کې برى اوموندو � لاکن دلته دا خبره بيرته وضاحت طلب ده .. چې کومه ښېره؟ آيا دا هغه ښېره وه .. چې ده په کال 1997ع کې دَ ډاکټر وهيبه سکاني په نوم په مصر کې خپله کړه او که دا ښېره بله ښېره وه ؟ لا خو هيڅوک په دې اړه هيڅ ځکه نشي وئيلی چې دَ دې شاعر په نظمونو کې دَ ښېرو دَ لټون ذکر دَ دې ذکر شوي نظم " دَ ژوندون ښېره " نه پس هم په ځينو نورو نظمونو کې راغلی دی � او خپله شوق صاحب هم دَ دې خبرې په وضاحت کې اکثره په اشارو کې خبرې کوي او خبرې په خندا کې يوې بلې خواته بوځي � خو اوس خبره شوې هم يم چې دَ افضل شوق په ژوند ليکلی ناول هم چاپ ته تيار دی .. ماته يقين دی چې دا رښتونی شاعر به په دې خپله قيصه کې دا معمه سرته اورسوي او ټکې په ټکې به هرڅه او وائي � زه به کوشش کوم چې دا ناول مسوده تر لاسه کړم او دا سوال هم ځواب ته اورسوم �

بلې خواته په دې دووْ نظمونو يعنې " پرونۍ ښېرې په لټون " او په" دَ ژوندون ښېره " کې چې ځومره خبرې په سادګۍ شوې دي .. هغسې په کې دَ فکر ژورتيا موجوده ده او دَ افضل شوق دا ښېرې .. انساني ښېرې که څه هم نه دي .. خو په انساني شکلونو کې او هغه هم دَ ښځو په حېثيتونو کې دراصله يواځې انساني ښېرې نه .. بلکه هغه علامتي ، تشبهاتي ، اشارتي ښېرې دي چې يواځېنی انسان په سلو حوالو انسان او فقط انسان جوړوي � دَ افضل شوق سل ښېرې هم په فکري حوالو يو داسې تصور رامخې ته کوي چې افضل شوق دِ هر چا دوست دی .. دَ هرچا سره مينه کوي ( دَ هرجائي توب ترحده) ..ولې چې هغه ځان انسان ګڼي او دا دَ انسانيت تقاضه هم ده � يعنې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



مينه يو ښه انسان له يوه انسان سره نه .. دَ انسانيت سره کوي � خو دَ افضل شوق دغه ياران فقط ښځي ولې دي ؟ دَ دې سوال ځواب زما دَ فکر مطابق دا کېدل شي چې چونکه شوق شاعر دی او شاعري دَ ښځو سره دَ خبرو نوم دی�

په فني توګه " دَ پرونۍ ځېرې په لټون" نومې نظم په دوه دېرشو (32) وړو او لوئيو مصرعو باندې مشتمل ښکاري .. خو چې ښه ورباندې غور اوکړلی شي .. نو دا دَ 32 مصرعو دا آزاد نظم دَ دوه ويشت 22 مصرعو معرى نظم داسې مخې ته راشي .. لکه

هغه هنداره ... زما دَ سوچ هنداره

هغه هنداره ... زما دَ خوب هنداره

چې يو ځېره يې په ما تل ليدله

داسې ځېره .. داسې ژوند وزمه ځېره

چې هم مې خپله وه ...... هم خپله نه وه

ځکه خو ما به په هنداره باندې

دَ تجسس او دَ حسرت منګولې

په مينه مينه لګولې مدام

په دغه نيت ، چې زه يې اوپېژنم

لا يې دَ ځان په باب څه اوغږوم ،

خو ، دَ نصيب لکه چې نه وه خوښه

چې يوه ورځ ..... هغه وړه هنداره

زما له لاسو ناڅاپه او لوېدله

او دَ طلب هغه ماشومه ځېره

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په سل توکرو څله اووېښل شوه،

بس له هغې ورځې تر ننه پورې

زه په لټون دَ هغه ښکلي څېرې

هرې جينۍ ته زړه په لاس کې ږدمه

او لا ، دَ سترګو په کچکول کې ځینې

په ماته خله خېرات دَ مينې غواړم

څکه چې څوك په رنګ مونېږي ورته

دَ چا په سترګو کې هغه سترګې دي

څوك په تندي او څوك په زنه هغه

څوك په شونډانو.. څوك په پوزه هغه

## ۱۵ــ دَ زُوی په سر باندې سودا ته جوړېدليه پلاره!

ښه خو به دا وي

چې دَ لاسه یې مرۍ خپه کړې

په وخت دَ زوکړې

دَ هغه زُوی

چې سبا یې تربور

هغسې هم

په غال کې ستا

او ستا دَ ورور دَ شملې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ککړ په وينو

ځواني مرګه مړی بيرته تاته

که په زړو اوړو در ړدي

نو په تا غر نړوي

)په لټون ستا دَ ځېرې .. مخ - 138(

په دې نظم کې ښاغلي افضل شوق دَ معاصرو حالاتو خاصکر دَ پښتنو دَ هاغه دونيم لسيزو کلونو جهادچې هغوئ په افغانستان کې دَ اسلام په نامه دَ سرونو په سودا کاروباري کړی وو � او دَ بې شمېره پښتنو وينې په کې بې ګنا توی شوې او عجيبه دا ده چې تر اوسه پوري انجام ته نه دی رسېدلی .. په دې چې دواړه دَ يو پښتني هډ او وجود اندامونه دي � پښتون که وژلی شي نو هم دَ پښتون رور دلاسه ، او که يې وژني نو هم يې رور وژني � او ضد دَدواړو په خپل خپل ځای سرته نه رسي � شاعر افضل شوق دلته يو پښتون پلار ته چې کوم نصيحت کوي � څه هم که غېر فطري رنګ لري .. خو بيا هم په کې دَ شاعر دغه خبري رد کېدلی نه شي چې هغه واي .. دَ اولي ورځې دَ نوي پيدا شوي بچي دَ مرګ غم تر هاغه غمه کم وي چې ځواني مرګ شي � او هغه هم دَ تربور دلاسه � دغه نظم کې هم په ډېر ښکلي تمثيلي انداز کې په يوه ډېره علامتي پېرائيه کې دَ پښتون دَ ماحول دغه جهادي غافلانه روئيو ته کتلي شوي دي � يو پښتون پلار ته دَ خپل زُوی پيدا شوي ماشوم دَ وژلو .. نه مُراد مونږ په ابتدا کې دَ ماشوم په لاس کې دَ ټوپك ، طمانچې ، بم او بارود دَ ورکولو په ځای دَ قلم او کتاب دَ ورکوني شعور ورپه ګوته کولی شو � بلې خواته ، دَ دې علامتي اشارې نه يوه نوې معنا داسې هم اغيستلی شو چې دَ بدو جرړه دَ اولې ورځې نه ايستل پکار دي � نه چې دغه بد بيا دَ خورېدو.. لوئېدو دَ عمل نه تېرېږي .. نو نور بد او بدی پيدا کوي � لکه څنګه چې په افغانستان کې تاريخ دَ دې خبري ګواه دی

دغه نظم په فني توګه چې څومره په ساده رنګ کې بيان شوی دی .. دغسې دغه نظم دَ نن دَ حالا تو يعنې په عالمي کچ چې دهشت ګردی يا ترهه ګری کومه نعره مونږ اورو .. هغه هم دغه رنګه ورو ورو دَ څو صدو نه دَ دې حالا تو پخوا يو سفر وو ، چې نن يې ټوله دُنيا دَ خوف او ويرې سره مخ کړې دي � نه يواځې دا بلکه په دې حالاتو کې انتهاپسندي مونږ ته په عروج ليدی شي �

دَ افضل شوق دا نظم چې " په لټون ستا دَ ځېرې" کې په 138 باندې چاپ دی په راولپنډۍ کې په کال 2001ع کې ليکلی شوی .. په دولسو ورو لوئيو مصرعو کې ليکلی دا نظم دراصل دَ شپاړس سېلابيزه پنځو غټو برابرو برابرو مصرعو باندې مشتمل دی .. لکه چې ..

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښه خو به دا وي چې دَ لاسه يې مرۍ خپه کړې

په وخت دَ زوکړې دَ هغه ژُوی چې سبا يې تربور

هغسې هم په غال کې ستا او ستا دَ ورور دَ شملې

ککړ په وينو ځواني مرګه مړی بيرته تا ته

که په زړو اوړو در ړدي نو په تا غر نړوي

١٦ ـ ـ دَ ژوند سوال .. ځواب هم سوال

هرڅه هرڅه دی

خو بيا هم

دغه ژوندون خارمړی

دی هاغه سوال

چې په ځواب کې لا

بلا سوالونه

زېږوي څه چې

مونږ هم تل په امتحان کې ساتي

)په لټون ستا دَ ښېرې .. مخ � 141(

په دې نظم کې ښاغلي افضل شوق دَ ژوند فلسفې او معنې ته په خپل منفرد انداز کې کتلي دي � ژوند چې تر اوسه پورې يې لا صحيح معنا چا هم نه ده وړاندې کړې .. يا داسې هم وئيلی شي چې دَ ژوند په فلسفه لا هم هيڅوک هم نه دي رسېدلي � ژوند يوه داسې هوائي مرغۍ ده چې لاندې دَ ځمکې نه ورته ګورې نو چاته ښنګه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښکاري او چاته ځنګه � لکه افضل شوق چې دغه نظم کې دَ ژوند فلسفې ته کومه اشاره کوي .. نو هغهَ یو داسې سوال رابرسېره کېده دي چې ځواب یې هم په سوال پورته کوي او دا خبره هم دغسې ده � ولې چې تجسس ، حیراني ، دَ خواهشاتو تکمیل .. منډې ترړې او هوس او لا لچ په اصل کې دَ ژوند بېلې بېلې غرضي لاري دي .. چې تکمیل ته رسېده غواړي � خو دَ بده مرغه انسان په خپل ژوند کې په یوه لاره هم په خپله خوښه دَ ژوند دغه لارې سر ته نه دي رسولي � او هر یو په نیمه لار کې دَ بېلو بېلو امتحانونو او ازمېښتونو سره مخامخ شي � یعنې انسان په ژوند کې دَ ژوند سره اوږه په اوږه تګ دَ خپلو خواهشاتو تکمیل خو ګڼي خو دغه خواهشاتو ته رسېده یې ممکن کړي نه دي �

سوال ځنګه په ځواب کې سوال زېږوي ؟ دا هغه فلسفه ده چې په شاعرانه ټکو کې دَ افضل شوق په دې نظم کې ورته ژوند وئیلی شوی دی � څومره چې دا خبره لوستونکي په سوچ کې مبتلا کوي .. هم دغه رنګه په دې نظم کې دغه یوه محاوره یعنې " په امتحان کې اچول" په دې نظم کې موجود ابهام ته آساني معنې ورکوي �

په فني جوړښت او رغونه دا نظم یوه ساده او وړه خبره ښکاري چې دَ لوستلو سره دَ انسان په ذهن کې واضحه شي .. خو فکري ژورتیا یې دومره زیاته ده چې انسان دَ ژوند په فلسفه او معنې ورګېر کړي � زما مراد دا دی چې دا نظم یواځې دَ پښتو نظم نه دی � که ترجمه کړی شي نو دَ معیاري ادب یوه معتبره حواله به اوګرځي � په دې کوشش او داسې نورو نووْ موضوعاتو په ښه توګه څېړلو او چېړلو افضل شوق ته یواځې دَ پښتو شاعر نه وایم ولې چې دغه قسم نوي او معیاري موضوعات زمونږ دې شاعر دَ علاقائي او قبیلوي اثر نه لرې ساتلي دي.. او دا دَ ده فني کمال او فکر لوئیوالی دی .

په تیاره نومي ساحلي ښار الجزائر کې لیکلی شوی دا نظم په اتهو وړو غټو مصرعو باندې مشتمل ښکاري خو په اصل کې تش په دریو ، پنځلس سپلابیزه برابرو برابرو مصرعو کې راغونډ شوی دی .. لکه

هرڅه هرڅه دی ، خو بیا هم دغه ژوندون خارمړی

دی هاغه سوال ،چې په ځواب کې لا بلا سوالونه

زېږوي څه چې .. مونږ هم تل په امتحان کې ساتي

## ۱۷ ـ ـ دَ شملي صدی په نوم چې نن مونږ....

په وړو وړو خبرو

که سرونه په لاسو ږدو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو، کاسو کې دَ سرونو

خو.. سرې وينې هم څیښو مونږ

غرض دا ، چې که مونږ څه هم

انسانانو ته مونږه

خو، په پته په فطرت کې

له هر څه پرته

والله چې

سرې خوره حېوانان يُو

)په لټون ستا دَ څېرې .. مخ � 146(

دلته په دې نظم کې افضل شوق وَ يو داسې ځناوگي روئيې ته گوته نيسې چې نن سبا يې انسانان او خاصکر پښتانه په ډېر وياړ او فخر خپلوي � يعني په معمولي خبرو چې ځومره دَ پښتنو شمله کوزېږي .. هغه رنگه بل طرف ته په ډېرو لوئيو معاملو هغوئ چپ هم شايد چې په دې خبره پاتې دي � چې په کې هغسې توان توفيق باقي نه دی پاته شوی � دَ نورو قومونو سره دَ سيلانۍ او مقابلې کولو په وخت نن هغه مېړنی پښتون .. چې پرون يې ترانې نورو وئيلې .. هم عاجزه پاتې شوی دی � خو دغه بل ته عاجزه پښتون تر خپلو يو بل ته تر پرونه هم نور غښتلی برېښي � او په خپل علاقائي سوچ ژوند کولو ته داسې جوگه شوی دی چې افضل شوق يې ژړا په خپل دې نظم کې په ډېره پښتني جذبه او پښتني احساس ژړوي � هغه پښتون په ناحقو لارو روان گوري او غواړي چې پښتون دې هم دَ هغو اقوامو سره اوږه په اوږه مخې ته روان شي چې نن يې دَ هغوئ دَ آقّا حېثيت تر لاسه کړی دی �

دا نظم معنوي ابهام نه لري او نه په کې داسې کرکېچنې خبرې شوې دي چې دَ لوستونکي په ذهن کې مغالطې پيدا کړي � دلته موضوع علاقائي او خالصه پښتني ده خو شاعر په انساني حوالو دا کوشش کړی دی چې پښتون ته آئّينه ور ښکاره کې � په دې نيت نه .. چې گنې پښتون انسان نه دی .. بلکه په دې نيك نيتۍ چې پښتون دَ هيچا نه کم نه دی � نو بيا څه وجه ده چې دا قوم تر خپلو دَ خپلوۍ احساس نه لري او نور عالم ته خپله بڼه ځناوري ښودي ؟ دا هغه تپوس دی چې افضل شوق يې په دې نظم کې دَ ځواب په طمه رامخې ته کوي �

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې نظم کې لفظي تراکيب لکه " سرونه په لاسو کې ړدل" ، " دَ سر په کاسو کې وينې څښل" ، " انسانانو ته مونېدل" ، " سړي خوره انسانان کېدل " محاورتي انداز لري او په دې نظم کې دَ شاعر جذباتيت دَ يو پښتون په شان ښکاري خو په دې جذباتيت کې يې غېر ضروري اجتجاج نه کار نه دی اغيستی � ځکه خو دَ نظم شعريت دَ موضوع په لحاظ دَ منلو دی � هم دغه خو دَ دې شاعر افضل شوق تر ټولو لويه خوبي ده چې هغه آفاقي موضوعاتو ته هم علاقائي او پښتني قومي ژبه ورکوي � کومه چې پښتنو ته اپيل کوي � مونږ دا وئيلی شو چې شوق صاحب په فطرت او اصليت پښتون دی .. خو په مزاج امن پرست انسان او مينه کونکی مجنون دی � خبره يې صفا .. خو په کې احتجاج نه ښکاري � هغه سوالونه رابرسېره کوي ، لکه دلته په دې نظم کې چې په علامتي اشارو کې زمونږ راهنمائي کوي�

دا دَ لسو ورو لوئيو مصرعو نظم چې په آزاده بڼه کې ليکلی ښکاري .. له اصله په اتهه سېلابيزه نهو مصرعو باندې مشتمل نظم دی .. خو مونږ يې په څلورنيمو داسې مصرعو کې هم تقسيمولی شو.. چې په کوم کې څلور مصرعې شپاړس سېلابيزه مصرعې دي او يو آخري مصرعه يې اتهه سېلابيزه ده .. لکه

په ورو ورو خبرو که سرونه په لاسو ړدو

نو،کاسوکې دَ سرونوخو سرې وينې هم څښو مونږ

غرض دا ، چې که مونږ څه هم انسانانو ته مونېږو

خو، په پټه په فطرت کې له هر څه پرته والله چې

سړي خوره حېوانان يُو...................................

## ۱۸ ـ دَ فرعون سره دَ شوي قول په سمه

دا کېدی شي

چې په ورځ دَ حساب دغه

دَ رښتيا په تول پوره وتلي خلق

دَ انصاف په جوارۍ کې دوزخونه

اوګټې په دې خبره ، چې بې صبرو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ خالق دَ يو جنت په سر

ځان ځانله

دَ دروغو جنتونه دومره جوړ کړل

چې اوس حُورې په کې

باړ دَ جنتي ژوند

ماتولو ته جوګه ښکاري هر لوري

)په لټون ستا دَ څېرې .. مخ � 154(

دا پورتنی نظم افضل شوق په کال 1996ع کې دَ يو وړوکي يورپي ملك مناکو په مونټي کارلو نومې ښار کې ليکلی دی چې ذکر يې په سفرنامه کې هم راغلی دی � په دې نظم کې شاعر افضل شوق دَ يورپي ماحول په تناظر کې خپل شاعرانه کېفيت ډېر په ښکلي انداز کې ښکاره کړی دی او وائي چې .. دا دَ مغرب خلق چې دَ نن په آّسائشونو او عياشيانو باندې نازېږي دَ خپل ځان دپاره دَ خدای دَ جنت په رنګه نوي نوي جنتونه داسې جوړ کړي دي چې په کې يورپي پېغلې دَ جنت دَ حُورو په رنګ کې زړونو ته سرور بخښي .. او هم په دغه نظم کې شاعر دا هم وائي چې کېدلی شي چې دَ يورپئينو يا دَ ترقي يافته خلقو دَ عياشۍ او په آّسائشونو باندې ايمان دَ هغوئ دپاره دَ دوزخ ذريعه په دې اوګرځي چې هغوئ دَ خدای دَ جوړ کړي شوي جنت په مقابله کې دا هر څه کوي�

دَ افضل شوق دغه نظم داسې څرګندوي چې هغه يورپ .. خاصکر دَ مونټي کارلو دَ شپې ژوند دَ يو منظوم روداد په شکل کې مخې ته ړدي � خو خبره دا نه ده � خبره ساده ده .. لاکن په دې کې فکري ژورتيا انسان په دې باندې سوچ کولو ته پاروي چې دا ژوند يواځې دَ عياشۍ اډه، يا آّسائشونو دپاره نه دی .. بلکه دَ هغوئ وظيفه په ځمکه باندې دَ خدای دَ نائب په توګه انساني روئيې او ښه خوئيونه خپرول ده � دَ ايکې يو خدای پېژندل دي � دَ انساني ژوند دَ اخلاقي افدارو ساتنه ده .. چې هغه کله هم په کلبونو، جواخانو، شراب خانو نشي ممکن کېدلی � دَ افضل شوق دا مثبت او تعميري فکر که څه هم دَ اروپا يا ښېخي ترقي يافته څو بې لارو اقوامو يواځې غندل نه دی .. خو په کې انسان ته دَ انسان په رنګه پاتې کېدل هم دَ هغه مرام يا مقصد دی �

په دې نظم کې شاعر دَ فرعون دَ جنت سره دَ يورپ دَ شپې ژوند او دَ عياشۍ دَ تشبهيه هاغسې فکري حواله رقم کوي چې دَ اسلامي تاريخ په پاڼو کې دَ فرعون په اړه خوندي ده � يعنې خدائی پاك هغه فرعون چا چې په ځمکه دَ جنت جوړولو .. هغه دَ جنت خاوند نه کړو .. بلکه هغه ته يې دوزخ په نوم داسې اوليکلو چې مسلمانان ترېنه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



عبرت او سبق اخلي ..!! دَ افضل شوق دغه خبره په يو بل سوچ دَ انسان په انساني زوال باندي گوزار هم گڼلی شو .. کوم چې دَ دې انسانانو دَ دې فرعوني روئيو په وجه مخې ته راغلی دی�

په يولس ورِو او لوئيو مصرعو ليکلی شوی دا نظم که په غور اولوستلی شي نو هر لوستونکی به زما دَ تجزيې سره اتفاق اوکړي .. يعنې دا نظم په اوږدو اتهو داسې مصرعو باندي مشتمل دی چې هره مصرعه يې په دولس برابرو برابرو سپلابونو اړه لري .. لکه

دا کېدی شي چې په ورځ دَ حساب دغه

دَ رښتيا په تول پوره وتلي خلق

دَ انصاف په جوارۍ کې دوزخونه

اوگټي په دې خبره ، چې بې صبرو

دَ خالق دَ يو جنت په سر ځان ځانله

دَ دروغو جنتونه دومره جوړ کړل

چې اوس حُورې په کې باړ دَ جنتي ژوند

ماتولو ته جوگه ښکاري هر لوري

## ۱۹ -- دَ فرعون لوُر

"دَ جلال او دَ جمال توان به مې شوقه!

وايه .. څنگه ته راوړې په خوار غوښين زړه؟

زه يم لُور دَ فرعونانو

او په ما کې

دَ هغو دَ ويني جوش او ولولې لا

په غورځنگ لکه څپې دَ رود نيل دي"

تنا وزمه دا خبري يې لا څه چې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په موسکا يې بربښناګانې پرکولې

په خندا يې تندرونه غورځولو

هم کږو کتو يې لا دَ نظر غشي

دَ ږلیانو په حساب را تاوْولو،

حقه دا،چې دَ ځوانۍ زور او له کبره

دَ لمبې په شان دَ اور به وشېدله

ځنګېدله .. غوړېدله

هن تر دې چې

غوړېده به لکه مار، خو

ماره نه وه

هو، دَ مار تر سیورې لاندې دغه پېغله

بله څوك هم نه

هغه قلوپطره وه،

چې په روح راورېدله له پېړيانو

او په ما يې دَ عمرونو واټنونه

دَ وصال وَ دې ساعت ته وو سر کړي،

ځکه ما کې هم سیزر کړو سر راپورته

په لیدو دَ هغې ورکې ملائیکې

او دَ میني عسکري جذبې مي واړه

دَ هغې په فولادي زړه شوې ورماتې

او بې غاله چې راماته شوه په عجز

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه يې هم په حاکم ځان،

ځانته مرئيی کړم

او دَ عشق دَ تقاضو په سمه دواړو

يو ځل بيرته

فرعوني تاريخ ژوندی کړو

)په لټون ستا دَ ښېرې .. مخ � 155(

دا تفصيلي نظم چې افضل شوق په قاهره (مصر) کې په کال 1997ع ليکلی دی .. داسې ښکاره کوي ، لکه هغه چې دَ خپل هاغه واده قيصه کوي چې ما يې مخ کې هم ذکر کړی دی � يعنې دَ هاغه " ښېرې" چې " سلو ښېرو" يې راهنمائي کړې ده � بلکه په دې نظم کې خپله هم شاعر افضل شوق داسې خبره کوي چې هغه دَ جوليس سيزر .. چې دَ روم بادشاه وو په مصر باندې قبضه کړې وه � او قلوپطره يې رانيۍ کړې وه � نو شوق هم دلته دَ هاغه تاريخي حوالې په رڼا کې خپلې دې تکميل شوې ښېرې ته قلوپطره او ځان ته جوليس سيزر وائي�

دا نظم يوه منظومه قيصه ده چې راوي يې خپله افضل شوق دی � په دې قيصې کې دَ جلال او جمال په حواله چې کوم تراکيب مخې ته راوړي .. هغه دَ لوستونکي په ذهن کې بې شمېره سوالونه پيدا کوي .. لکه دَ تنا ګانو په شان خبرې کول.. په خندا تندرونه غورځول .. کتلو ته دَ نظر غشي غورځول وئيل .. غشې دَ ړليانو په حساب غورځول ..دَ لمبې په شان وشېدل.. دَ مار غونډې ځنګېدل او غزېدل او دَ مار تر سيورې لاندې اوسېدل داسې استعارې او اشارې دي چې .. نه يواځې دَ فرعوني تاريخ عکاسي کوي .. بلکه دَ لوستونکي ذهن يو دم دَ هغې فرعوني مصرۍ قلوپطره په لور وړي .. چې په خپل جمال کې چې څومره مشهوره وه .. هم هغسې يې دَ جلال قيصې هم دَ مصر تاريخ ګواه کوي � بل طرف ته دَ روم دَ هغې زړې زمانې بادشاه جوليس سيزر په تاريخي حوالو دَ دې اوسنۍ قلوپطره په وړاندې دَ افضل شوق مخامخ کېدل .. او دَ هغه دَ سيزر په بڼه کې راپورته کېدل .. دَ هغه دَ مينې عسکري جذبې راپارېدل او دَ قلوپطره په فولادي زړه حمله آّور کېدل .. هم بيا دغه ښتون جوليس سيزر په مينې کې دَ هغې مرئيی کېدل واقعي هم وَ فرعوني تاريخ ته ژوند ورکولو قيصه ژونديۍ کوي � ولې چې دَ جوليس سيزر او دَ قلوپطره مينه يو تاريخي حقيقت دی � کوم چې افضل شوق سر دوباره را ژوندی کړی دی �

په فرعوني داستان کې خپلې مينې ته چې شوق صاحب دَ رومانوي حقيقت څنګه رنګ ورکوي .. هغه که يو طرف ته منفي اثر پرېږدي .. نو بل طرف ته افضل شوق دَ تاريخ حواله دَ ځان سره په دې منسوب کوي چې دَ هغه دغه مينه هم دَ فرعونانو په ځمکه کې پيدا شوي او هغه ته سپارل شوي ده � نو ځکه هغه خپل ځان او خپله مينه دَ

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



فرعوني تاريخ يو تسلسل ګڼي � په دې کې شك هم نيشته چې مينه كه پرون وه .. كه نن ده او يا سبا وي .. هم دغسې رنګ به لري�

دا نظم په فني جوړښت يوه تمثيلي قيصه ده .. خو دې سره سره په فكري لحاظ لوستونكي فرعوني تاريخ لوستلو ته مجبوره كوي � دا نظم په درې دېرش مصرعو كې ليكلى اوږد نظم دى .. خو په اصل كې اوويشت داسې برابرو مصرعو مشتمل دى چې هره مصرعه يې دولس سپلابيزه ده .. لكه

"دَ جلال او دَ جمال توان به مې شوقه!

وايه .. څنګه ته راوړې په خوار غوښين زړه؟

زه يم لوُر دَ فرعونانو ، او په ما كې

دَ هغو دَ ويني جوش او ولولې لا

په غورځنګ لكه څپې ګ دَ رود نيل دي"

تنا وزمه دا خبري يې لا څه چې

په موسكا يې برېښناګانې پړكولې

په خندا يې تندرونه غورځولو

هم كړو كتو يې لا دَ نظر غشي

دَ ړليانو په حساب را تاوْولو،

حقه دا ، چې دَ ځوانۍ زور او له كبره

دَ لمبې په شان دَ اور به وشېدله

ځنګېدله .... غوړېدله ، هن تر دې چې

غوړېده به لكه مار ، خو ماره نه وه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



هو، دَ مار تر سيورې لاندې دغه پېغله

بله څوك هم نه ، هغه قلوپطره وه،

چې په روح راورېدله له پېړيانو

او په ما يې دَ عمرونو واټنونه

دَ وصال وَ دې ساعت ته وو سر کړي،

څکه ما کې هم سيزر کړو سر راپورته

په ليدو دَ هغې ورکې ملائيکې

او دَ ميني عسکري جذبې مې واړه

دَ هغې په فولادي زړه شوې ورماتې

او بې غاله چې راماته شوه په عجز

زه يې هم په حاکم ځان ، ځانته مرئيی کړم

او دَ عشق دَ تقاضو په سمه دواړو

يو ځل بيرته فرعوني تاريخ ژوندی کړو

## ۲۰ ـ دَ لمر ، سپوږمی، ځمکې مجرم گليلئيو

کليسا دَ جهالت دَ زمانې چې

تور په تا ځنگه تپلو

هم هغسې

دَ دې وخت عادلان هم په پټو سترگو

ما مجرم څکه گڼي

چې رڼا خورمه ،

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



رڼا اغوندم او اوسم په رڼا کې

لکه ورځ

چې وي روښانه په لمر باندې..

او یا هغه شپه

چې روڼه په څراغ وي

)په لټون ستا دَ څېرې .. مخ � 160(

دَ افضل شوق دا نظم چې تهیم یې په اټلي کې دَ سپل کولو په وخت په فلورینس نومي ښار کې هغه وخت غوره کړی دی .. چې هغه دَ سېنټ کروس په چرچ کې دَ سر ګلېلئیو تابوت وزمه قبر مخې ته ولاړ دی � دَ ګلېلئیو په حقله داسې وئیلی کېږي چې هغه په خپل وخت کې چې په ورمبي ځل دا خبره " چې لمر دَ ځمکې خواوشا نه .. بلکه ځمکه دَ لمر خواوشا ګرځي" .. نو دَ هغه دور دَ کلیسا پادریانو هغه دَ خدای او دَ هغه دَ قدرت یا فطرت خلاف اوګڼلو او هغه یې دَ حقیقت په ضد مجرم په دې ثابت کړو .. چې هغوئ په دې خبرې یقین وو ، چې لمر دَ ځمکې خواوشا ګرځي � یعنې سهار راښکاره شي او بیا ماښام ډوب شي � څه هم که دا خبره بیا ماهرین فلکیاتو او سائنسدانانو غلطه ثابته کړه او سر ګلېلئیو یې په خپلې دعوې کې رښتونی اوګرځولو .. خو ګلېلئیو اوستائیلی ځکه نه شو چې هغه دَ ژوند نه لاسونه اغیستي وو�

دَ سرګلېلئیو دَ داسې رښتیا په تناظر کې افضل شوق هم دا وئیل غواړي چې هغه چې کومې خبرې کوي یا کوم افکار وړاندې کول غواړي .. هغه دَ نني دور دَ منلو ځکه نه دي چې دَ نن انسان .. خاصکر پښتون له دغه حقیقتونو سره بلد نه دی او نه یې کله پېژندلي دي � هم په دې خو دَ ده خبرې دَ ګناه او ثواب په تله کې په پټو سترګو تلل کېږي � او هغه ته دَ پښتو او پښتنو دُښمن کېدلی شي چې په دې خبره وئیل کېږي چې هغه صفا او نېغ په نېغه خبرې کوي .. او پښتون په نني دور کې دَ هر قام نه نه یواځې پاتې ګڼي .. بلکه پښتون په ځناورې خوئیونو او روئیو کې هم لېدلی ګوري � کله کله خو دغه افضل شوق چې امن یې خوب او مینه یې ژوند دی .. خپله هم دَ پښتنو دَ بدې او کمې ورځې په کتلو ډېر زیات جذباتي شي او په خبرو کې یې شدت رامخې ته شوی وي � خو بیا هم دې شدت ته په اخلاقي پیرائیه کې لفظي جامې اغوستلې شوې دي .

په دې نظم کې دَ افضل شوق دغه دعوه چې ګڼې هغه حق ته ګوته نیسي .. هم ځکه خو مجرم ګڼلی شي .. که مونږ دَ هغه دَ شاعرۍ په رڼا کې اوګورو، نو دا خبره به منو .. چې هغه کومې خبرې په نوي استعارو ، تشبهیاتو، محاورو ، اشارو ، کنائعو او موضوعاتو لاندې کوي .. هغه خبرې دومره نوې او نابلده وي .. چې ما اکثره دَ ملګرو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه دَ دي شاعر په باب اوربدلي دي .. چې دا افضل شوق دَ کومي دُنيا خبري کوي ؟ او يا .. هغه ولې دَ پښتو او پښتني کلتوري روئيو او اوصافو برعکس دي ؟ .. نه يواځي دا .. بلکه افضل شوق ته په داسې نوْو خبرو کولو مغرب پرسته هم وئيلی کېږي � څه هم که داسې هيڅ خبره دَ دې شاعر په شاعرانه روئيه يا ليکنو کې په نظر نه شي راتلی � البته دَ هغه نوي موضوعاتي ادب څه مشکلات پيدا کړي ضرور دي .. خو دا دَ شوق قصور نه ..بلکه دَ دې علاقائي ، قبائلي ، بازاري او ساده نقادانو قصور دی .. چې هغوئ ښه او بد ته په خپلو سترګو ګوري � کله هم خواوشا کې نه ګوري .. چې دُنيا په کومه روانه ده او هغوئ پښتون چرته بوځي � هم ځکه خو دا او داسې نور معروضي حالات دَ افضل شوق او پښتنو تر مينځه لاري تړي �

په دې پورتني نظم کې دَ شپې او ورځې په مناسبت دَ خپرو تړون چې خومره دَ شوق دعوه صحيح ثابتوي ،، هغسې داسې ځيني لفظي او جديد محاوراتي تراکيب لکه " تور تپل" ، " رڼا خوړل" ، " رڼا اغوستل" ، " په رڼا کې اوسېدل" دَ افضل شوق ادب او شعري زيار ته آفاقي رنګ ورکوي .. کوم چې دَ دې دور دَ پښتو ليکونکو نه بېخي بېل او بدل ښکاري � هم دغه هغه خبره ده چې افضل شوق پرې ځانته داسې مجرم وائي لکه سر ګلېلئيو .. چې يو وخت به دَ ده دغه تجريديت او دَ جدت په حوالو روا شوی جرم دَ پښتو او پښتنو قانون جوړېږي�

دا نظم چې دَ يولس ورو او لوئيو مصرعو آزاد نظم ښکاري .. دراصل په اوو داسې مصرعو باندې مشتمل دی .. چې هره مصرعه يې دولس سېلابيزه ده او نظم باقاعده يو مصرى نظم دی .. لکه

کليسا دَ جهالت دَ زماني چې

تور په تا څنګه تپلو هم هغسې

دَ دې وخت عادلان هم په پټو سترګو

ما مجرم ځکه ګڼي چې رڼا خورمه،

رڼا اغوندم او اوسم په رڼا کې

لکه ورځ چې وي روښانه په لمر باندې

او يا هغه شپه چې رونه په څراغ وي

**۲۱ ـ دَ نن انسان او......**

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



"ځومره چې بد غواړي

دَ بل دپاره

هغومره ښه کوي

دَ ځان په حق کې"

دغه خاصې لري نن

هغه انسان،

دَ چا په سر باندې پرون..

چې ابليس

له فرښتې څخه شېطان اوختو

)په لټون ستا دَ څېرې .. مخ � 168(

په راولپنډۍ کې ليکل شوی دَ افضل شوق دا نظم دَ نن دَ انساني روئيو، انساني اقدارو، اخلاقياتو يو داسې منظر وړاندې کوي .. چې انسان يې په ولقه کې ښکاري � که اوکتلی شي نو نن دَ هر چا دا کوشش وي چې دَ خپلې لړي غوندې ګټې دپاره دَ بل انسان بلا ډېر نقصان اوکړي � او دا هاغه روئيې دي چې په انساني ماحول کې دَ غرض او لالچونو بوزغلې لا نور کړې ـــ دَ دې بوزغلو نه چې کوم بوټې په وده وده کې زرغونېږي نو هغه په دغه ماحول کې لا دَ نفرت او غرض دَ داسې تنورو اونو په شکل کې خورېږي چې په سيورې کې يې دغه جذبې نورې ځوانېږي � نو په دې نظم کې دَ نن دَ دې روا شوې انساني ماحول که يو روڼ تصوير موجود دی � نو بل خوا دَ انسان په انساني مرتبه او درجه يو داسې تازيانه هم ده � کوم چې انسان دَ خپله لاسه خپلې مرتبې او درجې ته يو نه سرکېدونکی تاوان په شکل کې ورکړی دی � يعنې په دې نظم کې يو فکر دی .. يو سوال دی ... ابليس چې يوه لوئيه فرښته وه ، خو شېطان په دې شو چې انسان ته يې سجده اونه کړه .. او انسان، انسان په دې شو چې اشرف المحلوقات او دَ خدای دَ دُښمن " شېطان " دُښمن اوګرځېدو � لاکن دَ افضل شوق دا سوال چې انسان دا اشرفيت څه شو؟

دا نظم په فکري لحاظ څومره دَ اعلی معيار دی .. هم دغسې دَ دې نظم فني هئيت په ساده او روانو وړو او غټو مصرعو باندې داسې په خوند او هنر رامخې ته کړی دی چې دَ موسيقيت ، غنائيت، او آهنګ له رويه هم خپل

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوږلت لري � دا نظم هيڅ ابهام او مشکل نه لري .. او په خپلو معنو کې دومره روان ، ساده او واضحه دی چې لوستونکی پرې ډېر په آسانه پوهېږي � خو په دې نظم کې تر لوئيه خبره دَ افضل شوق هاغه " پټ سوال" دی چې انسان ، انسان نه دی پاتې شوی � دغه رنګ دا نظم هم دَ افضل شوق دَ نورو نظمونو په رنګ که يوې خواته په نهو وړو او اوږدو مصرعو مشتمل دی .. خو په اصل کې دا په پنځو داسې غټو مصرعو پورې اړه لري .. چې هره مصرعه دَ بلې مصرعې سره برابره ده او يولس سپلابونه لري .. لکه

"څومره چې بد غواړي دَ بل دپاره

هغومره شه کوي دَ ځان په حق کې"

دغه خاصې لري نن هغه انسان ،

دَ چا په سر باندې پرون .. چې ابليس

له فرښتې څخه شېطان اوختو

## ۲۲ـ دَ هر ګور وَ سرته شنه شول نور سرونه

دَ چا په لمسه

چې په بېلو بېلو بڼو

تر پرونه پورې تا رېبل سرونه

او پئيل دې ترې وَ چاته امېلونه

هم هغو سوداګرانو برايه شپه

ستا دَ سر سودا هم اوکړه .. مخته تېر شول

خو، ستا سر شو له خطرو په امان ځکه

چې شپه تېره شوه،

سهار شو ستا له بخته

او دَ غرو له څوکو لمر څه راښکاره شو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې دَ ګڼو ادیرو په دې هېواد کې

یو ځل بیا دَ ژوندانه په تاندو هیلو

دَ هر ګور وَ سرته شنه شول نور سرونه

)په لټون ستا دَ څېرې .. مخ � 173(

په کال 2002 کې په اسلام آّباد کې لیکلی شوی دا نظم کې افضل شوق دَ افغانستان دَ حالاتو او خونړي تاریخ او دَ جنګي دور په تناظر کې لیکلی دی � کوم چې دَ دغه حالاتو یو واضح تصویر هر قاري ته مخې ته کوي � په افغانستان کې چې دَ خپلو دَ لاسه دَ چا چا په لمسه په کوم کوم دور کې څه څه شوي دي ..نو دغه واقعاتو او تاریخي المیو ته چې په دې نظم کې په کوم نظر کتلې شوي دي .. نو هغه پښتون افغان په درډ او وژنه دَ یو پښتون لیکوال یوه داسې ویرژنه سانده ده چې دَ خپل وجود په مرینه وئیلی شي� نو دَ دغه دوه نیم لسیز کلن ناروا خونړي انقلاب نه پس چې په افغانستان کې کوم دور اوس شروع شوی دی .. دَ دې دور نه زموږ دې شاعر ډېر توقعات تړلي دي � او خدای دې اوکړي چې په اصلي معنو کې دا دور دَ افغان اولس ، افغان ملت او خاورې دپاره دَ رڼا او دَ شعور یو تابناکه دور ثابت شي � او یقیناً چې دغه هیله او دغه اُمید دَ هر پښتون وګړي دَ زړه هیله ده � دا نظم که لږ شانتې ابهام لري او تر څه حده په مشکل پېرائیه کې لیکلی شوی دی .. خو دَ دې دَ بیان انداز ډېر افسانویت لري .. او چې لږ هم ورته قاري په غور سره دَ دې علامتونو تنې بودۍ ته پام اوکړي .. نو خپلې معنې او مقصد خپله واضحه کوي �

افغانستان ته دَ ادیرو هېواد وئیل .. که څه هم دَ افغانستان په لور یوه واضحه اشاره ده .. خو په دې نظم کې دَ ټولو نه دَ خوند خبره دَ دې نظم آّفاقي فکري تسلسل دی .. کوم چې ښاغلي افضل شوق په ډېر هنر برقرار ساتلی دی � داسې خو دَ افغانستان په حقله ځموږ ګڼو شاعرانو وخت په وخت بې شمېره نظمونه لیکلي دي .. کومو ته چې دَ افغانستان ترانې هم وئیلی شو � خو هغه تاثر یا تاریخي جبر ته اشاره داسې په افساندي انداز کې نه ده شوي لکه په دې نظم کې چې هیڅ قسم دَ ترانې کېفیت نه لرلو پرته هم په زړه کې دَ هغه دور او دَ دې نوي دور تقابلي اشارتې مقابله په داسې هنري انداز او دلیل وړاندې کوي � چې نقاد ترېنه سترګې نه شي اړولی � ولې چې په دې نظم کې یو فکري او قومي حقیقت ته په کې په ډېر معیاري انداز کې کتنه شوې ده �

"دَ چا په لمسه" ، " سرونه رېبل" ، " دَ سرونو امپلونه پئیل" ، " دَ سر سودا کول" ، " سر له خطرو نه په امان کېدل" ، " دَ ګڼو ادیرو هېواد" ، " دَ ژوند تاندې هیلې" او " دَ ګور وَ سر ته سرونه راشنه کېدل" هغه محاوراتي لفظي تراکیب دي چې په علامتي اشارو کې دې وړوکې نظم ته دَ یو تاریخي حقیقت شکل ورکوي � او دَ مزې خبره دا هم ده

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې په دې پورته محاورو کې پښتني خوند او تاثر دَ ورايه ښکاري � يعني افضل شوق چې که يو طرف ته آفاقيت په نظمونو کې رانغاړي .. خو بل طرف ته دَ هغه ژبه پښتني رنګ او خوند لري � په دې نظم کې دَ فن په حواله شاعر په مختلفو علامتونو، اشارو ، کنائعو او شعري تلميحاتو کې خپل مقصد په ډېر هنر وړاندې کړې دی �

دا نظم چې په ظاهره په ديارلسو وړو او اوږدو مصرعو باندې مشتمل ښکاري خو په اصل کې په يولس داسې مصرعو مشتمل نظم دی .. چې دَ دويمې مصرعې نه تر آخري مصرعې په برابرو دولس سپلابيزه مصرعو اړه لرونکی معری نظم دی .. جبکه ړومبۍ مصرعه يې ديارلس سپلابيزه ده چې دَ نظم هئيت ته هيڅ نقصان نه رسوي .. لکه تاسو يې خپله هم لوستلی شئ �

دَ چا په لمسه چې په بېلو بېلو بنو

تر پرونه پورې تا رېبل سرونه

او پئيل دې ترې وَ چاته امېلونه

هم هغو سوداګرانو برايه شپه

ستا دَ سرسودا هم اوکړه .. مخته تېر شول

خو، ستا سر شو له خطرو په امان ځکه

چې شپه تېره شوه، سهار شو ستا له بخته

او دَ غرو له څُوکو لمر څه راښکاره شو

چې دَ ګېو اديرو په دې هېواد کې

يو ځل بيا دَ ژوندانه په تاندو هيلو

دَ هر ګور وَ سر ته شنه شول نور سرونه

## ۲۳ ـ زړه چاوْدي سانحه

(دَ ډاکټر نجيب په ناروا وژلو)

مړ به شم زه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو زما به هېره نشي

دا واقعه

او سانحه زړه چاوْدې

چې ګاونډيانو مو آّخر هم لوبه

دَ خپل وحشت چې رسوله سرته

نو په ښادۍ کې يې

په ځای دَ پسونو

دَ پښتني دود او دستور په چپه

کړو راځوړند هاغه سپين ګيری مشر

څوك چې دَ امن پيامبر يادېدو

چا چې دَ دوئ تر ميانځه صلح غوښته

)په لټون ستا دَ څېرې .. مخ - 174(

په کوئټې کې ليکلی دا نظم هم افضل شوق دَ يو داسې تاريخي الميې تر مخه ليکلی دی چې مثال يې نه خو په انساني تاريخ کې چرته ليدلی شي او نه پښتني تاريخ داسې واقعه په خپلې صفا لمن کې لري � خو دا حقيقت دی چې .. پښتنو دَ خپلو بادارانو په حکم او دَ ډالرونو په لا لچ کې دَ يو داسې انسان نه يواځې خپل يو محسن سپين ګيری مشر تر مرۍ نيولی دی .. بلکه دَ هغه دَ لاش سره يې يو داسې غېر انساني سلوك هم کړی دی .. چې کله به هم انسانيت او اسلام دَ هغوئ دغه ناروا ظلم نه کړي معاف � دَ افغانستان دَ مشر ډاکټر نجيب الله او دَ هغه دَ لاش سره په ناروا سلوك دَ ګوټ ګوټ نه شاعرانو خپل ليکل اوکړل او دغه عمل يې دَ انسانيت او پښتو په تندي باندې تور داغ اوګڼلو � لاکن په دې ناروا پېښه باندې دَ افضل شوق دې پورتني نظم خصوصيت په دې وجه پيدا کړو چې هغه دا نظم په يو داسې پښتني فکر او آّفاقي او انساني سوچ مخې ته کړی دی .. چې انسان او خاصکر پښتانه په سوچ باندې مجبور کړي � او دَ هغو په ذهن کې دا سوال را اُوچت کړي .. چې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



"داسې هم چرته ممکن کېدلی شي چې یو قوت چې په بل قوت یا قوم غالب راشي .. نو هغه دي دَ مقبوضه قوم یا پارټۍ مشر په چوك داسې په ورځو ورځو را اوځړول شي او دَ هغه لاش دي بې عزته کړلی شي .. لکه په افغانستان کې چې دَ خدای په لار یاد شوي دَ حق او انصاف عسکرانو دَ یو مسلمان پښتون ډاکټر نجیب الله خلاف اوکړو؟

دا سوال ځکه دَ هر مسلمان په ذهن کې راپورته کېږي .. چې پښتانه هم مسلمانان دي � او دَ مسلمانانو دَ " فتح مکه" تاریخ مخې ته دي .. چې په کې دَ حضرت محمد صلعم دَ طرف نه تاریخي معافي دَ انسانیت په درست تاریخ کې یو لوئی مثال یادېږي � کومه چې دَ خدای دَ دُښمنانو دپاره وه .. او بل طرف ته په افغانستان کې چې غالب مسلمانانو په مغلوبو مسلمانانو کوم غېر انساني ظلم روا کړو ..نو دَ مقدس دین اسلام په نامه دې ځناورې عمل کونکو دَ وجې نن پښتنو ته په انساني نظر نه شي کتلی � یعنې دې ناروا حرکت چې پښتو او پښتنو وَ تشخص او پښتني ملي روایاتو ته څومره تاوان رسولی دی .. دَ هغه مثال بیا کله تاریخ نه دی وړاندې کړی�

افضل شوق هم په دې نظم کې دَ ډاکټر نجیب دَ لاش توهین په علامتي پېرائیه کې په ډېر آفاقي انداز کې ځکه کوي چې هغه نه پکې افغانستان یاد کړی دی .. او نه یې دَ ډاکټر نجیب نوم � خو اشارې او کنائعې یې دَ هغه زړه چاوْدې سانحې په لور اشاره کوي � په دې نظم کې یوه لوئیه تاریخي واقعه په لنډو ټکو کې داسې وړاندې کوي چې دَ شاعر فني ګمان ، فهم او هنر یې ګڼلی شي � هم دغه خوبي دَ دې شاعر په زیاتو نظمونو کې په نظر راځي � مطلب دا چې په دې نظم کې شاعر په ډېر غېر جانبدار انداز کې یوه تاریخي المیه دَ شکوې او ګیلې په توګه وړاندې کوي � دا دولس مصرعیز نظم دراصل په نهو.. یولس سېلابیزه برابرو مصرعو اړه لري .. لکه

مړ به شم زه ، خو زما به هېره نشي

دا واقعه او سانحه زړه چاوْدې

چې ګاونډیانو مو آخر هم لوبه

دَ خپل وحشت چې رسوله سرته

نو په ښادۍ کې یې په ځای دَ پسونو

دَ پښتني دود او دستور په چپه

کړو راځوړند هاغه سپین ګیری مشر

څوك چې دَ امن پیامبر یادېدو

چا چې دَ دوئ تر میانځه صلح غوښته

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۲۴ ـ ژوند او زه

یو تجسس دی

پاروي ما

په پلټنو باندې

بل اضطراب دی ځاره چاوْدی

دَ پرهار په رنګه

چې ما په څرکو کې دَ درد

که بې قراره ساتي

خو لا هم زه یم

چې ټالۍ وهمه ژوند ته مدام

او ځمه ځمه

خپل هیلو سره وړاندې ځمه

)په لټون ستا دَ څېرې .. مخ - 183(

"په لټون ستا دَ څېرې" کې دَ افضل شوق دا پورتنۍ مختصر نظم ما ځکه دَ تنقید دپاره منتخب کړی دی � چې په دې کې هغه په یو بیل انداز او فکري ادراك کې لیدلی شي � شاعر دا نظم هغه وخت لیکلی دی .. چې کله هغه په کشتۍ کې دَ لندن دَ ډوْر نومي سي پورټ نه دَ ډنکارټ سي پورټ فرانس په لور په کال 1996 کې سمندري سفر کولو .. دَ کوم ذکر چې هغه په خپلې سفرنامې " مزل په واوْرو باندې" کې هم کړی دی � مطلب دا .. چې په دې نظم کې هغه خپل یو کېفیاتي تاثر وړاندې کوي .. یا خپله فطري او شخصي څېړنه کوي � او خپلو سېلانې روئیو ته ګوته نیسي � کوم چې هغه ته دَ " تجسس" دَ وجې نه ورپېښېږي � او دا تجسس هغه .. لکه یو ماشوم په دې خبره یا قصد باندې پاروي .. چې هغه نور نور لټون یا پلټون او کړي � کوم چې دَ افضل شوق دَ شخصیت یوه اهمه برخه ګڼلی شو � خو دلته دَ شوق په پلټنو کې دَ هغه جذبې ماشومي نه .. بلکه ډېرې ژورې لیدی شي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



� او بل طرف ته هغه دا هم وائي .. چې هغه مضطرب هم وي .. او دغه " اضطراب " هغه دَ يو پرهار په رنګه له دردونو سره مخامخ کوي هم ... او دا دردونه ..هغه داسې بې قراره ساتي .. چې هغه دَ ژوند کولو نه زړه ماتی کوي .. خو يوه " هيله " داسي څيز دی چې هغه ته دَ ژوند چلونه ښائي�

مونږ که دَ دې نظم ښه ژوره مطالعه اوکړو ، نو دا منطق به اومنو چې يو تجسس .. دَ انسان سره هر وخت ملګری وي او دغه تجسس انسان ته شعور ورکوي .. پوهه ورکوي � کوم چې اکثره وخت انسان دَ خپلو مشاهدو او غلطيانو نه اخذ کوي � يعنې دا غلطيانې او مشاهدې رو رو.. انسان په ځان او جهان پوهی کوي � دې نه علاوه دَ شوق صاحب دا خبره چې اضطراب يا غمونه .. چې انسان مرګ حاله کوي .. هم يې دَ ژوند نه په فرار کولو مجبوره کوي � خو.. دَ افضل شوق دريمه خبره چې هغه په دې نظم کې دَ سوال په رنګه کې راپورته کړې ده .. هغې کې هم شك نيشته � په دې چې دغه احساس .. يعنې " هيله" يا " هېلې" .. چې دَ انسان نه دَ ژوند کولو لالچې جوړوي �

دَ خپل ذات په حواله دَ افضل شوق په دې نظم کې دَ هغه نظر دَ يو داسې منفردي نظريې په لور اشاره ده � چې شاعر يې فکري ادراك په ډېر شاعرانه هنر او مفکرانه طرز داسې کړی دی� چې په کې دَ انسان او ژوند تر ميانځه رشته په يو دليل واضحه کړې ده � داسې خو" تجسس،اضطراب او هيله" واضحه معنې لري .. خو دا درې واړه څيزونه دلته په داسې منطقي ترتيب لکه په دې نظم کې چې ځای کړل شوي دي .. شايد چې افضل شوق په رومبي ځل دَ خپلو مشاهدو په رڼا کې په دغه رنګه ترتيب وړاندې کړې دي � په دې خبرې کې شك هم نيشته � چې ژوند سره رشته ساتل دَ يوې مجبورۍ دَ لارې نه کېږي او دا مجبوري دَ انسان دَ وس نه وتې مجبوري وي � خو بيا ولې انسان په ژوند کولو مجبوره کېږي � هغه کوم عوامل دي چې انسان ژوندی ساتي ؟ دَ افضل شوق په دې نظم کې دَ دې " پټ سوال " دپاره په علامتي دليل چې کومه اشاره هغه په روستيئو څو مصرعو کې کوي .. هغه دَ لوستونکي په ذهن کې نور سوالونه هم راپاسوي�

دا پورتنی نظم .. چې دَ يولس ورو او اوږدو مصرعو يو آزاد نظم ښکاري .. خو چې ورته په غور اوکتلی شي ، نو دغه نظم به په پنځو داسې اوږدو برابرو برابرو مصرعو مشتمل نظم دی .. چې هره مصرعه يې پنځلس سپلابيزه ده .. تاسو يې هم لوستلی شئ�

يو تجسس دی پاروي ما په پلټنو باندې

بل اضطراب دی ځاره چاوْدی دَ پرهار په رنګه

چې ما په ځرکو کې دَ درد که بې قراره ساتي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو لا هم زه یم چې ټالۍ وهمه ژوند ته مدام

او څمه څمه خپل هیلو سره وړاندې څمه

## ۲۵ ـــ سپین بېرغ

دا چې ځان

زه په هر رنګ کې رنګومه

که څه هم حسن پرسته یم

خو غواړم

اووه واړه رنګونه

سره یو کړم

او په زد

دَ خوني کښو تورتمونو

سپین بېرغ

دَ سوکالۍ ورڅخه جوړ کړم

)په لټون ستا دَ ښېرې .. مخ - 187(

په دې نظم کې یو ځل بیا دَ شاعر " اپروچ" سائنسي هم دی او په دې کې دَ هغه حسن پرستي هم مخې ته راځي � یعنې افضل شوق چې په کوم انداز دَ " اوو رنګونو" خبره دَ ځان سره تړي .. هغه خبره دَ دې نظم تهیم هغه وخت جوړېږي چې دئی په یورپ کې دَ سپل کولو په وخت دَ بلجیم نه دَ هالېنډ په لور سفر کوي � که مونږ دَ افضل شوق دا نظم دَ هغه دَ سفرنامو په تناظر یا سفري حال کې اوګورو.. نو خبره به دَ هغه دَ حسن پرسګتۍ په لور لاړه شي � خو داسې کول دَ یو نقاد نا اهلي او ادبي منافقت ګڼلی شي .. او زه دا نظم دَ دې نظم په خبرو او مصرعو یا علامتي اشارو په رڼا کې ښېرل غواړم � او دَ لوستونکو توجه په دې لور را اړوم چې په دې نظم کې دَ شاعر لخوا واضحه اشاره ده .. چې هغه په هر رنګ کې دلچسپي لري .. بلکه هر رنګ لیدل هم غواړي .. او هر رنګ

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې رنګېدل هم غواړي � لکه څنګه چې هغه په عام ژوند کې هم ښکاري او دا مسلسل لټون هم دَ دې شاعر دَ هر رنګیزه شخصیت عکاسي کوي � خو، هغه دا دعوه هم لري .. چې هغه دا ټول رنګونه په یو بل کې ګډول غواړي او دَ دې ټولو رنګونو نه یو رنګ .. چې سپین رنګ دی .. جوړول غواړي � او دَ خپل مشن پوره کول غواړي چې هغه " مینه او امن " بللی شي � په کوم باندې چې افضل شوق پېژندلی شي ..هم ځکه خو سپلاني یادېږي او دَ خپل مشن سرته رسولو دپاره متحرك ښکاري �

دلته دا هم وایم .. چې په هر رنګ کې دَ رنګېدلو مطلب رنګ رلیاني هم نه دی . بلکه دَ یو حقیقت پسند او رښتوني شاعر دَ خلې نه داسې راوتل .. دَ هغه شاعر مطلب دَ ښائسته کائنات سره رشته ساتلو نه دی ، کوم چې رو رو دَ دې رنګونو دَ خالق په لوریو تخلیق کار بوځي � او افضل شوق هم دلته په دې خپل نظم کې هم دغه مطلب لري � یعني دَ ده مقصد دَ امن بېرغ جوړول دی � او دا بېرغ سپین رنګ لري .. او په دې هر څوك خبر دی ، چې سپین رنګ دَ اوو رنګونو نه جوړېږي � دا دَ افضل شوق اصل کمال دی چې دَ ټولو اعتراض کونکو ځواب په څومره ښائسته او مدلل انداز ورکوي �

دا نظم ډېر ساده ، روان ، عام فهمه او په ظاهره که څه هم دَ نثري نظم یوه ټوټه ښکاري .. خو دا نظم په فني لحاظ دَ نظم ټولې تقاضې پوره کوي � او یوه فکري ژورتیا ځان کې داسې رانغاړلې لري � چې لوستونکی په سوچ کې اچوي � دَ دې نظم شعریت ، موسیقیت او آهنګ په خپل ځای مهم ښکاري � ولې چې دا لس مصرعیز نظم په اصل کې په پنځه داسې مصرعو اړه لري .. چې هره مصرعه یې دَ بلې مصرعې سره برابره ده او دولس دولس سپلابونه لري .. لکه

دا چې ځان زه په هر رنګ کې رنګومه

که څه هم حسن پرسته یم خو غواړم

چې اووه واړه رنګونه سره یو کړم

او په زد دَ خوني کښو تورتمونو

سپین بېرغ دَ سوکالۍ ورخخه جوړ کړم

## ۲٦ ـــ شك دَ ایمان زیان دی

نه زه هندو

او نه ته بُت دَ کاڼي ،

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه مي وصال دَ تقاضو په چپه

کله دی کړی

پوجا پاټ او اشنان

خو.. ستا دَ مينې تهمتونو داسې

زه په جهان

لکه کافر مشهور کړم

چې اوس که هر څو سُولومه تندی

خلق کوي

زما په ايمان باندې شك

)په لټون ستا دَ څېرې .. مخ � 199(

افضل شوق په دې نظم کې په ښکاره جملو کې ليکي چې نه هغه هندو دی او نه دَ هغه محبوب دَ کاڼي بُت � خو دَ دې باوجود هم دَ افضل شوق مينې ته خلق دَ شك په نظر ګوري او دئ کافر ګڼي � دا ساده مصرعې هيڅ ابهام نه لري .. خو دومره آسانه هم نه دی چې هر څوك دې پرې پوهی شي � ولې چې په دې کې دَ افضل شوق محبوب انسان دی .. دَ رنګ ،نسل ، مذهب ، ژبې ، علاقائي او هېوادي سرحدونو نه وتی په خپل ذات کې لا محدوده انسان � يعني يو داسې انسان چې ورته خدای پاك افضليت په ټولو مخلوقاتو ورکړی دی � خو له داسې انسان سره افضل شوق چې مينه کوي .. نو دَ ذات پات او يا په وړو وړو دائرو کې ورګېر نور انسانان ده ته بې لاري انسان وائي � څه هم که ده يو داسې کار نه دی کړی چې هغه دې پرې انسانيت دښمن يا دَ شېطان په لارو ياد شي � هغه خپل محبوب دَ هر قسمه دائرو نه آزّاد او تش په انساني شکل يا فطري روئيو کې ليدلی غواړي � هم ځکه خو هغه په دې قصور نيولی شوی دی�

په دې نظم کې افضل شوق په اشارتي انداز دَ نن دَ انساني جانبدارانه روئيې ښودنه داسې کوي .. چې دَ نن انسان په پټو سترګو او بې تحقيقه خبرو باندې يقين کوي � دا نه ګوري چې کومه خبره هغه کوي .. هغه خبره هم هغسې ده که نه ؟ دا عجيبه خبره افضل شوق په دې دليل وړاندې کوي � چې هغه هيچا دَ خپل اشنا سره په

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوچا پاټ او اشنان کولو باندي نه دی لیدلی .. نو بیا دئی کافر څنګه شو او د ده اشنا دَ کاڼي بُت ؟ دا هاغه سوال دی چې افضل شوق دَ دې نظم موضوع ګرځولی دی � یعنې دَ دې نظم نه دا مطلب اغیستی شو چې انسان په هر حال کې دَ قدر وړ او عزتمن او محترم وي � خو دَ دې مطلب دا هیڅ کله نه .. چې هغه دې دَ اّسرو په بنیاد ژوند تېروي �

دَ دې نظم فني جوړښت دَ خپلو استعارو، لفظي تراکیبو او جدیدو محاورو لکه " په جهان کافر مشهوره کېدل" او ځینو علامتي اشارو لکه " نه زه هندو او نه ته بُت دَ کاڼي" او " پوچاپاټ او اشنان کول" .. چې نظم ته دَ قیصې رنګ او تمثیلي اشکال ورکوي � او لوستونکي په دې سوچ کولو مجبوره کوي .. چې هغه دَ افضل شوق په دې دلیل دَ فکر ژورې اولټوي�

دا دَ یولس لوئیو او وړو مصرعو اّزاد نظم .. دراصل دَ اووْ داسې برابرو برابرو مصرعو یو پابند نظم دی ، چې هره مصرعه یې ځان کې دننه یولس یولس سپلابونه لري .. تاسو یې خپله هم لوستلی شئ �

نه زه هندو او نه ته بُت دَ کاڼي،

نه مي وصال دَ تقاضو په چپه

کله دی کړی پوجا پاټ او اشنان

خو .. ستا دَ مینې تهمتونو داسې

زه په جهان لکه کافر مشهور کړم

چې اوس که هر څو سُولومه تندی

خلق کوي زما په ایمان باندې شك

۲۷ ـ ـ قتل

ما وئیل

چې کښېنه هله

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



وار ږومبی که له قاتله

داسې نه چې تر تا راشي

او تا مړ کړي بې اجله

ځکه زما دَ سترګو وړاندې

ورځ په شپې کې شوه بدله

او راپورته شوم له وامه

نه یوه شوه او نه بله

وارخطا دَ مرګ له سامه

ما چاړه راواخیستله

اوس به ما لا نوره نوره

دَ هغه سینه څیرله

چې ګړنجی مي تر غوړو شو

شیشه غوټه ماته شوله

)په لټون ستا دَ ښېرې .. مخ - 209(

افضل شوق هغه شاعر او مفکر دی چې هر څه په نېغه وائي � او دا دَ هغه په حقله مشهوره خبره ده � په دې نظم کې هغه دَ خپل ذات او اندرون نفي داسې په هنر او کمال کوي � چې دَ ذات په حواله انساني ټولنې او انسان باندې ګوتې پورته کوي � او دا وئیل غواړي چې دَ نن انسان هسې دَ ښېرې نه انسان ښکاري � ګنې انسان په اندرون کې څه بل څه دی � په دې نظم کې هغه یو قیصه کوي چې یوه ورځ په خلاسو سترګویو سیورې یا ښېره ګوري او دا ګڼي چې دا ښېره یا سیوری .. بل هیڅ نه .. بلکه دَ هغه اصل قاتل دی � څوك چې دَ ده دَ قتل په غرض تر هغه پورې ځان رسوي � نو ځکه هغه راپورته شي او چاړه را اوباسي .. او په هغه سړې باندې دَ چړې وارونه اوکړي � او غواړي چې دَ هغه قاتل ځیګر نور نور او څیرې .. خو آخر دا پته دا اولګي چې هغه په قاتل

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



گوزارونه نه کول بلکه ده په هغې آّئینې باندې چاړې ورسمې کړې وې .. چې په کوم کې دَ دې شاعر خپله څېره لیدی شوه�

دَ دې نظم تهیم دومره نوی او په عجیبه فکر باندې مشتمل دی چې یو ناپوهه نقاد دَ افضل شوق دې ذاتي تخیلا تي قیصې ته دَ حقیقت رنګ ورکولی شي او دَ دې قیصې دَ وجې هغه نقاد یا دَ نن ړوند منصف وَ افضل شوق ته بدسیرته هم وئیلی شي � ولې چې هغوئ په دلیل کې دا وئیلی شي .. چې شوق صاحب په خپلې دې قیصې کې دَ خپل ذات په حواله ځانته ځناور وائي .. نو ځکه دئی ځناور دی � خو دغه فکر .. چې بیا یو ادب شناس یا دَ نوي دور په ځناوري روئیو او حرکتونو خبر زمانه شناس عادل ته دَ افضل شوق دغه جرم چې هغه یې په خپلې خلې باندې تصدیق کوي وړاندې کړلی شي ..نو زما یقین دی چې دې لېوني شاعر ته به باضمیره او حق پرست انسان اووائي �

په دې نظم کې افضل شوق دَ انسانیت ګرېوان دَ انسانانو په لاس کې تیګی تیګی ګوري او دَ ځناوري انسان دَ " رول ماډل" په توګه خپل دغه مثالي کردار هغه ته دَ ربتوني انسان داسې څېره ورکوي چې دَ هغه په خبرو اعتبار کېدلی شي

دا دَ څورلسو مصرعو آّزاد نظم .. دَ تنقیدي جائزې اغیستلو ورسته به لوستونکې دا اومني .. چې دَ آّزادو نه .. بلکه دا نظم دراصل دَ تش اوو پابندو .. بلکه باقاعده قافیه بندو مصرعو داسې نظم دی چې هره مصرعه په کې شپاړس سېلابونه ځان کې رانغاړلي لري .. لکه

ما وئیل چې کښېنه هله ، وار ړومبی که له قاتله

داسې نه چې تر تا راشي او تا مړ کړي بې اجله

ځکه زما دَ سترګو وړاندې ورځ په شپې کې شوه بدله

او راپورته شوم له وامه .... نه یوه شوه او نه بله

وار خطا دَ مرګ له سامه .... ما چاړه راواخیستله

اوس به ما لا نوره نوره ..... دَ هغه سینه څیرله

چې ګرنجی مي تر غوړو شو شیشه غوټه ماته شوله

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲۸ ـ ـ لکه لېوان چې په رمه ورګډ شي

عجبه دا نه،

چې انسان ستورو سپوږمۍ ته خېژي

عجبه دا ده..

چې دَ پت، ښېګړي، تُوري ، وفا

څېښتنو هم

ګورئ .. په زد دَ رڼا

وَ يويشتمي انساني پېړۍ ته

په سرو لاسونو

او په سرو سرو داړو

داسې په نره

او وياړمنو سترګو

په جهادي نارو ور وَدانګلو

لکه لېوان

چې په رمه ورګډ شي

)په لټون ستا دَ څېرې .. مخ � 218(

دا خبره به دَ دې عصر لو ستونکي هم اومني .. چې دَ شلمې صدۍ سائنسدانانو چې څنګه په وياړ يويشتمي صدۍ ته دَ سائنسي انقلاباتو لار په خوشحالۍ اوږدوله .. او دا نوي صدۍ يې دَ انسان دَ ناممکنو آسائشونو دَ پوره کولو صدۍ هم ګڼله .. خو دَ دې برعکس دَ نړۍ زياترو شاعرانو او مفکرانو دې نوي صدۍ ته دَ انسان او انسانيت په تابوت کې دَ آخري مېخ ټومبلو نوم ورکولو � او هم دغه رنګه اوشولو .. يعنې دَ شلمې صدۍ جديد ترين او ښائسته انسان يوشتمي صدۍ ته داسې په ځناوري روئيو او خويونو او حرکتونو ور اودانګلو لکه .. دغه حېوانيت چې هم دَ انسان اصل شېوه او کار دی � په دې وجه خو ځناورانو ځنګلونه انسانانو ته پرېښودل او دَ ښارونو کنټرول يې لاس

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته کول شروع کړو � ځکه خو پښتانه هم په دې ځناوري کار او روزګار کې دَ هیچا نه شاته پاتې نه شو .. بلکه په وینو ځکلو راځکلو کې ښه مېړني دېوان یاد شول �

په کال 2001 کې لیکلې شوی دا نظم افضل شوق لخوا دَ یویشتمې صدۍ په راتلو کې په ریکارډ راغلی هغه ړومبی نظم وو .. چې نن دَ یو حقیقت په رنګ څمونږ مخې ته پروت دی � او بل دا خبره غور طلبه هم ده .. چې په کوم انداز شوق صاحب یویشتمه صدۍ غندلې ده ..هم هغسې دَ ده په شعري یا نثري ریکارډ کې دَ شلمې صدۍ په اړه هم یو داسې نظم په ریکارډ نه دی راغلی چې دئی ترې مطمئین ښکاره شوی وي � یعنې دا شاعر دَ سائنسي ترقۍ ترشا یو داسې خوني جنګویني .. چې په هغه کې به انسانان دَ یو بل سره دَ وینو لوبه کوي � نو ځکه په کوئټې کې په کال 1991یا 92 کې .. چې ما په ړومبي ځل دَ افضل شوق سره په ملاقات کې دَ هغه دَ امن دَ پرله پسې خبرو اورېدلو پس چې کله دَ هغه نه دا تپوس اوکړو، یعنې

" -شوقه !! دا انسانان ولې بیرته دَ ځنګل په لور روان دي ؟"

نو هغه یو دم په ځواب کې له مانه سوال اوکړو او وئیل یې..

" -حسینه !! ته اول دا راته اوویه .. چې انسان دَ ځنګل نه راوتی کله وو .. چې ته یې ځنګل ته بوځې؟ "

دا خبره څه هم که هغه وخت ما هسې یو فلمي ډائیلاګ اوګڼلو .. خو دغه ډائیلاګ .. تش ډائیلاګ نه .. بلکه دَ افضل شوق هغه تهیم وو .. چې لس کاله پس دَ یوویشتمې پېړۍ په آغاز کې دَ پښتنو په حواله داسې نظم شو � چې نن ورته مونږ تاریخي حقیقت هم وئیلی شو� ځکه چې پښتنو واقعي هم دې نوي صدۍ ته دَ لېوانو په بڼو کې دَ رڼا په ضد دانګلي دي .. لکه شوق صاحب چې یې دَ دې نظم په ورستئیو مصرعو کې وضاحت کوي �

دا پورتنی نظم چې دی خو آزاد .. لاکن دا څورلس وړې او اوږدې مصرعې مونږ په اتهو داسې مصرعو کې تقسیم کولی شو .. چې په هغو کې آهنګ ، لې او موسیقیت موجود لیدی شي � یعنې ړومبۍ دوې مصرعې دَ پنځلس سپلابونو او نورې شپږ مصرعې یولس سپلابیزه ترتیب کړلی شي نو دَ دې پورتني نظم شکل به داسې پابندي اوموندي .. لکه

عجبه دا نه، چې انسان ستورو سپوږمۍ ته ختږي

عجبه دا ده .... چې دَ پت ، ښېګړي ، ټوري ، وفا

څپښتنو هم ګورئ .... په زد دَ رڼا........................

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



وَ یویشتمي انساني پېړۍ ته........................

په سرو لاسونو او په سرو سرو داړو................

داسې په نره او ویاړمنو سترگو......................

په جهادي نارو ور وَدانگلو..........................

لکه لېوان چې په رمه ورگډ شي........................

۲۹ ـ ـ مجرم

زه چې گورمه

هر لوري

راچاپېر دي دېوالونه

دریابونه

هسك هسك غرونه

او یا غم او وسوسې دي

چې زما په خوا و شا کې

اتڼونه کوي .. غورځي

دائرو غوندې راترځي ،

خو، سرېبره لا دَ دې هم

په قصور دَ خپلواکۍ زه

نیول شوی یم

مجرم یم

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



)په لټون ستا دَ څېرې .. مخ - 220(

دا نظم هم ښاغلي افضل شوق ، دَ نن دَ حالاتو ، دَ انسان دَ بې وسۍ .. بې کسۍ اوتنهائي په تناظر کې ليکلی دی � او دا حقيقت هم دی چې دَ نن انسان په مختلفووهمونو، فکرونو ، طبقاتي کشمکش، نفسياتي رنځونو ، اقتصادي ناهمواريانو په ولقه کې راګېر دی � او هغه هم دَ يو داسې روائتي او شخصي نظام دلا ندې چې انسان په کې هډو انسان نه ښکاري � نو بيا دَ انسان دَ آّزادۍ او خودمختارۍ قيصه دَ کوم ځای نه شروع کېږي؟

دَ افضل شوق دا نظم که په سياسي او سماجي حواله اوګورو .. نو دَ دې دور او دَ دې هېواد چې افضل شوق يې يو غړی دی .. باندې يو تنقيد هم دی � داسې تنقيد .. چې په نوۆ نوۆ لفظي تراکيبو او استعارو او اشارو خپلې معنې نوري نوري پراخوي � ولې چې په دې نظم کې هم دغه لفظي جوړښت خو دی .. چې نظم ته دَ شعريت نه علاوه دَ يوې سياسې الميې رنګ هم سپاري � دغه ترون دَ لفظونو تر ميانځه داسې جديدې محاورې هم مخې ته راوړي � لکه .." دېوالونه راچاپېدل" ، " دريابونه چاپېربېدل" ، " غرونه چاپېربېدل" ، " دَ غم او وسوسو اتېونه" ، " دائرو غوندې ترځېدل" او " په قصور دَ خپلواکۍ مجرم کېدل" .. چې په معنوي اعتبار فکر ته وسعت ورسپاري �

دا نظم په فکري لحاظ چې څومره ژورتيا لري ..هم هغسې ذومعنې اشارې دَ دې نظم آّفاقيت په علامتي اشارو کې برقرار ساتي � څه هم که لږ ابهام لري .. خو يو لوستلی قاري ترېنه دَ خپل مطلب معنې اغيستلی شي � په فني توګه دا څورلس مصرعيز نظم چې ښکاري خو آّزاد .. لاکن آّزاد نه دی � بلکه دا نظم په پنځو داسې مصرعو باندې هم په شپاږس شپاږس برابرو سېلابونو کې تقسيمېدلی شي چې ورته بنده پابند يا معری نظم وئيلی شي � تاسو يې خپله هم اولولئ �

زه چې ګورمه هر لوري ، راچاپېر دي دېوالونه

دريابونه هسك هسك غرونه اوياغم او وسوسې دي

چې زما په خوا و شا کې اتېونه کوي ..... غورځي

دائرو غوندې راترځي ، خو .... سربېره لا دَ دې هم

په قصور دَ خپلواکۍ زه نيول شوی يم .. مجرم يم

٣٠ ـ ـ مونا ليزا

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا موسکا ګوره چې څله؟

پاروي په دې ګمان ما

چې هم ته هغه جینۍ یې

چې مې تل دَ خوب او خیال په

ټاپوګانو لټوله

او یا لئیو نارېو یم خپله

چې دَ څو پېریانو ورسته

قسمت بیا راویستم تاته ،

خوبس .. دغه المیه ده

چې دعوه کولی نه شم

زه په تا باندې اوس څکه

چې دا زما څویم جنم دی

او ته یې په خپله بڼه

موسکنۍ غوندې هغسې

)په لټون ستا دَ څېرې .. مخ � 227(

هسې خو افضل شوق خپل ځان دَ هر قسم انساني فرقو او تفریقاتو نا بالاتر یو انسان ګڼلي � هم څکه خو هغه دَ انسان په رنګه دَ انسان خبره کوي � خو دلته په دې پورته نظم کې .. چې افضل شوق په پېرس ( فرانس ) کې لیکلی دی .. کې داسې څرګندېږي چې هغه نه یواځې هر اړخیزه انسان دی بلکه کله کله خو دَ وخت او زمانې دَ قید نه هم ځان آزاد ګڼي � هغه یقین لري چې وختونه انسان نه .. بلکه انسان وختونه خپل شاته پرېږدي � څه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم که داسې په ظاهره ممکن خو نه دي ... خو دَ ده په خبري کې يو دليل هغه وخت حقيقي بڼه اوزېږوي .. چې کله دئی دَ مونالیزا دَ هغه اوريجنل تصوير په وړاندي ولاړ دی .. چې درې نیم یا څلور سوه کاله اَگاهو په فرانس کې لئيو نارډو نومي يو اَرټِسټ جوړ کړی وو�

افضل شوق په خپل دې نظم کې مونالیزا نه پوښتنه کوي او وائي .. چرته دغه خو هم هغه جينۍ نه ده .. چې ده ته په خوبونو او خيالونو کې هر وخت راځي ؟ خو بیا چې هغه په فرېم کې بنده مونالیزا هيڅ ځواب نه ورکوي او چپه دَ خپل خاموش فطرت دَ وجې پاتې شي .. نو شوق صاحب ورته ښه په نبغه کتلو پس دا خيال زړه کې راوړي چې خاموشي نيم اقرار دی .. او یا کېدی شي .. هم دئی خپله دَ دې شاهکار تصوير مصور لئيونارډو وي .. چې قسمت یو ځل بیا دَ هغې سره ملاوْ کړی وي � خو بیا چې دَ مونالیزا وَ غاوري موسکا ته ځير شي .. نو په مات زړه دَ هغې سره خپل ملاقات يوه الميه اوگڼي او داسې محسوس کړي لکه دئی چې څو څو ځله دې دُنیا ته راغلی وي .. خو مونا ليزا دئی په دې نه پېژني چې دَ هغې رنگ ، شکل او موسکا هم هغسې زړَه او دَ وختونو په قيد کې بنديوانه پاتې شوي وي � هم ځکه دئی خپلې مونالیزا ته دَ يو عام سپلاني په رنگه دَ محرومۍ دَ يو سترې احساس سره ولاړ او يوه داسې قلبي او روحاني رشته جوړولو کې جوگه ښکاري چې هغه اجنبي مونا ليزا په ډېرو حوالو خپلول غواړي �

په دې نظم کې دَ افضل شوق دَ مودو مودو تلاش هغه پېکر دَ مونالیزا په شکل کې څرگندېدل دَ هغه دَ اَئيډيل يو داسې فکري دليل دی .. چې نقادان دَ شوق شخصيت په دې هنري کمال کې لټولی شي � چونکه مونالیزا يو اَرټِسټ په خپل لاس جوړه کړې ليلا ده .. نو ځکه دَ افضل شوق لخوا په حېثيت دَ يو لفظي تخليق کار په هغې تصويري جينۍ باندې دعوه .. دَ اَرټ ستائينه او په اَرټ کې جماليات لټول دي � خبره يې ساده په دې نظم کې کړې ده خو دَ وخت دَ قېد نه اَزادي دَ دې شاعر هغه هنري او فکري کمال دی .. چې هغه پرې پېژندلی شي�

دا اَزاد نظم چې په کتاب کې په څورلس وړو او اوږدو مصرعو کې تړلی ښکاري .. خو له اصله دغه نظم په اوو داسې اوږدو مصرعو مشتمل دی چې هره مصرعه يې شپاړس سپلابونه لري او دې ته يو پابند یا ښه معری نظم هم ورته وئيلی شو � راځئ ، چې اوگورو .. داسې هم دی که نه�

ستا موسکا گوره چې څله؟ پاروي په دې گمان ما

چې هم ته هغه جنۍ‌يې چې مې تل دَخوب اوخيال په

ټاپوگانو لټوله ... او يا ...... لئيو نارډو يم خپله

چې دَ څو پېړيانو ورسته قسمت بيا راويستم تاته،

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوبس .... دغه المیه ده ، چې دعوه کولی نه شم

زه په تا باندې اوس ځکه چې دازما څويم جنم دی

او ته يې په خپله ښه موسکنۍ غوندې هغسې

۳۱ ـ ـ واوره .. تاته وایم!

دا چې زه درته ژغېږم

ته دَ لاس ورغوي څله؟

ګیروې په نرۍ ګوتو

او په نېغه ورته ګورې

لکه جوړه، چې لیکې څه

او یا کرښې ورانوې ته

هرڅه هرڅه

خو بیا هم زه

نه رسېږم تر مطلبه

ستا دَ زړه تر پټ طلبه

که څه هم کلونه تېر شول

که څه هم عمرونه تېر شول

خو، یو ته يې .. چې لا چپ يې

او بل زه یم ، چې غږېږم

لا غږېږم

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



لا غړېږم

)په لتون ستا دَ څېرې .. مخ � 233(

په دې نظم کې افضل شوق دَ يو داسې ميني عکاسي او انځورګري کړي ده .. چې هغه پښتنه مينه ده� ولې چې پښتنې پېغلې حياناکې مشهورې دي � هغوئ .. څه هم که يو چا سره مينه کوي خو دَ مينې اظهار يې خلې نه اورېدى نه شي � هم افضل شوق دَ هغې پښتنې پېغلې دَ ستر او حيا قيصه په دې نظم کې په هنري او شعري پېرائيه کې کړې دى .. او په دغه نظم کې هغه لفظي تصوير کشي داسې کړې ده لکه بنده چې يو فلمي سين ګوري � هم دغه وجه ده .. چې يو ښه شاعر دَ لفظونو انځورګر بللى شي � په دې اړه افضل شوق دَ هيچا نه کم مصور نه دى � دَ هغه تصويرونه خبره کوي .. هغه کاڼو ته ژبې او لفظونو ته څېرې ورکولو کې مهارت لري�

په دې نظم کې هم مونږ دا يو څو لفظي تراکيب لکه " دَ لاس ورغوي ګيرول" ، " دَ لاس دَ ورغوي کرښو ته په نېغه کتل" ، " دَ لاس کرښې ورانول" ، " تر مطلبه رسېدل" او " دَ زړه پټ طلب ته رسېدل" داسې محاورې ګڼلى شو .. چې دَ پښتو لمن پرې پراخېدلى شي � دَ شاعر دغه شعري ادا زما خوښه ده .. چې هغه په خپل هر تخليق کې ځينې داسې نوي توري، محاورې او لفظي تراکيب ترې .. چې هغه دَ تجريديت باوجود هم پښتني مزاج سره آمېزش کوي � او بل دا .. چې دَ افضل شوق په شاعرۍ کې سادګي دَ هغه فکري ابهام ګڼلى شي � خو دغه ابهام محاوراتي ابهام دى .. چې لوستونکي ته دَ سوچ لارې پرانستي �

دا نظم چې هسې خو په شپاړس مصرعو باندې مشتمل دى � لاکن ورته آزاد نظم ځکه نشو وئيلى .. چې په دې کې آهنګ او موسيقيت باقاعده تر نظر لاندې ساتلى شوى دى � او دا نظم مونږ په اوو .. شپاړس سپلابيزه برابرو برابرو مصرعو داسې اړولى شو .. لکه

دا چې زه درته غړېږم ته دَ لاس ورغوي څله؟

ګيروې په نرۍ ګوتو او په نېغه ورته ګورې

لکه جوړه چې ليکې څه او يا کرښې ورانوې ته

هرڅه هرڅه خو بيا هم زه ، نه رسېږم تر مطلبه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا دَ زړه تر پټ طلبه که څه هم کلونه تېر شول

که څه هم عمرونه تېر شول خو،یو ته یې چې لا چپ یې

او بل زه یم ، چې غړېږم .... لا غړېږم ... لا غړېږم

۳۲ ـ ـ وسوسه

ما یې زړه ته لاره اوکړه

هم یې سترګو کې مېښته شوم

خو، چې ښنګ ته یې ورتلمه

لا به نور نور ورڅکېدمه

چې ناڅاپه مې ورپام شو،

نو خولې شولې راماتې

پښې مې ځای په ځای شوې شلې

په وجود کې مات رامات شوم

او له ډاره دَ مرګي زه

په هيڅ هم نه پوهېدمه

چې ، په کومه اوتښتمه

شاته بند دَ خوني ور وو

دواړه اړخ مې دېوالونه

او همت مې کوې نه شو

دَ " يوپا" په لوري ځکه

چې يې خلې کې کوکېدلې

دَ غاښو په ځای سکروټې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



او له پوزي يې اورونه

غورځول اژدها غوندې

)په لټون ستا دَ څېرې .. مخ - 234(

دلته په دې نظم کې افضل شوق دَ شاعر سپلاني په توګه نه یواځې خپل ځان څرګندوي .. بلکه دَ تهائي لېنډ دَ پټايا بيچ نومې ځای په اړه یوه خپله داسې قیصه لوستونکو مخې ته ږدي چې .. هغوئ ترېنه دَ تهائي کلتوري کمزورۍ یا دَ تهائیانو دَ وجودونو په سودا ماده پرستۍ تر حده غېر فطري روئيو ته ګوتې نیولی شي � په تهائي کلچر کې دَ اژدها تصور یو مقدسه زېرى ګڼلی شي � خو دغه اژدها ځمونږ په ذهنونو کې دَ یو داسې تباهۍ نخښه راپيدا کوي .. چې مونږ ورنه نفرت یا کرکه کوو � او افضل شوق هم دَ دې پښتني یا مشرقي سوچ دَ مخې دَ " یوپا" سره په یوه بنده کوټه کې ځان تصویر کوي � خو څومره چې دَ هغې تهائي پېغلې دَ طرف نه خواهشات رابرسېره کېږي .. هغسې شاعر ورنه وېرېږي او تښتي � ولې چې دَ هغه په ذهن کې یو خطره ده .. او هغه خطره .. دَ دې هېواد سره تړلي لعنتي او وباهي امراض دي .. چې شوق صاحب دَ هغې پېغلې نه تښتېدل غواړي .

دا نظم یو تمثیلي شکل لري .. او هيڅ قسم پېچدګي نه لري او نه په کې دَ خبرو جوړښت تجریدیت لري � لاکن په دې ساده نظم کې افضل شوق دَ تهائي لېنډ بې لګامه آزادي ، دَ ښځو بې راه روي او دَ هغه هېواد دَ خلقو غلامانه ذهنيت او غېر فطري خواهشات ډېر په شعريت کې غندلي دي � کوم چې لوستونکي ته دَ شعري خوند او ښایست علاوه هغه ته یو سبق هم ورکوي � دَ شاعر په سپلاني مشاهدو کې دغه مشاهده .. څه هم که مقصدیت لري خو کېدلی شي چې دَ نقادانو دَ قلمونو څوکې پرې اوغړېږي .. یا اوپسخېږي � ولې چې دَ نن په تنقيدي عدل کې دَ ګناه یا خطا توری هم دَ خلې نه ایستل یا لیکل ګناه او خطا ګڼلی شي � نو ځکه دا شاعر چې .. هيڅ یوه اخلاقي خطا يې په دې نظم کې نه ده کړې .. خو دا دَ ښځې نه تښتېدل هم شاید چې دَ ننګ او غېرت په حواله ننني پښتني جرم اوګڼلی شي �

په فني او تکنيکي لحاظ دغه ساده نظم ځان کې بلا ډېرې جدیدې محاورې دَ لفظي تراکيبو او علامتي اشارو په معنوي غرض رانغاړلي شوي دي � کومې چې دَ پښتو په فائدې تمامېږي � لکه .." زړه ته لاره کول" ، " سترګو کې مېښته کېدل" ، " ورڅکېدل" ، " خولې راماتېدل" ، " پښې ځای په ځای اوچېدل" ، " په وجود کې ماتېدل راماتېدل" ،" شاته دَ خونې ور بندېدل" ، " دواړه اړخه دېوالونه درېدل" ، " په خلې کې دَ غاښونو په ځای سکروټې کوکېدل" او " له پوزي اورونه غورځول - "

په تهائي لېنډ کې لیکلی شوی دا پورتنی نظم چې په نولس مصرعو باندې مشتمل دی .. خو آزاد نظم نه دی � ولې چې دَ دې نظم هره مصرعه په اتهه سپلابونو باندې اده لري او دا معری نظم دی�

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳۳ ـ ـ ونې نشته

زما هم زړه غواړي

چې لړ دمه شم

دَ يوې ګڼې ونې يخ سيورې ته

خو ظلم دا.. چې

دَ دې ژوند په دښت کې

تر لرې لرې پورې

ونې نشته

)په لټون ستا دَ څېرې .. مخ - 237(

په لورالا ئې کې دا پورته ليکلى شوى نظم دَ افضل شوق په ځينو هغو نظمونو کې يو نظم دى چې په کې خبره په نثري انداز کې داسې شوې ده .. چې ښکارې خو معمولې خبره .. خو چې لږ لوستونکې ورته ځير شې نو دغه ساده نثري نظم .. دَ يو داسې مکمل نظم په توګه مخې ته راشې ... چې دَ شعرې پابنديانو سره په کې فکرې ژورتيا دَ يو نه منونکې کمال تر حده هنرې ښائست راوړاندې کړې � دلته دَ دې نظم دَ عنوان په شان شاعر دَ خپلې ستړيا يو داسې حال وئيلو ته په اشارو کې جوګه ښکارې .. چې هغه دئى دوې لمحې آرام ته هم نه پرېږدې � او داسې محسوسېږې لکه هغه چې دَ تودو لمرونو لاندې دَ ګرځېدلو او په تړکنو غرمو کې دَ اوسېدو توان توفيق نه لرې � او غواړې چې لږ دمه شې او بيا دَ نوې سره دَ لټون دَ مسلسل کړاوْنو سره مخامخ شې .

په دې نظم کې افضل شوق که يو طرف ته ځان دَ جنون تر حده په خپلې مينې کې مجنون څرګندوې .. او دَ پېرې په شان ستړيا ته .. ستړيا نه وائې او هر وخت دَ خپل اشنا په لټون کې ګرځې .. نو بل طرفته دغه پېرى او مجنون خپل ځان انسان هم ګڼې اوغواړې چې .. دَ نوې سفر دَ جارې ساتلو دَ مخه لږه ستړيا په يخ سيورې کې دَ يو داسې ګڼې اونې دلاندې وسا کړې. خو درختـه هيجرته نه وې. دَ دې علامتې اشارې مطلب دا دى .. چې افضل شوق ژوند يو داسې سپېره صحرا ګڼې .. او وَ خواهشاتو ته دَ داسې سرابونو نوم ورکوې چې هغه انسان دهوکه کوې .. خو بيا

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم دغه انسان دَ دغو سرابجنو خواهشاتو پسې پسې منډې ترنډې کوي او دا هيله هغه ته .. دَ ژوند کولو چل سره سره په کړکېچنو لارو باندې تلل هم ښائي .

نه يواځې دا پورتنۍ خبرې .. بلکه په داسې رنګه نظمونو کې هر لوستونکی ځان ځانته معنې او مطلبونه را کاږي � او دا دَ دې نظم عالمګيريت بللی شي � کوم چې دَ افضل شوق په شاعرۍ کې ټولو نه لوئيه خوبي او خاصه ده � چې هغه په ډېرو ساده خبرو کې فکري ژورتياګانې داسې په هنري شعري پېرائيو کې رانغاړي .. چې دَ مشر سليم راز دا رائی دَ ده په باب بالکل صحيح ثابته شي � چې هغه په خپل مضمون کې .. په هم دغه کتاب " په لټون ستا دَ څېرې" کې په صفحه نمبر 17باندې ليکي..

"زمونږ دې شاعر( افضل شوق ) حقائق ليدلي او تسليم کړي هم دې خو لهجه او رويه يې بې حده شاعرانه ده � احساس او شعور يې دَ فلسفي دی خو نظر او ژبه يې دَ شاعر ده "

دَ سليم راز صاحب دا رائی دَ افضل شوق په دې نظم " ونې نيشته" باندې پوره پوره ځکه اوځي ... چې دلته هم خبرې په ساده لهجې کې شوې دي .. خو مفهوم يې فلسفې زېږوي � او بل دا دليل .. چې افضل شوق په نثري رنګه نظمونو کې هم شعريت په ذهن کې لري � دَ مثال په توګه .. اوس که مونږ دَ دې نظم په فني جوړښت نظر واچوؤ .. نو دا خبره به هم واضحه شي چې دا نظم .. نه خو آزاد دی او نه نثري .. بلکه يو پابند او معری نظم دی � خو، چې که مونږ يې داسې په څلورو، يولس سېلابيزه مصرعو کې اوليکو .. لکه

زما هم زړه غواړي چې لږ دمه شم

دَ يوې ګڼې ونې يخ سيورې ته

خو ظلم دا.. چې دَ دې ژوند په دښت کې

تر لرې لرې پورې ونې نشته

۳۴ ـــ هسپانۍ سترګې

سترګې يې څه وې؟

وې دَ زهرو پيالې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



باڼه لړم لړم ،

ککو کې ماران..

هم ځکه ما به زړه له سوخته کله

چې دَ بڼو غشي ور اوتاوْول

نو هرې پېغلې هسپانۍ به راته

په موسکنۍ اشارو اووئيلو

"مه ګوره مونږ ته

ګنې ته به هم بيا

دَ ښکلاګانو دَ خُمار په اثر

دَ پکاسو په پلونو اوکړې مزل"

)په لټون ستا دَ خبرې .. مخ - 245(

دا پورته رقم شوی نظم چې افضل شوق په کال 1996 کې دَ سپين په ښار بارسلونا کې ليکلی دی .. هم علامتي نظم دی � او تر هغو پورې څوك نشي پرې پوهېدلی .. چې دَ سپين خلګو دَ خدوخال ، رنګ او روئيو يا دَ دې هېواد دَ ښار ياد شوي بارسلونا په باب ښه پته نه وي ورته � او پکاسو چې دَ يو بېخي ستر او مصورۍ دَ عالمي تاريخ يو مشهوره فنکار په توګه پېژندلی شي .. دَ بيك ګراونډ په اړه هم لوستونکي ته لږ ډېر معلومات لرل په کار دي � ولې چې په دې نظم کې هم خبرې خو ډېرې ساده دي � لاکن معامله هغسې دَ علامتي اشارو او فلسفيانه تهيم ده .. چې يو لوستلی قاري ترېنه ډېر خوند اغيستلی شي .

په دې نظم کې افضل شوق يو ځل بيا دَ آرټ رشتې له جمالياتو سره تړلو ته جوګه ښکاري � هغه دا يقين لري چې شاعر هم دَ يو مصور په رنګه څيزونو ته رنګونه او بڼې ورکولی شي � لکه پکاسو چې دَ سپين په تاريخ کې ځانته يو نوم دَ دې مصورۍ په اړه پيدا کړو .. نو وجه يې دَ دې ځای دَ ښکلو خلقو او قدرتي حسن دَ اظهار وه � چې افضل شوق يې په دې نظم کې نه يواځې ستائينه کوي بلکه ځان دَ پکاسو په لاره روان شوی لاروی هم په ناوئيلو اشارو کې ګڼي � او په دې خبرې کې هم شك نيشته .. چې دَ افضل شوق په شاعرۍ کې دَ هغه دغه سفرونه او مزلونه لوی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



رول ادا كوي او هغه دَ پښتو شاعرانو او قلمكارانو نه په اُسلوب كې ښېلوي هم � هم ځكه خو مونږ دې لېوني شاعر او سفرنامه نگار ته يو داسې مصور هم وئيلی شو .. چې هغه تش عكسونه كاږي راكاږي نه بلكه هغه تصويرونو ته ژبې هم وركوي � او غږوي يې هم � خو الميه دا ده چې دَ لفظونو دَ دې پښتون مصور په شاهكارونو او دَ هغو ښاهكارونو په خبرو.. لا خو زياتره پښتانه نه پوهېږي � هم ځكه خو دَ دې شاهكارونو شاته ولاړ مصور او تخليق كار هم لا خو سواليه نشان پاتې دی�

دا نظم چې په دولس وړو او اوږدو مصرعو كې تړلی شوی آزاد نظم ښكاري .. دراصل آزاد نه بلكه دَ نهو داسې برابرو مصرعو نظم دی چې هره مصرعه يې يولس سپلابونه لري � راشئ چې او يې لولو �

سترگې يې څه وې؟ وې دَ زهروپيالې

بانه لړم لړم ، ككو كې ماران.....

هم ځكه ما به زړه له سوخته كله

چې دَ بڼو غشي ور اوتاوُول

نو هرې پېغلې هسپانۍ به راته

په موسكنۍ اشارو اووئيلو

"مه گوره مونږ ته گڼې ته به هم بيا

دَ ښكلاگانو دَ خُمار په اثر

دَ پكاسو په پلونو اوكړې مزل"

۳۵ ـ يو مې يار .. خو سل يې بڼې

څوك چې

هرڅه هرڅه ليدل غواړي

په سترگو باندې،

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغوئ به څه پېژني؟

زما هغه جانان

چې زه يې ،

له نهه نيوي ښېلو نومونو پرته هم

لا زړه کې ،

ساتمه هيله دَ وصال

خو، دَ سلمې بڼې

)په لټون ستا دَ څېرې .. مخ - 254(

افضل شوق دَ خپلې مستې، شوخې شاعرۍ په حواله دَ سلو يار مشهور دی .. او زيات تر نقادان ورته هرجائي ، حسن پرست او ګوره چې لا نور څه څه القابات ورکوي خو دَ هغه په شاعرۍ کې دا ورستی نظم دَ هغه ټولو راپورته شوو سوالونو داسې په هنر او دليل جواب ورکوي چې مخکې دَ هيچا په ذهن کې دَ هغه په حقله هيڅ قسم شك او غلط فهمي نه شي پاتې کېدی � هغه وائي .. چې دَ الله تعالی نهه نيوي (99) شکلونه په کائنات کې ليدل دي بلکه حمد و ثناه هم وائي � خو سلمه بڼه دَ هغه وصال شايد چې دئی دَ سلو حقيقي يار څرګند کړي � هو خدائی دي اوکړي چې هم دغسې اوشي � ولې چې ما دَ هغه دَ ټولې شاعرۍ دَ مطالعې وروستو خپل هر سوال دَ افضل شوق په دې نظم کې تر جوابه داسې اورسولو چې زه اوس په ډاډ وئيلاَ شم چې هغه اصلاً يو صوفي .. خو په جديد انداز يو ملنګ ، خوش لباس شخص او شاعر دی � يعنې هغه هم يو حسن خوښونکاَ شاعر دی .. خو دا شاعر دَ باطن په سترګو حسن ته ګوري � لاکن چونکه مونږ په هر ښکاره کېدونکي څيز باندي يقين لرو � نو ځکه دَ هغه لفظي تراکيبو، علامتي مروجه اشارو او مستعمل تلميحاتو او تلازمو ته هم هاغسې معنې ورکوو چې کومې رواج لري � خو دغه شاعر افضل شوق دَ رواياتو ياغي شاعر دی � نو په کار دي چې مونږ دَ ده شاعرۍ ته په نووْ نووْ زاويو اوګورو .. هاغه زاويې څه کېدلی شي؟ دا به دَ هر وخت نقادان دَ ده په شاعرۍ کې لټوي .

په کائنات کې دَ الله تعالی دَ نهه نيوي څېرو ليدلو ورسته دَ سلمي څېرې دَ ليدلو خبره که څه هم لږ ابهام پيدا کوي خو زه دَ يو نقاد په حېث دا خبره قياس کولی شم چې افضل شوق .. چې تر اوسه لا ده ( شاعر) هغه اَئيډيله څېره نه ده لټولي چې په لټون کې يې دَ پېرې غوندې ګرځي .. شايد چې دَ الله پاك هغه ناښکاره بڼه وي چې ديدار

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



به يې په آخرت کې په جنت کې جنتيان کوي � يعنې دَ خداى اصل ښېره ، چې له نهه نيوي ښېرو نه به دَ هغه ښېرې سلو ته رسوي � په دې نظم کې دَ افضل شوق داسې صوفيانه فلسفه لوستونکي ته په ذهن کې بلا سوالونه زېږولی شي .. خو زما يقين دی چې هر سوال به يې هم دَ لوئی خداى پاك په عظمت تمامېږي �

دا نظم چې په لسو وړو او لوئيو مصرعو کې تقسيم ښکاري خو له اصله په څلورو ، پنځلس سپلابيزو اوږدو او برابرو داسې مصرعو باندې مشتمل دی .. لکه

څوك چې هرڅه هرڅه ليدل غواړي په سترګو باندې،

هغوئ به څه پېژني؟ زما هغه جانان چې زه يې ،

له نه نيوي ښېلو نومونو پرته هم لا زړه کې ،

ساتمه هيله دَ وصال ..... خو ، دَ سلمې ښې

نور به دَ دې کتاب دَ ښېښتن په حقله څه وايم .. هغه خو اوس هم دَ خپل دې نظم " خيالي ښه " په شان مسلسل سفرونو کې داسې ورك يادېږي .. لکه هغه ( شوق ) چې ځان تکميلول غواړي .. او دا تکميل کېدی شي چې هغه کله هم په خپل ژوند کې او نه کړی شي � ولې چې ژوند خو هم دَ افضل شوق په قول يوه داسې صحرا ده .. چې دئی په کې دَ يو بل طرف نه چورلکونه خوري � هم څکه خو دا دَ نا ليدلي ليلا ښېتون مجنون وائي .. چې

ستا دَ لټون

په مست جنون کې اشنا!

دَ مسلسل سفر له جوره زه هم

لکه پېرى

اوس په نامه يادېږم

او ښه زما هم

څه خيالي غوندې شوه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



)په لټون ستا دَ څېرې ..." خيالي بڼه " .. مخ � 110(

حسينه ګل

نوښار .. اکتوبر کال 2003

## مزل په واۋرو باندې

شوق ـــــ دَ سفرونو په آئينه کې

) مزل په واۋرو باندې ـ دَ لمر دَ کلي په لور(

دا دواړه کتابونه ... چې په دولسو دولسو بابونو مشتمل دي � او دَ څوارلسو يورپي ملکونو بشمول دَ دوئ .. دَ سېل ذکر په کې په يو نوي انداز کې په يو ډېر خوندور ماحول کې شوی دی � او ما چې کله دغه دواړو کتابونه او لوستل نو دَ هغه دَ دې دواړو کتابونو دَ هر يو باب تفصيلي تنقيدي جائزه نه ليکل به يقيناً چې زما يوه خپله ادبي بد ديانتي وه .. او بل به دَ افضل شوق دَ دې کوشش او زيار نه هم سترګې اړول وو � کومه چې يوه بله ادبي بې انصافي ګڼم � او زما دا يقين دی چې دغه دواړه کتابونه چې څوك په دغه رنګ تنقيدي نظر اولولي .. نو هغوئ به څه نا څه ليك ته خامخا پاروي � دَ افضل شوق هاغه خپل کړی روايت په دې کتابونو کې هم په نظر راځي � دَ هغه دا کوشش وي چې هر ځل خپل ځان دَ فن مينه والو ته په يوه نوي بڼه کې ښکاره کړي � په دې دواړو کتابونو کې دَ هغه دَ ليك انداز ماته دا احساس راکړو .. لکه زه چې په پښتو کې انګرېزي لولم � او يقيناً چې دا هغه يوبل نوی روايت خپل کړی دی .. يو مغربي روايت په پښتني رنګ او شکل کې!!..

دَ ښاغلي افضل شوق نه دغسې توقعات لرل خو زمونږ کار دی � خو دلته دَ بده مرغه ځيني خطرې او خدشات هم ماته اشاره کوي او هغه دا چې يو وار بيا هاغه قدامت پسنده طبقې چې خپل ځان او وجود په قومونو ، ژبو، قبيلو،علاقو، توپکو، تمانچو کې ګېر ګڼي .. هغوئ به دَ افضل شوق دغه نوي اپروچ ته يو ځل بيا په کوم نظر ګوري .. او يا آيا هاغه نظر به دَ دې کتابونو نه دَ څه اغيستو هنر لري هم او که نه ؟؟

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلته زه دا وضاحت کوم .. چې دا دواړه کتابونه" مزل په واورو باندې" او " دَ لمر دَ کلي په لور" په يوه اوږد سفر باندې مشتمل دي � نو راشئ چې ورمبی دَ سفرنامې " مزل په واور باندې" هر يوه باب جائزه واخلو� په دې دواړو کتابونو کې افضل شوق دَ سفري حالونو او نورو معلوماتو وړاندې کولو سره سره دوې عمراني مطالعې هم دَ انګلش دَ ژبې او يورپي ژوند په اړه تفصيلاً وړاندي کړي دي � او دې نه علاوه يې دَ هر ځای په حواله په کې تصويرونه هم دَ عکسي يُون تر عنوان لاندې چاپ کړي دي .. چې لوستونکي دَ هر هېواد او دَ هغه ځای دَ څيزونو او خلګو په اړه ترېنه په ذهن کې يو عکسي نقشه هم جوړولی شي .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## وړمبۍ برخه----

## مزل په واؤرو باندې

)يادګيرنه :- دا كتاب په كال ۲۰۰۴ كې چاپ شوی دی(

دَ يورپ دَ سفرونو دپاره داسې عنوان كتاب ته ټاكل .. كه يو طرف ته يقيناً دا څرګندوي چې هلته ډېره زياته يخني ده ، خو بلخوا دَ لوستونكي په ذهن كې هم دا خبره دَ سوال په شكل كې راپورته كېږي � چې چرته دې پورتني عنوان نه افضل شوق دا معنې خو نه اخلي .. چې په دې براعظم كې دَ ژوند كولو طرز .. انساني روئيې او خوئيونه هم څه دغه شانتې دي ؟؟ دَ دې سوال دَ ځواب لټولو په نيت راشئ چې دَ پښتون سپلاني سره دَ هغه دَ سفري پړاوْنو په لور په ګډه سفر اوكړو او دَ دې كتاب دغه دولس واړه بابونه په تنقيدي نظر اولولو �

۱ـ دَ بادار دَ كور په لوري

په دې باب كې افضل شوق چې دَ خپل ليك آغاز " چرته غلط جهاز ته خو نه راوختم؟ په ځواب كې دَ دوزخي حورو طوفاني دورې په رڼا كې دا خبرې په ډېر خوند قلم بند كوي..

"مذهبونه ، رواجونه او انساني قدرونه كه څه هم دَ يو ځناور وزمه انسان څخه ټولنيز انسان جوړوي .. خو له اصله دا انسان تر اوسه پورې لا تش په شعوري توګه له ځناورانو څخه بېل شوی دی ___ ګوا دَ حاجتونو په وار كه ځناور نه هم دی .. خو ځناور وزمه حتمای دی"

)مزل په واورو باندې .. مخ � 16(

دلته كه ښاغلی شوق دَ عربو دَ جهاز دَ دننه ماحول يوه نظاره په ډېر خوندور او شاعرانه انداز كې غندي ، نو بلخوا يو بل سوال هم دَ خپل ذات او هېواد په باب راپورته كوي .. لكه

-"ته څوك يې ؟ او له كومه راغلی يې؟

-شوق زما نوم دی او زه پاكستانی يم

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ تور سري انګرېزي دَ پوښتنې په ځواب کې چې ما ځنګه دومره اووئيلو، نو هغه اودرېده او سرتر پايه راکتلو ورستو يې اووئيلو..

-ته پاکستانی يې ... ؟"

)مزل په واورو باندې .. مخ � 33)

په دې مکالمې کې شوق که څه هم خبره واضحه کړې نه ده .. خو دَ قاري په ذهن کې دا خامخا راځي چې .. زمونږ قومي شناخت او وجود دواړه دَ بهر دُنيا دَپاره دَ خوف ، وېرې .. يو علامه ګرځېدلې ده � يعنې په " سواليه پاکستان" باندې شوق صاحب هم چې څنګه بيا دَ هغې بوډهۍ فېرنګۍ مخې ته کچه کېږي .. دې نه هغه دَ خپل هېواد په حواله ځان که وړکوټی محسوس کړی نه هم دی .. خو هغه حېران شوی او ځان کې ننه ننه مات شوی رامات شوی ضرور دی �

پورتنئيو دواړو پوښتنو په ځواب کې که افضل شوق يوې خواته دَ يورپ په حقله ادراکي نظر خپل کړو .. نو بلخوا يې په " هائيډ پارک " لندن کې هم څه چې وئيلي دي � که څه هم هغه يې ښکاره کړي نه دي .. خو داسې ښکاري لکه هغه چې خپل زړه ښه سپك کړی دی .. ځکه خو په اشاره کې خپله وائي..

"حقه خبره ده چې دَ دې موقعې څخه فائده اخيستلو کې ما هم خپل ځان دَ غازيانو په قطار کې درولو په نيت دَ اخلاقياتو په دائره کې دَ انسانانو تر مېنځه دَ وحشي روئيو په ضد څه خو اووئيل � لاکن هيڅچا هم واورېدلو ځکه نه ... چې زه له ځان ځان سره بونېدم"

)مزل په واورو باندې .. مخ � 36)

بد رد وئيل هم دَ اخلاقياتو په دائره کې دَ يو اعلی ظرف نشاندهي کوي .. او په دې خبره کې شك نيشته چې دلته ده خپل ځان اعلی ظرفه ځرګند کړی دی �

په دې باب کې له کراچۍ نه تر دوبۍ او بيا لندن پورې دَ سفر حالونو سره سره دَ لندن په اړه ډېر معلومات ، انکشافات ، او سفري مشاهدې لوستونکي دَ ځان سره ملګري مخ مخ ته په وړلو مجبوره کوي � کومه خبره چې په

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي باب کې غورطلبه ده .. هغه دَ افضل شوق هغه رائيې ده ، چې ده دَ فېرنگيانو په اړه رقم کړي ده .. تاسو يې هم لوستلی شئ�

"که څه هم تر اوسه مونږ دا خلق خپل باداران گڼو او ډېر په درنه سترگه ورته گورو � خو حقه خبره دا چې دوئ له مونږ څخه کرکه کوي او داکرکه دَ هغوئ په خمير کې ده � او دَ دې خلقو په حقله هوشياران هم وائي .. چې روايت پسندي او کينه دَ انگلسيانو خاصه بلل کېږي"

)مزل په واورو باندې .. مخ � 34(

۲ ـ چرته چې دَ لمر لا يخ کېږي

په دې باب کې هم .. لکه څنگه دَ عنوان نه څرگنده ده ... افضل شوق دَ بيلجئيم هېواد او دَ دې هېواد ستر ښار برسلز په حقله دغه رنگ رائيې لري � او په خپلې سفرنامې کې ليکي چې...

"هو.. منم چې دَ شرافت په مقابله کې بدمعاشي په کې دَ نه برابر ده خو بدمستيانې په کې ليدل کېدلی شي"

)مزل په واورو باندې .. مخ � 56(

دلته هم ښاغلی شوق په ډېرو اشارو کې دَ دې ښار دَ استوگنو او دَ ښاريې دَ ژوند او روئيو په حقله خپل نظر په ډېر ښکلي انداز کې څرگندوي � خو بلې خواته دَ بل په ژوبه ( گائيډ) داسې هم دَ دې هېواد په اړه ليکي ..

"وئيل کېږي چې يو ځل دَ اولمپك دَ لوبو څخه راغلی سوئمنگ ټيم وَ لوبوغاړو ته باچا انعام په دې خبره ورکړو چې هغوئ په اوبو کې ډوب نه شول"

)مزل په واورو باندې .. مخ � 59(

دلته دَ بلجميانو دَ ناراستۍ ، سستۍ او ناخوښۍ خواته هم افضل شوق په ډېر مزاحيه انداز اشاروه کوي � دَ دې باوجود په دې مزاح کې هم دَ هغه يو مقصد دی چې هغه دَ بلجئيم خلق دُنيا ته څرگند کړي � او هم دغه رنگ دَ يو ځای دَ خلقو ښه او بد خويونه او روئيې په خپل انداز کې په معلوماتي رنگ کې بل ته رسول دَ سفرنامې دَ ليك مقصد هم دی �

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې باب کې دَ معلوماتو سره سره ځيني داسې اشارې هم مخې ته راځي ، چې دَ قاري په ذهن کې دَ بلجئيم په حقله راپورته شوي سوالونه ځواب ته رسولی شي � لکه په دې لاندېنۍ مکالمې کې چې هغه په اشارتي انداز واضحه کړي دي �

"او بيا دَ څه خاموشۍ ورسته واي..

-تاسو خبر ياست ، چې په اروپا کې دَ برطانيې په چپه چې ټرېفك يې په کيڼ لاس چلېږي .. نور هېوادونه خپل ښی لاس په کاروي او ولې؟

هغې به لا نور څه هم وئيلو، چې يو غږ راغلو..

-هو هو.. په دې چې دَ انګليسانو زور په نورو پاته نه شو

ځواب څه وو، چې په بس کې دَ خندا او غږبوږي سره سم هر يوه شاته کتلو � ولې چې دا بل هيڅوك نه .. هغه فلپائني ځوان رونالډ وو�

-هو،کېدلی شي، لاکن دَ دې هېواد خلګ خو يې لا اوس هم مني لاکن" ....

)مزل په واورو باندې .. مخ � 59(

دلته خبره په " لاکن" باندې سر ته رسول داسې ثرګندوي لکه بلجئيم چې دَ ګاونډي فرانس په مقابله کې انګلېنډ ته زيات اهميت ورکوي � وجه يې څه ده ؟ دَ دې په اړه په دې باب کې بلا خبري موجودي دي .. چې دَ لوستلو ورستو مخې ته راتلی شي�

۳ـ تودو ماښامونو سوړ ښار

په دې باب کې سپلاني افضل شوق دَ هالېنډ دَ سپل سره سره دَ دې ملك دَ غټ ښار ايمسټرډم ښار خاصکر دَشپې او دَ ورځې ژوند ته دَ سړو او تودو رواجي خصلتونو په لور اشاري کړي دي � نو بل خواته يې دَ هغوئ دَ خوئيونو، عادتونو او قانوني " ناروا" رواجونو ته ګوته هم په ښه انداز نيولې ده � په دې باب کې شوق چې هر څو دَ پرون دَ ولندېزيانو په حقله يو احترام لري ... خو دَ نن دَ ولندېزيانو په حواله هم داسې په بې سانتګۍ ليکي..

"لنډه دا چې کله هغې داخبري کولې نو په دې ښار باندې مې دَ اروپا دَ تهائي لېنډ پيدا شوی شك وار په وار ځکه يقيني کېدلو.. چې امريکې غوندې يو انتهائي ماډرنې ټولنې کس چې يې لا هم په آزادۍ باندې دَ حېرانۍ اظهار کوي .. نو هغه به څومره آزادي وي؟ "

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



)مزل په واورو باندې .. مخ � 80)

منم چې افضل شوق په دې باب کې ډېرې آزادې خبرې کړې دي .. خو په دې پورتنۍ پېرائيه کې دَ تهائي لېنډ سره مثال ورکول دَ هالېنډ غندنه ده � نه يواځې دا خبرې .. بلکه په هم دغه ښار کې چې دَ يو هوټل په کمره کې درسته شپه خوب نه کولو په کېفيت چې په خپل بيان کې کوم ډرامائي انداز ده خپل کړی دی � هغه دَ ستائينې وړ دی � او په کار هم ده چې دغسې کېفيتونه په دغسې خوندور انداز کې قاري ته رسول .. دا دَ سفرنامې دَ لوست خوند پيدا کوي � افضل شوق دَ هالېنډ دَ خلقو دَ روئيو په باب يو بل ځای ليکي چې ..

-"وئيل کېږي ، چې دَ هالېنډ خلق ( ولندېزيان) نه يواځې په خپل ژوند او حېثيت غره دي � بلکه هغوئ دا هم وائي ، چې ګوندې..

"خدای مونږ ته ځمکه راکړه او مونږ ورباندې هالېنډ جوړ کړو او بل دَ دې خلقو په مخونو هر کله دَ غصې آثار برېښي � ولې چې دا خلق په " زه " او " زه " کولو کې لوئی نوم لري "

)مزل په واورو باندې .. مخ � 70)

دې نه علاوه افضل شوق په دې سفر کې دَ ولندېزيانو خبرې او په خبرو باندې دَ راغونډې شوي ګونځې که له پښتنو سره ترې ، خو پښتانه نه ورته وائي � نو بلخواته دَ هغوئ دَ ژبې صوتي اثر هم پښتو ته نيږدې نيږدې ګڼي .. خو پښتو ځکه نه ورته وائي .. چې هغه دَ ولندېزيانو ځينې رواجي عادتونه غېر انساني ګڼي � لکه په دې هېواد کې دَ ځناورې تندي ماتولو ته په قانوني توګه دَ سوشل ورک نوم يا حېثيت ورکول او نشې په قانوني توګه جائز ګڼل .. دَ دې خلقو هغه ځانګړی غرور دی چې ورته په اخلاقياتو کې بې حيائي وئيلی شي � او داسې هر څه .. که هغه ښه دي ، نو په ښو ټکو په دې سفرنامې کې رقم شوي دي او که بد دي .. نو بدو ته بد هم په ډېره اخلاقي پېرائيه کې وئيلی شوي دي � او دا دَ افضل شوق په ادبي ليکنو کې حقيقت پسندانه دليل ګڼلی شي�

۴ ـ دَ هټلر دَ پلونو خاورې مې رانجه کړو

په دې باب کې دَ عنوان نه برېښي چې افضل شوق دَ هټلر شخصيت ، دَ هغه بهادرۍ ته څومره دَ احترام په نظر ګوري .. او جرمني ته تګ دَ ځان دَپاره يو اعزاز ګڼي � او دلته دا ګوري چې دَ هټلر آثار ، آيا دَ هغه په اولاد کې چرته په نظر راځي او که نه ..؟ په دې حقله دئی په دې باب کې په واضحه ټکو کې ليکي�

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



"په تاريخ کې په درنو ټکو لمانځل شوي جرمنيانو ته که څه هم په نړۍ کې اوس هم په ډېره درنه سترګه کتل کېږي � خو ما يې په نرانو او ښځو کې داسې هيڅ يوه خبره نه اوليده چې له خپل تاريخي عظمت سره يې سمون خوړلو � ولې چې دا خلق هم لکه پښتانه اوس پيسه هر څه ګڼي او ورته ګډېږي "

)مزل په واورو باندې .. مخ � 109 (

په دې باب کې افضل شوق په خپل نظر پښتون او جرمن مارشل قومونه ګڼي .. خو له دواړو مايوسه هم دی � چې دواړه دَ خپل قوم لوئی عظمت دومره مقدم نه ګڼي څومره چې پيسه ګڼي�

دلته دَ جرمني په سېل کې دَ افضل شوق رومانوي طبعيت ښودنه څه زياته شوې ده � خو بيا يې هم خپل شوخ انداز او دَ لټون هڅه دلاسه نه ده ورکړې � لکه په دې لاندېنۍ مکالمه کې چې هغه ليکي..

-"دا شوق چې هر شي ته ډېر په غور ګوري نو ....

-هو.. داسې محسوسېږي لکه هغه شی چې په زړه کې نقش کول غواړي

داني چې څنګه دَ کائيکو خبره پوره کړه نو ونېسا هم په پسخونديي موسکا کې وائي

-هغه ځکه چې رائټر دی او شاعر هم...

په " شاعر" باندې زور ورکولو ورسته ما وار داسې لاس ته کړو..

-هر هغه شئی چې ماته اپيل کوي ، زه يې انجوائی کولو سره سره ستائل هم غواړم"

)مزل په واورو باندې .. مخ � 112(

يقيني خبره ده چې دلته هم افضل شوق دَ خپلې شاعرانه فطري مجبورۍ دَ وجې خپل شاعرانه ذوق څرګند کړی دی .. بلکه دَ خپل لټون انتها ښکاره کولو علاوه هم مونږ ته دا راڅرګندوي چې هغه هر څيز ته په څومره غور او فکر ګوري � او دَ شوق ، په جرمني کې دغه رنګه رومانويت کېدلی شي چې دَ هغه قصور نه .. بلکه دَ جرمني دَ شاعرانه ماحول اثر وي � لکه په دې سېل کې چې ورته ګائيډ ميرنا داسې وائي..

"جرمنيان هم دَ کتاب دَ مطالعې دغوني شوق لري لکه انګلسيان � لاکن شوقه ! ته خبر يې چې جرمني ته دَ شاعرانو او ليکوالانو هېواد هم وئيل کېږي � او دلته دې خلقو ته ډېر په درنه سترګه کتل کېږي � چې دَ جرمنيانو له قوله ..شاعران او ليکوالان ذهنونو ته تر ټولو ښه تفريح ورسپاري او له دې خلقو څخه تحريکونه زېږونه کوي"

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



)مزل په واورو باندې .. مخ � 106(

۵ ـ دَ خوب په رښتونو ناؤ کې

په دې باب کې ښاغلی افضل شوق دَ سوئټزرلېنډ سېل په خپل خوندور انداز کې ليکلی دی � زيات معلومات يې دَ " گائيډ" په خله وړاندې کړي دي � خو خپل نظر او فکر يې هم لوستونکو ته دَ يو زيرك ليکوال .. او تکړه سېلاني په رنگ کې ښکاره کړی دی � په دې باب کې هغه خپل فکري کوشش ته دَ سوئټزرلېنډ په اړه داسې ضروري ټکي راغونډوي لکه..

"که څه هم زمونږ دَ هېواد په برخه دَ خلاسو شيطانانو په شمېر دلته کم شيطانان خوشي کړل شوي دي .. خو شيطان هر ځای شيطان وي � هو.. دَ هرڅه پرته هم دَ کرکې وړ گڼل کېږي � او بل دا چې دَ خدائی په دې دُنيا کې که څه هم هغه دَ ځمکې په سره جوړ سوئټزرلېنډ دی .. ښه او بد خلق لري"

)مزل په واورو باندې .. مخ � 123(

په دې باب کې ښاغلی افضل شوق دَ سوئټزرلېنډ دَ خورو ورو ښائستونو نه متاثره خو ښکاري .. خو دَ خلقو دَ روئيو ، خوئيونو او ښو او بدو نه خوابدی هم ليدی شي . په دې باب کې دَ يوې امريکنې پېغلې ونيسا سره دَ هغه رومانوي تعلق داسې په هنر، ډرامائي او افسانوي انداز کې ذکر شوی دی .. چې ښکاره خبره په کې يوه هم په نظر نه راځي . او دغه دَ حېرانتيا او سسپنس نه ډك تعلق، دَ يو ښکلي حېرانتيا هاغه ليوني کېفيات ټول دَ لوستونکو ملگري کوي چې ښاغلي شوق يې منظرکشي کړي ده . په دې لنډ غونډې سېل کې دَ ليکوال فکري مشاهده او جذباتي زيرکتيا ډېره دَ قدر وړ ده . دَ جرمني ، آسټريا ، اټلي او فرانس تر مينځه موجود هېواد سوئټزرلېنډ دَ اولس په حقله يو ځای ليکي..

"جرمن سوئس په طبعيت کې اضطراب لري .. آسټرين سوئس ټوکيال طبعيته او موسيقي خوښوي� دغه رنگه فرنچ سوئس نخرې بازه او فېشنيان دي � لاکن اطالوي سوئس څه غونډې زيات مذهب پرسته او قدامت پسنده يادېږي"

)مزل په واورو باندې .. مخ � 140(

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلته دَ ليکوال مقصد دا دی ، چې سوئټزرلېنډ په دې پورته ذکر شوو څلورو واړو ملکونو په مياڼځ کې دَ يو " سېنډويچ" حېثيت لري � او دَ دغه څلورو واړو ملکونو نه متاثره دی � خپل سوئس کلاسيکي بڼې نه لري � او زما په خيال دغه تجزيه افضل شوق دَ يو کامياب سفرنامه نګار په صف کې دروي � چې دَ دې خلقو په حقله دومره ډېر معلومات به هم لري ، او دَ معلوماتو دَ بيانولو .. يو خپل حېرانونکی انداز هم �

٦ ـ دَ ژوند په خوندونو کې تمام هېواد

په دې باب کې دَ آسټريا دَ غريزي سيمې ، دَ درو، واورينو غرونو او دَ نورو ځنګلي او قدرتي ښکلا ګانوچې کوم ذکر شوی دی .. نو هغه په خپل ځای يو خاص اهميت لري � چونکه ښاغلی ليکوال هم دَ يوې ښائسته غګريزې علاقې سره تعلق لري � نو په دغه باب کې دَ قدرتي مناظرو نه هاغه خوند اغيستل او قاري ته هو بهو هاغه تصوير مخې ته کول .. دَ افضل شوق دَ هنر يوه لاره ده ..!! دې مکالمې نه تاسو دَ سېلاني ليکوال په حقله قاري دَ هغه دَ خوشحالۍ او مستۍ نه اندازه کولی شي .

-"دا شوق او روني چې سره يو ځای شي نو هلته غم نه .. خنداګانې وي

-او مستيانې هم...

دَ ميرنا خبره پرېکولو ورسته زړې لوري په خپل تېره غږ کې چې داسې اووئيلو ، نو ميرنا وائي..

-هو، دا شوق خو چې دَ ورځې وخت دَ خبرو نه لري .. دَ شپې اودېږي لا نه ...

-څنګه به اودېږي ؟؟ خوب ته چې يې خلق نه پرېږدي"

)مزل په واورو باندې .. مخ � 160(

په دې باب کې دَ ليکوال دَ سفر دَ کار.. دَ هغې دَ لوازماتو، دَ خپلو مشاهداتې او مطالعاتې مصروفياتو دَ لاسه دومره ناوزګاره ليدی شي ... که ټوله ورځ په دغه هر څه تېروي � نو دَ شپې دَ خوب دَپاره هم وخت نه لري � دې مطلب دا مخې ته راځي .. چې افضل شوق دَ اروپا په سېل کې دَ سټرېا نه خوند اغيستلو سره سره وخت ضائع کړی نه دی � او دلته که مونږ بيا بيا دَ افضل شوق دَ سفري شواخون ، محنت او پرله پسې دَ زيار خبره کوو .. نو پورتنۍ پېره يا مکالمه هم مونږ دَ هغه دغه مصروفيات په ګوته کوي � افضل شوق هر څو که دَ دُنيا په هر ګوټ کې دَ هاغه ځايونو په ښکلاګانو کې ورك شي � خو دَ خپل هېواد او سيمې نه پرېکړی کله هم نه دی � هغه هر

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځای یا موقعې ته خپل قوم ځان سره ګنډلی وړي او ورته هغه موقعه احساسولو کوشش هم کوي � کوم چې هغه دَ خپل قوم یا هېواد سفیر څرګندوي � لکه په دې لاندېنۍ پېره کې چې لیکي�

"داسې واوره که څمونږ په هېواد کې ورېدلی نو دا تګ راتګ به نه وی .. بلکه په درست ژمې کې به خلق دننه په کورونو کې ناست وی"

)مزل په واورو باندې .. مخ � 165(

نه یوازې دا .. بلکه افضل شوق دَ آسټریا په واورینو درو او غرونو کې په مختلفو موقعو دَ خوند اغیستلو خبرې ډېرې په خوند کوي او دا هغه ورمبی ملك دی چې هره نظاره یې دَ افضل شوق زړه او روح تخنولی دی � دې نه ښکارې چې هغه واوره زیاته خوښوي � هم ځکه خو دَ واورین موسم دَ شاعرانه اثر دَ مخې هغه لږ شانتې دَ امریکنې پېغلې ونیسا په حواله دَ تخیلاتي رومانویت داسې په مزه مزه ښکار شوی هم دی لکه..

"او وه هم دغسې خبره ..ګوا هغې زما په لور کتلو او سترګې چې مې څنګه ورسره ځلور شوې � نو داسې یې په برګو سترګې په ما کې راښخې کړې .. لکه هغه چې راته وائي..

-شوقه! ته واقعي چې په خپل ضد کې پښتون اووتې � ګنې دَ لوی بادار دَ لُور په حبث خو ما غوښتلو چې ځان ته دې مرئیی کړم

او بیا یې په نرۍ موسکا کې له سترګو وښته داسې شاته اوځنډېلو .. لکه هغې چې زما دَ سترګو په وړاندې نه .. بلکه دَ دې شاعرانه موسم له سوبه ماته خوړلې وي"

)مزل په واورو باندې .. مخ � 165(

۷ ـ دَ موزارټ په موسیقي کې مسروره ګلدرې

په دې باب کې دَ وخت دَ یو عظیم موسیقار په باب نه یواځې ښې درنې خبرې شته بلکه دا سیمه یې دَ هغه دَ موسیقي په سرونو کې مسروره ښکاره کړې ده. دې سره سره افضل شوق دَ " موزارټ په موسیقي کې" دَ عنوان لاندې نظم کې ځکه لیکلو چې خپل ځان موزارټ اوګڼې اودَ آسټریا دَ درو، ویانا ښار.. او خاصکر دَ سپلز برګ خواو شا ته ښکلې نظارې او خواره واره ښائستونه دَ هغه په رنګه محسوس کړې او خوندونه ترېنه واخلې. هم په دې باب کې افضل شوق داسې څرګند کړې دي لکه چې آّٓسټرین په ګلونو، رنګونو او په موسیقۍ ورك مئین خلق دي. یو بل ځای شوق دَ آسټرینو په باب لیکي .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



"كه څه هم دلته دَ ښځو جامې څه ګڼې دي .. خو شوخيانې هم څه كمې نه لري .. چې موقعه په لاس ورشي ،نو دلاسه يې نه وركوي"

)مزل په واورو باندې .. مخ � 191(

په آسټريا كې چې چرته هم افضل شوق تللى دى .. دَ هاغه ځاى او خلقو يې يو رُخې مطالعه نه ده كړې .. بلكه غېر جانبدار انداز كې يې په دواړو اړخونو ليكل كړې دي � او دَ دې نه مونږ افضل شوق يو آفاقي او تعميري سوچ لرونكى داسې ليكوال ګڼلى شو چې دَ سوچ دائرې يې محدوديت نه لري � او نه دَ يوې خاصې نظريې پابند ليدى شي � هغه په خپل تحرير كې آفاقي فكر ته زيات پاملرنه كوي � دلته په يورپ كې دَ انګلسي ژبې په حقله دَ مايوسۍ نه علاوه افضل شوق دَ ملګرو تر مېنځ دَ ژبې دَ اهميت او ضرورت مكالمه ( صفحه نمبر193) چې ډېره خوندوره ښكارې.. سرته رسولو ورستوخپله خواره ژبه پښتو داسې احساسوي او ليكي چې ..

..."لاكن خپله ژبه خپله وي .. كه هر څو هغه وړه وي يا غېر علمي او سائنسي"

"منم .. چې خبره يې صحيح كوله ، خو ما دَ خپلې پښتو سره دَ جنون تر حده مينې له سوبه په خپلې پورتنۍ خبرې باندې جذباتي ټينګار څه اوكړو.. چې ملګرو دَ وړو ژبو په باب زما دا رائيې په خپل خپل نقطه نظر ډېره او غندله � او بيا مخته كه ما هر څو دلائل ورته قطارولو، خو دَ مشر بادار لُوركۍ دَ ټپل شوې رائيې په حق كې ملګرو ماته ګرسره غوږ نه نيولو"

)مزل په واورو باندې .. مخ � 194(

په دې باب كې دَ ليكوال دَ خپلې مورنۍ ژبې سره دَ مينې او محبت كوم جذباتي تړون .. چې دَ هغه يوه فطري خاصه ده .. هغه هم دَ سفرنامې په دې پړاوْ كې دَ قاري نه پټ نه دى�

افضل شوق دَ ويانا دَ سېل كولو په وخت دَ آسټرينو په باب داسې خبرې هم رقم كوي..

"كه څه هم دَ جنت هيلي لري ، خو دغه آسټرين دا ژوندهم ښه په خوند تېروي � ګوا ميوزيك يې كمزوري او ډانس دَ خوښي شيان دي � او بل دا خلق دَ هوټلانو شوق هم لري � دلته دې وخت 15500 سټېنډرډ كېفې په دې ښار كې موجودې دي "

)مزل په واورو باندې .. مخ � 190(

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



۸ ـ شپه ـ ـ ـ چې سهارکېدله نه

په ويانا ښار کې دَ ملګرو سره دَ شپې دَ ژوند په رڼاګانو کې ورك سپلاني افضل شوق چې څه هم رقم کړي دي � هغه په ادبي پېرائيه کې سرته رسولي شوي دي � دَ مثال په توګه دې لاندېنۍ پېره کې ليکي�

"دا خلګ خو هم دَ خپلو ضروریاتو دَ لارې هاغسې خواست ګر دي لکه څمونږ دَ هېواد سوالګر ... بس توپير يې تر ميانځه دا دی چې زما په هېواد کې سوالګر دَ دووْ وختونو دَ ډوډۍ په غم کې بل ته لاس نيسي .. او دلته دا په ظاهره خوشحاله خلق نور نور ځان وسا کولو په غم ډنګرېږي او په داسې سړو شپو کې هم سهار کولو ته غړي نه اچوي "

)مزل په واورو باندې .. مخ � 207(

دلته هم ښاغلي افضل شوق دهاغه ځای او دَ خپل هېواد يوه کوټلې تقابلي جائزه په ډېر تنقيدي نظر وړاندې کړې ده .. چې دَ هغه دَ تنقيد او غندنې خپل هنر لوستونکو ته وړاندې کوي � په پورتنئيو خبرو کې سوالګر او خواست ګر .. چې افضل شوق په کومو معنو کې اخلي .. هغه دَ مغرب دَ لا لچونو او دَ مشرق دَ بنيادي ضروریاتو تر ميانځه ښه معياري تنقيدي جائزه ګڼلی شو � او په کار هم داسې دی چې تنقيد ته هم دغه رنګه ښائسته ژبه ورکړل شي لکه افضل شوق چې يې په کار راولي .

په دې باب کې دَ ايليس دَ غرونو په درو کې چې آسترېا او اټلي تر ميانځه دي .. په واوروکې دَ ټربفك جام پېښې وروستو ذکر شوي دَ تکاليفو قيصه چې څنګه افضل شوق په ډرامائي انداز کې بيان کړي ده... هغه قاري ته دَ خوف او ويرې يو بُوږنونکی احساس خامخا ورکوي � ولې چې په دې کې ښاغلی شوق دَ يوې داسې تجزيې نه تېر شوی دی چې هغه خوف نه دَ راوتو دَپاره يې ډېره مهم جوئي کړې ده � او داسې ښکاري لکه چې دَ دې ترخې تجزيې خوف چې دَ هغه په اعصابو دَ يو ويرېدونکو خوف منظر جوړوي � دا لاندې واقعاتي رقم شوي مکالمه په دې اړه تاسو لوستلی شئ�

-"او بل په دې کارون کې يو هم داسې نه وو، چې په هر دويم ګام نه پرځېدلو..

-لاره هغه ده، روډ هغه دی ..نو هغه ټاوْن ولې دومره لرې شو؟ خبره نه يم

يو وخت چې په ساهکېدلي انداز کې ميرنا هم داسې څه اووئيلو، نو ملګرو دَ مايوسۍ ګپه پئيل کړه � وېلينا، چې دَ اپېرين لاس يې نيولی وو.. وئيلو..

-زه داسې فکر کوم چې مونږ لاره غلطه کړه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



داني وئيلو..

-مونږ ته نه وو په کار چې له هغه ځايه را روان شوي وی

-هو، هلته که نور نه .. خلق او ګاډياني خو وې

زاړه ويلئيم چې داسې وئيلو، نو پېغلي لوري ويوار چې دَ مور په اوږه يې لاس نيولی وو.. خو په ژړا شوه..

-ماما داسې نه.. چې په دې ځنګل کې مي ځناور اوخوري

ځومره چې خلې وې .. هغومره خبري وې ، چې دَ سړي زړه يې نور نور وړوکی کولو � لاکن کائيکو،چې اوس باقاعده لکه وړه جينۍ په ژړا سرشوه او په سلګيانوکې يې وئيلو..

-زما خو زړه ډوبېږي ، زه به مړه شم .. زه به مړه شم

)مزل په واورو باندې .. مخ � 219(

که مونږ اوګورو ، نو دَ افضل شوق په سفرنامو کې مکالمې ډېري زياتي وي .. کوم ته چې هغه ډېر په خوند ډرامائي انداز ورکوي � خاصکرکومه اوږده خبره يا غټه واقعه چې هغه په اختصار يا علامتي پېرائيه کې سرته رسول غواړي .. دَ هغې وضاحت افضل شوق په مکالماتي پېرائيه کې په ډېر ښائسته هنرکې کوي �

۹ ـ هرقدم په نوي ټاپو باندې

په دې باب کې دَ هاغه ښار په حقله خبرې شوي دي چې په اوبو کې جوړ دی .. او په درسته نړۍ کې دَ روماني ښار په نوم شهرت لري � او دَ دې ښار په حقله ډېرو خلقو ليکل کړي دي لاکن دَ افضل شوق په خبرو کې يو ځانګړتيا ليدلی شي � ولې چې هغه دلته هم خپل معلومات دَ قيصې په انداز کې وړاندې کړي دي � دا ښار چونکه په اټلي کې دی او شوق له اټلي نه متاثره په دې نه دی چې دَ هاغه ځای په خلقو کې ډېره شوکماري ده � دَ وينس ښار دَ ښکلاګانو دَ بيانولو سره سره دئې خپل نظر دَ اطالويانو په باب داسې څرګندوي�

"چرته چې هم کوم مذهب دَ جنون تر هانده زيات منونکي لري .. هلته ګوره چې څله دهوکه، فرېب ، شوکماري ، ترهه ګري او نور نور غېر انساني کارونه کېږي؟ "

)مزل په واورو باندې .. مخ � 237(

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



او مخته که څه هم افضل شوق په خپل وضاحت کې ليکي چې په تهائي لېنډ، هندوستان، اټلي، اسرائيل او حتی چې بشمول دَ ده خپل هېواد .. دا هغه ملکونه دي چې دُنيا ورنه سر ټکوي � يعنې دئی دا سوال پورته کوي چې چرته هم خپل خپل ځانته مذهب دَ انتها تر حده ليدلی شي .. هلته شېطاني کارونه ولې زيات دي ؟ شوق دَ خپل قاري نه دَ تپوس په شکل کې کوي � ګنې ده په خپل دې باب کې دَ دې سوال وَ ځواب ته ډېر ښه او انساني او مذهبي دليل وړاندې کړی دی � لکه څومره چې انسان رحمان ته نيږدې کېږي هومره يې شېطان دُښمن کېږي � خودَ ده په لهجه کې دا پورتنۍ خبرې څه داسې په ښکلې ادبي پېرائيه او اشارو کې شوې دي .. چې يو قاري يا نقادترېنه ډېرې معنې اغيستلی شي �

"چې شېطان خو هم هلته ، چرته چې دَ رحمان او انسان تر ميانځه لارې لنډېږي خپل زور او زيار زيات په کاروي � او چرته چې کارونه دَ شېطان په رضا کېږي .. هلته نو شېطان غواړي څه ؟"

)مزل په واورو باندې .. مخ � 238(

په دې باب کې دَ افضل شوق دَ ملګرو نه بېلتون او له يوې جزيرې تر بلې جزيرې او نورو جزيرو پورې دَ نابلدۍ دَ سوبه ورکېدل هم يو افسانوي پړاوْ دی � په دې ورك سفر کې افضل شوق دومره په خواږه انداز دَ خپلې مايوسي قيصه کړې ده چې قاري ځان سره ملګری وړي � لکه يو ځای چې ليکي..

"خو بيا مې هم دَ خدائی په نوم توکل اوکړو او په هغه لانچ کې کېنستم ، په کوم کې چې ټولو ښځو او نرانو ماته او زما روسي خولۍ ته او اوږده زيړ رېن کوټ ته داسې کتلو لکه زه چې دَ دې نړۍ انسان نه او لا بيا خپله زه مريخ ته راغلی يم � زه هم دَ ځينو نورو سوارليانو په شان ولاړ وم او اوبه راڅخه څڅېدلې لګيا وې�

-"سيټ سيټ

يو وخت چې لانچ په مست سمندر کې مخته روان وو ، نو يو زاړه سړي زه له کوټه کش کړم او له ځان سره يې کېښېنولم او وائي..

-انګلش انګلش .. جرمن جرمن ؟

ما هم په پښتو خبرې ورته پئيل کړې او ورته وئيل مې..

-پلاره زه پښتون يم پښتون

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



-پاتون اوپوشون

اوبيا يې داسې .... تون پتون پون شون بون .... غونډې توري تکرارول پئيل کړو، لکه هغه چې زما او زما په غښتلې قام پوري پسخوند وهي � بيا چې به يو نيم سوارلۍ هم ورته کتلو ورسته يو غوږ شو .. نو په ما کې به پروت پښتانه نوري نوري اوړې له غصې ورته دَ پښتو دَ فلمي هيرو بدرمنير په رنګه اوڅنډلې� "

)مزل په واورو باندې .. مخ � 248(

لکه ما چې مخ کې هم دا خبره کړې ده .. چې افضل شوق په دې سپل کې نه يواځې پښتون دَ ځان سره اوړې وو .. بلکه خپله هم پښتو ته جوړېدلی پښتون ليدلی شي � نو ځکه خو دې پورتنۍ واقعې نه يواځې ده ته ډېر تکليف رسولی دی ... بلکه دَ اټلي دَ قامي پرستۍ رجحان او ترقۍ زمونږ ليکوال ښه خپل قام او مشرانو ته غصه کړی هم دی � په دې خو دئی .. هم په دغه باب کې يو بل ځای خپل دَ زړه بهړاس دَ پښتنو په مفادپرسته قامي مشرانو داسې اوباسي �

"پښتو يې راته بې پښتو کړې ده او دَ خدائی رسول او اسلام په نوم يې تش تر چوکۍ پورې دَ رسېدلو اوزار جوړ کړی دی ، لاکن دا ښه خبره ده چې دَ هغوئ دَ خېټو په پړسولو کې دَ دې ساده او بوده وزمه اولس هم ښه لوئی لاس دی .. چې بيا بيا يې په سر کښېنوي "

)مزل په واورو باندې .. مخ � 242(

١٠ـ خوب وو.... خو دَ خوب په رنګه نه

په دې باب کې افضل شوق دَ وينس ښار دَ اوبو نه ډکو کوڅو په باب خپل ليدلی خوب بيان کړی دی � يعني داسې خوب چې په کې دَ قيامت يو منظر وي ... کشتۍ په اوبو کې ډوبېږي .. مکانونه رانړېږي .. خلق يو خوا بل خوا منډې وهي � خودلته دا انساني ښېرې دَ انساني ښېرو په رنګ کې نه ښکاري .. بلکه دغه انساني مخونه دَ وحشي ځناورو په بڼه کې ليدل کېږي. هر يو ځانته کوشش کوي چې خپل ځان دَ اوبو دَ مستو څپو نه بچ او رابهر کړي � هيڅوك دَ چا پکار نه راځي. هر څه په اوبو کې يوې بلې خواته بهېږي او ډوبېږي .

په دې خوب کې افضل شوق دَ يورپ دَ نفسانفسۍ په حقله چې کومې کومې علامتي اشارې ذکر کړې دي .. هغو نه دَ يورپ دَ انسانانو ژوند او دَ هغو دَ روئيو عکاسي په داسې هنري انداز شوي ده چې قاري ترېنه دَ خوند اغيستلو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره سره معلومات هم تر لاسه کولی شي � دا دَ یو هنرمند لیکوال تر ټولو لوئیه خاصه ده چې هغه خپل اظهار ته ځنګه ژبه ورکوي .. دَ افضل شوق دې لاندېنئیو خبرو کې پټو اشارو نه مونږ اندازه کولی شو�

"هو .. ما وئیل لکه هاغه سپیان چې به مونږ له دې طوفاني اوبو ژغوري � ولې هغوئ خو نه ډوبېږي � لاکن بیا چې مې هلته لرې وَ داسې سپي ته پام شو چې دغه وو.... یوې پېغلې له اوبو ایستلو .. نو مې زړه کې دا خبره راغله .. چې هو، ریښتیا سپیانو ته خو په روپا کې کله کله تر انسانانو هم په درنه سترګه کتل کېږي � "

)مزل په واورو باندې .. مخ � 262(

که څه هم دا پېراګراف دَ خوب دَ یو منظر نه رانقل شوی دی خو دَ اروپا په طرز زندګۍ باندې یو داسې تنقیدي ګزار دی چې دَ شوق دَ سفر ځانګړتیا مونږ ته نوره واضحه کوي � دَ وینس نه علاوه افضل شوق بل وړکوټي هېواد سان مرینو ته په خپلې سفرنامې کې یو کلي وال هېواد وئیل هم تنقیدي نیوکې په ځان کې لري � لکه..

"مونږ اوس سان مرینو،چې ځانته یو خپلواکه هېواد دی .. په خوا روان یُو � چې که یو وړوکی ماډرن کلی ورته وئیلی شي نو به ښه ځکه وي چې آبادي یې تر شلو زرو کسانو زیاته نه ده � "

)مزل په واورو باندې .. مخ � 268 (

نه تش دا ، بلکه په دې باب کې دَ اسیسي سېل هم شامل دی .. چرته چې دَ سان فرانسیس مزار دی چې ورته په زرګونو خلق هر موسم کې زیارت کولو ته راځي � په دې ښار کې دَ افضل شوق او میرنا تر میانځه دا لاندې رقم شوي مکالمه ډېر بامطلبه ده ..

-"دا ستا دَ سټېډي انداز مې ډېر خوښ دی .. یادوم به دې � او بل ته دَ مسلمان کېدو پرته هم چرچونو ته احترام لرې � ما داسې سنجولي دې

ما هم مخ ور اړولو سره سم ورته په ډېره عاجزۍ اووئیلو..

"هو، میرنا .. زه اول انسان یم بیا مسلمان � خو هر انسان ته دَ قدر په سترګه کتل او دَ بل دَ مذهب احترام کول نه تش زما بلکه دَ اسلام تعلیمات دي

-هر لیکوال او شاعر داسې نظر لرې؟

هغې له ما پوښتنه اوکړه..

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



-هو، که واقعي شاعر او ليکوال وي هله � ولې چې مثالي انسانيت خو دَ ادب يوازينی مرام دی � او دا بېل بېل مذهبونه يې ورته دَ رسېدلو لاري خو دي "

)مزل په واورو باندې .. مخ � 272(

په دې مکالمه کې دَ افضل شوق اوچت انساني فکر او آفاقي مرام هغه يو لوئی انسان څرګندوي �

۱۱ ـ دَ ګنډکپانو مقدسه ښار

څنګه چې دَ دې باب په عنوان کې دَ متضادو تورو يو ترکيب په نظر راځي ، نو هم دغسې دَ روم ښار په حقله افضل شوق په واز کومې په وار وار دا خبره کوي چې دلته پکار دی چې دومره شوکماري نه وی � ولې چې دَ عيسائيت مرکز دی او بل وېټيکن ستې هم ورسره جوخته ده � نو په دې وجه دَ سېلاني شوق په ذهن کې دَ دې ښار متعلق مختلف سوالونه راپورته کېږي�

شوق په دې ښار کې دَ ملګري روني او داني سره په امريکن بار کې شوکولی شي � او سېل يې متاثره کېږي � په دې باب کې يو ځای دَ ګائيډ دَ خلې نه داسې خبري داسې په سواليه انداز کې رقم کوي�

-"شپه مو څنګه تېره کړه؟ چيټ خو نه شولاست؟ څوك چې نه هم وي چيټ شوي .. نو هغه دې خپل جېبونه او پرسونه اوګوري .. کېدلی شي چې په خوب کې لُوټ شوي وي

)مزل په واورو باندې .. مخ � 292(

دلته داسې څرګندېږي چې په روم کې دَ چا نه دهوکه کېدل يوه معجزه ده � او قاري دا اخذ کولی شي چې هلته دهوکه بازي يوه لوبه او هنر ګڼلی شي � خو افضل شوق هم په خپل هنري تحرير کې دَ چانه کم نه دی � خپل تنقيد دَ اشارو دَ لارې داسې ورباندې کوي � لکه په دې لاندې پيره کې�

"دلته هر هاغه سړی بلل کېږي چې سينه هواره لري � او هم دغه رنګه هر هاغه کس ښځه يادېږي چې په سينې باندې دوې غوټې نښتي لري � او بس دا هاغه توپير دی چې ما رابرسېره کړو"

)مزل په واورو باندې .. مخ � 300(

دا پورته ورکړی شوی پېراګراف دَ معنوي تنقيد په توګه وړاندې کېدلی شي � ولې چې په دې کې نه يواځې اخلاقي تور دی � بلکه دغه رنګه اشارې يې په ناقدانه توګه علامتي تنقيدي رائيې هم بللی شي �

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې باب کې دَ رومنو په حقله دَ افضل شوق دا رائيې ډېر لوئی اهميت په دې لري .. چې داسې خبره په ورمبي ځل دَ يو ليکوال دَ قلم نه رقم کېږي .. لکه

"رومن چې څومره غاوره دي ،هغومره دَ پيسو دپاره بيزو بازۍ هم کوي � ګوا چې چرته ګورې ، نو دَ نرانو سره سره يې ښځو هم دَ سېلانيانو دپاره په هر ګام تلکې لګولي وي � لکه دَ خواست دَ نابلدو چلونو پرته دا يو مشهوره عادت هم .. چې پېغلې دلته له سېلانيانو څخه اکثره دَ سګرېټ يا لائټر غوښتلو په بهانه دَ هغوئ تر جېبونو ځانونه رسوي "

)مزل په واورو باندې .. مخ � 299(

۱۲ ـ پيسا ټاور هم زياته په نړېدو دی

دَ دُنيا په اووْ عجوبو کې شامل دا يوه عجوبه چې دَ پيسا ټاور په نامه پېژندلی شي .. کوږوالي ته افضل شوق هيله نه کوي چې ډېر عمر به ولاړ پاتې شي � دَ پيسا ټاور دَ سيوري دلاندې او آخوا دېخوا دَ سېلانې سفر هاغسې خوندور دی او اطالويانو نه زړه ماتی هم� خو په تعريف کې يې داسې هم دَ ګائيډ په خله غږېږي�

"دَ اټلي زياتره خلق دَ آرټيسټيك ذوق په سمه دا هڅه کوي .. چې کورونه په داسې ځايونو کې جوړ کړي � چرته چې پراخه فضا وي او يا يې کټونکې ستائينه اوکړي � نو ځکه خو تاسو ګورئ چې په دې هېواد کې زياتره ټاوْنونه دَ غرونو په سرونو رك دَ پاڼونو په ځئيو باندې جوړ ښکاري "

)مزل په واورو باندې .. مخ -311(

دا خبرې افضل شوق هغه وخت ريکارډ کوي چې دَ مائيکل اينجلو دَ بُت په وړاندې احترام او دَ هغه دَ قبر زيارت کولو کې وياړ محسوسوي�

دلته هم شوق دَ سېنټ کروس، جنېوا او ځينو نورو ځايونو نه متاثره کېدلو علاوه هم دَ دې ځای دَ خلقو دَ مستۍ وړاندې ځان ناشوقه ګڼي � او دَ مشرقيت په اشارتي ژبه کې خبرې کوي .. لکه

"څومره مستي ده په دې خلګو کې ؟ دَ دې سوال هر ځواب که يوې خواته دَ حېرت ګوته په خله کولم .. خو بلې خواته خپله هم دَ تصوراتو په سمه په وينښو سترګو ويده شوی وم � او اوس دا يم چې راويښ شوم � ولې چې دَ ايسټر لومړۍ دقيقه ده او په حال کې که يو ناشوقه دی .... نو هغه زه يم ، چې دَ تماشې برخه نه ، بلکه تماشه بين ښکارم "

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



)مزل په واورو باندې .. مخ � 317)

دَ تېرو بابونو په شان په دې باب کې هم شوق دَ لوستونکو دَ خوښې دَ خيال ساتلو په خيال يوه وړه قيصه دَ ايسټر دَ تحفو دَ تبادلې په حقله ډېره په خوند نه يواځې وړاندې کړې ده .. بلکه يو ډرامائي او افسانوي رنګ يې هم ورکړې دی �

اوس په آّخر کې زه غواړم چې دَ ليکوال دَ سفرنامې دَ بيانيه انداز دا يو پيرا ګرف تاسو ته په دې وړاندې کړم چې دَ افضل شوق دَ بيان أسلوب څنګه دی ؟

"دَ ليګورين دَ سمندر له څنډې سره سره موټر مخته روان وو� لاکن کله کله به سمندر له موټره او يا به موټره له سمندر څخه پټ شولو � او دغه رنګه په دې پټ پټانګې کې يو وخت چې دَ ګهړۍ ستنې يوې بجې ته اورسېدلې ، نو دَ لوې لارې په يو رېسټورېنټ کې دَ غرمې ډوډۍ خوړلو په نيت کښته شولو �

-دا څه عجبه ورور او خور دي .. تا کله خيال ورته کړی دی ؟

ما هغو چينائي Malay ملګرو ته کتلو ورسته له روني څخه دَ هغه دَ سوال په ځواب کې پوښتنه اوکړه �

-څه مطلب ؟ پوهـ نه شوم

-هغه ګوره ډېني څنګه په خپلې خور لاسونه وهي لګيا دی� "

او رښتيا خبره هم وه ، ولې چې دې وخت هلته له موټر څخه په څه فاصله ناست چائنيز ملې ملګري ډېني هاوْ دَ خپلې پېغلې خور په ادوم باندې لاس داسې په خوند خوند وهلو، لکه هغه چې يې خور نه بلکه" ...

)مزل په واورو باندې .. مخ � 324)

حسينه ګل

نوښار کاکا صاحب _ نومبر کال 2004

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دَ لمر دَ کلي په لور

شوق ... دَ سفرونو په آئینه کې

څومره واقعات او اتفاقي ښکلي حادثات ، چې په ډرامائي او افسانوي انداز کې مونږ دَ سپلاني افضل شوق دَ یورپ دَ سېل په ورمبۍ برخه کې دَ " مزل په واورو باندي " نومي کتاب کې اولوستلو ... هم په دغسې بنه دغه سپلاني شاعر په ډېر مهم جوئیانه او شاعرانه انداز کې په دې دومه برخه یعنې سفرنامه " دَ لمر دَ کلي په لور" کې هم لیدلی شي � نو ځکه زه غواړم چې دَ دې برخې په حقله هم خپل تنقیدي نظر دَ خپل تنقیدي صلاحیت دَ لارې وړاندې کړم �

## دومه برخه

## دَ لمر دَ کلي په لور

)یادګیرنه :- دا کتاب په کال ۲۰۰۵ کې چاپ شوی دی(

په تېر مضمون کې چې ما دَ افضل شوق دَ نوې سفرنامې " مزل په واورو باندې" کوم تنقیدي نظر لیکلی وو .. په هغې کې ما دا ذکر کړی دی چې دا سفرنامه په دوؤ برخو مشتمله ده � ځکه اوس په دې مضمون کې دَ دغه سفرونو دَ سلسلې په دویمه برخه هم خپله تنقیدي رائی لوستونکو ته وړاندې کوم � دلته دا خبره دوباره کول هم زه ضروري ګڼم چې دا سفرنامه " دَ لمر دَ کلي په لور" هم په دولسو بابونو باندې مشتمل ځانته چاپ یو بیل کتاب دی چې آخري مسوده یې زما مخې ته پرته ده .. او زه غواړم ، دَ خپل استعداد تر مخه ورسره انصاف اوکړم � دلته دا هم ضروري ګڼم چې دَ دې مسودې دَ بېل بېل باب تنقیدي جائزه تاسو ته وړاندې کړم � خو څه لیکلو نه مخ کې دا خبره کول ضروري ګڼم چې په دې برخه کې هم دَ افضل شوق دواړې عمرانې مطالعې چې هغه دَ یورپئینو دَ ژوند او ژبو په اړه کړي وې .. هغسې دَ هر باب سره سره خپلې دلچسپیانې برقراره ساتي او لوستونکو ته ډېر نابلده معلومات ورسپاري � نه یواځې دا .. بلکه په ورمبي ځل افضل شوق دَ سفرونو دَ حال سره سره دَ هر هېواد او ځایونو تصویرونه دَ عکسي یُون په توګه په دې کتاب کې ځای کړي دي � دَ کومو نه چې لوستونکي یو مجموعي تاثر هم اغیستی شي �

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱ـ دَ ښکلا ګانو په ګودر چې تندر پرېوت

په دې باب کې مونټې کارلو دَ جواخانې نه سپلاني ( افضل شوق ) مزل پئيل کړی دی چې دَ جواخانې اندروني او بېروني ماحول په کې ډېر په مکالماتي انداز کې زېربحث شوی دی � او دَ ګائيډ په خله دَ دې جواخانې په حقله داسې ليکي ..

"دا هغه کاسينو ده چې خپل تاريخي حېثيت لري او دَ دُنيا ماړه ماړه خلق لکه فلمي ستوري، کارخانه داران او عربي شېخان په خپل ژوند کې يو ځل دلته دَ جوارۍ کولو هڅه ځکه کوي چې ځان دَ تاريخ برخه جوړوي"

)دَ لمر دَ کلي په لور .. مخ � 13 (

بيا که وړاندې څه هم سپلاني شاعر دَ نورو ملګرو سره ملګری دَ دې جواخانې تاريخي برخه ( په پنځو ډالرانو بائيللو) جوړېږي .. نو دَ دې ځای دَ ماحول په باب ليکي چې..

"هلته که څه هم زاړه خلق زيات ښکاره کېدلو.. خو دَ پېغلو او ځوانانو هم څه کمی نه وو، چې خپل خپل قسمتونه يې په بېلابېلو مېزونو تللو لګيا وو � او هر يو ښه ډېر غوئيی شوی هم وو"

)دَ لمر دَ کلي په لور .. مخ � 13(

په دواړو پورتنو پېراګرافونو کې سپلانی دَ دغه جوانانې په حقله معلومات ورکوي ، خو په علامتي شکل او پېرائيه کې � لکه " غوئيی کېدل" رنګه نوي محاوره يا لفظي ترکيب راوړلو کې ډېر څه وئيل غواړي � کوم چې دَ افضل شوق دَ انداز يو بشپړه پېژندګلو ده � دَ دې نه علاوه په دغه ذکر شوي باب کې دَ نيس ښار سره تړلي دَ ټينا، جېن او کرسټي هاغه قيصه هم ډېره په افسانوي او رومانوي انداز کې بيانوي � کومه چې سپلاني په خپل يو مشهوره نظم " زه ، نيس او شپه دَ يادونو" ( چاپ " په لټون ستا دَ څېرې" ) کې ذکر کړې ده � يعنې مطلب دا دی چې " په لټون ستا دَ څېرې" کې چې څومره نظمونه هم سپلاني افضل شوق په يورپ کې ليکلي چاپ کړي دي .. هغه يې وخت په وخت په دغه سفرنامو کې په مختلفو موضوعاتو کې ذکر کړي دي � کوم چې دَ هغه دا خبره رښتوني څرګندوي .. چې دَ هغه ټوله شاعري .. دَ هغه دَ رښتونو مشاهدو يا واقعاتي پېښو سره اړه لري نو ځکه دا هر څه چې ده نظم کړي دي .. مونږ دا دَ هغه دَ منظومې بائيوګرافي برخه ګڼلی شو .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دي سفرونو کې سپلاني تش ځيزونو ته کتلي راکتلي نه دي .. بلکه دَ هر نوي ځيز او انساني روئيې ادراك کولو کوشش يې هم کړی دی � کوم چې مونږ ځای په ځای ليدلی شو � او دا دَ کامیابه سیاح هنر بلل کېږي .. کوم چې ځمونږ په دې پښتون سپلاني کې شته � لکه په دې باب کې افضل شوق په فرانس کې که يو طرف ته دَ کانز نامې ښار نه متاثره کېږي هم .. نو بلخوا دَ فرانسويانودَ روئيو او احساساتو په حقله هم يو ځای ليکي..

"که څه هم دا خلق ډېر آزاد خياله او دَ شرم تر حده يې ښځې په ساحلونو باندې بدنونه ښکاره کوي � خو بلې خواته دا غاوره خلق له هغو مسافرانو سره ډېر په مينه خبري کوي چې دَ هغوئ دَ ژبې او ژوند کولو طور طريقو ته په ښه سترګه ګوري "

)دَ لمر دَ کلي په لور .. مخ �30(

۲ـ دَ خوبوَلوسترګو ويښ ښار

په دې باب کې دَ سپين ښکلي ښکلي يادونه ذکر شوي دي � په دې کې سپلاني (افضل شوق ) يو خوا که دَ عربيانو په دې هېواد باندې تر اوو سوؤ نه زيات کلونو حکومت او بې اثره حکمراني غندي .. نو بل خوا دَ عالم اسلام دَ ننني مسلمانانو دَ حېثيت دَ مخه دَ دښمنانو په مقابلې کې دَ هغوئ تاريخي خوبولي غفلت ته هم داسې ګوته نيسي�

"مسلمانان ملامت هم نه دي .. هغوئ پرون وَ دُښمن ته دَ دُښمن په نظر نه وو کتلي او بل دښمنانو دَ سائنسي تقاضو په سمه ژوند کولو سره سره دَ مسلمانانو دَ زور ماتولو دپاره جنګي سازوسامان جوړول � خو په بدل کې يې هغوئ شپه او ورځ مسواك لګولو� اوس لازمي خبره ده چې بمونه خو په مسواکو نه راګرځي � ځکه يې ماته مقدر شوله � مطلب دا چې په خپل ځای خو دښمن ته له تياري سره ملا تړل هم کفر نه .. بلکه دَ ثواب کار دی او له دې ثوابه څخه مراد پرمختګ هم دی "

)دَ لمر دَ کلي په لور .. مخ � 44(

په سپېن دَ عرب مسلمانانو دَ اووه سوه کلن حکومت پرته هم دَ سپېن په کلچر ، ژوند از مذهب دومره اثر نه دی غورځولی .. څومره چې مغربيانو په ډير لږ لږ وختونو په اختيار کې دَ مسلمانانو ژوند، مذهب او کلچر په هره سيمه کې متاثره کړی دی � او دې طرف ته سپلاني دغه اپروچ يقيناً يوه تاريخي الميه ګڼنه او يادونه ده � او تر دې حده لويه الميه چې افضل شوق يو بل ځای په دې باب کې ليکي چې..

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



"په سپېن کې عربیانو ته ماته ورکولو دپاره عیسایانو تر طاقت زیات هاغه هسپانیۍ پېغلې په کار راویستي وې چې زړونه تخنوي او روحونه موسولو سره سره بدنونه ټکورولو کې یې ساری نه درلودلو� ولې چې دا هاغه وسله ده، چې دښمنان تر اوسه لا پرې مسلمانانو ته په نړۍ کې ماته هر چرته ورکوي لګیا دي � او مسلمانان هم دومره ساده دي چې ځانونه تر غازیتوبه ، په شهادت خوښ شي او شهېدېږي .. ګارېږي لکه پښتانه "

)دَ لمر دَ کلي په لور .. مخ � 45(

دَ دغه تاریخي حقائقو دَ څېړلو سره سره سپلاني دَ کرستوفر کولمبس هاغه کشتۍ ته ورغلی دی چې هغه په کې دُنیا کتلي وه � او په دې حقله یې دَ خپل یو نظم چې په " په لټون ستا دَ څېرې" کې چاپ دې حواله هم ورکړې ده � دَ دغه باب په لوستلو ، لوستونکی دې حقیقت ته رسي چې سپلانی لیکوال دَ سپېن دَ ښکلاګانو نه څه ډېر زیات متاثره شاید په دې لیدی شي .. چې هغه په دې هېواد کې دَ عربیانو دَ تاریخي شکست په لور علامتي اشارې کول غواړي � او دَ افضل شوق دې ادبي هنر ته که مونږ په ځیر شو .. نو دا خبره به مخې ته راشي چې هغه دَ نقادانو دَ ګوزارونو نه ځان بچ ساتلو په غرض هر چرته چې هم یوه داسې پټه او په وزن کې سپکه لاکن په معنوي اعتبار غېر مروجه خبره کوي .. نو هغه دَ بل په خله � لکه په بارسلونا کې دَ خپل ګائیډ په خله په پټو اشارو کې لیکي�

"تاسو به دا خبره نوټ کړې وي چې هسپانیان څومره آزادخیاله او دُنیاوي خلق دي؟ وایم چې مادي آسائشونه پوره کولو دپاره هرڅه کولو ته تیار وي � لاکن دا خلق امن خوښونکي هم مشهوره دي"

)دَ لمر دَ کلي په لور .. مخ � 63(

۳ ـ هلته کافرحسن ته مسلمان زړه پخوا لا ماته خوړلي وه

څنګه چې دَ عنوان نه ظاهره ده چې په دې باب کې هم سپلاني ( شوق ) دَ خپلې ژورې مشاهدې په زور دَ خپل سپل روداد دَ تاریخي حوالو په مدد وړاندې کوي � یعنې دَ سپېن په اړه داسې نوې او نابلده خبرې میانځ ته راوړې چې دَ لوستونکي ادبي تنده ماتېدلو سره سره دَ هغه په معلوماتو کې اضافه هم کوي � دا دَ دې سپلاني ادبي او فکري انداز او ټولو نورو پښتنو لیکوالانو نه بېل او ځانګړی هنر دی � چې هغه ځانته دَ اظهار کولو دپاره ټکلی دی � لکه په مکالمې کې افسانوي او رومانوي علامتي طرز بیان چې قیصې ته خوند وربخښي � لکه..

"په سپېن کې خلق چې څه ګټي هغه خوري او یا یې په ځان لګوي"

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



)دَ لمر دَ کلي په لور .. مخ � 74(

دا که په ظاهره یوه ساده خبره ده .. خو په دې ساده غونډې خبره کې سپلاني دَ سپین دَ خلقو دَ ذوق، شوق، خوراك ، ښه لباس، ښې استوګنې په داسې انداز کې ذکر کړی دی چې دَ ذوق لرونکو دپاره ډېر معلومات او دلچسپیاني لري�

دا باب دَ مېړږه ښار په حواله په خپل وجود کې ډېرې دلچسپیانې دَ مکالمو په صورت کې په علامتي او افسانوي پېرائیه کې داسې لري�

-ډېر ارام یې شوقه!!

او ټېلیفون یې بند کړو � ما چې رسیور ږدلو نو روني رامخته شو..

-وایه !! په آخر کې یې څه درته وئیلو؟ او تا کومه جرمانه غوښتې وه؟

ما چې څوکه غونډې هغه ته دَ جرمانې په باب ورته حال ښنګه تېر کړو نو هغه داني په ډېره حېرانتیا تپوس اوکړو �

-نو بیا هغې څه وئیلو؟

-هغې فون بند کړو او بس ....

-یه یه حال راکړه چې په دې باب یې څه وئیلو؟

روني چې ضد شروع کړو نو مې په ټوقوکې ورته وئیلوچې

-هغې وئیلو .. ډئیر شوق ! دَ سر په سترګو

)دَ لمر دَ کلي په لور .. مخ � 80(

اوس که مونږ دې پورته ذکر شوې مکالمې ته په ځیر شو ، نو دې نه به ډېرې معنې مخې ته راشي � خو اصل قیصه څه ده .. هغه به لوستونکي مخ مخته دَ سفر دَ سېل حال په لوستلو مجبوره کوي � یعنې دَ افضل شوق په خبرو کې دَ بیان داسې باریکیاني ، علامات او اشارې په یو داسې شوخ انداز کې په نظر راځي چې هر څو که ابهام پیدا کوي خو لوستونکي ته دَ سوچ نوي نوي دنیاګانې په ګوته کوي �

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



لکه څنګه ما یو بل مضمون کې دا خبره کړې وه چې افضل شوق په دې سفر کې ځان سره پښتون هم وړی وو.. نو دلته په دې باب کې هم هغه یو ځای دَ افغانستان پښتنو ته داسې آئینه ښکاره کوي�

"نو ګائیډ وئیلو..

-دا ټاوْن په دویم نړیز جنګ کې دوه ځله مکمل وران شوی وو � هن چې تر 1966ع پوري په خانه

جنګۍ کې لا هم ...

زړه مې وئیلو چې دا خو وران نه ښکاري ؟ ګوا داسې روغ جوړ کلی برېښېدلو� هو.. دا هغه ځای وو چې دَ افغانستان دَ بیا جوړېدلو په باب مې هیلې لړ ډېرې په ملا تېنګې شوې � خو بیرته مایوسه ځکه شوم چې دَ پښتنو جنګي خوئیونو ماته هر هر یو پښتون په سرو سرو داړو لکه لېوه او برېښېدلو� "

)دَ لمر دَ کلي په لور .. مخ � 75(

دلته سوال دا پیدا کېږي چې آیا پښتون سېلاني په خپلې دې خبري کې صحیح دی ؟ زما یقین دی چې هر پښتون لوستونکی به ځواب په اثبات کې ورکړي � هم دا هاغه ادبي ادراك دی چې افضل شوق یې په خپلو سفرونو کې په کار راوړي او دَ موقعو په مناسبت خپلي خبري منطقي انجام ته رسوي � او دا دَ یو کامیابه ادیب نخښه بللی شي �

۴ ـ هغه ښار وو...که مات بنګړی ؟

دلته هم دَ خپل عنوان په ښائسته لفظي ترکیب کې افضل شوق دَ سان سباشئین دَ ساحلي ښار دَ سمندر غاړې ته که دَ مات بنګړي نوم ورکوي نو دَ دې ځای دَ خلقو دَ زړو رواجونو سره مینه او قومي آثارو ته احترام په نظر کې ساتلو ورستو خپل قام ته هم دغه احساس ورکوي � چې..

"دَ ژوندي قام لوئیه نخښه هم دغه وي چې غږي یې له پرون سره اړیکې ساتي � نه چې دَ پښتون په رنګه ، کوم چې په زړو باندې خاورې اچوي او نوي په کاروي نه .. ځکه خو له قامه..قومیت او له قومیته دَ قبیلو په لور روان دی"

)دَ لمر دَ کلي په لور .. مخ � 98(

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې باب کې سپلانی دَ یو خوږمن پښتون په څیر خپل قام په دې المیه ژړا کوي .. چې که دغه دَ مغرب خلق دَ خپلې ماضي سره تړون په ډېره مینه ساتي نو دَ خپل مستقبل رڼاګانې هم غواړي � خو دَ دې په مقابله کې یو پښتون قوم دی .. چې نه خو دَ خپلې ماضي سره مینه کوي او نه په خپل مستقبل کې دلچسپي لري � یعني دغه بې سواده .. خو ډېر غاوره پښتون دَ مودو مودو نه په خپل یو ځای ولاړ پاتې دی � لکه چې .. نه د مخکې تګ دپاره جذبې او حوصلې لري او نه دَ بره الوت دَ پار وزرې !!...

په سپین کې چې څومره هم افضل شوق سپلونه کړي دي .. هغه په هر ځای کې خپله مشرقي ښځه کمزوره ذهن ته شاید په دې وجه راوړې ده چې دلته دَ هسپانیانو په ژوند او عاداتو کې دَ عربو هغه په پېریانو پېریانو راج کولو هیڅ یو نخښه هم نه اولیده � هم په دې یې دا یوه تاریخي المیه او یوه غټه عجوبه اوګڼله .. نو ځکه یې په هر دویم قدم په عربو زړه داسې سوړ کړی دی

"څومره چې عربیانو دا دَ سپین خلق دَ څېرو په نقشونو کې ځانونو ته مونولي دي � بس که یې دغه هومره لاس وهنې دَ هغوئ دَ ژوند په کړو وړو کې وهلې وی نو نن به هسپانیانو په باب دا خبرې نه کېدلې .. چې ګنې هغوئ بدنونه خپل نه .. بلکه دَ بل امانت ګڼي "

)دَ لمر دَ کلي په لور .. مخ � 111(

حد خو دا دی چې دَ عربو لوئې ماتې ته په سپین کې چې افضل شوق کوم سبب په علامتي پېرائیه کې بیان کړی دی � هغه یو تاریخي حقیقت دی � خو تر اوسه پورې مخې ته ځکه کېدی شي نه وي راویسل شوی چې په دې کې دَ مسلمانانو په تاریخ تور لګي � خو افضل شوق چې کوم منطقي دلیل په دې اړه دَ خپلو مشاهدو په رڼا کې وړاندې کوي .. هم هغسې خو نن هم دَ عربو په ژوند کې لیدلی یا اورېدلی شي � نو دلته به زه دا اووایم چې افضل شوق نه یواځې دَ دغه تاریخي حقائقو نه آګاه دی بلکه په یو خپل مخصوص انداز کې رښتیا وئیلو هنر او همت هم لري �

په دې باب کې دا لاندېنۍ مکالمه غور طلب ده .. چې په کې سپلاني ډېر لوئی بحث دَ انساني تاریخ په معمولي حواله په ډېر ښائسته او خواږه ډرامائي انداز کې داسې په خوند او هنر څېړلی دی � چې دَ بنده ذهن ته دَ انساني روئیو په باب بلا سوالونه راتلی شي�

-"مینه او انسان .. هیڅ نه � بس ځانونه خطاباسل دي

په زړه کې مې وئیلو چې دا مورکۍ هم لکه چې ډېره انساني روئیو کړولې او چیچلې ده ، نو ځکه مې ورځخه پوښتنه اوکړه.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



-ولې انسان او مينه دوه بېل شيان دي؟

-چا وئيلو داسې؟

دَ هغې په يو دم پوښتنې ما غاړه تازه کولو ورسته ورته اووئيلو�

-لاکن زما نيزدې خو انساني روئيې وار په وار ځناوري کېږي لګيا دي

زما په دې خبري هغې يو وار ماته ښه راوکتلو او بيا موسېدلو ورسته وائي�

-ته با لکل صحيح وائې ځوانه

او بيا دَ نرۍ ټوخي ورسته په رپېدلي کپېدلي ، لاکن ډېر په شوخ انداز دې خوپاکې بُوډهۍ مخته وئيلو

-زه دا يم زَړه شوم .. لاکن ما په انساني رشتو کې هغه خوږلت نه کړو محسوس ، کوم چې په کار وو

)دَ لمر دَ کلي په لور .. مخ � 109 او110(

دلته په دې پورته رقم شوي مکالمه کې افضل شوق دَ يو مغربي ټولنې انسان دَ خلې نه چې دَ ننني ځناوري انسانيت په باب ځومره سخته ځاپېړه دَ انسان په مخ وهلې ده .. هغه دَ دې دور هغه ريښتيا بللی شي ، چې ورته په مغربي اصطلاح کې ماډرنزم وئيلی شي�

۵ ـ دَ مونا ليزا په موسکا موړ هېواد

په دې باب کې سپلاني شوق درست فرانس ته دَ مونا ليزا دَ موسکا سره تشبهيه ورکړي ده � او دَ فرانسيانو غاوره روئيو او عادتونو ته يې داسې ځای په ګوته نيولي ده �

"دَ فرانسيسي انقلابي ډغرو، دَ فرانسوي آرټ ، تعميراتو او وياړمني روئيې څخه پرته په فرانسوي ادب کې رزميه سندرې چې ورته ( شان سون دي ژست) وئيل کېږي ، اوس تاسو په دې سندره کې اورېدلی شئ ..چې دَ ( شان سون دي رولان) په نامه مشهوره ده .. او په دې کې دَ عربيانو سره دَ جنګ قيصه بيان شوي ده"

)دَ لمر دَ کلي په لور .. مخ � 123(

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



سپلاني شوق دا خبره دَ ګائيډ میرنا په خلې کوي ، خو مقصد يې دلته دَ بيانولو دا دی چې فرانسيان کلتوري او کلاسيکل آرټ او ادب سره نه يواځې مينه کوي .. بلکه دغه هر څه ژوندي هم ساتي � دغه رنګه دَ عطرو په نوم مشهوره هېواد فرانس کې دَ عطرو دَ جوړولو دپاره دَ بېلو بېلو ګلونو، فصلونو.. پټي او رنګارنګ سيمو په دې باب کې په خپل نثري ليك کې داسې بيانوي لکه هغه چې يو خوږ نظم اوروي � دَ مثال په توګه دا يو څو فقرې دَ هغه دَ بيانيه او روان سپلابي نثر دلته وړاندې کوم.

"بس چې څو څو مخ ته لاره لنډوله .. هغه هومره زما په مزغو کې دَ دې ناوې دَ ښځي زياتو کلاګانو په ليدلو دَ اروپا په اړه دې سوال سر پورته کولو چې " اروپا له مونږه څومره مخته ده..؟ " دَ ځواب په تمه يې زه له خياله په ښتني سيمو کې ګرځولم او ما دا هڅه کوله چې که نور نه .. نو يوه داسې تاريخي نخښه خو به چرته وي چې ورته ځواب يې کړم � خو هرڅو هرڅو چې مې دَ سوچ نيليان تېز اوځغلولو ، خوماته په ښتني سيمو کې داسې يوه نخښه هم مخه نه راغله چې مې ورته دَ تاريخي اثاثي نوم ورکړې وی � نو ځکه مې سر اوښورولو او له کائيکو سره په ګپه شوم فقط په دې ، چې سوچ په بله واړوم "

)دَ لمر دَ کلي په لور .. مخ � 140(

دلته هم افضل شوق چې چرته چرته متاثره شوی دی .. نو يې په خپل قوم باندې هغه پيرزوْ شوي دي او هغه ته دا احساس ورکولو کوشش يې کړی دی .. چې هغه هم راپاسي او مخته تګ اوکړي � په دې باب کې دا يوه مکالمه چې ډېرې معنې لري په دې وجه وړاندې کوم چې دَ سپلاني دَ بيان افسانوي انداز دَ شاعرانه ډرامائي انداز بڼه هم داسې خپله کړې ده لکه ..

"جاپان دی خو په ايشيا کې ، خو مغرب وزمه هېواد دی-

ونېسا چې دې وخت له ځنګه راته ناسته وه ، څوکه غوندې وئيلو..

-کائيکو ښه او مخلصه جينۍ ده

-هو ، ده خو .. او ته هم..

-اوس نه يم....

-ولې؟

-ځکه چې هغه ايشين ده او بل....

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



لا به يې نور څه وئيلو، چې ميرنا يې پام خپلې خواته اړولو ورسته وئيلو

-امريکن سيستم زما خوښ دی

-هو، هغه ډېر ښه دی ، هيڅوك په چا نه بار کېږي او هر کس خپل بِل پخپله ورکوي-

روني چې يې خبره داسې سرته رسوله ، نو ونېسا راته بيا څوکه وائي..

-برايه ښه شپه وه

-ښه خو وه لاکن.....

-ولې لا دي په زړه کې جاپانۍ ته څه پاته دي که..؟

دَ بس په لور تللو په وخت چې زما او دَ ونېسا تر منځه دا مکالمه کېدله نو کائيکو هم اورېدله ..خو هغه په ځائی دَ خفګان ، خوشحاله کېدله او هوسېدله لېونۍ"

)دَ لمر دَ کلي په لور .. مخ � 141 او 142(

که مونږ لږ غور په دې پورته رقم شوي مکالمې باندې اوکړو.. نو داسې هيڅ بده يا ډېره دَ خوشحالۍ خبره به مخې ته نه شي را.. خو په دې مکالمې کې چې افضل شوق په څنګه هنري انداز دَ جاپانۍ کائيکو او امريکنې ونېسا تر ميانځه دَ هغوئ دَ قومي سوچ ، روئيو او خوئيونو تقابلي جائزه وړاندې کړې ده .. هغه دَ لوستونکي په ذهن کې دا خبره واضحه کوي چې امريکن څومره چالاك او چال بازه دي .. خو هومره جاپانيان په زړه صفا او دَ ساده باده روئيو خلق دي �

٦ ـ دَ ائيفل ټاوَر تر سيوري دلاندې

ائيفل ټاوَر هم دَ دُنيا په اوو عجوبو کې يوه عجوبه ده او شوق دَ دې عجوبې په حواله په دې باب کې نه يواځې فرانس، فرانسيان او دَ پېرس دَ شپې او ورځې ژوند په شاعرانه .. لاکن په ډېر ماهرانه انداز بيان کړی دی � کوم چې قاري په لوستلو متاثره کولی شي � په دې باب کې دَ سېلاني شوق طبعيت څه زيات شاعرانه ښکاري � ولې چې هغه دلته په خپل بيان کې نثري شاعري هم په داسې ساده خبرو کې کوي لکه..

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



"دَ ائیفل ټاوْر له دریم تمځي څخه پیرس داسې ښکاري لکه سړی چې له جهازه ورته ګوري ــ داسې محسوسېدلو لکه اوس چې به دا ټاوْر اونړېږي � ولې چې ټاوْر کږېدلو لګیا وْ ..خو په رښتیاوْ نه � بلکه دې وخت په آسمان کې دَ وریځو غټې غټې خړوسکې دَ هوا په رُخ رواني وې .. او داسې برېښېدلو لکه مونږ چې سره له ټاوره دَ ځمکې وَ خواته روان وو

)دَ لمر دَ کلي په لور .. مخ � 160(

په دې پېراګراف کې که سپلانی دَ ائیفل ټاوْر دَ عظمت او لوړتیا خبره کوي .. نو بلخواته په علامتي انداز کې دَ هغه دَ عظمت په وړاندې خپل او دَ خپل قوم وړوکوالی هم څرګندوي � ولې چې دَ افضل شوق په ادب کې له قوم نه ګیله لیدلی په دې شي .. چې هغه خپل قوم هم دَ نورو قومونو سره په څنګ کې لیدل غواړي � نو ځکه دَ هغه اکثره علامتي اشارې دَ شکوې او ګیلې رنګ لري � لکه په دې لاندېنئیو خبرو کې هم هغه دَ یو انساني احساس دَ مخې یو حقیقت څېړل غواړي�

"انسان نخښې پرېږدي شاته او ځي په مخه .. هم ځکه خو تر شا راتلونکي ورپسې که څه هم ځي � لاکن تر مخته تللي سړیانو پوره ګوره، چې څله نه شي رسېدلی ؟ هو.. لکه دَ نن پښتون ، چې دَ پرون دَ پښتنو پېښې هم نه شي کولی � که څه هم ځي هر پښتون په خپلو ښپو او هغه هم په دووْ ښپو"

)دَ لمر دَ کلي په لور .. مخ � 161 (

په دې خبره کې شك نیشته چې افضل شوق په دې پېراګراف کې یو ځل بیا دَ پښتنو په بدحالۍ او په بې پښتو سیالۍ خپلې اوښکې توې کړې دي � کوم چې دَ خپلو مشرانو او مشاهیرو نه خو منونکی دی او نه ورپسې تلونکی � او دا خبرې سپلانې په دې حواله کوي چې هغه په فرانس کې چې کومه ترقي او ښه انساني ژوند ویني ګوري او یا یې محسوسوي .. نو خپل بې سواده قوم او دَ هغوئ لوړې ورته په زړه راورېږي � هغه پښتون ته همت ورکول غواړي .. هغه ته آئینه ښودل غواړي � چې اې پښتونه!! اوګوره ،، دا ته ولې دومره شاته پاتې شوی یې ؟

شوق صاحب دَ خپل دې باب موضوع په حق کې دا خبره کوي چې دا هېواد په ښائست په حواله که مونا لیزا غوندې ښکلی او پُر تاثیره ښکاري .. نو په دې کې ژړند دَ هغې دَ موسکا له برکته داسې عملي کېږي � لکه هغه چې یو بل ځای دَ ائیفل ټاور سره تړلې دَ مونا لیزا په باب لیکي ، چې..

"دَ سیاحت له لارې ، چې څومره پیسې هر کال فرانس تر لاسه کوي .. په هغو کې تر ټولو لوئیه برخه دَ مونا لیزا دَ موسکا او هغه دنګ ائیفل ټاوْر ده، چې دَ دُنیا په اوو غټو عجائباتو کې شمېرل کېږي "

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



)دَ لمر دَ کلي په لور .. مخ � 158(

۷ ـ دَ برمنګهم پېلس په لورې ازغنې لارې درومي

له پېرس نه دَ ډنکارټ بندرګاه پورې په لاره په انګلش چېنل نامي سمندر کې دَ انګلېنډ په لور په دې باب کې که ډېرې دلچسپيامې لري .. خو دَ فرانس په دې بندرګاه ډنکارټ کې دَ افضل شوق بې عزتې دَ يو پاکستانې په حېث يوه داسې قيصه ده .. چې دَ سپلاني شوق زړه يې مات کړی دی � نو ځکه په داسې حال کې هغه ځان ته دَ نورو سپلانيانو په مقابله کې وړوکی وائي او په معصوميت دَ خپلې ګيلې اظهار داسې رقم کوي�

"غل نه وم .. خو دَ غله غوندې مې ځان دَ ملګرو دَ سترګو نه پټولو � او ځکه خو دَ سپل څخه رابېل شوي مارغه غوندې تپربدمه لګيا وم او بيا بيا مې ګهړی ته په دې کتلو چې ما ژر تر ژره غوښتلو چې دغه سيلي لائن نامي فېرې ډووَر پورټ انګلېنډ ته او رسېږي � که څه هم په لانچ کې دننه هر لور زړخوښيانې وې او دباندې دَ انګلش چېنل دَ سمندر مستې څپې .. خو زړه مې هيڅ شي ته نه کېدو "

)دَ لمر دَ کلي په لور .. مخ � 173(

دَ سپلاني دَ زړه ماتې دَ شدت اندازه په دې پورتنۍ کرښو کې تاسو په اسانه لګولی شئ � خوبيا هم سپلاني دَ خپل ښه فطرت په سمون بيرته په هم دغه باب کې داسې کوشش کړی دی چې ځان خوشحاليانو ته نيزدې کړي � او ډېر ژر بيا په خپل شاعرانه ليکنې کې په عاشقانه سوچ کې په افسانوي انداز له يو ساوتهـ امريکنې پېغلې چُوي سره ښنګ په ښنګ ښکاري � هغه هم په لندن کې .. چې هغه ورته دَ بادار ښار هم وائي � له چُوي سره په دې لاندېنۍ مکالمه کې افضل شوق په خپل مخصوص طرز تحرير کې ليدی شي�

-"شم به مسلمانه او حتماً ، خو دا يې وخت نه دی .. ولې چې زه اول اسلام او مسلمانان ستېدي کول غواړم ، بيا به ....

هغې چې به په وار وار داسې وئيلو ، نو ما به په زړه کې وئيلو، چې

-بيا خو نه شوې مسلمانه � ولې چې اسلام به دې خوښ شي که دې اولوستلو � لاکن دَ نن مسلمانان او مسلماني روئيې به دې زړه مات کړي � ولې .. هو، هغوئ خپله خو هم دَ مغرب په غېږه کې په خواږه خوب اوده شوي دي او دُنياوي خوبونه ويني لګيا دي -

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما به لا نور سوچ کولو، چې هغې راته په لاس ځونډې راکولو ورسته اووئيلو..

څه سوچ کوې .. ولې ته غواړې چې اوس اوس مسلمانه شم ؟"

)دَ لمر دَ کلي په لور .. مخ � 197(

په دې پورته سواليه خبري دَ افضل شوق خاموشي که څه هم دَ هغې پېغلې په مسلمانېدو کې خلل نه اچوي .. خو دَ هغه په خلې مهر لګېدل دا ويره رامخې ته کوي .. چې که هغه مسلمانه شي هم .. نو مسلمانه به پاتې نه شي � ولې چې افضل شوق چې کوم حقيقت په دې مکالمې کې دَ خپل سوچ په حواله وړاندې کړی دی � دَ هغه نه انکار خو هم نشي کېدی � او دغه رنګه منصفانه ادبي روئيې يو ښه انسان هم څرګندوي� ولې چې هغه دَ منافقت نه کار نه اخلي � هغه دَ يو آئيني په رنګه هر څيز ته خپله اصلي بڼه ورکولو په حق کې دی � نو ځکه خو دَ دغه رښتونی سېلاني ليکنو ته حقيقي ليکنې وئيلی کېدی شي � چې ادبيت په کې شته خو داسې منافقت نه .. چې دَ اکثرو ليکوالانو په تحريرونو کې ليدی شي � دا باب دَ شوق صاحب په دې رقم شوي خبري سرته رسوم .. چې هغه دَ پېغلي ځوي په قول داسې دَ سواليه اشارې په توګه ليکلي ده.

"نن ځوي که څه هم ډېره خوشحاله وه، خو دا يوه خبره يې بيا بيا ګوره چې څله کوله .. ګوا

-قسمت دَ انسان په لاس کې دی .. نه چې انسان دَ قسمت په رحم و کرم

)دَ لمر دَ کلي په لور .. مخ � 198(

٨ - انګلېنډ ..که دَ شېکسپئير دَ ډرامو کردارونه ؟

دلته سېلاني دَ انګلېنډ په باب سفري حال په خپل رنګ کې بيانوي .. او په انګلېنډ کې دَ شېکسپئير سره دَ خلقو مينه او دَ هغه دَ پيدائشي ښار سټراټ فورډ په چوکونو او پارکونو کې دَ شېکسپئير خپلو مجسمو نه علاوه دَ هغه دَ هري ډرامې دَ هر کردار مجسمې هم لګولې شوي دي � افضل شوق دا هر څه په زړه باندې اخلي او دا يو خوائش يې په زړه کې سر راپورته کويي .. چې کاش مونږ پښتنو هم خپل هيروګان .. هم دغه رنګه يادولی � يو ځای سېلاني شوق دَ شېکسپئير دَ مجسمې په وړاندې دَ خپل مشهوره چاپ شوي نظم " دَ شېکسپئير دَ مجسمې په وړاندې" ليکلو پرته هم دَ خپل خوشحال خان خټك دَ پاتې نوم او مانده ورځې داسې ژړا ژړوي �

"دَ خوشحال په نامه په پاکستان کې څه .. چې په پښتني افغانستان کې لا داسې نامي يادګار نيشته چې دَ پښتنو پلار وربانديې ياد شي"

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



)دَ لمر دَ کلي په لور .. مخ � 213(

او بلې خواته په هم دغه مخ افضل شوق ليکي، چې...

"شېکسپئير په انګلېنډ کې دَ يو ليکوال په حېث څه ..بلکه دَ دې هېواد يو سنهري تاريخي باب هم ګڼل کېږي � او دَ شهرت يې دا حال دی چې انګلېنډ ته " دَ شېکسپئير انګلېډ" وئيل کېږي "

)دَ لمر دَ کلي په لور .. مخ � 213 (

دلته په دې خبرو کې افضل شوق خپل اوده پښتانه راوېشول غواړي او هغوئ ته دا ثبوت هم ورکول غواړي .. چې قومونه په پيسو او جهګړو نه ، بلکه دَ مشرانو په عزت او دَ هغوئ په ښودل شوۀ لارو باندې په تللو جوړېږي � خو هغه په دې نه دی خبر چې پښتون داسې خبري اوتې بوتې ګڼي او هغوئ په دې لا هم نه وي خبر.. چې دُنيا په کومه او هغوئ په کومه روان دي � لاکن دَ دې باوجود هم پښتون سېلاني خپله وظيفه ادا کوي او خپلې آئينې کور په کور او کلي په کلي خلقو کې تقسيموي � لکه په دې لاندېنئيو خبرو کې هم هغه ليکي ، چې

"مشرقي ټولنې ته دَ لمر رڼاګانې چې څومره محروميانې ورپه ګوته کوي نو هم دغه هومره دَ اروپا خلق دَ شپو په تيرو کې خوشحاله کېږي او هر يو وس کوي چې دا تيرې په بېلا بېلو زړخوښيانو باندې سهار کړي "

)دَ لمر دَ کلي په لور .. مخ � 222(

که دې کرښو ته مونږ پام اوکړو نو دَ افضل شوق فلسفيانه انداز په ډېر شاعرانه نثر کې په نظر راځي � او لوستونکی دَ سوچ دَ مخه په مختلفو لارو تقسيموي � يعني له شپې سره دَ رڼا توري تړل او دَ ورځې دَ رڼا سره تيرې تړل .. په معنوي توګه دَ جهالت او علميت استعارې اوعلامتي اشارې دي ، چې تر ميانځه دَ مشرقي او مغربي ژوند توپير پيدا کوي � او په دې خبرو کې مونږ ته دَ مغرب دَ ترقۍ په حواله يو طنز هم مخې ته راځي � ولې چې افضل شوق له مشرق نه چې دَ بې سوادۍ په اړه څومره زړه ماتې د .. دومره له مغربي روئيو نه بېزاره هم .. لکه په دې لاندې نثري ټوټې کې چې ليکي.

"دَ اغراض دَ تکميل په نيت انګرېزان کله کله دَ خپل عزت جنازه په خپلو لاسو باندې ايستلو ته که څه هم دَ دوستۍ نوم ورکوي .. خو په زړه کې غاښونه هر وخت تېره لري"

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



)دَ لمر دَ کلي په لور .. مخ � 226(

۹ ـ دَ دوزخي حُورو په جنت کې

دَ سکاټ لېنډ په حقله په دې باب کې خبرې دَ دې عنوان تر اثر لاندې ډېرې په هنر او فن ليکلې شوې دي ..!! يعني دلته هم افضل شوق دَ خوشحالۍ او فکري غم په ميانځ کې ليدی شي � هر څه ته يې په ډېر ژور نظر کتلي او هر څه يې په ذهن کې نقش کړي دي � دَ دې مملکت دَ يو ښکلي ښار اېډنبرا دَ خلقو په باب هغه ليکي ، چې ..

"دَ دې ښار دَ خلګو ښې او روئيې څه څه قندهارۍ يا لکهنو وزمه او برېښېدلې � ولې چې په هر څه کې دَ دې ځای دَ ژوند او ژواك کلاسيکي بڼې مونډلی شي � او ولې نه .. دې ښار ته خو دَ علم او عالمانو ښار خو هم وئيل کېږي "

)دَ لمر دَ کلي په لور .. مخ � 242(

دَ دې مطلب دا شو، چې افضل شوق په خپلو سفرونو کې نه يواځې دَ ښکاره ځيزونو کتنه او سېل مقصد جوړ کړی دی بلکه دَ هر ځای دَ خلقو روئيې او فطرت پېژندلو هڅه يې هم کړې ده � هم دغه خو هغه ښار دی چې افضل شوق يې دَ " نتاشا په نوم يو مشهوره نظم ليکلو باندې مجبور کړی وو � کوم چې " په لټون ستا دَ ځېرې" کې چاپ دی � يعني هغې ( نتاشا) ورسره کوم ظلم دَ ميني په نوم نه وو روا کړی او ده کوم ظلم دَ مظلوم عاشق په شکل نه وو برداشت کړی � دَ اېډنبرا دَ ښار دَ رومانوي بڼې نه علاوه دَ شوق او نتاشا تر ميانځه راغلي پېښه ډېره سسپنس او خوند لري � دلته دَ هغې نتاشا او شوق تر ميانځه دَ دې مکالمې وړاندې کول ضروري ګڼم .. چې په کې افضل شوق لکه نر پښتون دَ هغې په فطري انګرېزيت داسې وارونه کوي .. چې دَ فېرنګې په تاريخي جالونو او چلونو خبر يو پښتو لوستونکی ښې ډېرې معناوْې اخذ کولی شي.

-"تاسو هم غلا کوئ؟ چې ځانته دَ نوي نړۍ باداران واياست .. هله شاباش ، زما شيان را واړوه

-دا څه وائې .. کوم شيان زما دوسته !! ؟

هغه چې په ډېر اعتماد څنګه انکاري شوه ، نو زه له غصې ورته سور او شين شوم

-لعنت دې ستاسو په دې نامه شي .. زه نور نه يم خبر � بس زما ګهړۍ او پاسپورټ را واړوه

خو دا وه چې راته موسېدله او وائې..

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



-دا دواړه شيان خو ستا په واش روم کې اوس اوس ما اوليدلو، چې پراته وو

-په واش روم کې ؟؟

)دَ لمر دَ کلي په لور .. مخ � 248)

دلته دَ سپلاني حيرانتيا ځکه په حق وه .. چې دَ دې مکالمې نه مخ کې ليکي .. چې دا څيزونه خو په سائيډ ټيبل ده ايښي وو .. واش روم ته څنګه اورسېدو؟ زما مطلب دَ دې مکالمې وړاندې کولو نه دا دی ، چې سپلاني په خپل دې سفر کې دَ يو عام پښتانه په بڼه کې داسې ليدی شي � چې هغه دَ خوشحالي او پرېشاني يا غم اظهار په نره کوي � او بل دَ هغه مقصد دَ خپل سفر دَ هغو مقاصدو دَ اظهار کولو نه هم دی .. چې دئی ورته اصل انساني ژوند وائي � دَ نتاشا دَ دهوکو نه شوق دومره متاثره شوی دی چې هغه دَ انګرېز قوم په حقله ليکي �

"انګرېز که په ځُوی هر څومره ښائسته او په خلې باندې خوږ شي � نو هم په ايمان کې شك لري � ګوا دَ تاريخي او روائيتي په سمه دَ لستوڼي دَ مار په شان چيچل کوي � دا اوس بېله خبره دا ، چې په زهرو يې سړی مري کم خو مرګي حاله زيات وي"

)دَ لمر دَ کلي په لور .. مخ � 250)

کومې خبرې چې افضل شوق دَ يوې فېرنګۍ دَ مسلسلو دهوکو ورستو کړې دي .. هغه داسې څرګندوي چې هغه ته نه يواځې دې جينۍ دهوکه ورکړې ده .. بلکه هغه په داسې ادراکي نظر هر چرته په دې خلقو کې ور خښ کړی دی � او دې نتيجې ته رسېدلی دی �

۱۰ ـ هلته رنګونه خبرې کوي

دَ " لېك ډسټرك" انګلېنډ په سېل باندې ليکلی شوی دا باب افضل شوق دَ دې ځای دَ قدرتي مناظرو نه دَ متاثره کېدو په رنګ کې رقم کړی دی � او دلته دَ حکومتي هلو ځلو او تاريخ سره دَ ميني رجحان شوق په داسې وئيلو باندې مجبور کړی دی.

"بې شکه چې ژوندي قامونه دَ خپلو تاريخي آثارو قدر کوي � او هر قام چې دَ تاريخ څخه خپلې رشتې دَ حاضر وخت په بيعه شلوي .. نو دَ هغه قام سباوْن په نيشت شمارېږي � هو، لکه زما پښتنو چې دَ خپل تاريخي عظمت دَ ثابتولو په باب په ريکارډ باندې زرکلن زوړ دېوال لا نه لري "

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



)دَ لمر دَ کلي په لور .. مخ � 270(

دَ پښتو او پښتنو سره دَ فطري مینې او ترون جذبې په دې کرښو کې هم لیدی شي � خو دَ یو ګیله من پښتون په حېث � بلکه هغه چې چرته هم تاریخي آثارو ته مخامخ شوی دی نو یې پښتون سترګو ته ځکه راغلی دی � چې هغه داسې یو تاریخي نخښه نخښانه هم په پښتونخوا کې نه لري چې دَ یو نر پښتون په حېث پرې فخر اوکړي � نو ځکه خو هغه کله چې دَ خپل قوم دَ بې سوادۍ او ځناوري روئیو نه ډېر مایوسه شوی دی � نو یې دَ خپل صادق زړه بهراس داسې هم وربانديې اوباسلی دی � لکه په هم دغه باب کې مخته لیکي�

"کوم خواخُوږي پښتانه چې دَ پښتون قام شجره دَ آریاوْ یا اسرائیلو سره دَ ترلو دپاره ځومره غټ غټ دلیلونه وائي � که چرته له هغوئ ځخه ځوك دا پوښتنه اوکړي � چې وروڼو!! دا خو دې اول راته ثابت کړئ ، چې پښتانه په پخوانۍ زمانې کې وو هم که يَه ..؟ او شرط هم دا وربانديې اولګوي ، چې ثابتوئ به یې په تاریخي آثارو .. نه چې دَ بل په لیکل شوۀ تاریخونو � نو زما خیال نه کېږي چې دا زما دَ ژبې توریالیان به دَ نن دَ دې سرِیخوره پښتنو رشته له خپلو هغو نیکه ګانو سره ترلو کې بریالي شي چې دَ ننګ ترانې یې مونږ ځه .. اغیارو وئیلې "

)دَ لمر دَ کلي په لور .. مخ � 270(

دلته داسې ښکاري لکه افضل شوق چې بې پښتو شوی وي � او په لوستلو ماته هم په ورمبي ځل دا خبرې بدې را محسوسې شوې � خو بیا چې دَ هغه په دې پورته ذکر شوۀ دلیلونو لږ نور غور اوکړم .. نو دا مې یقین شي ، چې هر پښتون به دا خبره اومني � ولې چې دَ سېلاني په خبرو کې منطقي دلیل پټ دی � او په دې هر هغه ځوك پوهېدلی شي یا یې محسوسولی شي .. چې دَ سېلانې په شان ګرځېدلی وي � که زه دَ یو نقاد په حېث یو طرف ته افضل شوق په دې خبرې کولو غلط اوګڼم.. نو بل طرف ته که ما سره دَ دې خبرې په ځواب کې مضبوط دلیل نه وي .. نو بیا خو هغه په خپل قول یا منطق کې صحیح دی � هم ځکه خو دَ دې ژبې نقادانو تر اوسه دَ سېلاني دَ دې دومره وړکوټي سوال ته ځواب نه کړو پیدا �

په دې باب کې افضل شوق دَ مغرب دَ ګلوبلائزېشن سلوګن هم رد کوي .. چې کله دَ چېسټر نامې ښار خواوشاته جوړ شوي غټ دېوال ته ګوري � او دا مشهوره خبره ده ، تر اوسه هم دغه رنګه ډېر ښارونه په یورپ کې شته چې خواوشاته یې دېوالونه دَ تحفظ په نیت جوړ کړل شوي دي � ځه هم که دغه روائیتي بڼه ده � خو دَ ګلوبلائزېشن په اړه ورنه یو فکري تهیم داسې سېلاني اخذ کړی دی �

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې باب کې افضل شوق دَ مشهور زمانه شهزادګۍ لېډي ډيانا دَ ښکلي مملکت وېلز په اړه چې څومره متاثره شوی دی � هغه هومره یې دَ درو په دې رومانوي مملکت کې دَ لمر دَ اهمیت نه خبر شوی هم دی � هم ځکه خو هغه يو ځای دَ ګائيډ په خله دا خبره کوي، چې..

"مونږ يورپئين چې څومره په لمر مئين يُو � لمر هغه هومره له مونږ څخه نفرت کوي � او ځان پټوي راڅخه"

)دَ لمر دَ کلي په لور .. مخ � 283(

۱۱ ـ په څنګه ټکودي وستايم؟

دَ مکالماتي، شاعرانه نثر دا باب که څه هم ډېري دلچسپيانې په ځان کې نغښتې لري خو دَ آکسفورډ ښار او يونيورسټۍ سره تړلي ځانته يادو نه دې باب ته دَ حسن بيان يو نوی رنګ او خوند ورکوي � لکه دا يوڅو خبرې چې شوق يې په ډېره بې ساختګۍ ليکي.

"دلته په فټ پاتهونو باندې هلکان ( لوستونکي) په تورو سوټونو او جينکۍ په تورو هاف سکرټونو چې تر ګونډو پورې پرده لري کې ښکاري څه ؟ چې ايمانونه هم په خپل ښائست دَ ترو ورو سپلانيانو په خطره کې اچوي � او زه خو هم يو سپلانی وم ..نو ځکه چې به مې هر څو کليمې په ځان راچُوف کړې � خو " ...

)دَ لمر دَ کلي په لور .. مخ � 301 (

دې نه علاوه سپلاني شوق دَ آکسفورډ دَ يونيورسټۍ او ښار په حقله معلومات چې څنګه په هنري انداز بيانوي .. په خپل فکر، خو دغه معلومات چې هغه دَ خپل شاعرانه ذوق او شوق په رنګ رنګولي دي � هغې نه دَ افضل شوق دَ رومانوي طبعې عکاسي په ډېر ښه ډول کېدی شي � او مونږ دا محسوسولی شو .. چې هغه په دې ښار کې ډېر زيات په شاعرانه موډ کې سفر ته جوړېدلی ښکاري � وجه يې شايد چې دَ دې ښار ښکلا ده او يا په دې ښار کې اوسېدونکي خلق � چې افضل شوق يې په نثري شاعرۍ ليکلو مجبور کړی دی � لاکن دَ دې باوجود هم دَ هغه نه دَ ملګرو ډېفني او بلنډاوائی دا ګيله ګوره چې په کومه وجه داسې راځي ؟

"شوقه!! ته خو ډېر روشن فکره سړی وې � دا برايه شپه څله ؟ "

)دَ لمر دَ کلي په لور .. مخ � 300 (

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



داسې خو په دې پوښتنې کې ډېرې پټې اشارې په نظر راځي .. خو بيا چې دَ شوق ځواب " څله نه ..؟ " ته فکر اوکړم .. نو ماته هغه يو باکرداره او دروند پښتون او ځلېږي � ولې چې په دې درست سفر کې افضل شوق خپل هر غرض په يوه نا يوه حواله يا مجبورۍ تش تر خپل سفري دلچسپياتو تر جده محدود ساتلي دی � او دَ هغه ادبي تنده وه او يا دَ هغه اضطراب چې هغه هرکله متحرك ځرګندوي � خو په دې باب کې چې څنګه سپلانې لندن ته اورسي ... نو دَ نتاشا قيصه هم بيرته اچانك دَ هغه په زړه کې داسې په شدت راژوندۍ شي � چې هغه له خياله دَ هغې سره خبرې شروع کړي � تاسو په دې مکالمې کې ورنه بلا ډېرې معنې اغيستی شئ.

-"نتاشا !! تاته داسې نه وو کول په کار

هغې راڅخه په حېرت پوښتنه وکړه

-کوم څه ؟ ما خو چپ دَ زړه دَ رشتې بله رشته درسره ساتلې نه ده .. ته دَ کوم شي خبرې کوې؟

-هو، منم چې تا مې زړه ته لارې جوړې کړې دي ، خو باور بيا هم دربانديې نه شم کولی-

-څله ؟

زما دَ خبرې په ځواب کې دَ هغې " څله" څه وو؟ چې زه دَ هوټل مخې ته دَ يو موټر په هارن بيرته دَ هوش وَ نړۍ ته راستون شوم � او په ځان خندلو ورسته .. په دويم ګام هوټل ته ننوتم"

)دَ لمر دَ کلي په لور .. مخ � 308(

په دې کرښو کې دَ هغه مکالماتي انداز دومره دَ خوند دی چې دغه باب ته يې دَ رومانويت يوه ښکلي شوخي ورکړې ده � دَ مکالمو چستي او تسلسل دې باب ته يو ډرامائي مکالماتي رنګ بخښې چې دَ ليکوال دَ ادبي هنر ځرګندونه ترېنه کېږي�

۱۲ ـ دَ خيالونو په ګودر مې تندر پرېوت

افضل شوق چې په دې باب کې دَ نتاشا سره دَ بيا ملاقات قيصه څومره په ډرامائي خوند ليکې � هغه خپل اثر په قاري باندې نه يواځې پرېږدي .. بلکه قاري ته يو ځل بيا دَ نوۆ نوۆ سوالونو مخه کوي � خوند په دې قيصې کې دا کوي چې نتاشا څومره سپلاني ته نيږدې کېدل غواړي .. دغسې سپلاني ذهن ته دَ ويرې او خوف څنډه کوي لکه ..

"دا واخله ګهړۍ دَ هغې ګهړۍ په بدل کې ، چې تا...

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



-مننه ، لاکن څه ؟

-څه؟

یو دم مې په ځان کلیمه اووئیله او دَ مات زړه خبره مې په ګیلې کې داسې واړوله�

-زه خو ستا په دې پېغلتوب افسوس کوم

-هغه څله؟

هو، که څه هم هر څه له نوي سره مې بیا وربانديې اعتبار کولو ته حوصلې لوئيولې � خو دَ هغې دَ دې " څله" په خواب کې ورته وایم ..

-ستا ښکلا او دا عمر.. دَ غال او شوکونې خو نه دی

-ما درته اووئیلو، چې زه بخښنه غواړم � اوس که ته بیا هم ما نه معاف کوې نو زه به بیرته لاړه شم-

او څنګه چې یې وړوکی بېګ بیرته اوږې ته اچولو ، نو ما لاس ور واچولو او کښېنوله مې داسې په موسکنۍ خبره..

-اوکې اوکې ، زاړه به هېروْ او نوي به....

-او له نوي سره به ، ستا په خیال څه کوْ ؟

)دَ لمر دَ کلي په لور .. مخ � 315 _ 316(

څه هم که په دې مکالمې کې لړې ډائریکټ اشارې دَ لوستونکو په ذهن کې سوالونه راپورته کولی شي .. خو هغه چې دا مکالمه کله سر ته اورسوي .. نو هر څه به کلیر شي � ولې چې افضل شوق داسې مکالمې تش په دې دَ سفري حال سره ګنډلې دي ، چې سفر ښه په آرام تېر شي او لوستونکو ته لړه ورائیټي هم لوستو کې په برخه شي �

په دې باب کې دَ واپسۍ قیصه او خوب نه علاوه په دوبۍ کې دَ عربیانو په باب ځیني داسې خبري هم ذکر شوي دي .. چې په ورمبي ځل ما اوریدلي یا لوستلي دي � لکه دلته چې یې افضل شوق دَ خپل یو سوال په ځواب کې لیکي�

"دا هغه قام د .. چې ما برایه شپه تر سهاره دَ اروپا په مقابله کې سوچ کولو؟

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا هغه سوال وو، چې زه يې په دې وئيلو مجبور کړم چې که دَ دې ګلف هېوادونو دَ تېلو دَ پيسو زکات هم په نورو غريبو مسلمان هېوادونو کې اووېښل شي � نو زما يقين دی چې هيڅوک به هم غريب پاتې نه شي � لاکن يَه .. دا خو هغه خلق دي چې وايم که دَ يو لکھ ځلوېښت زره کم او زيات نبيانو په ځای په کې .. په هم دغه هومره شمېر ملکان پيدا شوي وی نو به هم سړي شوي وی � خو دا له بده مرغه نشول سړي "

)دَ لمر دَ کلي په لور .. مخ � 329(

په دې باب کې افضل شوق دَ خپل دې اوږد سفر اختتام په يو داسې علامتي خبرې کې کوي چې .. هغې نه لوستونکې دَ خپل خپل استعداد دَ مخې ډېر مطلبونه اغيستی شي � او هغه خبره دا خبره ده..

"دَ الامارات انټرنېشنل الوتني جهاز EK 600 پاوْ بالا اتهه بجې له دوبۍ ائيرپورټ څخه پورته شو او په نه ساعت کې تر اوريځو بالا .. ښه بالا دَ کراچۍ په لور لکه دَ پښتون له توپکه وتې ګولۍ روان څه شو .. چې ما هم يو ځل بيرته دَ سوچونو رُخ دَ هغې خاورې په لور واړولو، چې زه يې زېږولی وم � که څه هم زه په " زه" کې نه وم پاته شوی خو ورته روان په خوشحالۍ باندې وم "

)دَ لمر دَ کلي په لور .. مخ � 331(

حسينه ګل

نوښار کاکا صاحب ــ پښتونخوا

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پروني مخونه

پروني مخونه ( دَ سپلاني افضل شوق ناول

) يادګيرنه :- دا كتاب په كال۲۰۰٦ كې چاپ شوی دی(

---

ما چې دَ ښاغلي افضل شوق دَ سفرنامو او شعري مجموعو كومه تنقيدي جائزه ليكلي ده � نو دَ هغې نه پس راته دَ هغه دَ ناول دَ مسودې دَ كتو اتفاق اوشو � دَ ناول قيصه دومره مزېداره وه چې په هغې مي هم يوه رائی جوړه شوه � او بيا دغه رائی ليكل مي خپله اخلاقي او ادبي ذمه واري اوګڼله � خدای پاك دي اوكړي چې پښتانه په ډېره مينه دَ افضل شوق دغه كوشش هم اوستائي � زه دا خبره يو ځلې بيا كوم چې افضل شوق څه هم كه خپل وجود لري .. خو دَ دغه وجود ښېره په ځينو نورو اعزازي نومونو هم پېژندلی شي� لكه بقول دَ محترم مشر اياز داوْدزی " افضل شوق .. هزار داستاني شخصيت دی" ، دَ محترم سعيد ګوهر بقول هغه " پښتون جهانيان جهان ګشت " دَ مشر سليم راز بقول " سپلانی شاعر" دی ، دَ اكرام الله ګران په قول دا دَ امن په لټون شاعر افضل شوق " دَ سلو يار" دی ... او زه بيا وايم چې دغه ورك مسافر ورك ځكه نه دی .. چې دئی هغه پېرئی دی .. چې دَ پښتنو په زړونو كې ليدلی شي � خو دا بېله خبره ده چې ډېري كمي سترګې يې ويني .. ګوري � ولې چې دئی دَ ژوند په فن كې ورك دی � لاكن دَ مزې خبره دا، چې بيا هم كه څوك چې هغه لټول غواړي .. نو هغې ته دَ يو فني ادراك ضرورت دی � اوس دا دَ يو فنكار كار دی چې هغه دي دَ ده فكراو فن په خپله فنكارانه مينه او هنر تر لاسه كړي �

دَ دې ناول " پروني مخونه" دَ سنسني خېزه واقعاتو دَ لوستلو پس ماته دَ يو قاري په حېثيت داسې ښكاري ... لكه ځمونږ دغه شاعر چې دَ خپل هنر په دې سفر كې خپل كردار، كله په افسانه، كله په ډرامه او چرته دَ يو سفرنامې دَ ديومالائي كردار په توګه لوبوي � دغه دَ ده خوبي هم ده او كمزوري هم � دَ قاري جذبات ( غم او خوشحالي ) رالړزول .. په خپلو دغه كردارونو كې داسې ښكاري لكه دَ قاري دغه كېفيت ، هغه دَ خپل وجود په ژوندي تابوت لكه دَ مېخونو ټك وهي � دئی يو رښتونی عكاس دی او داسې ليكونكي ډېر كم دی چې هغه په ډېره ايمانداری او خلوص دَ خپل ذاتي ژوند مشاهدې ، تجربې او ښه او بد اړخونه دَ خپلو لوستونكو مخې ته ږدي � او داسې دَ ژوند او جذبو يو لازواله تاريخ رقم كوي � هم په دې خو دَ ده لوستونكې او دَ نن نقادان دَ ده سره انصاف نه شي كولی .. په دې چې هغه خپله هم دا دعوه په بيا بيا كوي چې " زه دَ نن دپاره ليكل نه كوم " � يعنې هغه به سبا ته دَ نن په آئينو كې دَ ښو سپينو او رنو ښېرو دَ ښودلو په حق كې دی � په دې خو دَ نقادانو ناخوښه .. او دَ بې سواده پښتنو دپاره دَ ده ذات ، دَ ده شخصيت او دَ ده فن يوه المېه ګرځېدلي ده � خو زما په خيال دا المېه دلته

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا هم ده .. چې نه دئی په پښتنو پوهېږي او نه یې پښتانه پوهـ کړی شول � دَ دېرشو کلو نه دغه هر اړخیز ادیب او شاعر افضل شوق داسې دَ ژبې او ادب خدمت کوي .. خو په دې غرض یې نه کوي چې دَ ایوارډ او انعام لالچ یې دی � بلکه دَ دې هر څه دپاره یې یو جدا فکر او نظریه جوړه کړې ده � او هم دغه وجه ده چې تر ننه دَ ادارې یا دَ یو تنظیم له خوا ورته دَ سګرېټ په پنی دَ شاباشي توري نه دي ورکړلی شوي � یعنې دا دَ نن ناول نګار شاعر او یو سفرنامه نګار افضل شوق دَ هر لالچ نه بالاتر دی �

داسې لیکوال ډېر کم دي چې په شاعری او نثر دواړو مدونو کې لیکل کوي .. خو ښاغلی افضل شوق زمونږ په داسې ښو لیکونکو کې شمېرلی شي ، چې شاعري لیکې .. نو بنده وائي چې بس یو شاعر دآ .. ښه شاعراو حقیقت پسند شاعر � خو که دَ ده نثر اوګورو، نو دا خبره به زما سره هر څوك اومني چې په نثر کې یې خپل ځان او نوم داسې منلی دی چې ورنه انکار شاید چې په هیڅ یو دور کې هم اونه شي � یعنې دَ ده دَ شخصیت او نوم پېژندګلو نه یواځې شاعري ده، او نه نثر � بلکې هغه په دواړو میدانونو کې ځانګړتیا لري � ولې چې که دَ افضل شوق شاعري افسانوي رنګ او ډرامائي کېفیت لري .. نو بل طرف ته دَ هغه نثر دَ خپل شاعرانه طرز أسلوب تر مخه دَ یو داسې پرله پسې شعراو شعري آهنګ لري ..!! او په دواړو مېدانونو کې یې خپل فکري لېونتوب ، جنوني مینه په آساني او مشکل پسندي وَ انتها ته رسولي دي�

دَ رچرډ برټن په قول .. دَ قیصه ګوئي آغاز هغه وخت اوشو ، چې انسان په دوه ښپو دَ ولاړېدو چل ایزده کړو� دَ ماشوم دَ شعوري احساس مطابق اولنۍ قیصې دَ پېریانو او دېوانو نه شروع شوې او رو رو دغو قیصو دَ ناول په لور یُون اوکړو � خو که مونږ غور اوکړو .. نو خو لا تر اوسه ناول .. زمونږ په پښتو افسانوي ادب کې یو داسې بدبخته صنف دی چې ډېرو کمو لیکونکو ورته پام کړی دی � او تر اوسه چې په پښتو ادب کې دَ ګوتو په شمېر څو ناولونه زمونږ سره دي ... نو دَ هغې معیار ، که څه هم څنګه دی خو دَ ستائینې وړ په دې دي چې دا اړخ پرې څه نا څه دروند والی ضرور لري .. او داسې دَ" خالي میدان" تش والي احساس یې تر ډېره حده کم کړی هم دی�

دَ افضل شوق دا نوی ناول " پروني مخونه" به یقیناً چې په دې ټولو ناولونو کې یو داسې ثابته شي چې دَ دې نه پس به دَ ناول په مد کې دَ صداقت او ریښتاوْ یو نوی روایت دوام اوومومي � او داسې به پښتو ناول دَ هاغه روائیتي جوکاټ نه بېخي رابهر شي کوم چې تر اوسه دَ پښتو دَ کلي وال ژوند، قبائلي او قبیلوي رسمونو، رواجونو، دُښمنو ، تربګنو .. او بیا دَ ګودر او منګې دَ ساده باده رومان سره څنګ په څنګ دَ اوږدې قیصې یا نکلونو په شکل کې را روان دی � کوم ته چې دَ ناول ړومبنی طرزبیان وئیلی شي � ولې چې اوس خو ناول په جدیدي اصطلاح کې هغه قیصې ته وئیلی شي چې په کې کردار نګاري،دَ ژوند فلسفه،دَ انساني نفسیاتو او جذباتو مثبت او منفي اړخونو څېړلو نه علاوه داسې منظرنګاري ځان کې رانغاړي چې هغه دَ یو ژوند عکاسي کوي � دَ نوي ناول خبري یا مکالمې مختصري .. خو ژورفهمه وي � او دا هغه خبري دي چې تر ډېره حده ما دَ افضل شوق دَ ناول په ناچاپه سکرپټ کې تر سترګو شوي دي � خو دَ دې مقصد هرګز دا نه دی چې دغه ناول په پښتو کې اول او ورستی ناول

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی � زه به کوشش کوم چې دَ ناول اصل کړه وړه مخې ته کېږدم او بیا لوستونکو ته خپله تفصیلي رائی وړاندي کړم �

دَ افضل شوق په ناول کې تر ټولو ښه خبره دغه مخې ته راځي .. چې هغه په خپل انداز کې شاعرانه طرزبیان لري او یو ځل بیا دَ خپلي ادبي روئیې په شان دلته په دې ناول کې هم دَ پښتني روائیتي موضوعاتو په ضد دَ نوي فکري هلوځلو او عصري شعوري سوچ سره ملګری لیدلی شي � هم ځکه کېدلی شي ، چې دَ هغه دَ دې ناول سره هم هغسې نا انصافي اوشي .. لکه دَ هغه دَ شاعرۍ او سفرنامو سره روا شوي ده � خو زه دا وئیلی شم چې په ړومبي ځل ما په دې خواره پښتو کې یو داسې ناول هم اولوستلو.. چې بنده پرې فخر کولی شي او داسې وئیلی شي چې پښتو کې هم دَ عالمي معیار کتابونه شته � خو کوم څه چې دغه ناول نګار دَ ستائینې وړ ګرځوي .. هغه دا ، چې په دې ناول کې افضل شوق هم هغسې دَ خپل ژوند قیصه کوي په کوم کې چې هغه رنګه سېلونه دي ، عشقونه دي ، محبتونه دي ،او دَ لېونو سره سره ګرځېدل .. راستنېدل .. ورکېدل او بیا موندل په داسې ښکلي انداز کې ترتیب شوي دي � چې دلته هم هغه ځانګړی ښکاري � څه هم که په ډرامې او ناول کې ډېر فرق موجود دی � خو افضل شوق خپل دغه ناول ډرامې ته دومره نیزدې کړی دی .. چې په منطقي توګه هغه هم دَ شېکسپئیر په رنګه ژوند ته نه یواځې دَ ډرامې نوم ورکوي .. بلکه وَ ناول ته دَ ژوند قیصه هم وائي � نو ځکه خو هغه ( شوق ) دَ خپل وجودیت په ازلي حوالو دَ ابد په لور یوُن کولو ته په خپل دې ناول کې اوږدې ورکوي.

دا دَ افضل شوق دَ ژوند داسې قیصه ده چې که هر څو ورته دَ هغه دَ وخت دَ تېرولو سامان اووایو .. خو په حقیقت کې دَ هغه دَ زړه ، دَ هغه دَ فکر، دَ هغه دَ وجود او دَ هغه دَ هنر ضرورتونه هم پاتې شوي دي � او نن که مونږ افضل شوق دَ یو سوچه فنکار په نوم او حېثیت پېژنو .. نو دَ هغه دغه حېثیت او پېژندګلو هم دغه څیزونو جوړ کړی دی � دَ دې ناول قیصې داسې ښکاري لکه چې دَ هغه دَ ژوند او هنر دَ دغه ګوټ پېرنو یو داستان وي یو شوخ او تېز داستان .. دَ هجر و فراق یو داسې لړزېدونکی داستان چې دَ هغه په ژوند اوس هم خور لیدلی شي � دا قیصه هم دَ یو آئیډیل دَ لېون قیصه ده � داسې ښکاري لکه چې په شعر کې ده دا قیصه سر ته نه وي رسولي ... نو په ناول کې یې تر اختتامه رسولي ده.

په دې ناول کې دَ بلا پېښو او واقعاتو دَ دلچسپیانو علاوه دَ مختلفو ملکونو لکه الجزائر ، شام، ترکي ، سائپرس، اُردن، افغانستان ، عراق ، دوبۍ ، شارجه او پاکستان په حقله دَ سېل او دَ سفري رائیو اظهار هم په نظر راځي � او زما په خیال دَ دې ناول دَ ټولو نه لوئیه خوبي او انفرادیت هم دا دی چې په پښتوکې په ورمبي ځل.. داسې سفري انداز دَ ناول په حواله مخې ته راغلی دی � چې دَ هغې خپلې دلچسپیانې او معلومات هم دي � دغه معلومات زیاتر دَ دغه ذکر شوۀ هېوادونو په اړه جغرافیائۍ، نفسیاتي او سماجي دي � او دَ کومو کردارونو تر میانځه چې مکالماتي ضرورت پېښ شوی د ی نو هغې هم دَ خپل اختصار او برجستګۍ تر مخه دَ ناول خوند سېوا کړی دی � کوم چې به لوستونکي ته دَ ابلاغ مسلې یقیناً چې پیدا کوي .. خو په لیك کې دَ دې انداز دَ راوړلو خپل یو خوند وي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



� دَ نن نقاد په ليك كې دَ دې انداز په حق كې نه شي ليدلی خو دَ سبا نقاد به دَ ښاغلي افضل شوق دا انداز په دې وجه ستائي چې دَ دې ناول دَ ليكلو ټول انداز خالصتاً مغربي او دَ جديد عصري او ادبي روئيو په رڼا كې ليكلی شوی دی � ولې چې دغه قيصه هم دَ هغه دَ باطن او خارجي ژوند دَ تصادم په نتيجه كې مخې ته راغلي ده.

دَ دې ناول ټول كردارونو ته چې په كوم رنګ ژبي وركړی شوي دي .. نو هغه دَ لوستونكي دَ پاره دلچسپي خامخا لري � دَ ناول پلاټ چونكه دَ ليكونكي دَ خپل ژوند قيصه بنياد كړی دی نو ځكه په هغې كې مينه او محبت مونږ ته ډېر زياب په نظر راځي � دَ دې نه علاوه په دې ناول كې دَ ماحول منظر كشي لكه دَ يو مشرقي يا پښتون ناول په رنګ ډېره تفصيلي نه ده .. خو حقيقي ضرور ده � او په دې كې چې يې څومره دَ اختصار نه كار اغيستی دی � نو په هغې دَ يو مترقي ناول تنده ماتېدلی شي � دَ ټولو نه اهمه خبره دا ده چې چونكه دَ دې ناول قيصه رښتيا ده او په قيصه كې شامل ټول كردارونه حقيقي دي � دغه كردارونه دَ افضل شوق په قول .. نه يواځې دا چې حقيقي دي بلكه ټول ژوندي او حيات كردارونه هم دي � داسې دَ دې قيصې واقعات هم حقيقي دي �

دَ دې ناول سفري انداز چې دَ قاري دپاره څومره دلچسپي لري ..؟ دَ مختلفو هېوادونو متعلق دَ سفر كړكېچنونه دَ خلقو كېفيتونه .. غم خوشحالۍ .. خو لاكن دَ دې ناول دَ شلم باب نه تر آخري بابه پورې لوستونكی دَ هغه طرزبيان او قيصې ته دَ حېرانتيا تر حده لېواله وي � بلكه په دې ټولو بابونو كې دَ جذباتي طرزبيان په وجه لوستونكی ژړوي هم � په دې بابونو كې څه هم كه ډېري خبري په علامتي پېرائيه كې شوي دي .. خو يو پوهـ او باشعوره لوستونكی دَ دغه علامتونو نه ډېري معنې هم اغيستلی شي � بله خبره دا چې دَ دې ناول په قيصه كې دَ ليكونكي خپله موجودګي .. دَ هغه په ماضي، حال او مستقبل كې ګنډلي ښكاري � يعنې افضل شوق چې په دې ناول كې دَ سېلاني په نوم " هيرو" دی چې څه رنګه دَ خپل آئيډيل ډاكټر وسا څېره دَ " لمر خدای " يعنې " سن ګاډ" په مدد څنګه اووه زره كاله پخوا دَ ورمبۍ فرعوني شهزادګۍ څېرې نه په مختلفو څېرو كې ويني او يا دَ وسا څېره دَ يوې فرعوني شهزادګۍ دَ مثال په توګه دَ " نېفرتيابيت" ، رنګه نورو شهزادګيانو چې نومونه يې په دريم باب او مخته مخته په نورو بابونو كې په درځنو شمېر كې راغلي دي .. كې ويني � نو دَ هري څېرې سره په ډرامائي انداز دغه هيرو" سېلاني" يعنې افضل شوق په ماضي بعيد كې دَ هغې شهزادګيانو دَ اشنايانو په بڼو كې ليدلی شي �

زما په خيال په پښتو ادب كې ورمبي ځل افضل شوق يو ښځي زوړ لرغونی تاريخ او تهذيب په نوي رنګ كې راژوندی كړی دی � يعنې دَ ده دغه كوشش .. نه يواځې دَ خپل ژوند سنسي خېز واقعاتو ته دَ ناول بڼه وركول دي � بلكه دَ دې سره خپلو لوستونكو ته دَ ډېرو تهذيبونو په حقله تاريخي معلومات وركول هم دي � دَ دې " نظريه مقصديت " تر اثر دلاندې دَ افضل شوق دغه كوشش .. څه هم كه دا ناول په ځينو حوالو پخوانئيو قيصو ته نيزدې كوي � خو يواځې قيصه ورته ځكه نشو وئيلی .. چې په دې ناول كې وړاندې كړل شوي تجريديت دَ واقعاتو دَ بيان اُسلوب يا طرز بيان .. دَ جديديت سره ګاډه غړې كوي هم � كوم ته چې مونږ دَ ناول نګارۍ دَ پرون او نن تر ميانځه نوی امتزاجي شكل وئيلی شو �

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې ناول کې افضل شوق دَ ناول دَ اهم کردار " هیرو" په شکل کې دَ مختلفو تاریخونو ، تهذیبونو ، تمدنونو دَ سفر دَ پړاوْنو نه تېرېږي .. لکه دَ اهرام مصر دَ جوړښت دَ دور دَ ړومبي فرعون خوفو نه واخلې تر دَ لوکسور او آسوان دَ دورونو تهذیبونو پورې دَ فرعوني تاریخ برخه په مختلفو شکلونو کې داسې جوړېږي لکه هغه چې په هر دور کې ژوندی وي � هم دې نه لوستونکي دا اندازه کولی شي چې افضل شوق یعنې سېلاني خپلې رشتې دَ خپل آئیډیل په حقله دَ پخواني تاریخ سره ګنډلي ساتلي دي � او هغه چې څنګه په ډرامائي هنر خپله محبوبه دَ فرعونانو دَ تاریخ نه دَ یونانیانو تر تاریخه راوړي .. نو دغه رنګه دَ یوناني تاریخ نه تر رومن تاریخ او بیا دَ زړو عربیانو نه تر نوي دور پورې دغه مینه له خپلې محبوبه سره داسې په خوند او مزې را رسوي .. چې لوستونکی دَ هغه دَ تصوراتي ابدیت نه که یو طرف ته منفي سوالونه په ذهن کې راپورته کوي .. نو هم دغه سوالونه به هغه په دې ناول کې څواب موندلو دپاره تر اختتامه پورې هم رسوي � ولې چې ناول نګار په خپل دې ناول کې داسې ښکاره کوي .. لکه هغه چې دَ نن انسان نه بلکه دَ ډېر پخوا دَ تاریخ دَ روح سره تړلی انسان وي � یعنې هغه دَ خپل روح تصدیق هم له خپل دې آئیډیل سره داسې څرګندوي .. لکه دَ هغه په عام ژوند کې هم ورسره دَ تصوراتو په آئینو کې لیدلی شي � غلطه به نه وي .. که اووایم .. چې هم دې آئیډیل خو افضل شوق په شاعری او سفرنامو کې هم ځان پسې ښه سترې کړی دی�

په دې ناول کې نور څه دي .. او څنګه دی ؟ دا فېصله به لوستونکي یا دَ نن او سبا نقادان کوي � خو دلته زه غواړم چې دَ ناول دَ مروجه اجزائی ترکیبي په رڼا کې دَ دې ناول تنقیدي جائزه واخلم .. چې لوستونکي دَ دې ناول په اړه فېصله کولو کې له مشکلاتو سره مخامخ نه شي � داسې خو .. په ناول کې نن سبا دَ قیصې، پلاټ، کرادر، مکالمې نه علاوه دَ ماحول او دَ ناول نګار اندازبیان ، اُسلوب او ژبه کتل شي � خو مونږ به دَ ناول دَ مروجه اجزائی تراکیب په رڼا کې افضل شوق دَ دې ناول پلاټ ، کردارونو، مکالمو او منظرکشیانو په باب تفصیلي خبرې کوو � او بلکه دا به هم ګورو چې دغه ناول دَ سفرنامې او قیصې نه په کومه وجه بېل دی او دَ دې ناول په لیك کې دَ بیان اُسلوب څنګه په کار راوړل شوی دی ؟ نو راشئ چې دَ ډاکټر احسن فاروقي.. دَ ښه او نوي ناول په باب دې لاندې ذکر شوي تعریف په رڼا کې اوګورو چې افضل شوق په خپل دې ناول لیکلو کې څومره کامیاب شوی دی..

"چې کله انساني شعور دَ ترقۍ کولو ورسته تر واقعاتي درجې پورې اورسېږي .. نو داستان په ناول کې بدل شي "

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دَ شوق دَ ناول پلاټ

وئيلی کېږي چې ناول يو داسې اوږده قيصه ده، چې په کې دَ مرکزي پلاټ يا دَ قيصې نه علاوه هم ډېر ي نوري وړکوټي قيصې موجودي وي .. چې دغه ټولي قيصې يا واقعې دَ مرکزي خيال يا پلاټ دلچسپۍ په منظمه توګه زياتوي � ولې چې په يوې قيصې باندي پوره کتاب ليکل څه آسان کار نه دی � اوس که مونږ دَ افضل شوق په ناول " پروني مخونه" کې دَ قيصې يا پلاټ ته ځير شو .. نو دا يوه خبره به خامخا اومنو، چې .. دلته دَ هغه دَ قيصې سره نوري قيصې او ډېر دلچسپ واقعات هم ترلي ښکاري � کوم چې تر ميانځه يو ربط برقرار لري او دَ ناول دَ وحدت وَ تاثر ته هيڅ قسم نقصان نه رسوي � بلکه دغه وړوکي قيصې دَ ناول وَ مرکزي خيال ته اوږې ورکوي �

ناول " پروني مخونه".. په يو داسې قيصې باندي محيط دی چې هغه دَ ناول نګار له خپل ژوند سره اړه لري � او مونږ ورته رښتوني قيصه هم وئيلی شو � کومه چې دَ افضل شوق دَ هغې ځېرې سره ترلي قيصه ده .. چې هغه وړپسې ټول عمر سترې ستومانه او دَ پېري په شان ورك ورك برېښي � يعني دَ علافائي او پښتني ځېرو ليدلو کتلو پس ، چې څنګه سپلاني شاعر په خيالاتو کې دَ نړئيزو ځېرو سره مخامخ شي .. نو يو وخت دَ خپل طلب وَ دې ښائسته ځېرې " ډاکټر وسا " ته اورسېږي � کومه چې هغه ته په مصر کې په لاس راځي � او دئی دا فېصله کوي چې هم دغه .. هغه جينۍ ده، چې ده په خوبونو، خيالونو او يا ژوندۍ انساني ځېرو کې لټوله �

څنګه هيرو سپلاني دَ دې هيروئينې ډاکټر وسا تر زړه پوري لاړې جوړوي ؟ دا سوال .. هغه سوال دی چې دَ ځواب دپاره سپلاني دغه محبوبه دَ فرعونانو له خوا نه يواځې ګفټ ګنې .. بلکه دَ هغې سره رشته هم دَ فرعونانو له وړمبي دور چې په زرګونو کلونه مخ کې تېر شوی دی .. کې له هغې سره رشته داسې ځرګندوي لکه هغه چې هم په هغه دور کې موجود وي � دَ فرعون خوفو چې دَ اهرام مصر وړمبۍ ګومبته يې جوړه کړې وه .. نه بيا دَ هغه او ډاکټر وسا روحاني وجودونه څنګ په څنګ مينه امر کوي � بيا دَ فرعون خافرا، فرعون مينکورا او ځيني نورو فرعونانو دَ دورونو حصې جوړېدلو سره سره دَ لوکسور او آسوان تر آخري فرعونانو پوري .. په مختفلو حېثيتونو او شکلونو کې سفر کوي � يعنې که يو طرف ته ناول نګار دَ قيصې وَ هيروئينې ته دَ هر فرعوني عهد کې دَ يوې نا يوې ښکلي فرعوني شهزادګۍ شکل ورکوي � نو بل طرف ته په هر دور کې سپلاني هم دَ هغه دور دَ يو داسې کردار په بڼه کې ليدی شي .. چې شهزادګۍ وسا سره يې رشته پاتې شوې وي � په دې ناول کې څنګه دا دوه مئينان دَ فرعونانو دَ دوه درې زرکلن پخواني دور نه بيا دَ سکندراعظم يوناني دور ته چې ور دانګي .. نو دَ هغوئ شکلونه او بڼې هم بدلې شي � کله چې دَ يوناني دور اختتام کېږي .. نو هيرو دَ رومن جوليس سيزر او وسا دَ ورستۍ مصري رانۍ قلوپطره په شکل کې يو بل سره او ترلې شي � په دې دور کې سپلاني دَ جنرل مارك انتهوني بڼه هم خپلوي � او دغه رنګه دا دوه مئينان دَ زړو عربيانو او بيا دَ جديد دور په لور چې کله را روان وي او خپلې بڼې بدلې .. نو يوه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



تهائي پېغله " سوپيس" دَ دُښمني يا ويلن په توګه دَ هغوئ تر ميانځه داسې ناروا ظلمونه روا کوي چې کله هغوئ "حال" ته را دانګي � دا ويلن هم له اولې ورځې دَ هغوئ سره سره ژوند کوي او" حال" ته دَ هغوئ سره څنګ په څنګ ليدی شي �

دَ زړې " ماضي" نه تر جديد " حال " پورې دا قيصه .. چې افضل شوق څنګه دَ تاريخي حقيقتونو سره ګنډلي او مرحله واره په دې ناول کې سرکړي ده � هغه څه هم که يو داستاني انداز لري .. خو په دې داستان کې ځای په ځای افسانې ، ډرامې او ښې او بدې واقعې داسې په خواږه انداز ځای کړل شوي دي � چې په هيڅ صورت هم دَ يو ښه تاريخي او روماني فلم نه کم نه دی � او دَ ناول په تعريفونو کې يو دا تعريف هم کېږي .. چې " ښه ناول هغه دی .. چې په ټکو کې کردارونو ته شکلونه ، قيصې ته منظرونه او منظرونو ته ژبې ورکوي .. ارومرو لکه يو فلم چې دَ ذهن په پرده باندې چلېږي" � هم دغه هنر افضل شوق په دې ناول کې خپل کړی دی � اصل قيصه يې ځان سره سره دَ رزګونو کلونو نه تر ننه ډېره په خوند رارسولې ده .. خو مکمله بيا هم نه ده � ولې چې په آخر کې هغه دغه قيصه خپلې هغې ماشومې لور برېشناخان ته په دې هيله پرېښې ده .. چې هغه به دا قيصه ځان سره مخته هم وړي � يعنې افضل شوق خپله مينه دَ همېش همېش دپاره امر کول او ژوندۍ ساتل غواړي � نو ځکه کېدلی شي چې هم دغه قيصه دَ يو څو پېړيانو ورسته داسې شهرت اومومي .... لکه " لېلا او مجنون " ، "آدم او درخانۍ" او يا په خپل اصل نومونو " سپلاني او وسا - "

دَ دې ناول ليکونکی چونکه يو ډېر تعليم يافته او جهان ګشته سړی دی � نو ځکه ممکنه ده چې ببخي زيات پښتانه وربانديې پوهی نه شي او دَ هغه دغه قيصه مبهمه اوګڼي .. يا دَ هغوئ په استعداد قيصه ورته کړکېچنونه رامخې ته کړي � خو دَ دې دا مطلب هرګز نه دی ، چې پښتانه به دا ناول نه لولي � بلکه زما دا خيال دی چې دَ نن پښتانه لوستونکي به دا ناول دَ دې ناول دَ اوچت معيار لرلو دَ وجې خامخا لولي � او له دې نه به .. دَ پښتو خبره هم څه نوره دَ معيار ساتلو په لور ګامونه اوچتول شروع کړي � او ليکوالان به لږ نور دَ محنت او همت نه کار اخلي � په ورمبي ځل چې ما دَ دې ناول سکرېټ اولوستلو .. نو رښتيا خبره دا ده ، چې نه شوم پرې پوهه .. خو بيا چې مې دويم او دريم ځل اولوستلو ..نو دَ دې ناول ټوله قيصه مې په ذهن کې داسې نقش شوه � چې ما دغه مضمون چې کله ليکلو ، نو ما ډېر کم پوائنټس دغې ناول نه واغيستو � زما په خيال چې .. ناول هم دغه رنګه ليکل په کار دی ، چې دَ هغه پلاټ يا قيصه او تهيم دې دېرپا اثر او تاثيراولري � دا ناول دَ قيصې يا پلاټ دَ لحاظه چې څومره دلچسپ او بهترين دی .. هغسې يې قيصه دَ کنټرول نه اوتې هم نه ده .. يو ترتيب او تسلسل سره قيصه مخې ته ځي او ليکونکی ځان سره سره وړي � ولې چې دلته دَ يوې قيصې سره تړلې ځينې نورې قيصې هم په ډرامائي او افسانوي انداز کې مخې ته ځي او راځي � او دا وړوکې قيصې دَ مختلفو دلچسپيانو نه ډکې ليدلی شي � هم په دې خو .. دَ دې دومره لوی کتاب په لوستلو باندې لوستونکي بور کېږي نه �

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



کېدلی شي .. چې ځینې نقادان دَ خپلې ناپوهۍ دَ وجې په دې ناول تور اولګوي .. او دې ناول ته هم دَ سفرنامې نوم ورکړي � لکه دَ هغه وَ سفرنامو ته ځینو نقادانو سفري ناولونه وئیلي وو � ولې چې په دې ناول کې دَ قیصې سره سره تر نیم درځن زیات ملکونو دَ سفري حال او دَ هغو ځایونو دَ تهذیب او تمدن په باب معلومات موجود دي � خو افضل شوق قصداً دا کوشش په دې ناول کې کړی دی چې هغه وَ خپل لوستونکي ته یو داسې ناول وړاندې کړي .. چې په هغه کې دَ ذهني او روحاني تفریح سره سره څه علمي فائده هم اورسي � یعنې دلته په دې اړه هغه دَ زړو قیصو او نکلونو دَ مقصدي چل نه هم کار اغیستی دی او دا غواړي چې دَ هغه ناول دې هم یو مقصد اولري .. او علمي بحث دې پرې مخې ته راشي � ځکه دَ افضل شوق وَ دې جذبې ته مونږ شاباشی وئیلی شو � او زه دَ هغه دغه زیار ته دَ قدر په نظر ګورم � خو.. دا وایم چې دا ناول دی او ناول هم داسې ناول .. چې قیصه او دَ قیصې بیان یې دَ زمان او مکان دَ قید نه آزاد ښکاري � نو په دې خو.. مونږ که څه هم دغه خپل ناول نګار افضل شوق دَ انګرېزۍ ژبې دَ مشهوره ناول نګارانو رچرډسن اوفیلډنګ سره نشو درولی .. نو کم از کم دَ ځینو ډېرو ښو اردو ناول نګارانو په صف کې یې ضرور اودرولی شو �

## دَ شوق په ناول کې کردارنګاري

په ناول کې دَ پلاټ یا قیصې پس دویم اهم کار په هغه قیصې کې دَ کردارنګارۍ ګڼلی شي � او دَ دې په باب ډېرې روائیتي نظریې او مروجه تعریفونه مخې ته راځي .. خو زه دَ دې دور دَ یو لوستونکي په حېثیت دَ نن هغه تعریف دَ ناول په باب منم .. چې ورته " دَ ژوند اشاریه " یا په نورو ساده ټکو کې دَ "ژوندقیصه " وئیلی شوی � او په ژوند کې هر څه او هر رنګه څېزونه شته � لکه په ژوند کې وقتي افسانې ، ډرامې او قدم په قدم المیې او واقعې نه علاوه ټولنیز اخلاقیات، سیاست، دَ تمدن فلسفه، معیشت ، معاشرت او محبت .. کوم چې انسان ته دَ انسان سره دَ ژوند کولو چلونه ښائي � نو ځکه زه دَ مغربي ناول نګارۍ نه متاثره په دې یم .. چې هغو په دې صنف ادب کې ټولو نه زیات کارکړی دی او په هغو خلقو کې دَ ناولونو وئیلو ډېر زیات رجحان دی � هم په دې دلیل .. هغوئ په دې صنف کې غښتلي بللی شي � دا وئیلی کېږي چې په مغرب یا انګرېزانو کې هر هغه ناول ښه بللی شي چې کردارونه په کې کم نه کم او دَ قیصې دَ ډیمانډ مطابق ډېر په سوچ او فکر ځای کړل شوي وي � او دَ دغو کردارونو تقسیم دې داسې شوی وي .. چې دَ قیصې دَ المیو ، غم ، خوشحالو او یا نورو واقعاتو سره سم په سمه مطابقت هم اولري � یعنې دَ ناول هر کردار دې دَ هیرو په رنګه هرکولیس نه وي .. او نه دې هر یو دَ ویلن په بڼه شېطاني خاصې اولري � بلکه ځینې داسې کردارونه خو هم په ټولنه کې وي چې هغوئ وي خو خاموشه کردارونه ، لاکن خپل خپل مصلحتانه ، غاصبانه یا همدردانه رول خامخا لوبوي � او دَ هغوئ وَ کردار ته اهمیت په دې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورکول کېږي چې قيصه .. دَ هم دغو بظاهره عامو کردارونو دَ وجې نه خو مخ مخ ته مزل کوي � زه چې دَ افضل شوق وَ دې ناول ته ځيره شم .. نو ماته دَ هغه په قيصې کې دَ کردارونو يو لوى تعداد مخې ته راشي � خو بيا چې غور او فکر ورباندې اوکړم .. نو وايم چې دَ قيصې دَ طوالت دَ حسابه دا کردارونه زيات نه .. بلکه ډېر کم محسوسېږي � ولې چې دَ پلاټ دارومدار په يو داسې اوږدې قيصې باندې ابنې شوى دى چې په هغه کې دَ هيرو دَ ژوند او لېون پوره نکل او دَ هيروئينې دَ مينې درست داستان موجود دى � او هغه هم داسې داستان .. چې په زرګونو کلونو محيط ښکاري � نو ځکه دَ افضل شوق په ناول کې کردارونه که بظاهره زيات .. خو دَ اصله کم ليدلى شي � په کوم کې چې يو درځن نه څه زيات کردارونه ژوندي دي او نور په تړلو خلو دَ قيصې دَ ضرورت مطابق موجود پاتې دي � بلکه که په غور اوکتلى شي .. نو تش نيم درځن داسې کردارونه به په نوټس کې راشي ، چې هغوئ دَ هيرو او هيروئيني سره قيصه سرته رسوي او باقي ټول کردارونه داسې دي چې وخت په وخت پيدا کېږي او فنا کېږي.

دلته خبره دا ميانځ ته راځي چې دَ افضل شوق په دې ناول کې چې کوم کردارونه وضحه کړل شوي دي .. آيا هغه ټول دَ قيصې دَ ضرورت مطابق دي او که هسې نومونه ورګډ کړل شوي دي � په دې اړه کېدى شي چې ځيني زما له دې رائې سره اختلاف اوکړي چې ګني په دې ناول کې هر خاموش او ژوندي کردار ته صحيح ځاى ورکړل شوى دى .. هيچرته او هيڅکله هم يوکردار په ذهن بوجهـ کېږي نه � خو نقادان به هم غلط په دې وجه نه وي چې .. دلته دَ فرعونانو سره سره دَ هغوئ دَ هري هغې شهزادګۍ يا رانۍ نوم يا کردار اچول شوى دى .. چې دَ ډاکټر وسا( هيروئينې ) دَ روئيو او خويونو سره مطابقت نه لري � لاکن زه ورته صحيح ځکه وايم چې دَ فرعونانو تاريخ چې څومره فرعونان په ريکارډ باندې لري .. دَ هغو په مقابله کې دَ فرعوني شهزادګيانو نومونه کم مخې ته راغلي دي � او دا دَ دې ناول نګار خوبي ګڼم چې هغه ټولې فرعوني شهزادګياني او رانيانې په نومونو را ژوندۍ کړې � دا بېله خبره ده .. چې هره فرعوني رانۍ هم .. دَ قلوپطره يا دَ دې ناول دَ هيروئينې هومره شايسته هم وه که نه ؟؟ خو چونکه افضل شوق دَ خپلې دې مينې آغاز او انجام فرعوني داستان ته سپاري .. نو بيا خو دغه ګيله يا اعتراض دَ نقادانو هم نه شي بې ځايه کېدلى .. چې ګني .. شوق په خپل ناول کې په تاريخ کې هره ياده شوې ښځه فرعونه ولې راوړې ده ؟ خبره تر دې حده صحيح ده .. خو ځواب يې کېدلى شي چې زما په رنګه نور نقادان هم داسې اوکړي .. چې هغه ځکه .. چې هر نر فرعون چې تاريخ په ښه يا بد نوم ياد کړى دى .. په رول کې دَ دې ناول " خپله " خو هم ياد شوى دى�

څومره کرادرونه چې دَ افضل شوق په ناول کې دَ هيرو (هغه) سره ژوندي ياد شوي دي او يا دَ هيروئينې (وسا) خواو شا ذکر شوي دي .. هغه ټول تر اوسه ژوندي او دَ هغوئ دَ مينې ګواهي ورکولى شي� دا يو داسې لوئيه خبره ده .. چې ناول نګار په خپل دې زيار کې دَ هغو ليکوالانو په صف کې دروي چې په دُنيا کې ډېر کم او دَ نه برابر ياد شوي دي � او هغه هم داسې ليوني لکه خپله افضل شوق چې دى .. چې دَ خپلې مينې دَ ډاکټر وسا(چې اوس دَ

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه کور والا ده) سره ټکي په ټکي بيانولو ته جوړېدلی دی � شايد په دې چې هغه ځان دَ يو داسې رښتوني شاعر، سفرنامه نګار او ناول نګار او ګوره چې لا څه او څه په حېثيت دَ همېش دپاره ژوندی ساتل غواړي � چې تر قيامته يې نوم او نشان پاته شي � ګني که مونږ لږ فکر اوکړو .. نو په پښتني معاشره کې داسې څوك کولی شي لکه هغه چې په دې ناول کې کړي دي.. هو، دَ يو نېك مقصد او مقدسه مشن تر سر کولو په نيت � او کوم څيز چې به هغه دَ ناول په نړئيز تاريخ کې ځانګړی کوي، هغه دَ ده رول په حېثيت دَ هيرو(سپلاني) او راوي دی -

غرض دا، چې دَ وړمبي فرعون ظالم سنېفېرو.. بيا مخته فرعون خوفو او دَ هغه دَ زامنو فرعون خافرا او فرعون مينکورا علاوه دَ فرعوني رانۍ خاميرينبيتي، شهزادګۍ نېفرتيابيت ، رانۍ هيتيفيريس ، هاتشيپسوت او داسې نورو رانيانو نه بيا تر رعمسيس الثاني پورې او دَ هغه تر رانۍ پورې داسې کردارونه دي .. چې دې خو تاريخي مړه کردارونه .. خو افضل شوق په ډېر هنر دَ دې قيصې برخه ګرځولي دي او غږولي يې هم دي � کوم چې په تاريخ کې ياد شوْ خوئيونو په مناسبت دَ هيرو" سپلاني" او هيروئيني " وسا " دَ هغه وخت دَ قيصې دَ ضرورت تحت وړاندې کړل شوي دي � يعنې که دَ وسا دَ غصې او خفګان خبره مخته راځي نو دَ ظالم فرعون سنېفيرو دَ جلالي رانۍ هتېفيريس رول لوبول کېږي � خو بيا چې يې دَ ښائست ذکر کېږي ، نو دَ خپل فرعوني عهد تر ټولو نه ښائسته ځواني مرګه شهزادګۍ نېفرتيابيت غږول کېږي � او بيا چې دَ رحمدلۍ او ښې روئې خبره کوي ..نو دَ فرعوني تاريخ يو بله ښځه چې هغه هم نېفرتيابيت نومېږي يادېږي � او بلې خوا ته هيرو دَ فرعون خوفو نه تر رعمسيس الثاني پورې چې کوم کوم فرعون ښنګه روئيه او خوئيه دَ خپلې رانۍ په اړه روا کړي وه .. هم هغسې په دې ناول کې افضل شوق هم ښکاره کړي او ياده کړي ده � نه يوائې دا .. بلکه بيا چې قيصه دَ فرعونانو نه تر قلوپطره او جوليس سيزر .. بيا نورويعنې يونانيانو او زړو عربيانو او تر" حال " را رسېږي .. نو کردارونه دَ سپلاني او وسا په شکلونو او يا خواوشا کې خپلې بنې ډېر په خوند او مزه داسې بدلوي رابدلوي � چې دَ بنده دَ خلي نه يو دم دا خبره اووځي چې ... افضل شوق واقعي چې په دې ناول کې کردارونو ته نه يوائې دَ زمانو زمانو تاريخي څېرې ورکړې دي بلکه دغه کردارونه يې په ډرامائي انداز او په افسانوي خوند اوحقيقي رنګ کې هم وړاندې کړي دي �

## دَ شوق په ناول کې مکالمې

په يو ناول کې دَ پلاټ او کردارونو ټاکلو پس خبره دَ کردارونو دَ هغه رول په لور راځي چې هغوئ يې په مکالمو کې رامخې ته کوي او تمثيلي شکل ورکوي � نو په دې حقله به اووايم .. چې يو وخت داسې هم وو، چې مکالمې به اوږدې اوږدې په ناول کې راوړل کېدې � خو دَ نن جديد ناول دا خبره دروغ کړله او مکالمو ته يې دَ اختصار شکل

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورکولو سره سره څه غونډي په علامتي پېرائيه کې اشارتي ژبه هم ورکړه � يعنې خبره وړه .. خو با مطلبه او په معنوي اعتبار اوږده دَ ننني ښه ناول ډيمانډ اوګرځېده � ولې چې نن وخت هيچا سره نيشته � اختصار ته دَ تفصيلي اظهار او معنوي ژبه ورکول دَ ننني ناول سټېنډرډ وئيلی شوي دي � نو راشئ چې دَ افضل شوق دا ناول دَ ناول دَ دې جديد تعريف په رڼا کې اوګورو � چې هغه څومره ښه او تکړه ناول نګار ثابت شوی دی؟

که مونږ دا ناول په غور اولولو، نو دا خبره به مخې ته راشي چې افضل شوق په خپل دې ناول کې مکالمې ډېرې مختصرې دَ قيصې برخه جوړې کړې دي � هغه په وړو خبرو کې لوئيې معنې رانغاړلو کوشش کړی دی � او تر ډېره حده پورې کامیابه شوی هم دی � دا لاندېنۍ مکالمه دَ دې يو ښه مثال دی..

-"رانا .. منم چې ډېره ښائسته يې او که اوغواړې نو دَ فرښتې ايمان هم ختا کولی شې � خو په دې زړه کې ستا دپاره چې کوم ځای ما دَ دوستۍ په نيت غوره کړی دی .. هغه په هوس نه شي بدلېدلی

ګوره چې هغې به څله دا خبره دَ توعين په حقله اغيستله او په خندا به يې بيا بيا ورته وئيلو..

-چپ شه سپلانيه .. داسې مه وايه ..که درته په رښتيا شوم نو هر څه به در باندې هېر کړم .. ښه!!

خو سپلاني به هم ورته وئيلو..

-کثير مشکله

-لا لا مُش مشکله حبيبي

او هغې چې به بيا په خپل مخصوص انداز کې دغه رنګه ورته اووئيلو ، نو به ورسره منوېلا ، پُو،

عقود او بېسنك مورتي هم خندا ته داسې اوجوړېدلو چې دَ درستې پارټۍ به ورته پام شو- "

)شوق "پروني مخونه " ... فصل _ ٦ ... مخ ١١٢-١٣(

هم دغه رنګه په دې ناول کې يو بل ځائی هم يوه داسې مکالمه رقم شوې ده چې لوستونکي ورنه دَ دې ناول او ناول نګار په باب يوه نا يوه حتمي رائی ضرور قائمولی شي � ولې چې دلته شوق ( سپلاني ) دَ هرڅه نه بالا تر .. لاکن يو ښه انسان ليدلی شي.

- "دا سوپيس او فلوريتا څنګه له يو بل سره دومره په مينه مينه ليدل کېږي ؟ که څه هم يوه کټره مسلمانه او بله عيسائي ده"

يوه ورځ چې دَ وسا په موجودګۍ کې ډاکټر پُو دا خبره دَ سوال په توګه پورته کړه ، نو سپلاني ورته وئيلو..

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



-مذهب له انسانه دَ انسان جوړولو او انسان وَ انسان ته دَ نیزدې کولو وظیفه سرته کوي

اوس به یې لا نور څه وئیلو ، چې دَ پُو له خلې یو دم داسې خبره نابېره اوختله .. ګوا

-سپلانیه !! ته دَ سوپیس په حق کې نن سبا ډېر ښکارې

بیا چې یې خپلې دې غلطۍ ته پام شو ، نو وائي ..

-زما مطلب دا ، چې هغه په اسلامي جامه کې ګرسره ښه نه برېښي .. خو ته ورته ښه وائې...

وسا که څه هم هیڅ نه اووئیلو، خو دَ سپلاني په خوا یې داسې په سوالیه نظرونو اوکتلو .. لکه هغه چې هم دَ ده دوستي له سوپیس سره نه خوښوي - "

)شوق "پروني مخونه " ... فصل _١٣... مخ ٢٠٠(

دا او داسې بېخي ډېري مکالمې دي چې لوستونکي په سوچ وهلو مجبوره کوي .. خو معنې او مطلب ډېر ژور او فکري لري � یعنې افضل شوق په خپل دې ناول کې ډېري زیاتي خبري په علامتي اشارو کې ځکه کوي چې دا قیصه دَ هغه خپله او دَ هغه دَ محبوبې ( چې اوس دَ هغه کور والا ده) قیصه ده � نه تش دا.. بلکه افضل شوق په باب دا وئیلی شي چې هغه که شاعري کوي او که نثر لیکي .. خبري په اشارو کې کوي � نو ځکه دَ خپل ادبي فطرت دَ وجې هغه په دې ناول کې هم خپله هغسې ادبي روئیه په علامتي پیرائیه کې څرګندوي � هغه دَ اختصار قائل دی او نه غواړي چې دَ لوستونکو قیمتي وخت ضائع کړي � نو ځکه په دې ناول کې ورې .. خو بامعني او علامتي خبري داسې په سوالیه انداز کې کوي .. لکه

-"نن زه درته دَ دې واده مبارکي نه وایم

-څله .... ؟؟

-ځکه چې زه نه غواړم، چې دَ خپلو ارمانونو جنازه دَ ټولو له مخه پورته کړم

-ګوره سوپیس .. دا جنازه ستا دَ ارمانونو نه ،بلکه ستا دَ یوه دوست دَ خوشحالیانو یوه ستره موقعه ده

-هو، ده خو .. لاکن ... ؟؟

)شوق "پروني مخونه " ... فصل _ ١٧... مخ٢٦١-٦٢ (

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې " لاكن " كې ناول نګار ډېرې خبرې پټې ساتلې دي او دا دَ دې ناول نګار هغه خوبي ده .. چې اكثره سوالونه دَ ځواب په نيت دَ لوستونكو په مرضي ځكه پرېږدي .. چې هغه اخلاقي حدونه پارول نه غواړي �

دَ افضل شوق دا ناول په داسې ښكلي او اخلاقي انداز مكالمې لوستونكو ته وړاندي كوي چې بنده ورته په سوچ كې ډوب پاتې شي � خو دَ مزې خبره دا.. چې دَ هغه په مختصرو مكالمو كې ډېرې تفصيلي اشارې پټې دي .. لكه دا مكالمه چې بلا ډېرې معنې دَ لوستونكو په ذهنونو كې رابرسېره كولى شي ..

"سپلاني به لا دَ امينه دَ خبري په ځواب كې دَ هغې دَ تاتا وسا په باب نور څه وئيلو ، چې وسا په خندا كې اووئيلو..

-هو، زه په دې وجه خبري اوچې كوم، چې په خوبونو باندې ګرسره يقين نه لرم

-لاكن خوبونه خو بيا هم سړي ته راځي

-راځي دي

-نو بيا به يې منې هم قلوپطره ډېير

دَ سپلاني له خلې دَ " قلوپطره" تورى څه اوختلو، چې هغې اوخندلو او په خندا خندا كې ولاړه شوه او امينه هند يې دَ سيدي فرج دَ سمندر دَ راغلي څپې سره بيرته ملګري چې كله دَ ژورو اوبو په لور رهي شوله ، نو يې وئيلو..

-خو زه لا تر اوسه هم يو نوم ځكه نشم دركولى ، چې ته خپله ښه خبر يې-

-لاكن په څه ؟

او بيا چې دوه درې ځله دا وړوكي تپوس سپلاني تكرار كړو، نو هغې هلته له ليرې څخه ځواب داسې ور بيا كړو..

-ته چې خپل ځان څه ګڼې .. هغسې شه وَ ماته

-زه ځان څه ګنم ؟ ... څه يم ؟ او څوک شم وَ دې ته ؟

هم ځكه خو سپلاني يو ځل بيرته په خپل فكر كې وَ ځانته دَ هر راپورته شوي سوال په ځواب كې سوال شو- "

)شوق "پروني مخونه " ... فصل _ ۲۰ ... مخ ۳۰۵(

دا هغه سوال دى چې دَ سپلاني دَ كردار يا خوبې سره ترلې بې ځوابه ليدى شي او كوم لوستونكي چې ناول دَ اوله سره نه وي وئيلى .. هغه كله هم نشي پوهېدلى � دا دَ دې ناول هغه خوبي ده .. چې بې دَ لوستلو يې انجام ته هيڅوك نه شي رسېدلى � ولې چې دا ناول فلمي وژن لري .. خو دَ پښتو دَ فلم په رنګه نه � دلته ناول نګار هغه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



انداز په ډېر هنر خپل کړی دی � چې نن په مغرب کې دَ سسپنس په نوم يادېږي � دې نه علاوه په دې ناول کې داسې مکالمې هم په آخري بابونو کې شاملې کړل شوي دي .. چې قيصه دَ دې ناول اختتام ته نه رسوي � بلکه لوستونکي ترې څکه ساتي � چې هغه دا قيصه لا خو سر ته رسېدلې نه ګڼي او غواړي چې مخته هم جاري پاتې شي ... خو دا قيصه به مخته دَ ناول نګار هغه لور برېښنا خان جاري ساتي .. چې په پښتو نه پوهېږي � په دې ورستۍ خبرې يا مکالمې کې هغه سوالونه چې ځواب طلب دي .. تاسو کتلی شئ..

-"بس که ماما بس که .. نوره مخته مه ځه .. اوبه ډېرې ژورې دي او دَ پاپا لامبو هم نه ده ايزده "

)شوق "پرونې مخونه"... فصل _۲۴ ... مخ ۳۵۴ (

## دَ شوق په ناول کې منظرنګاري

وئيلی کېږي چې ناول داسې ليکل په کار دی چې څوك يې لولي .. نو هغه دې داسې محسوسوي لکه هغه چې يو ښه فلم ګوري � او زه هم په دې اړه کې دغه رنګه سوچ لرم .. خو يو سوال مې په ذهن کې په دې باب داسې هم راپورته کېږي .. چې لکه څنګه چې دَ نن ډرامه دَ پرون له ډرامې نه بېله او بدله ده ..هم نوره نوره بدلېږي � نو دغه رنګه دَ نن فلم خو هم دَ پرون نه بدله بڼه او ډيمانډ لري � نو آيا دَ نن په ناول کې هم دغسې بدلون په کار دی او که نه ؟ څه هم که ځواب په " هو.. بې شکه ولې نه " کې سر ته را اورسي � خو دغه اثباتي ځواب به دَ نن دَ ناول کردارونه دَ سينونو او منظرونو په فرېم کې هم دَٙ فلم په شان " کټ ټو کټ يا شارټ کټ " يا نېغ په نېغه قيصې سره خواوشا کې ښکاره کوي � کوم چې لازمي خبره ده .. چې تجريديت او ابهام ميانځ ته راوړي � اوس دلته دا سوال پيدا کېږي چې آيا .. دغه فارمولا به په پښتو ژبې کې ليکلې شوي ناول باندې هم لاګو کېږي ؟ او که دَ دې ژبې ناول هم دَ دې ژبې دَ فلم په شان نيم کلاسيکل انداز ته نيږدې نيږدې ليکل پکار دی ؟

پورته رابرسېره شوو سوالونو نه زما مطلب دلته دَ افضل شوق دَ دې ناول .. چې په جديده پيرائيه کې ليکلی شوی دی په حق کې داسې بحث کولو نه دی � چې دَ پښتني ناول دَ روائيتي چاپ نه يو طرف ته اوساتلی شي � ولې مونږ پوهی يُو ... چې " پرونې مخونه" څه هم که په پښتو ژبې کې ليکلی شوی کتاب دی خو پښتني مزاج نه لري او نه يو عام او نا لوستی پښتون قاري ترېنه هغسې خوند اغيستلی شي لکه کوم خوند چې هغه دَ قيصه خوانۍ دَ دوکانونو په تهړو باندې پرتو فلمي قيصو او زړو قيصو يا نکلونو نه اخلي � کېدی شي چې زه هم دَ دې ناول هغسې نه اوستايم .. څنګه چې ستائيل په کار دی � زما يقين دی چې دَ دې ناول سره انصاف يو داسې نقاد کولی شي .. چې عالمي ادب يې لوستی وي او دَ اوسنۍ ادبي روئيو نه باخبر وي .. هم ويژن يې پراخ او آفاقي وي � خو وايم

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



به په دي چې چرته شوق صاحب دا نه اوګڼي چې ګني په پښتنو کې دَ هغه په دې ناول هيڅوك نه پوهېږي .. يا پوهېدل نه غواړي �

زما دَ پوهې مطابق په ناول کې منظرنګاري تش دَ منظرونو او نندارو يا ماحول رانغاړل نه دي .. بلکه دَ قيصې دَ ښه وضاحت او تسلسل ساتلو دپاره دَ کردارونو په صحيح وخت ، په صحيح موقعه او صحيح مناسبو بنو کې ښودل هم دي � ولې چې ناول دَ انساني ژوند يوه داسې صحيفه وي چې په کې دَ ژوند دَ ستړياګانو، دردونو او دَ غم يا خوشحالۍ دَ کېفيتونو تاريخ رقم کېږي � او په تاريخ کې دَ ښکلو نندارو، منظرو او جغرافيائي ماحول نه زيات انساني واقعات ، دَ هغوئ روئيې او وختونو سره ترلي رشتې څېړلی شي � هم ځکه خو قيصه دَ ناول دَ غوره شوو کردارونو په لاس کې ورکول په کار ده � کوم چې په دې ناول کې افضل شوق کړي دي او زيات اهميت يې خپلې قيصې ته ورکړی دی � ځکه دَ ده کردارونه ژوندي ژوندي او سترګو وړاندي محسوسېږي � که مونږ اوګورو .. نو په دې درست ناول کې هم دومره ماحولياتي منظر نګاري نه ده شوي .. څومره چې ځمونږ دَ پښتو يا دَ اُردو ژبې دَ زړو ناولونو په يوه باب کې شوي ده � خو دَ دې باوجود هم افضل شوق په يو ښه او پُرتاثيره ناول ليکلو کې کامياب شوی دی � کوم چې دَ ده هنري کمال څرګندوي .. او افضل شوق په پښتو کې دَ يو ډېر.. بلکه بېخي ډېر جديد ناول نګار په حېثيت ميدان وهلو ته راغلی دی � يعنې په دې نيت او سوچ .. لکه څنګه چې دئی په شاعرۍ کې دَ نوي فني انداز او نوؤ فکري اٌفاقي موضوعاتو سره ترلی شاعر يادېږي .. او هم دغه رنګه دئی په سفرنامو کې دَ ابن بتوطه په رنګه سېلاني هم مشهور شو � لنډه دا، چې افضل شوق دَ خپل نظم او سفرنامو په رنګه دَ پښتو دَ ناول بڼه هم دَ روائيتي قيصې نه دَ باقاعده اوسني معياري ناول په شکل کې راړول غواړي � او زما يقين دی چې دلته به هم ځيني پښتانه نالوستي نقادان هغه په دې جرم معاف نه کړي �

راشئ چې په دې لاندېنۍ پېره کې دَ افضل شوق په ناول کې دَ منظر نګارۍ نمونه او انداز اوګورو�

"او څه وخت ورسته دَ هغې فرعوني راڼې په اشاره باندې يو دنګ او پنډ جلاد، چې تك تور سرې وي په اوږو يو غټ ساتول را اغيستی وي دَ سېلاني په خوا چې ښنګه ور روان شي ، نو هغه په چيغو چيغو وائي..

-زه بې قصوره يم .. زه بې قصوره يم

خو جلاد مخ مخته ور روان وي له تناوزمه خنداګانو سره � او داسې هم وائي..

-تيار شه مرګ ته اې مشرکه

بيا دَ يوې غټې قهقهې وهلو ورسته وائي ..

-ستا سزا دا ده چې تا شرك کړی دی

-شرك؟

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په میدان کې ټول غلامان په یوه آواز داسې دَ حیرانتیا اظهار چې خنګه اوکړي ، نو هلته لرې دَ رانې هاتشیپسوت سره په یوه اړخ کې ناست یو بل خېتور درباري راپورته شي او په خپل درانه غږ کې وائي..

-هو.. دې سپلاني ګستاخ دَ یوه خدای په وړاندې دَ بل خدای درولو هڅه کړې ده

نو ځکه سپلاني دواړه لاسونه پورته کړي او په تېره چیغه کې وائي..

-دا دَ وخت دَ رانې دَ سترګو دهوکه ده .. شرك نه

اوس به یې لا نور څه په خپلې صفائي کې وئیلو، چې دَ خیال له فرعوني نړۍ څخه ناڅاپه هغه وخت خپلې زمانې ته راستون شي، چې وسا ورباندې غږ اوکړي..

-سپلانیه .. درځه چې کوزېږو .. پورټ سعید راورسېدلو"

)شوق "پروني مخونه " ... فصل _ ۱۴... مخ ۲۱۷-۱۸(

دا پورته نقل شوي مکالمه چې څه هم که زیاته منظر نګاري په کې نه ده شوي .. خو دَ لوستونکې په ذهن کې دَ دې مکالماتې اشارو نه دَ منظر او سین بالکل واضح تصویر جوړ کړي � او دغه رنګه سټائل په دې ناول کې دَ منظرنګارۍ دپاره په کار راوړل شوی دی � یعنې افضل شوق په خپل دې ناول کې داسې تجربې ډېرې زیاتې کړې دي � او هر منظر ته یې په اختصار تصویري بڼه ډېره په فني هنر داسې ورکړې ده � چې دَ لوستونکي په ذهن کې دَ سین یا دَ واقعې په حقله هیڅ ابهام یا تنده نشي پاتې � راشئ چې دا لاندېنۍ بله واقعه هم اوګورو چې افضل شوق په کې دَ منظرنګارۍ په اړه څومره په خپل اختصاري انداز کې کامیاب شوی دی ؟

"دا دُنیا زما ده او زه دَ دې ټولې نړۍ یوازینی خدای یم � دَ ریګ میدانونه زما دي، غرونه زما دي .. په سر اسمان او دلا ندې دا ټوله ځمکه زما ده او....

هغه به له قهره ډك نور نور څه وئیلو، چې دوې ښائسته پېغلې دَ شرابو له سُرایانو سره په موسکا کې په دربار رانوتلې او په یوه صلاح یې په لوړ غږ کې ورته اووئیلو..

-او مونږ هم ستا یُو اې دَ وخت زوروره فرعونه!!

فرعون دَ هغوئ په لور کتلو ورسته یو دم چپ شو او بیا یې هغوئ ته په ځیر ځیر کتلو کې نرۍ موسکا په شونډو څه راغله ؟ چې په دربار کې ناستو ساه نیولو خلقو هم سترګې اوړپولې او را ژوندي غوندې شولو�

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



فرعون بیرته دَ کېنستلو ورسته په دربار کې یوې بلې خواته چې سترګې لا سمې نه وې غړولې ، چې درست درباریان ورته په سجدو کې پرېوتلو او هغه وَ جلاد ته ورغږ کړو..

-سینیج مه وژنه

تور خرې او خېټور جلاد په خپل ځای باندې تم کېدو ورسته وَ فرعون ته چې څنګه په مړو اوکتلو، نو هغه ورته سر په اثبات کې ښورولو ورسته وئیلو..

-نه ګورې .. چې دَ سینیج سورې لُونې دَ ده دَ سر خېر غواړي ؟ "

)شوق "پروني مخونه " ... فصل _ ۱۴... مخ ۲۲۵(

دا پورتنی منظر هم دَ یو مکالمې دَ لارې په ډېر اختصار کې دَ واقعې وضاحت کوي � اوس که .. واقعه یا قیصه په لنډو خبرو کې واضحه کېږي .. نو وَ تفصیلي قیصو او نکلونو ته څه ضرورت ؟ دا هغه سوال دی چې شاید افضل شوق یې په ذهن کې دَ لیکلو په وخت لري � او دئی په خپل دې سوچ کې صحیح هم ځکه دی چې نن سبا وخت ډېر کم وي � خلق په لږ وخت کې ډېر څه کول غواړي .. او دَ نن ډیمانډ هم دغه دی � یعنې هر لیکوال ته په کار دي .. چې هغه هر څه په لوستونکو نه اوتیې � بلکه خبره دې دَ افضل شوق په شان وړه .. خو با مطلبه او په نوي انداز اوکړي � نو دغه رنګه به پښتون لیکوال محنت کولو ته جوګه شي او پښتانه لوستونکي به دَ نووْ نووْ خبرو په تلاش کې بیا کتابونه هم لولي .. انشاالله.

## دَ شوق په ناول کې طرزبیان

وئیلی کېږي .. چې ټولو نه ښه او کامیاب ناول هغه وي .. چې په کې دَ ژوند حقیقي تصویر وړاندې کړل شوی وي � او داسې افضل شوق هم کړې دي � ولې چې څنګه چې دَ دې ناول " پروني مخونه" ابتدا دَ یو مسلسل تلاش او سفر سره تړلې ښکاري .. هم دغه رنګه په دې ناول کې دَ زرګونو کلونو پخوانۍ زمانې نه تر اوسنۍ زمانې دَ تاریخي حقائقو په اوږو یوه قیصه رارسول ډېر لوی ادبي فن دی � کوم چې ناول نګار نه یواځې دغه شاهکار کاوش په ډېر هنر او کمال قلمبند کړی دی .. وخت یې ورکړی دی .. خپل وس نه یې زیات انصاف ورسره کړی دی � ولې چې ناول دَ ناول په فارم کې لیکل ډېر سترې کار دی .. خو شوق صاحب دغه مشکل کار مونږ ته اسانه کړی دی � او دَ ناول قیصه یې داسې په ډرامائي انداز تر سره کړې ده � چې په هر دویم ګام یو وړکوټې واقعه یا افسانه مخې ته راځي � دَ حادثاتو ، واقعاتواو مشاهداتوعلاوه دَ تجرباتو دغه بهیر چې څنګه دَ ماضي نه دَ

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



حال په لور لاري لنډوي ...نو دَ ناول نگار خيالات او افکار هم هغسې دَ تغير دَ مرحلو نه راتېرېږي � يعنې په دې ناول کې دَ ذکر شوؤ قومونو دَ تهذيب او تمدن نه علاوه دَ ملکونو سپلونه هم په کې داسې رقم شوي دي .. لکه بنده چې يو ښه تاريخي فلم گوري � او دا دَ يو ښه .. بلکه يو ډېر جديد ناول خوبي بللى شي � دَ دې ناول قيصه ډېره اوږده ده .. خو افضل شوق داسې په هنري اختصار سرته رسولې ده ، چې تنده په کې نه پاتېږي � او تر ټولو لوئيه خبره په دې کې هغه پښتني طرز دى .. چې دا قصيه په کې بيان شوي ده.

افضل شوق .. چې په دې ناول کې قيصې ته څنګه دَ سفرنامې افسانوي رنګ په ډرامائي انداز ورکوي � دغه هنري کمال په ورمبي ځل په پښتو ناول کې مخې ته راغلى دى � منم چې دا دَ يو ليکوال دپاره ډېر دَ کړاوْ کار دى .. خو دَ لوستونکي ذوق، شوق ، معلوماتي او تفريحي ضرورتونه مخې ته ساتل دَ يو ښه اديب ذمه واري هم ده � او دلته شوق صاحب هم خپل فن ته هم دغه رنګه تفريحي او اصلاحي رنګونه په ډېر انصاف او خوش اُسلوبي ورکړي دي � خو زياته به ښه وه که ده دَ خپل ليك طرز لږ نور اسان ساتلى وى � داسې به دَ يو عام قاري خيال هم ساتلى شوى وو � خو بيا هم دَ دې باوجود مونږ دې ته ګوته ځکه نه شو نيولى چې دَ افضل شوق خپل يو نظر او معيار دى او ده دَ خپل مخصوص معيار دَ برقرار ساتلو په غرض شايد په شعوري توګه دغسې کړي وي � دَ دې په حواله دا وئيلى شو چې کوم معيار ده خپل کړى دى نو دَ ادب دَ يوې طالبعلمې په حېثيت زه دا وئيلى شم چې دا به دَ هر باشعوره پښتون اديب دَ سبا معيار وي � او په کار ده، چې دغه رنګ معياري تخليقات په نورو ژبو کې ترجمه کړى شي چې داسې دَ دې تخليقاتو نه نور خلق هم خبر شي.

په دې ناول کې بې شمېره افسانې ، ډرامې په مختلفو پړاوْنو قاري يو منفي کردار ( ولن ) چې تهائي لېنډ سره يې تعلق دى او سوپيس په نوم په دې ناول کې خپل کردار ادا کوي .. زيات کړى دى � څومره چې سپلاني دَ ډاکټر وسا سره مينه کوي .. سوپيس دَ هغوئ په لاره کې خنډان اچوي � خو دَ دې هر څه باوجود دَ سپلاني سوچه مينه کاميابه شي � ولې او څنګه؟؟ دَ قاري په ذهن کې دَ راپورته شوؤ دې سوالونو په ځواب کې زه په حېثيت دَ يو لوستونکې دا وئيلى شم چې په دې ناول کې .. ناول نګار افضل شوق په فني اصولو دَ خپلې قيصې دَ ژوند خارجي او داخلي کړکېچنونو او مسلو ژوره مطالعه کړې ده او بيا يې په ډېرې هنري سليقې سره په پښتني انداز کې دَ ناول قيصه جوړه کړې ده � او په داسې انداز .. چې افضل شوق په ناول کې پوخ کاره ښکاري � هغه په لوستونکو باندې اوتې بوتې .. دَ ځينو نورو قلمکارانو په شان نه تپي � هغه چې کوم ادبي کار هم کړى دى .. جواز يې ورته پيدا کړى دى � هم ځکه خو دَ هغه په ادبي کاوشونو کې تکنيکي نيمګړتياوې نه شي ليدلى �

يو ناول نګار ته په کار دي چې هغه دې په نظر کې دَ قيصې په مناسبت دَ ژوندحادثات، واقعات ، مشاهدات، خيالات، افکاراو تجربات نه يواځې اولري .. بلکه په داسې ژبه دې بيان هم کړي .. چې هغه دَ عوامو ژبه وي � او داسې افضل شوق هم په خپل دې ناول کې کړې دي � لاکن دَ ده قيصه لږه کړکېچنه په دې ده چې هغه دَ ماضي سره دَ حال تعلق جوړولو هڅه کړې ده او هغه په داسې افسانوي او ډرامائي پېرائيه کې ... چې يو بې سواده

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



لوستونکی پرې کم پوهېدلی شي � خو دا دَ ناول نګار ادبي کم همتي نه شي بلل کېدی � ولې چې دغه ناول نګار دَ معیاري ادب یو داسې مریض ښکاري .. چې په روائیتي دعاګانو باندې نه .. بلکه په دواګانو رغېږي � یعنې هغه .. پښتو نه یواځې دَ پښتنو ژبه ګڼي بلکه هغه دغه پښتو .. خواره پښتو دَ سیالانو سیاله هم ګڼي � هم ځکه خو.. دا لېونی شوق هرکله دَ نړئیز ادب سره دَ مقابلې په نیت لیدی شي � دَ دې خبرې ثبوت مونږ ته په دې ناول کې هم ترلاسه کیږي �

افضل شوق په دې ناول کې دَ واقعاتو سره ترلي قیصې او افسانې دومره په دلچسپۍ وړاندې کړي دي .. چې دَ هغه په بیانیه او مکالماتي انداز کې هیڅ قسم ابهام مخې ته نه راځي � دَ هغه لهجه او ژبه که څه هم لږ ډېره علامتي انداز لري .. خو دَ خوږلت دَ وجې تجریدي اشکال یا بېخي زیات معنوي مشکلات مخې ته نه راوړي � ولې چې هغه خپله دغه قیصه په منطقي انداز سر ته رسولو سره سره داسې ژبه هم په استعمال کې راوړي .. چې هغه عام فهمه ده او پښتني محاوراتي بڼه لري � خو دَ دې نه علاوه هم دَ هغه دغه ژبه په معنوي اعتبار سادګي نه لري � افضل شوق دَ معیار ساتلو په غرض کله کله خپل لوستونکي په آزمائش کې هم ساتي � خو لوستونکي دَ هغه دَ دې فکري هنر نه اوس ښه بلد شوي دي � څه چې هغه په دې ناول کې وئیل غواړي .. هغه هرڅه دَ لوستونکو دَ فهم او سمجهـ په دائرو کې ښکاري � خو شرط دا ، چې لوستونکي عام فهمه .. یا سطحي فکر او سوچ لرونکي نه وي �

په دې خبرې کې هیڅ شك نه پاتې کېږي چې دروغ ... نن څمونږ دَ معاشرې تر ټولو لوئی رېښتیا بللی شي � دروغ وئیل .. دروغ لیکل او اورېدل نن ادبي فن ګڼلی شي � خو په دې ناول کې رېښتونی ناول نګار سېلاني افضل شوق دا خبره حقیقت ته رسول غواړي .. چې دَ معروضو بدلون ، دراصل کې دَ موضوعاتو بدلون وي � او موضوعات دَ وخت سره سره زېږونې کوي � یعنې ناول نګار یقین لري ، چې دَ انسانانو ګېر چاپېره ماحول دومره په تادۍ نه بدلېږي .. چې څومره په تېزۍ باندې دَ هغوئ احساسات او سوچونه تغیر سره مخامخ کېږي � نوځکه خو دَ افضل شوق اندروني کېفیات دَ موجوده ماحول نه مخ مخته یوُن کوي � او دغه رنګه هغه غواړي چې زمانه دې دَ ده په نقش قدم روانه وي � ولې چې هغه دَ خپل ذات او خپل بې سواده قام ژوندون دَ نورو مخته وتو قامونو سره په سیالۍ کولو کې ګوري � هم دغه وجه ده .. چې هغه په وړو خبرو کې لوئی فکرونه داسې په علامتي او افسانوي انداز کې وړاندې کوي .. چې پښتانه ورته حق بق پاته شي � دا هغه طرزبیان دی چې افضل شوق یې په دې ناول کې هم دَ خپلو مختصرو نظمونو په رنګه استعمالوي � نو ځکه خو په دې ناول دَ پوهېدلو دپاره زیات وخت ، ډېر غور و فکر او شعوري ادراك نه کار اخیستل په کارېږي �

ما دَ خپل تنقیدي استعداد دَ مخې چې څومره کولی شو.. هومره جائزه مې دَ دې ناول " پروني مخونه " په اړه وړاندې کړه � نور ګوره چې په دې ناول کې لا خو څه څه شته؟ دا به وخت په وخت نقادان رامخې ته کوي �

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



او په آخر کې زه دا دعا کوم چې الله پاك دي دَ افضل شوق او پښتنو تر میانځه دَ فکري فهم اوږدې لارې په دې نیت لنډې کړي .. چې پښتو په ګډه مخته بوځي � امین ثمه امین

حسینه ګل

کاکا صاحب .. تحصیل او ضلع نوښار

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# افضل شوق دَ نقادانو په نظرکې

......... "افضل شوق فنكار هم دى او زه يې په فن مئين يم ، ځكه يې زه خپل ځان، خپل ځيگر گڼم � دا جذباتيت نه حقيقت دى � افضل شوق .. افضل هم دى او شوق هم � افضل ورته په دې وايم چې خداى پاك وربانديې ډېر فضل كړى دى � دَ هغه شخصيت ته خواږه هم وركوي او بركت هم � هغه دَ نثري شاعرۍ يو معروف فنكار دى � دَ ډېرو هېوادونو سېل يې كړى .. ډېر څه يې ليدلي دي .. ډېر څه يې په خپل نړيوال شخصيت كې ځاى كړي دي � افضل شوق .. شوق ځكه دى چې بنده ورسره يو ځل اووينې نو دَ هغه په زړه دَ اشتياق كېږي واچوي چې بيا بيا مې اوليدى � شوق دَ هغه دَ نثري شاعرۍ او سفرنامه نگارۍ تر شا يو محرك قوت دى او دغه قوت داسې برقيت لري چې دَ هغه شخصيت ته يې مقناطيسيت بخښلى دى � دغه شوق دَ هغه شخصيت هزار داستاني كړى دى � زه چې دَ افضل شوق فن او فكر ته په فكر شم نو ماته سترگه ور، دانشور او سخنور ښكاره شي � زما دا يقين دى چې كه دَ هغه تصنيفات داسې په شوق چا اولوستل څنگه چې ما لوستي دي نو هم دغه څه به وائي .. څه چې ما اووئيل �

)اياز داودزئى _" مزل په واورو باندې" ببك ټائټل فلېپ 2004(

---

......... "څمونږ دې سپلاني شاعر حقائق ليدلي او تسليم كړي هم دي خو لهجه او رويه يې بېجده شاعرانه ده� احساس او شعور يې دَ فلسفي دى خو نظر او ژبه يې دَ شاعر ده � دليل يې په حق دى خو تخيل يې شاعرانه دى � چې رومانوي طرز اظهار او رموز و اسرار لري � ولې دَ دې هر څه باوجود هم دَ انا پرستۍ، خودپسندۍ، احتجاج او بغاوت غېر ذمه دارانه نعرو او دَ جذباتيت او اذيت غېر ضروري كېفياتو نه بچ پاتې شوى دى � دا سپلانى شاعر چې چرته تلى دى ، خپل شاعرانه حس او نظر يې دَ ښائست غېږه كې غورځولى دى � او دَ مينې په غېږ يې پاسولى دى � دا هم حقيقت دى چې دې سپلاني شاعر دَ ښائست په ستائينې او دَ مينې په څرگندونې كې بخيلي يا كنجوسي نه ده كړې � هر چرته يې دَ حسن نه فېض موندلى دى او هر چا ته يې دَ مينې تاوْ رسولى دى � او دَ ژوند ساز يې غږولى دى � په فن كې يې دَ ژوند حقيقتونو ته يو رومانوي پېكر او رومانوي تصوراتو ته دَ يو حقيقي نظر وركولو هڅه كړې ده � او دغې هڅې دَ شاعر دَ فن كېنوس نور هم وسيع كړى دى"

)سليم راز _ " په لټون ستا دَ څېرې" مخ _ 17 او 18(

---

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



........ "په راتلونکې کهول کې افضل شوق خپله څېره هم لري او دَ خپل انفرادیت په قائمولو کې بوحت شاعر هم دی � په غزل کې دَ ده شعري رنګ دَ فکري اثباتیت رنګ دی � خو زما په نیږدې دئی دَ نظم او په نظم کې هم دَ مختصر نظم شاعر دی � دَ ده نظمونه په اختصار کې تفصیل هم ښائي او دَ ده دَ فکر په تجربې کې .. دَ تجربې بیان هم � افضل شوق موضوعات لري � او کائنات یې موضوع دی خو لطیف او خواږه اړخونه به یې تر بحث لاندې وي � افضل شوق زما په نزد دَ نظم او په نظم کې هم دَ مختصر نظم شاعر دی � دلته دَ ده کړاوْ، فکري وحدت او دَ موضوع تفصیل زیات پرله پوري لیده شي"

)پروفېسر ربنواز مائل ــ " شلېدلی امېل" مخ ــ 9 تا 11(

——

........ "خو دَ پښتنو به پیران زوره ور وْ .. یا به دَ الله تعالی پیرزوئینه وه چې په دې کې داسې نوی کهول راپیدا شو چې نه یوازې به دَ باباګانو ویاړلی تاریخ دَ خوندي ساتلو ذمه وهي بلکه دَ نوري نړۍ سره به یې ګام په ګام پر مخ بیایي � افضل شوق دَ همدغو استازو په صف کې ولاړ لیکوال دی � ده ښاغلي ، دَ ادبیاتو په ډولا ډول نوعو کې په بریالیتوب قلم چلولی دی � سفرنامې یې په پښتنو کې داسې نامې دي چې ان زما په شان سخت دریځي لوستونکي هم خوند پر اخیستی دی � تصویرونه یې صفا، راڼه او پر واقعیت ولاړ دي � یاد مې شي چې دَ پېښور په یوه عالمي کانفرانس کې، چا منکر په ( اووه ګامه مزل ) نیوکه کوله چې دَ بنکاك حالات یې چې بیان کړي، هغه دَ پښتني معاشرې خلاف دي � ما ورته اوویل چې شوق خو څه پښین یا لورالائي منظرکشي نه ده کړې � بنکاك همدا شان دی چې ده ستایلې � سړی استوئ بنکاك ته .. تمه ورنه دَ لورالائي کوئ � په دوو نورو سفرنامو کې هم همداسې ، واقعیت ته وفادار چلېدلی دی � دَ افضل شوق په قلم دې برکت شي چې داسې ملغلرې په خپل قام لوروي"

)سعدالدین شپون ــ " پروني مخونه " وړمبۍ دیباچه ــ2006(

——

........ "ښاغلی لیکوال او شاعر افضل شوق تر اوسه پورې دَ یو سپلاني لیکوال په توګه دَ یونلیکونو ډېرې په زړه پورې بېلګې پښتنو لوستوالو ته وړاندې کړې دي � خو دا دی دا ځل دغه دَ نړۍ دَ بېلابېلو برخو دَ لیدلو شوقي سپلاني پښتون لیکوال دَ یو داسې ناول لیکلو تابیا کړې ده چې هم دَ نړۍ له ننداړو سره تړلی دی ، هم دَ مینې له کیسو سره، هم دَ بېلا بېلو کلتورونو له پېژندنې سره او هم له هنر سره ، له کیسې او داستاني په زړه پورې بیان سره � دَ افضل شوق دغه ناول ډېرې ښېګڼې لري � دَ یو ښه ناول ډېرې زیاتې خوبۍ یې په کې خوندي کړې دي � " پروني مخونه" یو ډېر خوږ ناول دی او په داسې ښه کښل شوی دی چې لوستونکی په پرله پسې توګه دَ ځان په لور کشوي او نه یې پرېږدي چې دَ پاتې برخې له لوستلو یې تېر شي� او دا دَ یو داستاني اثر مهمه خوبي ده او مونږ

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په پښتو ژبه دَ داسې په زړه پوري آثارو کښلو او خپرېدنګ ته ډېره اړتیا لرو � دا دَ ژبې دَ شتنې او اهمیت نښې نښانې دي "

)زرین انځور ــ " پروني مخونه " دومه دیباچه ــ2006(

———

........ "خصوصاً دَ هغه مختصر نظم ډېر ارزښتناك دی � حقیقت دا دی چې دَ ارواښاد ایوب صابر راپس ښه او معیاري آزاد نظم لیکل ډېر مشکل کار دی ، خو افضل شوق چې په مختصر نظم کې دَ خپل فکر ، خیال او موضوع دَ اظهار او ابلاغ کوم کوشش کړی دی ، هغه خپل رنګ، آهنګ ، خوند او تاثیر لري � دَ ده اصل خوبي دا ده ، چې دَ ده په شاعرۍ باندې دَ هیڅ شاعر اُسلوب حاوي نه ښکاري � بلکه داسې محسوسېږي چې افضل خپل اظهار په خپل انداز او الفاظ کې کوي � دَ افضل شوق په شاعري کې بنیادي موضوع ښکلا او دَ ښکلا لټون دی � هغه په حسن نه مړېږي � دَ هغه جمالیاتي تنده دومره زیاته ده چې دَ الطاف حسېن حالي دَ " هی جستجو که خوب سې خوب تر کهاں " غوندې مسلسل تلاش په مرحله کې ښکاري � امکان لري چې دا مجازي مینه یې حقیقي مینه اوګرځي "

)سعید ګوهر � " په لټون ستا دَ ځېرې" مخ ــ 25 او 26(

———

........ "شوق صاحب چې په ژوندانه کې هم په سفر وي .. دَ " هغې" په تکل کې سرګردانه ګرځي � دَ خپل فکر او په دشتونو ښارونو کې هم او په ښکاره هم دَ دغې " پیکر" .. دغې " ښاپېرۍ" تر لاسه کولو او دَ موندلو هڅې کوي � ډېر مخونه اوویني او یقین یې په هر مخ راشي .. چې دا هم " هغه" ده � خو دا د یقین اوبه یې سراب اوخېږي او دَ میني تنده یې ماته نشي � او شوق صاحب دَ وینا مطابق " دَ سلو یار" شو � که زه خطا شوی نه یم � نو دَ شوق صاحب ټول نظمونه په روزمره او ساده الفاظو کې دي خو علامتي رنګ لري او ژور مفهوم په کې پروت دی � افضل شوق صاحب دَ امن او سوکالۍ په ارمان دی � چرته چې دَ میني ټول عمري پسرلی وي .. زور ظلم نه وي .. استحصال نه وي � خوشحالي ، سوکالي وي � دغه ځېره ده چې شوق صاحب یې په لټون پسې اوس هم خپل کوشش جاري ساتلی دی � او دَ مایوسۍ ښکار شوی نه دی � دغه ځېره دَ امن ښاپېرۍ ، دَ امن ناوې ده � لیك یې جرتمندانه او بېباکه دی"

)اکرام الله ګران ــ " په لټون ستا دَ ځېرې" مخ ــ 28 تا 31(

———

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



........ "افضل شوق دَ سهېلي پښتونخوا يو نامتو او مخور شاعر دی � خپل انداز، خپل اُسلوب او خپل يو فکر لري � دَ ده نوم دَ نوي کهول دَ لومړي قطار په ليکوالو کې په وياړ اخيستل کېدلی شي � نظم بالخصوص لنډ نظم دَ ده دَ خوښې ميدان دی چې دَ خپل مافي ضمير دَ اظهار دَ پاره يې خپل کړی دی � دَ فکر ژورتيا او دَ خپل چاپېرچل دَ مسائلو کتنه او مخته راويستل دَ افضل شوق دَ شاعرۍ خصوصيت دی � په شاعرۍ کې نظم او غزل جلا جلا ميدانونه دي � لاکن افضل شوق په دې دواړو ميدانونو کې دَ خپل فکر آّس برابر ځغلولی دی"

)سرور سودائي ــ " شلېدلی امېل" وړمبی فلېپ ــ 1987(

———

......... "افضل شوق يو ښکلی شاعر دی � دَ هغه په شاعرۍ کې خاصکر نظم ډېر خوږلت او تاثير لري � دَ هغه نظم جديد دی او هغه دَ کلاسيکي او جديد ادب ډېره په سنجيدګۍ او ژور نظره مطالعه کړې ده � په غزل کې يې دَ تغزل زور او شستګي ليدی شي � دَ افضل شوق په شعري لب ولهجه کې زړې او نوي استعارې په هنري انداز ليدی شي � دَ هغه په شاعرۍ کې حقيقي عشق او دَ دې انتها په حواله ډېر اشعار موجود دي � دَ افضل شوق دَ شوق انتها او دَ هغه شاعرانه غرور او له محبوب نه کړې ګيلې او شکوې او دَ هغه محبوب دَ لټولو جنون به هغه ضرور په نورو شعرونو ليکولو مجبوروي " �

)راشد کنډي ــ کتاب " افضل شوق ايك شخصيت .. ايك تاثر" مخ 21 او 23 (

———

......... "ښاغلی افضل ادب دَ ليلا مئين دی او دَ مينې په دښته کې يې دَ شوق کېږدۍ خوره کړې ده � په دې دښته دَ ښکلا قافلې ځي او راځي او شوق دَ ښکلا کرشمې ترې راټولوي � کله کله خو دَ شعر دَ پرۍ دَ غاړې امېل ترې دانه وانه کېږي او شوق په ډېر شوق دَ شلېدلي امېل دانه وانه مرغلرې راټولوي � دَ ادب دا لېونی او لالهانده مجنون دَ شوق دَ پېريانو خولۍ په سر ږدي او دَ ښکلا اووه ګامه مزل کوي � هسې ماته دا لټون ډېر ښکلی ښکاري ګ افضل دَ خپل آّئيډيل او معشوق لټون کوي � دا ډېر ښکلی ارمان دی . شوق چې په څه کې دا ښکلی معشوق لټوي ، هغه شيان هم ښکلي دي � افضل شوق بختور دی .. چې يوه ښکلا په بله ښکلا کې لټوي"

)پير محمد کاروان ــ " په لټون ستا دَ څېرې" مخ ــ 32(

———

......... "ښاغلي شوق څه ډېر مشرقي او مغربي ملکونه کتلي دي او هم دَ دې ( خصوصاً مغربي) ملکونو دَ ادب مطالعه يې ښه ژوره کړې ده � نو ظاهره ده دَ هغه په ليك او تخليق کې دَ دغې مطالعې څه اثر به خامخا ښکاره کېږي � او هم دغه سبب دی چې ښاغلي شوق په نظم او نثر کې دَ پښتو روائتي ادب نه ډډه کړې ده � نو ځکه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم دَ هغوئ په هر ليك او تحرير كي دَ پښتو ادب په حواله يوه نوي تجربه محسوسېږي � خو هغه دَ دې ژوري مطالعې دَ تاثر باوجود په شعوري توګه دا كوشش كوي چې هغه دَ پښتو او پښتنو دَ پاره اوليكي او معياري او ليكي � خو دا هم كېدى شي چې دَ شوق دغه معياري او تجرباتي ليك دَ " نن" دَ لستونكي دَ ذهني قوت نه بالا وي.. خو ممكنه ده چې دَ دغه نن لوستونكى دومره ذهني، شعوري او عملي قوت حاصل كړي چې دَ شوق دَ " سبا" دپاره ليك مطالعه ورته اسانه شي � دا خبره مې په دې بنياد اوكړه چې ښاغلى شوق خپله اعتراف كوي چې هغه دَ نن دَ لوستونكي په ځاى دَ سبا دَ لوستونكي دپاره ليكل كوي"

)طاهر آفريدي ــ ناول " پروني مخونه " دريمه ديباچه ــ 2006(

———

...... "دَ جديد نظم په ميدان كې افضل شوق دَ مختصر ترين جديد نظم ښه شاعر ګڼلى شي � په شاعرۍ كې دَ رب نواز مائل شاګرد او ملګرى دى � دوئ نظم او غزل دواړه ليكي .. خو فطري ميلان يې نظم نه دى � دَ افضل شوق دَ نظم موضوعات ډېر سنجيده دي � دَ ده لهجه دَ سويلي پښتونخوا ده چې دَ عامو لوستونكو دَ پاره ډېره سليسه نه ده "

)ډاكټر سلمه شاهين ــ" جديد نظم په پښتو كې" پي اېچ ډي مقاله مخ ــ 445(

———

......... "دَ افضل شوق تخليقي زور او كمال ته چې سوچ كوو ، نو دا خبره مخامخ راځي چې هغه څه هم محسوس كړي دي .. نو په عمل كې يې انتها ته رسولي دي � او دَ هغه دغه تخليقي جنون او فكري لېونتوب نن هغه دَ فن په انتها اودروي � غرض ، دَ هغه شعر دى او كه نثر .. په دواړو كې هغه يو لاره وركى، لاروى ليدى شي � دَ هغه سفر ، دَ هغه دَ ذات سفر نه دى بلكه دَ ځان دَ پېژندنې ، دَ ځان دَ بيا بيا پيداكونې سفر دى � دَ هغه دغه وركوالى هغه ته دَ لټون او تلاش يوه داسې جذبه وركړې ده � چې كله كله دغه وركوالى دَ هغه جسماني وجود هم مشكوك كړي � خو داسې نه ده ، هغه شته او شكر دى ، مونږ ليدلى دى � ډېرو به ليدلى وي � خو دَ ده دَ وجودي اظهار كور نيشته ، وطن ئې نيشته � خو بيا هم دَ ده هره رشته څمونږ سره په هنري او فني جواز موجوده ده ، چې قدر يې هم كوو او منو ئې هم � او بله دا ، چې دَ هغه هنري او تخليقي وجود دَ يو ژوندي او متحركه تحريك په شان څمونږ نه ګېر چاپېر ليدى شي"

)حسينه ګل ــ " په لټون ستا دَ څېرې" مخ ــ 36 (

———

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



........."ښکاري چې شوق سره دَ ډېرو ناهیلو ناهیله نه دی � ځي او دَ هیلو دَ کاروان سره سم ځي � هغه چې یوه هیله ورسره وي .. اودرېدلی چرته شي � شوق خپل لټون انتها ته رسولی دی � په دې خو مسلسل سفر کې ورك دی او ځانته پېری هم وائي � او بله مهمه خبره دا ده ، چې هغوئ خپلې کیسې هم په زیات کمال او په ډېر شوق وړاندې کوي � په کومو کې چې دَ ده دَ جذبو صداقت برېښي � زه ورته زړَور او رېښتونی شاعر په دې وایم چې خبره ښکاره کوي او څه چې احساسوسي ، هغه په شعر کې راکاږي � دَ هغوئ نظمونه مې خوښ په دې خبره شول چې حقیقي او رېښتوني څېرې په فکري هنر او دَ نوي سوچ له لارې داسې څېړل شوي دي � چې هره کیسه دَ لوسنونکي په مزغو کې رقم رقم تصویرونه جوړوي � او زما په اندازه ، همدغه لفظي او فکري انځورګري خو شوق په پښتو شاعرۍ کې له نورو شاعرانو نه منفرده کوي"

)ډاکټر فریده هوډ سپفي _ "په لټون ستا دَ څېرې" مخ _ 39(

---

........."افضل شوق ځمونږ دَ نوي قبیلې یو ځوان او ډېر ښه شاعر دی � شوق که نظم لیکي او که غزل .. دواړه ښه لیکي � زه دَ افضل شوق په شاعرۍ کې ډېره بې ساختګي محسوسوم � او زما په نزد په شاعرۍ کې تر ټولو لوئی کمال هم دغه بې ساختګي ده � په خالي الفاظو او دَ فن په پېچیدګیانو شاعري ، شاعری خو وي .. خو شاید چې دومره اثر په کې نه وي او ښه شاعرکله هم دا پابندیانې نه قبلوي � هغه خو دَ زړه خبره کوي او هغه خبره که په ځان پسخوند وهل وي هم .. نو ځان ترې نه ژغوري � لکه شوق چې وائي

مازې دَ یار دَ موسولو په نیت

ټوکه په ځان کول څه ټوکه نه ده

)سهېل جعفر _ " شلېدلی امېل" دوم فلېپ _ 1987(

---

........."دَ افضل شوق په غزل او نظم کې اختصار لیدی شي ... کوم چې هغه په شعوري توګه کوي � دَ هغه په شاعرۍ کې بنیادي اهمیت دَ احساس دی � سلیم راز صاحب چې دَ شوق شاعري دَ سریالزم په سرحدونو کې داخله شوي ګڼي او سعید ګوهر ورته مجازي عشق نه دَ حقیقي عشق په لور یوُن وائي .. خو زه دې دواړو سره اختلاف کوم او دَ خپلې مطالعې په رڼا کې وایم چې دَ افضل شوق شاعري دراصل دَ ریلزم او سریالزم یو حسین امتزاج دی"

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



)فېصل فاران ــ هفت روزه "روشن پاکستان" نېټه7 �14نومبر 2003(

―――

……… "هر لوئی او رېښتونی فنکار همېشه دَ نوو، خیالاتو او حقائقو په تلاش کې وي او دغه تلاش او جستجو په شوق باندې هم دَ نووْ دریافتونو دروازې خلاسوي � افضل شوق په بنیادي توګه یو سیاح فنکار دی � او په پنجابۍ وئیلی کېږي چې " شوق دا کوئي مول نهین" ( دَ شوق هیڅ قیمت نیشته) ځکه خو دې عالمي شوق وَ افضل شوق ته شهرت ورپه ګوته کړو � دَ افضل شوق سیاحت دَ نورو سیاحانو نه ممتاز ځکه دی چې هغه یو فنکار هم دی � دَ هغه په سیاحت کې چې خومره فن دی .. هومره یې په فن کې سیاحت لیدآ شي"

)عبدالهادي حېران ــ هفت روزه" روشن پاکستان " نېټه 1- 8 جولائي 2003 (

―――

……… "افضل شوق .. چې بې وزره دَ خپلو خیالاتو او افکارو په سهاره الوتی لیدلی شي .. بلکه دَ دې کره ارض سینه یې هم څېرلي ده او مخته اوتی دی � هغه دی خو انسان .. لاکن دَ یو نه ښکاره کېدونکي انسان په رنګه چې جادوئۍ ټوپی یې په سر کړې ده � زما یقین دی چې که دَ هغه په کتابونو باندې دَ هغه تصویرونه نه وی .. نو هغه ته دَ هر قسم څيز شکل ورکول کېدی شو� ماته دَ هغه دَ ورمبۍ شعري مجموعې دَ چاپېدو وخت ښه په یاد دی .. چې هغه یې دَ شهرت وَ آسمانونو ته رسولی ووْ � داسې خو هغه په پښتو کې لیکل کوي خو دَ لیکلو معیار یې انګرېزی، فرانسیسی، اُردو او نورو مخته اوتو ژبو دَ لیکوالانو نه په هیڅ معنا کم نه دی � نو ځکه هغه ته تش دَ پښتو شاعر یا ادیب وئیل .. دَ هغه شخصیت محدود کول دي � ولې چې دَ هغه په افکارو کې آفاقي رنګ دَ عصري تقاضو مطابق لیدی شي"

)رفعت اعوان ــ " روزنامه جنګ کوئټه" نېټه 17 مارچ 2005(

―――

……… "دَ افضل شوق تحریرونو زه داسې په ګرفت کې واخیستم چې ما دَ هغه درې واړه سفرنامې اولوستلې � په پښتو کې دَ هغه سفرنامو دَ یو نوي انداز رواج راویستو� په خپل ځانګړي طرز کې افضل شوق په ادبي دُنیا کې ډېر اوچت شهرت لري � شاعر خو هغه .. اول هم ډېر مقبوله دی � دَ هغه مختصر نظمونه چې هغه په یورپ کې لیکلي دي هم دَ منظومې سفرنامې حېثیت لري � دَ کوم دَپاره چې هغه دَ شاباشي مستحق دی � دَ هغه په سفرنامو دَ قاري دپاره دَ دلچسپیانو سره سره عمراني مطالعې او معلومات قدم په قدم لیدلی شي" �

)عمرګل عسکر ــ " روزنامه جنګ کوئټه" نېټه 19 مئي 2005(

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



......... "کله چې ما دَ افضل شوق نوئاَ کتاب اولوستلو ، نو ماته دَ نوي عالمي ادبي اصطلاح را په یاده شوه � افضل شوق باچا سړی دی چې کتابونه په ملګرو کې مُفت تقسیموي � او دَ مارکېټنګ هیڅ شوق نه لري � لاکن که دَ افضل شوق دغه دلچسپه کتابونه که په یورپ کې په انګرېزي ژبې کې چاپ کېدلو .. نو په لکهونو کاپیاني به یې خرڅې شوي وی � دَ هغه په سفرنامو کې نه یواځې دَ سفر حالونه دي بلکه په دې کې دَ هر لیدلي ملك ادبي، ثقافتي، سیاسي، سماجي او معاشرتي صورتحال او معلومات هم لیدلی شي � دَ هغه په سفرونو کې دَ قره العین حېدر دَ ګلګست خاصې هم شته او دَ " نیو ریالزم" تهیوري هم ..ځکه په فن کې ځمونږ افضل باکمال دی"

)فاروق سرور ــ " روزنامه جنګ کوئټه" نېټه 16دسمبر 2004(

......... "سفرنامه لیکل دَ هر چا کار نه دی � ما ډېري سفرنامې لوستي دي چې دَ کتاب په سر یې سفرنامه لیکلي وي � خو ولې هغه خو یا رپورتاژ وي او یا یوه ډائرۍ � خو افضل شوق چې کومې سفرنامې لیکلي دي .. هغه په ریښتیا سفرنامې دي � ځان یې پسې ګرولی دی � په کور کې یې څه خیالي سفرنامې نه دي لیکلي � دَ هغه په سفرنامو کې داسې محسوسېږي لکه چې دا بیان .. بلکه په حقیقي نظر دَ ٓ دغه مقام سپل کوي � افضل شوق یو داسې معتبر نوم دی چې دَ لر وبر او جنوبي پښتونخوا لیکوال یې نوم په ډېر ادب او احترام اخلي � هغه که نثر لیکي او که نظم .. په دواړو کې یې ډېر زیات مهارت دی � بلکې زه خو بعضې بعضې لیکولانوته .. کوم چې دَ سفرونو شوقیان دي او سفرنامې لیکي وایم � چې دَ سفرنامې چل دې دَ ښاغلي افضل شوق نه زده کړي"

)مصور قرېشي ــ " روزنامه وحدت پښور" نېټه 19 فروري 2005(

......... "افضل شوق چې تعلق یې دَ کوئټه بلوچستان نه دی ..دَ پښتو ژبې یو ډېر ښېژندلی ادیب او شاعر او مشهور سفرنامه نګار دی � هغه چې څومره ادبي کتابونه هم چاپ کړي دي .. دَ پښتو سنجیده قارئینو کې ډېر زیات خوښ کړي او ستائلي دي � هغه دَ یورپ په سفرونو کې دَ هر ځای او ښار وَ هر هغه څیز ته ګوته نیولي ده .. چې یو بهترین او کامیاب سفرنامه نګار یې قلم بند کوي � هغه دَ هر ملك او ښار دَ اوسېدونکو خلقو بودوباش نه علاوه تهذیب وتمدن ته دَ یو ښه صحافي په نظر هم کتلي دي � دَ پښتو په لیکلی شوۈ روائتي سفرنامو کې افضل شوق په ورمبي ځل انفرادیت او جدت ځکه پیدا کړو� چې هغه دَ محل وقوع په مناسبت دَ هري خبري آغاز کوي � او دغه خاصه دَ هغه په نظم لیکلو کې هم لیدی شي "

)سنډې مېګزین .. " روزنامه مشرق پښور" نېټه � 7 نومبر 2004(

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

......... "لېوني مې ډېر اولیدلوخو دَ شوق غوندې لېونی مې هیچرته نه اولیدو � چې په فټ بال اخته شو ، نو له فټ بال سره ي دَ مجنون غوندې عشق شروع کړو� چې دا تنده یې ماته شوه ، نو دَ شعر په لېونی لوبه داسې اخته شو � چې په یوه وخت کې به یې درې څلور منظوم شیان اولیکل � دغه رنګه چې دَ کمپیرنګ په موذي مرض اخته شو .. نو له رېډیو پاکستان کوئټې نه پښتو " امېل" پروګرام یې دومره په مستۍ کامیابۍاو په شوق شپږ کاله مسلسل اوچلولو .. چې فلمي هېروئینې مسرت شاهین غوندې یې دَ ستورو په شمېر خپل پرستاران پیدا کړل � او بیا چې په سیاحت بوخت شو .. نو او س چې یې حال کوې ، نو پته به اولګي چې فلاني ملك له لاړ دی �

)پروفېسر محمود ایاز ـ میاشتنۍ مجله .. " لیك " مئي جون 1996(

---

......... "افضل شوق زمونږ دَ دې سیمې نه بلکه دَ پښتو ژبې هغه خوږ ژبی شاعر دی چې پښتو ژبې او پښتون قام ته ورپېښې سترې او دَ هغو سترېو دردونه دَ ده دَ شاعرۍ بنیادي موضوعات دي � ځکه خو دَ شوق په شاعرۍ کې دَ غم جانان سره سره غم دوران ډېر نمایان دی � دَ شوق صاحب شاعرانه احساس مونږ دَ ده په غزلو او نظمونو کې ښخې واضح لیدلی شو � ځکه چې دَ شوق صاحب نظمونه واقعي دَ خپل وسعت او اثر په وجه په پښتو ادب کې ځانته جلا او بېل مقام لري"

)فېض محمد شهزاد ـ "جرس نظم نمبر" کال 2001 .. مخ 1009(

---

......... "( دَ افضل شوق دَ یوه نظم دَ لاري) .. هغه که له ژونده تنګ دی او ژوند دَ خپلو اوږو بار بولي .. هغه دَ نن دَ بې حسي ټولنې ساړه لاسونه دي چې دَ انسان دَ مینې ګرم وجود یې په ساړه او بې حسه وجد بدل کړی دی � دَ ماده پرستۍ زهر یې دَ انسانانو مینې، کلي او ښارونه په ژوندۍ ادیره بدل کړی دی � افضل شوق دَ ژوند دا ظاهري ښکلا نه قبلوي � دئی دَ نن ښائست او تش دَ بې معنا لفاظي قائله نه دی � افضل شوق دَ مینې له جذبو ځخه خلاسې رشتې تش ګلان ګڼي � افضل شوق دراصل دَ نظم شاعر دی � دَ ده کوچني مګر جامع نظمونه دَ ده وَ شاعرۍ ته ژوند وربخښلی دی � دَ ده جذبې دَ لفظونو محتاجه نه دي بلکه لفظونه دَ ده په جذبو دَ ځان تول زیاتوي � دئی دَ نظم ګو شاعرانو په صف کې ځان نه دروي .. بلکه دئی خپل نظمونه دَ نظمونو په صف کې دروي � افضل شوق نه دَ مقابلې ښکار دی .. نه دَ شهرت په تلاش دی او نه دَ صف بندۍ قائله�

)نصیب الله سیماب ـ "جرس نظم نمبر" کال 2001.. مخ 1121او 1123(

---

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



"افضل شوق ته نذر"

دَ سفر شوق دي سترې مه کړه دَ فکرونو اوږې

دَ اروپا نه دي پښتون کور ته سوچونه راوړل

دَ امنيت خوب دې رښتيا شه په ښايست مئينه

بارودو سوۡ سترغليو له دې خوبونه راوړل

*****

دَ روم،اټلي،سپېن،جرمني،سکاټ لېنډدَهرځای چې وي

پري زادګيو او خوشبويو پسې شوق کړی يُون دی

مطالعه ده ، تجزيه که مطلب تنده ده

ويړ کائنات کې دَ ښکلا دَ سرچينې لټون دی

*****

دَ نظر تنده دې سړه نه کړه دَ واورو کوڅو

دَ طلب سترګې دې لا نور نور منظرونه غواړي

دَ کائنات دَ مصور دَ هر شاهکار په لټون

شوق دی دَ ويړ جهان دَ ګوټ ګوټ سفرونه غواړي

*****

دَ ژوند او ژواك، خوراك او څښاك په باب به وي مهذب

ټول دَ هوس درياب کې ډوب دي ناخبر دَ ځانه

دَ مقدسو رشتو نرخ تر سرې کاسېرې کم دی

رقص دی ، نغمه ده ، خوشبوئی دَ آزادي پريمانه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



*****

منمه شوقه! په اُلفت کې هم افغان ګڼې ځان

لېمه دي ټيټ کړه سرلوړي دي د َ ځان اوساتله

يو " ونېسا" څه ، ترتا ټولې پېرنګۍ شه قربان

دَ سيالو سيال وې او پښتو دي په کې اوپاللا

*****

چې سائې خپلو کې ګډېږي او يو کېږي سره

"دَ مقدس ښار فرېبي ژوند" په راز پوهی شوې که نا؟

دَ لاراکُوك هغه کلك خواست دَ ډانس دي ولې رد کړو؟

دَ سېلاني پښتون دَ زړه په آّواز پوهی شوې که نا؟

*****

دَ جذبو جنګ چګې چرته خوړ شي ته ترې لري تښتې

ته دَ مغرب دَ دروغجنې موسکا نيت پېژنې

تا دَ سفر داستان کې راز دی دَ قدرونو نغښتی!

دَ خپل فطرت په ضد افضل يې پښتون پت پېژنې

*****

مائيکل اېنجلو ته هوسېږي سرې مخمورې پېغلې

که خنده رويه دي دولت ګټي ....... جنسي آّلې دي

او دَ موزارټ په موسيقي مستې مسرورې پېغلې

دَ محبت دپاره هر زړه ته دَ سرو تالې دي

*****

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



تا ته دَ خپل وطن دَ خوارو خواره ورځ ښکارېده

دَ ائيفل ټاوْر دَ نظارو په ښکلاګانو کې هم

په خپل وطن کې دَ بارودو بُوئ دې نه هېرېده

دَ خوشبويانو دَ هېواد په خوشبويانو کې هم

*****

تا دَ لندن دَ سرېتوب پټې څېرې اوليدې

په ځان مئين دي په شراب او په دولت مئين دي

په انګوري اوبو چي ګ پائي دَ عربو ..... شېخان

دين يې بدنام کړو په هوس او په شهوت مئين دي

*****

لفظي تصوير دي هر منظر کړو په هنر او کمال

ځان دي غلام نه کړو دَ مستو سحرګرو سترګو

څومره يادونه په کې عکس شو دَ ښائست او جمال

در جار شم شوقه! ستا له ښکلو انځورګرو سترګو

*****

ته اېشين وې ، ته پښتون وې که نا بل څه چل وو!

توپير دي بد ګڼه انسان وې هغه سپين وې که تور

"مزل په واورو باندې" ګران وې خوهمت دې مل وو

سفر دې اوکړو په اُميد " دَ لمر دَ کلي په لور"

*****

دَ خوشحالۍ دَ ورځو شپو سپرلی ارمان دَ وطن

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ نرئيزو سپلانيانو دَ قطار سالاره

دَ امن ناوېِ ته لېواله واړه جنجيان دَ وطن

ته دَ پښتون سنګر دَ خوب تعبير يې شوقه ياره

��������

دَ افضل شوق دَ دووْ سفرنامو" مزل په واورو باندې" او" دَ لمر دَ کلي په لور" په تاثر کې دا نظم اوليکلی شو � دغه دَ يورپ سفرنامې په پښتو ادب کې يوه ګټه وره اضافه ده او دَ يو پښتون سپلاني شاعر، اديب، سفرنامه نګار دَ پښتو سره دَ بې کچه مينې يو نه هېرېدونی ثبوت دی "

)نورالاسلام سنګر _ اسلام آباد کال 2005(

---

ايوارډ

تا په ازغو دَ مزلونو جوړ قسم کړی دی

چې دَ احساس درد دې راوينښ شي

نو دَ کوره اوځې

په کلو ګرځې

په ښارونو

په ملکونو ګرځې

دَ ښاپېرو،

دَ ګل غوټو مېلو کې ځان هم ورك کړې

"دَ يو خبرې په لټون" خومره خبرې

خپلې ګڼې ؟

دغه لټون

او دا تلاش دې څه بې شانه ښه دی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما پښتو ته دې پرې څومره ډېر څه اوګټلو

ستا دَ هنر دَ رڼاګانو دُنيا خړه مه شه

ستا پښتنې ارمانپه فکر کې لوخړه مه شه

زما پښتو په دې رڼا

او ستا په فکر پائې

ته چې شاعر يې

ته چې مينه غواړې

حسن غواړې

دغه غوښتنې هم دَ دغسې فطرت خاصه ده

ستا دَ " شلېدلی امېل" ټولې جذبې

ماته دَ حسن دَ ښکلا دَ باغ سندرې وائې

دغه " شلېدلی امېل" داسې چې دانه وانه دی

دَ دې امېل دانه وانه مرۍ زه داسې ګڼم

لکه زما دَ پښتنو خواره واره هډونه

دا که راغونډ شي

نو زما وجود به وده اوکړي

دا که راغونډ شي

ته به هم دَ سکون ساه واخلې

دا که راغونډ شي

نو زما هستی به

دَ دُنيا لوئې هستۍ اومنې..

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



تسلیم به یې کړي

بس دَ جذبو او دَ هنر سفر دې

دغسې په منډه اوسه

په دې سفر کې

دَ " اووه گامه مزل" سندره هېره نه کړې

دغې سندرې خو دَ هر فکر اظهار کړی دی

دغه سندرې خو هم ستا وجود

او ستا نامه هم

په گل درو

او په گل مخونو داسې اوشیندله

لکه دَ پېغلې دَ اوربل خوه وره خوشبوئي

لکه زما دَ پښتني وجود دَ عطرو خوله

دغه سندره که زما او ستا دَ خیاله اوځي

نو دَ خیالونو او رنگونو چم به غلی نه شي؟

منم چې ته دَ انعامونو نه بې نیازه گرځې

په اېوارډونو دې څه کار نیشته دی

خو یو اېوارډ او یو انعام

خو داسې هم وي گله!!

چې دَ خپل قام دَ اولس زړونو کې

یو ځای اولري

دغه انعام شاید چې تا اخیستی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه اېوارډ لکه هم تا ګټلی

)حسينه ګل � " درې مياشتېنی جرس کراچی" ګڼه 47 مه، مخ � 88 - 89(

## افضل شوق دَ سيلالو ژبو دَ ليکوالانو په نظر کې

)دَځينو نورو پښتو نقادانو او سيلالو ژبو دَ ليکوالانو تنقيدي آراء .... ، چې دَ امريکائي شاعرې او ليکوالې الې بولنګ له اړخه دَ افضل شوق پښتو شاعرۍ په انګلسیژبې کې ژباړلو سمدستي دَ "ټوئيسټ آف فېټس" په نامه کتاب کې په ريکارډ باندې راغلي دي� زه غواړم چې دَ نيټ دَ لارې خپل دا تنقيدي زيار دَ نورو نقادانو په رائيو هم مثبت او منطقي دليل ته اورَسوم - چې دَ ښاغلې شوق دَ ادبي کړاؤونو او فکري سترړوحق پرې ادا شي - ځکه زه دا مناسب ګڼم چې دا لاندې ورکړل شوې رائيې دَ انټرنيټ دَ دې برخې په ذريعه خلقو ته اورسوم - حسينه(

---

...... "دَ شوق په شاعرۍ کې نوې فکري عکسونه او موضوعات دَ نړۍ دَ خلګو توجوه ګټلو سوب ګرځېدلی شي- ولې چې دَ هغه په ليک کې داسې خوبونه مخې ته راځي چې په کې دَ يو مکمل انسان څېره داسې څرګندېږي چې په وينبه ليدل يې له امکان نه وتی خبره ده � لاکن دَ دې شاعر مسلسل لټون زه په دې مجبوره کړم چې دَ افضل شوق افکار نړۍ ته په دې نيت وړاندې کړم چې په بېلابېلو جغرافيائي څنډو کې دَ مېشته شوؤ انسانانو تر منځه دَ ژبو ، مذهبونو او کلتوري توپير پرته هم تر خپلوحياتياتي بنې، خندا ژړا، مطالب، حاجتونه، مينه او دَ نفرت اظهار، تنده لوږه .. هن چې دَ ژوند او مرګ سره هم په يو رنګه دږدونو او کېفيتونو کې مخامخ کېږي � هيله کوم چې شوق به خپل دغه لټون او ليک دَ يو بل سره ګندلی وَلري "

)الې بولنګ .. امريکا - " ټوئيسټ آف فېټس" مخ - ۱۰ او ۱۱ (

---

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



..... "دَ افضل شوق فکر او خیال ډېر اساسیت په دې خبره لري چې هغه انسان دَ خپل فطرت په سمون وړاندي کولو هڅه کوي � هغه مینه غږَوي .. دَ یو تجربه کار مینه وال په حېثیت او هغه درد او خوندپه خپلو افکارو کې احساسَول غواړي چې انسانان یې متلاشي دی"

)اندریا سرکاني .. رومانیا- " ټوئیسټ آف فېټس" - مخ ۹ (

---

..... "داسې خو دَ هرې ژبې دَ شاعرۍ یا ادب ژباړه کېږي خو زما په خیال چې زمونږ په هېواد کې داسې مثالونه ډېر کم دي چې دَ یو انګرېز دَ لاسه په انګرېزۍ کې دَ قامي ژبو او په خاص توګه دَ پښتو ژبې دَ افکارو ژباړنه شوی وي � خو دَ افضل شوق دَ ۳۳۳پښتو نظمونو ترجمه دَ امریکائي شاعرې او آرټسټې الې بولنګ په خوږه امریکائي انګرېزي لهجه کې یو مثال دی � کوم چې دَ ښاغلي شوق دَ شاعرۍ آفاقی رنګ ، خوند او فکري اهمیت یو په دوه زیاتَوي � دَ الې بولنګ دغه کتاب" ټوئیسټ آف فېټس" دَ افضل شوق دپاره یو غټ اعزاز دی چې دئی ممتاز کوي په پښتو شاعرانو کې" ...

)افتخار عارف .. چیرمېن اکادمي ادبیات پاکستان - ریکارډ شوي رائیې" دَ ټوئیسټ آف فېټس مخکتنه - اسلام آباد � نېټه .. ۲۱م ستمبر۲۰۰٦ (

---

..... "محترمې الې بولنګ دَ مشرق او مغرب تر منځه پُل جوړ کړو چې کله یې دَ افضل شوق پښتني شعري افکار مغربي دُنیا ته وړاندې کړو � یعني افضل شوق چې کومې ایندارې دَ خپل قام او ملت په حقله وړاندې کول غوښتلو .. هغه الې صاحبه ممکن کړو او دَ شوق شاعرۍ یې په انګرېزۍ کې واړَوله � ځکه خو نن په ټوئیسټ آف فېټس باندې ستر نقادان خبرې کوي"

)شېرباز خان .. نمائنده روزنامه ډان اسلام آباد - دَ چاپ نېټه - ۲۲م ستمبر ۰٦� مخ ۱۹(

---

..... "دَ هغه فکري اپروچ په حقائقو باندې اړه لري � هغه دَ یومثالي شخص په تلاش کې لیدل کېږي - او انسانان په دې خبره پارَوي چې هغوئ دَ هغه څېښتن سره رښته دَ رښتوني انسانانو په څېر اوساتي چې هغوئ یې تخلیق کړي دي"

)ارناني � آئي � پاپیتو .. فلپائن � " ټوئیسیټ آف فېټس" مخ ۹(

---

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



.... "په ادب کې ترجمه هرکله داسې رول ادا کوي لکه يو پُل چې دَ دوؤ ژبو دَ لوستونکو تر منځه جوړ شي - لاکن چې کله ترجمه دَ نړۍ ژبې انګرېزۍ کې کېږي نو دَ دې مطلب دا وي چې خبره دَ نړۍ په سر منظر عام ته جوړه شوه � نو ځکه زه دې پښتون شاعر افضل شوق ته دَ هغه په نړيوال کېدلو اومبارکي ورکوم"

)ډاکټر طارق رحمان .. اسلام آباد - ټوئيسټ آف فېټس مخکتنه � نېټه ۲۱م ستمبر ۲۰۰٦(

---

.... "دَ افضل شوق نظمونه څومره چې وړوکې دي ، هغومره تاثير ناکه هم دي � مثال يې دَ توپک دَ ګولۍ دی چې وي وړوکې خو انسان وجني"

)هاشم بابر .. اسلام آباد � خېبر ټي وي چېنل / ټوئيسټ آف فېټس � مخ ۷ (

---

.... "زه داسې محسوسَوم لکه افضل شوق چې هغه څه ليکي کوم څه چې زه ليکل غواړم � ځکه خو هغه او دَ هغه افکار راته خپل خپل ښکاري - دَ هغه لفظونه دَ لوستونکي دَ ذهن دَ خوښې خوراک جوړېدلی شي - دَ هغه دَ شاعرۍ لوستلو ورسته زه په دې نتيجه اورسېدم چې دَ هغه په افکارو کې رومانيت له محروميانو سره اوږه وهي - غربت، مرګ ژوبله ، بې انصافي ، او غېر انساني روئيې دَ هغه ذهن او زړه په لړزان کړی دی - دَ افضل شوق په شاعرۍ کې ډېر زيات نظمونه زما خوښ دي � زه دَ هغه په شاعرۍ کې اختصار خوښَوم � هغه په څو لفظونو يا مصرعو کې لوي کيسې وړاندې کوي - ځکه زه له ګرانو لوستونکو هيله کوم چې زما دغه ډېر ښه ملګری افضل شوق شاعرۍ به وَ لولي او خوښه به يې کړي"

)ماليسا لونډين ... امريکا - " فار دي لو آف ورډز- "خېبر واچ " اي مېګزين ("

---

.... "دَ پښتو ادب ژباړنه داسې خو په اُردو، پنجابۍ او نورو قامي او مقامي ژبې کې شوې ده خو دَ افضل شوق دَ پښتو شاعرۍ دغه انګرېزي ژباړه ځانګړې حېثيت لري او دلته دا خبره ځرګنده شوه چې دَ مشرق سيمه ايز افکار که په ښه توګه قلم بند شي نو دَ مغرب لوستونکي متاثره کولې شي .. لکه افضل شوق چې دا خبره ثابته کړه چې هغه نه يوازې دَ پښتنو شاعر دی بلکه دَ هغه فکر ته مغرب هم ګوته په غاښ دی - شوق هم لکه غني خان ځانته دَ نظم ميدان خوښ کړی دی او نوم په کې ګټې لګيا دی � دَ افضل شوق زيار دَ ستائينې وړ دي"

)خرم خرام صديقي ... اکېډمي ادبيات پاکستان - بلوچستان ټائمز کوئټه ( �

---

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



….. "افضل شوق دَ مئين زړه او خوبَولي ذهن شاعر دی - هغه دَ امن په هيله انسان دَ انساني روح سره ملګری خوښَوي - هغه رښتيا په ګوته کوي او لوستونکو ته حقائق وړاندي کوي - دَ" ټوئيسټ آف فېټس" لوستلو ورسته ما په هغه کې انسان دوسته شاعر وَ لټوَلو - دَ هغه په نظمونو فکري چينې دَ ژوند ارتقاء عمل په زړونو کې ځای جوړَوي - او معروضي ( وقتي ) حالاتو دَ اثراتو ښخه يې متاثر ګڼي - هغه دَ وخت سره سم په وړاندي روان ښکاري - لکه نور شاعران چې هغه دَ خوب شاعر ګڼي ، زما هم داسي رائيې ده خو هغه خوب ته حقيقي رنګ ورکوي - ځکه خو اوريجنل محسوسېږي - دَ شاعر شاعري ژوره فهمه او سدا بهار ده- او راتلونکی نسل هم ورنه استفاده کولی شي � دَ هغه شاعری زړه راښکونکې ده او زه ورته دَ لوی عمر دُعا کوم چې هغه دَ خپل قام قيمتي غمی جوړ شي"

)بېنيتا پرېم چند .. کېنتا وېلي ، پېراک ملائيشيا - خېبرواچ � اې مېګرين /

بلو چستان ټائمز - مخ - ۱۰(

---

…. "آرټ او لټرېچر هغه يوازينۍ لارې دي چې امن يقيي کوي - ولې چې دَ ادبي فکر هيڅ چرته پُولي نه وي - زه دا خواهش کوم چې دَ افضل شوق او الې په رنګه که ادب تر لرې لرې پورې اورسَولی شي نو انسان به انسان ته نيږدې شي - او دا خبره به مخې ته راشي چې انسانان ټول يو رنګه دي"

)شېزي زيدي .. تبصره نګار روزنامه " دي نيوز اسلام آباد- نېټه ۲۲م

ستمبر ۲۰۰٦ � مخ � مېټروپوليټن ۴(

---

…. "افضل شوق دَ خپلو افکارو په بنياد دا خبره په ډاګه کوي چې انسان چې هر چرته وی .. انسان دی - نو ځکه دا شاعر ځانته پښتون سره سره انسان هم وئيلو کې وياړ محسوسَوي � کوم چې دائی په نورو قاموالو مفکرانو کې مخه ور کوي"

)طارق شاهد .. اسلام آباد � روزنامه" جناح اسلام آباد" نېټه � ٦ستمبر ۲۰۰٦(

---

….."افضل شوق دومره آزاد دی لکه آزاد نظم ، خو دَ ده فکري زغل دَ دُنيا تر ګوټ ګوټ پورې دی او دئی غواړي چې دُنيا ته خپل افکار اورسَوي - يو خواته افضل شوق شي او بلې خواته امريکن الې بولنګ ، خبره به ولې دُنياوي رنګ نه اخلي � افضل شوق دَ يخې شوې انساني روئيو ته تاؤ ورکول غواړي � هغه انسان په مثالي بنه لټول غواړي "

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



)ډاکټر شېر زمان طائزی � روزنامه "ډان" / روزنامه "دي نيوز" ۲۰۰٦(

---

..... "زه دَ ګرانې الې بولنګ دَ خبرې سره متفق يم چې مونږه ټول ټال انسانان، يو رقم يُو - زمونږ جذبات، احساسات او حاجات يو رقم دي - زه په دې هم اتفاق کوم چې شاعرۍ ارومرو نشي ترجمه کېدای � لاکن فکر او خيال په خپلو خپلو ټکو کې اړولی شي � لکه الې بولنګ په ډېره ښه طريقه دَ افضل شوق شاعرۍ انګرېزۍ ژبې ته اړولې ده"

)ډاکټر قابل خان .. اسلام آباد � ټوئيسټ آف فېټس مخکتنه / بلوچستان ټائمز ۲۰۰٦(

---

.... "يو څاڅکی دَ باران هغه دی چې په سمندر کې دَ سيپي په خلې کې ورلوېږي او موتي ترېنه جوړېږي او بل څاڅکی هغه دی چې په ډېران لوېږي چې دَ سخا څيزونو نه نور نور بد بُوی راوکاږي - داسې هر څوک شاعري کوي خو افضل شوق موتيانې پېرې او خپل اثر پرېدي - افضل شوق ژوند ته په حقيقي معنو کې ګوري او خيالات يې لوستونکې متاثره کوي � زه دَ شوق دَ شاعرۍ دَ يوې عامې لوستونکې او پرستارې په حېثيت ډېره مينه په يو نظم " لو اينډ سېنټيمنټس" کې وړاندې کوم ،

توره شپه وه

وېرېدمه خو يو کس راته ويلو

"مه وېرېږه

ګوره زه تا سره جوغت ولاړ يم"

دومره وئيلو ورسته يې

په سترګو کې دوې سترګې

رااچولو ورسته اوويلو

"زه انسان يم

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



تاسره مینه انسان په رنګ کومه

هله راشه زما ځنګ ته"

او چې زه یې شوم تر ځنګه

نو ما اولیدو په خپلو سترګو باندې

یو انسان دَ هغه کس سترګو کې

چې ماته خپل خپل ښکارېدلو

لکه هغه چې هم زه یم

زه چې هم هغه یم

)پښتو ته دَ انګلش ژباړه .... سیده حسینه ګل (

)زېني ډیسوجا ... انډیا - شوق ته اي مېل دَ انټر نیټ دَ لارې(

حسینه ګل

زیارت کاکا صاحب _ نوښار

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## افضل شوق دَ پُوښتنو په رڼا کې

کله هم یو شخصیت څوك دَ هغه دَ فن یا دَ فکر په حواله نه خو صحیح پېژندلی شي او نه یې لیدلی شي ـــــ افضل شوق ما لیدلی هم دی او زه یې پېژنم هم .. او دا زما هاغه دعوه ده چې ښاغلی افضل شوق زه دَ خپلې پېژندګلو په اساس په دې پوښتنو کې دَ هغه نورو ټول پښتنو ته په یو نوي، جدا او منفرد رنګ کې نه یواځې دَ خپل فکر او فن په یو فني او هنري بڼه کې دَ وړاندې کولو کوشش کوم ــــ بلکه دَ ادب په حقله دَ هغه دَ نظریاتو، دَ هغه دَ مطالعې یو صحیح تصویر تاسو ته هم وړاندې کوم � دا پوښتنې ما دَ هغه نه په بېلو بېلو موقعو کړې دي�

ورمبۍ پوښتنه

حسینه- ستا په باب هیڅوك دا نه شي وئیلی چې ته څوك یې او څه

کول یا لټول غواړې؟؟

شوق - انسان یم ، انسان اوسېدل غواړم.. او داسې انسان لټول غواړم � چې هغه په هره معنا واقعیانسان

وي .. دَ انسان په رنګه اشرف المخلوقات انسان �

خو.. دومره وئیلو ورستو افضل شوق چپ پاتې شو او داسې ښکاره کېدو لکه هغه چې څه وئیل غواړي .. خو ژبه ورسره ملګري نه کوي � خواوشاته یې په مرو اوکتلو او په نرۍ معصومه موسکا کې یې .. هرڅه داسې راونغاړلو � لکه هغه چې هیچرته انسان نه ویني او خپله هم دننه مات رامات شوی وي � او اوس بیرته ځان رغول غواړي .. ځان او ذات دَ انسان په توګه تکمیلول غواړي .. دَ یو رښتوني انسان په بڼه � خو، څنګه ؟ شاید چې دَ دې خبرې ځواب دَ هغه سره هم نه وو .. ځکه خو چپ وو او په ورمبي ځل ما خندنی افضل شوق دومره سنجیده لیدلی وو � په دې مې خبرې په بله واړولې

دومه پوښتنه

حسینه- دَ موجوده پښتو ادب په حقله ستاسو فکر؟

په دې پوښتنه ښاغلی افضل شوق مایوس هم ډېر وو او څه قدرې جذباتي هم .. ده اووې چې...

شوق - نن سبا په پښتو ادب کې بازاري قسمه ادب میانځ ته راوړلی شوی دی � پښتانه ادیبان شاعران دَ

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



مقدار خیال خو کوي .. خو دَ معیار لحاظ نه ساتي .. زما په خیال که دَ ادب معنا هم دغه ده .. نو بیا خو زمونږ کلاسیکي ادب دومره موړپټ دی .. په خپلو کلاسیکي روایاتو دومره ښکلی دی چې نور ادب مونږ ته هډو لیکل نه دي په کار � ځکه چې پښتانه ادیبان شاعران په مقامیت زیات یقین ساتي او دَ مودو راسې هاغه زاړه موضوعات دي .. چې دَ ادب په نوم لیکلی شي � خو کوم ادب چې خوشحال بابا، حمزه بابا، غني خان ، قلندر ، کاظم خان شیدا او رحمان بابا تخلیق کړی دی .. نو هغه کافي دی � ولې چې دَ نن شاعر ادیب دَ وخت دَ غوښتنو خیال نه ساتي � انساني ژوند او انساني تهذیبونه چې څومره مخ په وړاندې روان دي ،، که چرته ادب دَ یوې ژبې دَ تهذیب په اصلي معنو کې عکاسې کوي نو بیا دَ پښتو ادب دا حال ولې دی؟ پښتانه دومره ورستو پاتې خو هم نه دي � چې شاعران او ادیبان یې دَ عالم نه ورستو ښودلو کوشش کوي � او خبره دا ده ، چې دَ هغوئ ادب دَ نن تقاضې ولې نه پوره کوي؟ دې سوال چې کله هم په پښتو ادب کې ځواب پیدا کړو، نو هله به دا وائیو چې پښتو هم سیاله ژبه ده ګنې دَ نن ادبي جنګې روئیې دَ پښتو په حق کې نه .. بلکه دَ پښتو دَ تشخص ساتلو خلاف ښکاري ..زما دَ ژبې ادیب یا شاعر داسې ولې کوي ؟ کېدی شي چې دَ دې سوال ځواب چا سره وي .. خو دَ خبرو تر حده�

دَ ښاغلي افضل شوق دَ دې نظریې په اورېدو زما په ذهن کې یوه بله پوښتنه راولاړه شوه چې .....

دریمه پوښتنه

حسینه- دا ته کوم لیکل کوې..کوم أسلوب چې تا خپل کړی دی ، په دې خو پښتانه دَ سره هډو پوهېږي نه ..

نو ته دَ چا دپاره لیکل کوې ؟

دَ دې پوښتنې په ځواب کې ښاغلي افضل شوق اووې چې..

شوق - زه دَ نن دَ پاره لیکل نه کوم .. خوشحال بابا او رحمان بابا ته خو هم دا پته نه وه چې زمونږ لیکل به دومره عالمګیریت او آفاقیت مومي � او هسې هم دَ یو فنکار دَ یو شاعر ادیب ژوند خو دَ مرګ نه پس شروع کېږي � زه دا منم چې زما لیکل دَ نن دَ وخت دَ نقادانو دَ پاره دَ اعتراض او تنقید یو جواز خو دی .. خو دغه لیکل به زما .. دَ پښتنو دَ تاریخ یوه برخه خامخا جوړېږي � په ادب کې چې دَ جدیدیت کوم أسلوب ما خپل کړی دی .. دا دَ نن دَ وخت دَ حالاتو دَ غوښتنو عین مطابق دی ..او که زه دَ وخت په رفتار او دَ زمانې په حالاتو دَ پوهې شعور لرم .. نو زما دَ لیك دا موجوده معیار به دَ سبا نقاد ضرور منې!! ..

څلورمه پوښتنه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



حسينه- په پښتو ادب کې دا دومره ډېر حقائق چېرل، ريښتيا ليکل .. دا دَ ادب معنويت ته خو نقصان نه رسوي؟

افضل شوق اووي ..

شوق - شاعر دَ قام سترګې دي .. چې په خپل ماحول کې څهويني ګوري .. دَ هغې صحيح عکاسي به هغه په خپلو ليکونو کې کوي � خو زه دَ يو شاعر اديب کردار دَ يو حکيم او طبيب هم ګڼم .. هغه لحظه په لحظه دَ خپلې ټولنې دَ رنځ وهلي وجود په نبضونو ګوتې کېږدي او دَ خپلې ټولنې مرضونه معلوموي، دَ هغې تشخيص او علاج کوي � زه هم په خپل دغه کردار کې خپله ذمه واري پوره کوم ... دَ خپلې معاشرې رنځونه تشخيص کوم .. او علاج يې هم تجويز کوم .. دغه علاج که په دومره ډېرو ريښتيا وئيلو او ليکلو کې وي .. نو زه په دې حواله دَ مصلحت نه کار نه اخلم � زما مطلب دا دی چې زه ملېريا ته زکام او دَ خېټې درد ته سر درد نه شم وئيلی � او دا غواړم چې نور اديبان شاعران دي هم دَ مصلحت نه کار نه اخلي او په ډېر صداقت او ريښتونولۍ دي دَ خپلي ژبې او ادب دَ پاره خپل کردار تر سره کړي � ځکه چې دَ شاعر کردار دَ يو تاريخ برخه جوړېږي او تاريخ دَ دروغو په حوالو نه جوړېږي ، بلکه په ريښتياوْ خپل وجود جوړوي�

پنځمه پوښتنه

حسينه- دا څه چې تاسو دَ پښتو او پښتنو دَپاره دَ ادب دَ لارې کوئ � هغې نه مطمئين يئ ؟

په دې سوال افضل شوق اوموسېدو او سر يې اوښورولو او وئيل يې..

شوق - نه .. بالکل نه � ولې چې نه خو زه لا سم په پښتنو پوهی شوی يم او نه پښتانه په ما پوهی شوي دي � ولې چې هغوئ مانه هم دَ ترانو وئيلو يا بابولالی وئيلو توقع لري .. کوم چې زه کله هم نشم کولی � په دې چې دا دَ نن شاعرانه بابولالې دَ پښتو سباوْن ته تاوان رسوي � قامونه نه خو په بابولالو جوړ شوي دي او نه جوړېږي � زما مطلب دَ سندرئيز ادب او دَ ترانو نه انکار نه دی .. او نه تش په تشه سندرې يا ترانې دَ قامونو ادبي ورثه ګڼلی شم � سندرې دَ ذهني او روحاني تفريح ذريعه او ترانې په وقتي توګه دَ يو " مجمعې" جذبات را پارولی خو شي .. خو په يو ادبي شعري " مجموعې" کې يې شاملول دَ شعري ادب سره ناروا ظلم ګڼم �

شپږمه پوښتنه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



حسینه- داسې ښکاري لکه ته چې په ادب کې هم دَ سائنسي اپروچ قائل یې .. لاکن داسې څنګه ممکن کېدی شي ؟

افضل شوق په دې سوال لږ له ځانه ورك شانتې شو او بیا یې اووې ..

شوق - زه منم چې ادبي کاوشونه په سائنسي لبارټریانو کې نه شي ټیسټ کېدلی .. خو دا ضرور وایم چې سائنس کله هم ادب ته تاوان نه دی رسولی � هغه په دې چې دَ ادبي فکر او شاعرۍ نه بغېر سائنس هم خپل تکمیل نه شي کولی � سائنس دَ فکري انقلاب نوم دی او دا افکار دَ انساني ژوند سره اړه لري � ژوند یو حقیقت دی او حقیقت په حقائقو ثابتېږي � ځکه خو دَ وختونو او انسانانو تر میانځه دې رابطې ته ژوند وئیلی شي � او بل طرف ته دغه هر اړخیزه شعري او نثري ادب دَ ژوند عکاس .. دَ وختونو محرك .. او دَ زمانو ګواه بللی شي � نو ځکه زه په ادب کې دَ ریښتیاوْ لیکلو او حقائقو چېړلو قائل یم � او یو ښه ادیب یا شاعر ته په کار دي .. چې هغه دي دَ نظریو نه بالاتر وي .. ولې چې یو لوئی ادیب یا شاعر دَ هیڅ قسم تحریك یا نظریې محتاج نه وي .. بلکه تحریکونه او نظریې دَ ادیب نه زېږونه کوي � لاکن په نننی کمرشلا ئز ادب کې ادیب څه .. چې زما دَ قام نقادان هم دَ یوې نا یوې نظریې یا تحریك سره تړلي ښکاري � څوك هر څیز ته په سرو عینکو کې ګوري ، چا شنې عینکې په سترګو ایښې دي ، او ځینې خو هډو وینې لا هم نه .. څه هم که سترګې لري�

اوومه پوښتنه

حسینه- ریښتیا لیکل خو واقعي چې دَ یوې لوې ګټې نوم دی .. په دې دومره ډېرو ریښتیاوْ لیکلو تاته پښتنو څومره انعامونه او ایوارډونه درکړي دي ؟

په دې پوښتنه افضل شوق په خپل مخصوص انداز کې دَ خندا نه شین شو او بیا یې اووئیل ..

شوق - ما ځکه ایوارډونه نه دي ګټلي چې ریښتیا مې لیکلي دي .. ریښتیا لیکلو ته خو په دُنیا کې ایوارډ نه ... سزا ورکولی شي � نو بیا زما په ریښتیاوْ به پښتنو ماته څه انعامونه راکول � او خبره دا هم ده چې ما کله کتابونه انعامي مقابلو ته لېږلي هم نه دي � هغه ځکه چې زه تر انعام زیات دَ خپل ضمیر تسکین بهتر ګڼم � ما یو انعام ضرور اغیستی دی .. خو هغه هم پښتنو نه .. بلکه حکومت پاکستان راکړی دي په " په لټون ستا دَ څېرې" � خو دلته دا خبره کوم ، چې زما کتابونه زما خواږه دوست سهېل جعفر انعامې مقابلې ته لېږلي وو.. ما نه � او هغه ګواه هم دی چې دا انعام ما څنګه قبول کړو � او یا عظیم خدائې ګواه دی .. چې هغه ورځ ما ځان یو زرخرید شاعر اوګڼلو، چې زه ستېج ته دَ انعام اخیستلو په غرض اوختم � یعنې ما دَ خپل ضمیر په مرۍ ښپه ایښې وه �

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



او خبر نه يم چې دَ هغې ورځې نه بيا تر ننه پورې ما يو نظم هم ګوره چې ولې نه دی ليکلې � چرته دَ دې انعام پيسې خو په ما کې دننه پروت ژوندي شاعر ته دَ غاړې زېندۍ نه شوې او يا ...؟

دومره وئيلو ورسته افضل شوق يوه سړه او اوږده ساه دَ خلې نه داسې اوباسله لکه هغه چې خپل قتل پخپلو لاسو کړی وي.

په آخر کې دَ دې پوښتنو په رڼا کې زه دا وئيلی شم چې افضل شوق دَ حق په لاره روان دی � او دَ يو داسې معيار ضامن ښکاري چې دَ مقدار جوړې کړې پېمانې به اپوټه نسکورې کړي � او خپل نوم به دَ سبا دَپاره دَ معياري ادب په ليکوالانو کې په ډېر محنت او حوصله ليکي .. او زما دا دعا ده، چې دَ فن او هنر کوم سفر په کوم صداقت او ريښتونولۍ ده پئيل کړی دی نو دا دې په ډېره کاميابۍ مخ په وړاندې بوځي � چې داسې دَ پښتو ادب خاصکر په نثري ادب کې هم دَ خپل ښکلي نظم په رنګه ښې اضافې اوکړي!!...

## پښتون سپلاني افضل شوق

)شوق دَ خپلو تخيلا تي، افسانوي، ډرامائي .. لاکن دَ حقيقي ليکنو په رڼا کې(

دَ ادب او فن دې دُنيا ته په راتګ زما په ذهن کې يو سوال وو... معياري ادب څه دی ؟ او څه ليکل په کار دي؟ دغه سوال دَ خپل دې فني ژوند په هر پړاوْ زه ډېره په اضطراب کې ساتلم � دَ ليك سره سره دَ مطالعې سفر هم جاري وو � دا خو به تاسو منئ چې وخت په وخت دَ پښتو ډېر ښه کتابونه راځي � ما به هم دَ دغه چاپ کېدونکو کتابو نه دَ لوست کار اغيستو.. خو دَ پښتو ادب او ژبې دَپاره چې دَ کوم " معيار" ارماني زه وم .. هاغه معيار راته مخامخ نه ښکارېدو� يوه شپه مې دَ کوټې نه دَ يو ادبي شان پروګرام دَ اورېدو اتفاق اوشو .. دَ ريډيو انګازې زما سوال ته دَ ځواب څه امکانات واضحه کړل � دغه پروګرام کې دَ ښاغلي افضل شوق دَ نوي شعري مجموعې " شلېدلی امېل" .. ( چې ما يې دَ چاپ کېدو ذکر په اولس رسالې يا يو نيم ځل په ريډيو کې دَ ملګرو نه هم اورېدلی وو) .. دَ شاعرۍ او خصوصاً دَ نظم داسې خواږه نغښتې وو چې په اورېدو يې زما دغه اضطراب نور راولړزولو � خو اوس دَ دې اضطراب سره دَ اطمينان او سکون يو داسې احساس هم شامل شوی وو .. چې دَ اضطراب وجود يې شکمن کړو ..!! او بيا دغه کتاب مې تر لاسه کړو� دَ کتاب دَ هر نظم ، غزل نه مې يو داسې کېفيت او داسې سرور تر لاسه کړو .. چې دَ پښتو ادب دَ پاره راته دَ افضل شوق کار او کردار دَ يو ښه معيار ضامن ښکاره شو .....

دَ دې کتاب ټوله شاعري دَ پښتو شاعري، دَ هاغه روائيتي رنګ نه بېخي بې نيازه وه .. کومه چې دَ مودو مودو راسې مونږ لولو� په دې شاعرۍ کې دَ شاعر دَ ليك هر انداز.. دَ ژوند دَ يو نوي آغاز .. دَ فن دَ يوې نوي دُنيا دَ سوچ دَ يوې نوي ادا داسې محرکات نقش وو چې .. دَ يو قاري په حېث يې زما فکر او سوچ ته هم يوه نوي لاره

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورکړه � بیا لږه موده پس دَ افضل شوق سفرنامه " اووه ګامه مزل" چاپ شوه � چې دَ پښتو واحده دَ خپل طرز یوه منفرده سفرنامه ده � دلته هم افضل شوق په نثر کې دَ یو نوي روایت بنیاد کېښودو � پښتو کې هر څوکه دَ نثر دَ لیکلو روایت ډېر کم دی .. خو افضل شوق دَ خپل سېلاني طبعې او فطرت له رُویه پښتو نثري ادب کې دَ اووه ګامه مزل په رنګ کې یوه داسې اضافه کړې ده .. چې دَ معیار روایت یې په ځای ساتلی دی � په دې سفرنامه کې په هر پړاوْ ښاغلي افضل شوق خپل ځان دَ یو روائیتي پښتون په څیر نه دی ښکاره کړی .. بلکه دَ خپل کردار، خپل کار، خپل مقصد تر مخه یې دَ پښتنو دَ قبائلي، قبیلوي رنګ نه ځان ژغورلی دی � دَ پښتنو دَ ژوند، دَ هغوئ پښتني غرور.. دَ داسې ښکلو او تابناکه قدرونو سره یې دَ نورو تهذیبونو ته ځان تیرډې کړی دی � او دَ دغه قومونو، تهذیبونو سره څنګ په څنګ پښتون وګړی او پښتون قوم یې په یو نوي رنګ کې په دې تهذیبونو او قومونو پېژندلی دی � دې سره سره دَ دغه تهذیبونو، دَ دغه قومونو دَ اولس نه هغه خپلو پښتنو ته دَ مینې او محبت دَ لازواله انساني جذبو خواږه راوړي دي � دغه جذبې، دغه رشتې چې دَ رنګ، نسل، دَ ژبې، تفریق یا امتیاز نه لري .. خو دَ انسانیت په قدرونو یقین لري ! ..

دلته افضل شوق په دې سفرنامه کې .. دَ هاغه قدامت پسنده طبقو.. هاغه روئیې هم راوپارولې کومې چې دَ بدلون قائله نه دي .. او په ژوند کې دَ فن، دَ فکر او په تېره دغه رنګ سماجي بدلون ته په ښه نظر نه ګوري .. خو دې سره سره روښن فکره .. ترقي پسندو طبقو دَ افضل شوق دَ دې زیار پوره پوره مرسته کړې ده.. او یقیناً چې بدلون ، هغه که فکري وي ، فني او که سماجي.. هم په دغه طریقه راځي � اودَ دې بدلون آغاز شوق په ډېره نره کړی دی�

" اووه ګامه مزل" نه ورستو " په لټون ستا دَ څېرې" دَ افضل شوق .. دَ سېلاني طرزفکر یو داسې شعري مجموعه ده چې دَ هغه دَ جوړ کړي او خپل کړي روایت .. یوې بلې سلسلې ته یې هم ډېر هنري دوام بخښلی دی .. !! دَ هغه دَ مسلسل تلاش او لټون یو داسې هنري ګل بڼ چې دَ هغه سېلاني فطرت یې دَ یو سترګور شاعر په شکل کې .. دَ فن او شاعرۍ په ډېرو خدائیانو اومنلو � افضل شوق دَ خپلو ټولو سفرونو ،، مسافرو.. ګرځېدو.. ورکېدو .. بېلېدو .. او بیا په یو نوي طرز کې راښکاره کېدو .. داسې هنر لري چې دَ هغه دَ سفرونو کېفیتونه دَ هغه په شاعرۍ کې هم قاري دَ ګوتې نه نیسي او دَ هغه په سفرنامو کې یې هم دَ ځان سره کوڅه کوڅه په ګرځوي � دغه کوڅې که دَ مصر دَ ښار جادوګري فرعوني کوڅې دي او که، دَ یورپ دَ سپینو سپینو واورینو ماڼو هاغه طلسماتي دُنیاګانې دي چې مونږ یې دَ کوه قاف دَ ښاپېرو په علامتونو کې پېژنو � غرض دا دی چې دَ " شلېدلی امېل" نه تر " په لټون ستا دَ څېرې" داسې ښکاري لکه افضل شوق چې دَ خپل ژوند دَ مختلفو پړاوْنو، مختلفو کېفیتونو قیصه لیکلې وي .. په ډېر صداقت، په ډېره ریښتونولۍ دَ خپلو جذبو ، دَ مینې محبت او خپل ځوان رومانیت یو داسې ښائسته داستان یې رقم کړی دی چې دَ انساني جذبو دَ فطري او حقیقي رنګ او فني تنده پرې ماتېږي �

افضل شوق دَ دې قائل دی چې حقیقي لیکوال او شاعر دَ خپلو انساني او فطري غوښتنو نه منکر نه وي .. او چې څه ویني ګوري .. یا پرې څه تېرېږي .. دَ هغې عکاسي کول دَ ادیب او شاعر ذمه واري ګڼې � دلته به زه ستاسو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



توجه دَ " په لټون ستا دَ خبرې" کې چاپ دَ ښاغلي افضل شوق هاغه درئيو نظمونو ته راواړوم .. چې تاسو ترېنه دَ هغه فني شخصيت او فکري لوئيوالي پوره پوره احاطه کولی شئ � " پرونۍ خبره" ، " اتهم رنګ" ، " دَ امن دَ ناوې په واده کې" � دلته زما دَ خبرې مطلب دا دی چې هغه په يو وخت په خپلو ليکونو کې فلسفي هم دی .. ډرامه نګار هم دی .. او بلکه دَ هغه ليکونه يو مخصوص افسانوي رنګ او ماحول هم لري � کله کله دَ هغه انداز دومره بيانيه شي .. چې دَ فکر او فن بلا مشکلات په خپله بنده ته هوار کړي � مطلب دا دی چې که زه دا اووايم چې هغه په نثر کې شاعري کوي .. او په نظم کې ډرامه او افسانه ليکي ، نو بې ځايه به نه وي � دَ دې ټولو خبرو او دعووْ نه پس او دَ ښاغلي افضل شوق دَ سابقه چاپو آثارو دَ مختصري جائزې وړاندې کولو نه ورستو اوس راځم دَ هغه دَ نووْ چاپ شووْ سفرنامو " مزل په واؤرو باندې" چې په کال 2004 کې او " دَ لمر دَ کلي په لور" چې په کال 2005 کې چاپ شوي دي ته .. په کوم کې چې افضل شوق دَ يورپ دَ سېل تفصيلي حالونه موجود دي � په دې سفرنامو کې افضل شوق په نوي بڼه کې له تصويري يا عکسي يوُن سره رامخې ته شوی دی � دا سېل هغه په يورپ کې له نورو انټرنېشنل سېلانيانو سره کړی دی � کومه خبره چې په دې سفرنامو کې دَ اهميت وړ خبره ده .. هغه دا، چې دلته افضل شوق دَ سېل دَ حال سره سره څو عمراني مطالعې هم دَ راغونډو شووْ حقائقو په رڼا کې وړاندې کړي دي � او بل دا، چې په دې سفرنامو کې شوق په ډېره محتاطه طريقه سفري حالونه او خپلې مشاهدې وړاندې کړي دي � دلته هم افضل شوق پښتون ځان سره بوتلی دی او دا کوشش يې کړی دی .. چې دَ هغه پښتون سترګې خلاسې کړي .. چې په سپينه ورځ اوده دی � خبري په کې صفا، ساده .. خو په علامتي پېرائيو کې زياتې ليدلی شي � کوم چې دَ ده ادبي او شعوري يو داسې کوشش دی .. چې دئی پرې فلسفي يا دَ بلې دُنيا مخلوق يادېږي�

افضل شوق که يوطرف ته دَ يورپ جغرافيه او ترقۍ ستائي .. نو بل طرف ته هغه دَ يورپ دَ خلقو روئيو ته منافقانه او غرضي روئيې هم وائي � هغه دَ خپلو سېلاني مشاهدو په رڼا کې دا خبره ليکي .. چې څومره دَ مغربي انسان " ظاهره" ښائسته ده هومره يې" باطن" سخا دی � او بلې خواته دَ مشرقي انسان "بېرون" څومره چې خيرن دی .. هومره يې " اندرون" صفا دی � خو .. دَ نننۍ انساني روئيو نه افضل شوق بالکل نه دی مطمئين او داسې ګڼي لکه انسان چې لا خو دَ ځنګل نه را اوتی نه دی � دَ لټون تسلسل دلته په دې پورته ذکر شووْ دواړو سفرنامو کې موجود دی .. خو لږه دَ دې لټون بڼه بدله ده .. او بل هغه دلته ډېر زيات مصروف هم په دې پاتې شوی دی .. چې هغه په دې سېل کې دَ سېل نه علاوه په حقائقو راغونډولو کې وخت تېر کړی دی � دا سفرنامې بلا شك و شعبه يو تاريخي دستاويز ګرځېدلی شي � دلته هغه دَ يو تاريخ دان په حېث هم خپله بڼه څرګنده کړې دي � دَ هغه په دې سفري حال او په دې کې دَ يورپي اقوامو په حقله .. خاصکر انګلش په حقله دَ حقائقو په رڼا کې ډېرې سنسني خېزې خبرې ليکلې دي �

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



وئيلی کېږي چې افضل شوق چې تر اوسه ځومره ادب هم تخليق کړی دی .. هغه دَ ده مشاهداتي ادب دی او بلکه تر ډېره حده دَ ده دَ لټون هغه قيصه ده � چې افضل شوق ته هزار داستاني رنګه نوم ورکوي � نو ځکه خو افضل په خپل ناول " پروني مخونه" کې دا ټول څه دَ يو داسې قيصې په توګه رامخې ته کوي چې په هغه قيصې کې دَ ده دَ لټون قيصه هم سرته رسي � دا دَ ده خپله قيصه ده .. کومه چې تکميل کېږي � افضل په ناول کې دَ خپلې قيصې دَ ډيمانډ مطابق دَ پلاټ غوره کولو نه دا خبره واضحه کړه چې هغه چې څه هم تر اوسه په نثري او شعري ادب کې ليکلي دي .. دا ټول څه رښتيا دي � داسې شايد چې چرته په يوې بلې ژبې کې هم نه وي شوي .. لکه افضل شوق چې رقم کړي دي � هم ځکه خو په شاعرانو او اديبانو کې ځان معتبر ځرګندوي .. او دی هم ځانګړی معتبر �

افضل شوق داسې ادب تخليق کوي چې هغه دَ دې عصر دَ روح په صحيح توګه ترجماني کوي .. اوهرکله يې دا جدوجهد کړی دی چې عصري مسائلو ته په شعوري او ادراکي نظر اوګوري .. او دغه ادبي ادا هغه دَ کمرشلا ئزډ يا بازاري ادب نه لرې ساتلی دی � هم ځکه خو هغه دَ خپل دې نظم " هرڅه هرڅه شته ، خو لا نشته بيا هم " په رنګه همېش دَ لټون په يو داسې تجسس او اضطرابي کېفيت کې ليدی شي .. چې دَ هوا په اوږو لکه يو خوږ اّواز سپور ښکاري � يا لکه دَ يو جنوني تندي يو داسې تږی احساس .. چې په صحراګانو کې دَ ژوند نښې نښاني لټوي .. هم په دې خو دا دَ پښتو مجنون مسلسل کړېږي .. زهيرېږي .. خو بيا هم دَ مصلحتونو په وړاندې سترٍيا نه مني او دَ ژوند هر ښکلی رنګ او زړه راښکونکي ښکلا دَ خپل مطلوب " اّئيډيل " مخې ته هر چرته تت ګڼي � څه هم که هغه دَ يورپ ښکلاګانې وي او که دَ يو بلې نوې اّسماني دُنيا حسين رنګونه � هم ځکه خو دَ يورپ دَ سېل په ورستۍ ورځ چې افضل شوق دَ ډنکارټ ساحل فرانس نه دَ ډووْرساحل انګلېنډ په لور سمندري سفر کوي � نو دَ ښکلو انسانانو دَ ځناوري روئيو نه زړه ماتی ښکاري � او دَ پورته ذکر شوي وړکوټي نظم خپټه داسې دَ خپل اضطراري ، اضطرابي کېفياتو او دَ کُل وقتي تجسس په ادبي ټکو ډکوي .. لکه

هغه کوم رنګ دی ؟

چې به نه وي دلته

هغه کوم خوند دی ؟

چې به نه وي دلته

که نشته

بيا هم دَ دې هر څه پرته

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه ده مينه

چې دَ مينې په نوم

زړونه هيڅ کله نه..

تش خلې غړوي

)په لټون ستا دَ څېرې .. مخ _ 244(

افضل شوق دَ يو داسې " هـڅې" نوم دی .. چې هغه يو تسلسل لري او هر ځل په نوي نوي بڼې کې دَ راښکاره کېدو ادبي هنر هم لري � نو ځکه مونږ په يقين سره وئيلی شو .. چې هغه به دَ يو مجسم ادبي تحريك په شکل کې دَ پښتنو په زړونو کې ورننوتلو دَپاره هلې ځلې هم دغه رنګه تر خپل پاتې ژونده پورې کوي � خدائی پاك دې هغه ته ډېر عمر ورکړي چې په خپلو نوؤ فکري هلو ځلو خپل خواږه ... او په نړۍ کې هر لور خواره واره .. خو ويده پښتانه نه يواځې راويښ کړي بلکه دَ خپل خوب او خيال مطابق يې دَ مخته وتو قومونو سره اوږه په اوږه اودروي هم � امين ثمه امين

حسينه ګل

Download from: ketabton.com

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library